

# نیمه پیړۍ یون

## دیارلسم ټوک

(علمي اثار)

محمد اسمعیل یون

۱۳۹۶ل

## په دې خوارلس ټوکیزو کلیاتو کې

**لومړی ټوک (پنځوني او ژباړې):** متکور، په اورونو کې سندرې، د ټولنپوهنې له نظره په افغانستان کې د واک جوړښتونه، په افغانستان کې د جګړې جنایتکارانو محاکمه، د افغانستان فرهنګي میراثونو ته یوه کتنه، فلسفه او فلسفي بهیر (۱- ۹۶۹) مخونه.
**دویم ټوک (راټولوني):** هیلې، نیمګړې ارمانونه، د لوونو فصل، سیندونه هم مري او د پښتو ادب لرغونې دوره (۹۷۰- ۲۱۱۳) مخونه.
**درېیم ټوک (راټولوني):** د نازو انا یاد، د استاد الفت نثري کلیات (۲۱۱۴- ۳۲۱۰) مخونه.
**څلورم ټوک (یونلیکنې):** د اماراتو سفر، که یون دی یون دی، د پنټاګون تر څنډو، د کرملین په زړه کې (۳۲۱۱- ۴۲۷۴) مخونه.
**پنځم ټوک (یونلیکونه):** د ډیلي تخت هېرومه، درې ورځې د افسانو په وطن کې، د خدای(ج) تر کوره (۴۲۷۵- ۵۳۱۹) مخونه.
**شپږم ټوک (کلتوري او څېړنیز اثار):** استاد زیار د پښتني فرهنګ یو ځلاند ستوری، د ژبو او ادبیاتو پوهنځي پښتو کتابښود، ساینسي پرمختیاوې، هیله د خپلو سریزو په لمن کې، د کتابونو په ورمو کې (۵۳۲۰- ۶۱۳۳)مخونه.
**اووم ټوک (کلتوري او څېړنیز اثار):** فرهنګي فقر، له افغانستانه د مسلکي کادرونو د فرار عوامل، د افغانستان فرهنګ ته اووښتې زیانونه، مرکه او مرکې، کلتوري یون، جنګ او فرهنګ په افغانستان کې (۶۱۳۴- ۷۱۱۹) مخونه.
**اتم ټوک (سیاسي او ټولنیز اثار):** بېړنۍ لویه جرګه: ولسواکي او زورواکي، افغانستان په سیاسي کړلېچ کې، د سمون په لټه (۷۱۲۰- ۸۱۴۷) مخونه.
**نهم ټوک (سیاسي او ټولنیز اثار):** که نړیوال ماته وخوري؟، نجات ځلی، د زمانې په کړلېچ کې، ملي هویت او ملي عزت (۸۱۴۸- ۹۳۰۶) مخونه.
**لسم ټوک (سیاسي او ټولنیز اثار):** ملي درسونه، د ارګ نا ویلې خبرې (۹۳۰۷- ۱۰۳۴۹) مخونه.

(پاتې د پښتۍ ۳ مخ)



نیمه پیړۍ یون

دیارلسم ټوک (علمي اثار)

(څوارلس ټوکه)

۱۳

www.melitahrik.com
د تحریک د خپرونو لړ: (۱۵۰)

## یون څوک دی او څه یې کړي؟

پوهاند دوکتور محمد اسمعیل یون زموږ د زمانې یو زړور ملي، ټولنیز، سیاسي او فرهنګي شخصیت دی، د (۱۳۹۶ل) کال د کب پر (۱۸)مه یې د ژوند نیمه پیړۍ پوره کړه او دېرش کاله یې پخه لیکوالي وکړه. د خپلو نورو همفکره ملګرو په مرسته یې په ټولنیز ډګر کې تر (۱۰۰۰) زیات بېلابېل ګټور کارونه ترسره کړل، په سیاسي برخه کې یې د ملي تحریک بنسټ کېښود، تر (۸۰۰) بېلابېلې غونډې او تر (۵۰) زیاتې سوله ییزې مظاهرې یې وکړې. په فرهنګي ډګر کې یې تر (۵۰) عنوانو زیات اثار ټولنې ته وړاندې کړل، تر (۱۲۰۰) عنوانو زیاتې لیکنې، مرکې او ویناوې یې وکړې، د دریو مجلو مدیریت یې وکړ، د نورو لیکوالو تر (۲۰۰) عنوانو زیات اثار یې ایډېټ کړل، تر (۴۰۰) عنوانو زیاتو ته یې د چاپ زمینه برابره کړه او تر (۱۱۰۰) زیاتې فرهنګي غونډې، سیمینارونه او ورکشاپونه یې جوړ کړل. د (ژوندون) په نامه یې یو رسنیز مرکز پرانیست او د (کونړ) او (لغمان) پوهنتونونو په تاسیس کې یې اساسي نقش ولوباوه، د (افغانیت او اسلامیت) د ملاتړ لپاره یې زړوره مبارزه وکړه او د هېواد د کورنیو او بهرنیو دښمنانو په مقابل کې لکه سپر ودرېد.

اوس چې تاسې دا (۱۴) ټوکه او نړدې (۱۴) زره مخه کلیات ګورئ، دا د یوه ډېر ستړي خو هدفمن ژوند ثمره ده. دې ته کولای شو د نړۍ په کچه ځکه یو ریکارډ ووایو چې زموږ په خبر په بل هېڅ بې ثباته هېواد کې داسې یوه بېلګه نه شته. زه له څلور دېرشو کلونو څخه یون له نږدې پېژنم، زما هېڅکله یاد ته نه راځي چې هغه دې کومه ژمنه او خبره وکړې او بیا دې عملي نه کړي. په تېرو دېرشو کلونو کې د هغه فکری او عملي مبارزه زموږ د دې خبرې ښه ثبوت دی. زه نه غواړم د یون پر شخصیت زیاتې خبرې وکړم، دا اثار په خپله د یون د پېژندنې تر ټولو ښه وسیله ده. یون یو څو اړخیز شخصیت دی، ډېر دردېدلی، کړېدلی، سوځېدلی، خو یو هوډمن، مصمم او هدفمن شخصیت، د فکر او نظر، د خبرې او عمل سړی دی، زه خو یې چې ګورم، نو د وزیر محمد ګل خان مومند او ستر خوشال مینه مې پرې ماتېږي. نیمه پیړۍ یون خو یې ډېر ویاړمن و، خدای دې وکړي چې دا بریمن ژوند یې پوره سلیزې ته ورسېږي.

درناوی
ډاکټر شېر ولي شېر
جرمني- کولن

# Half Century Journey

By: Prof. Mohammad Ismael Yoon

www.melitahrik.com
د تحریک د خپرونو لړ: (۱۵۰)

**یوولسم ټوک (تحصیلي اثار؛ لسانس- ماستري):** د محمد ګل خان مومند اند و ژوند ته یوه کتنه، خوشال په خپل ایډیال، افغاني اوسنۍ رسنۍ (۱۰۳۵۰- ۱۰۸۲۲)مخونه.
**دولسم ټوک (تحصیلي اثار؛ دوکتورا):** کتاب الشعر، د خادم نړۍ لید (۱۰۸۲۳- ۱۲۰۵۶) مخونه.
**دیارلسم ټوک (علمي اثار؛ پوهنیار- پوهندوی):** د پښتو شعر هندسي جوړښت، اندیال خوشال، پښتو لیکنی سمون (۱۲۰۵۷- ۱۲۵۷۱)مخونه.
**څوارلسم ټوک (علمي اثار؛ پوهنوال- پوهاند):** کره کتنه، ادب تاریخ (۱۲۵۷۲- ۱۳۵۹۸)مخونه.



## مننه او کورودانی

د افغانستان ملي تحریک له قدرمن ورور او فرهنګپال شخصیت
**ښاغلي پوپل حبیبي**
څخه د زړه له کومي مننه کوي چې ددې اثر د دیارلسم ټوک د چاپ لګښت یې پر غاړه واخیست. یو ځل بیا ورڅخه مننه کوو او کور ودانی ورته وایو
درنښت یې په برخه شه

**د پښتۍ ډیزاین:** سپین سهار
**چاپځی:** اسد دانش مطبعه- کابل/ ۰۷۰۰۴۴۹۲۹۸

# نیمه پېړۍ یون

## دیارلسم ټوک

## (علمي اثار/ پوهنیار- پوهندوی)

محمد اسمعیل یون

۱۳۹۶ لمریز کال

بسم الله الرحمن الرحیم

# نیمه پېړۍ یون

## دیارلسم ټوک

**(علمي اثار/پوهنیار- پوهندوی)**

لیکوال: **محمد اسمعیل یون**

خپرندوی: **د افغانستان ملي تحریک**

ډیزاین: **فیاض حمید**

چاپکال: **۱۳۹۶ لمریز**

چاپشمېر: **۱۰۰۰ ټوکه**

**د خپرندوی د خپرونو لړ: (۱۵۰)**

وېبپاڼه: **www.melitahrik.com**

**د دې کتاب د چاپي او انلاین خپرولو ټول حقوق له خپرندوی سره خوندي دي**

**۱۲۰۵۷**

# ډالۍ:

# د افغانیت، اسلامیت او انسانیت

# رښتینو لارویانو ته!

# نیولیک


| ګڼه | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| • | د استاد یون پنځوس کلن یون | ۱۲۰۶۶ |
| • | زما د نیمې پېړۍ یون | ۱۲۰۸۲ |
| | **د پښتو شعر هندسي جوړښت** | |
| ۱ | د دې چاپ سریزه | ۱۲۰۹۲ |
| ۲ | د لیکوال په باب څو خبرې | ۱۲۰۹۵ |
| ۳ | د پښتو شعر هندسي جوړښت یو هنري او ښکلاییز… | ۱۲۰۹۸ |
| ٤ | د لارښود استاد نظر | ۱۲۱۰۲ |
| ٥ | سریزه | ۱۲۱۰٤ |
| | **لومړی څپرکی** | |
| | **ګڼ شعري فورمونه** | |
| ٦ | ۱- غزل | ۱۲۱۰۹ |
| ۷ | ۲- څلوریزه (رباعي) | ۱۲۱۲۹ |
| ۸ | ۳- قطعه | ۱۲۱۳٤ |
| ۹ | ٤- بولله (قصیده | ۱۲۱۳٦ |
| ۱۰ | ٥- دوه یزه (مثنوي) | ۱۲۱٥۱ |
| ۱۱ | ٦- درېیز (مثلث) | ۱۲۱٦۰ |
| ۱۲ | ۷- مستزاد | ۱۲۱٦۳ |
| ۱۳ | ۸- څلوریز (مربع) | ۱۲۱٦٥ |

۱٤ ۹- پينځه يز (مخمس) ۱۲۱۷۰
۱۵ ۱۰- شپږيز (مسدس) ۱۲۱۷۷
۱٦ ۱۱- اوه يز (مسبع) ۱۲۱۸۱
۱۷ ۱۲- اته يز (مثمن) ۱۲۱۸۵
۱۸ ۱۳- لسيز (معشر) ۱۲۱۸۸
۱۹ ۱٤- ترجيع بند ۱۲۱۹۳
۲۰ ۱۵- ذوالقافيتين ترکيب بند ۱۲۱۹۸
۲۱ ۱٦- ټول قافيز فورم ۱۲۲۰۵

## دويم څپرکی

## ازاد شعر

۲۲ پښتو ازاد شعر ۱۲۲۰۹

## درېيم څپرکی

## د پښتو ولسي شاعرۍ يا نظم فورمونه

۲۳ ۱- لنډۍ ۱۲۲۳۳
۲٤ ۲- سروکی (نيمکۍ) ۱۲۲۳۵
۲۵ ۳- کاکړي غاړې (کاکړۍ) ۱۲۲٤۳
۲٦ ٤- د اتڼ نارې ۱۲۲٤۵
۲۷ ۵- بيولاله ۱۲۲۵۱
۲۸ ٦- چاربيته ۱۲۲۵٦
۲۹ ۷- مقام ۱۲۲۷۱
۳۰ ۸- بدله ۱۲۲۷٤
۳۱ ۹- لوبه ۱۲۲۷۸

| | | |
|---|---|---|
| ۳۲ | ۱۰- داستان | ۱۲۲۸۱ |
| ۳۳ | ۱۱- بگتۍ | ۱۲۲۸٦ |
| ۳٤ | څلورم څپرکی | ۱۲۲۸۹ |
| ۳۵ | د پښتو ولسي شاعرۍ یا نظم ځینې نور فورمونه | ۱۲۲۸۹ |
| ۳٦ | پایله | ۱۲۳۰۲ |
| ۳۷ | اخځونه | ۱۲۳۰٤ |

## اندیال خوشال

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | سریزه | ۱۲۳۱۱ |

### لومړی څپرکی

| | | |
|---|---|---|
| ۲ | د خوشال بابا پېژندگلوي | ۱۲۳۱٦ |

### دویم څپرکی

### د خوشال بابا اثار

| | | |
|---|---|---|
| ۳ | الف- د بابا منظوم اثار | ۱۲۳۵۲ |
| ٤ | ب- د بابا منثور اثار | ۱۲۳۵۹ |

### درېیم څپرکی

### د خوشال بابا د اند ځینې خواوې

| | | |
|---|---|---|
| ۵ | صوفي خوشال | ۱۲۳٦۳ |
| ٦ | شاعر خوشال | ۱۲۳۷۰ |
| ۷ | فلسفي خوشال | ۱۲۳۷۵ |
| ۸ | کره کتونکی خوشال | ۱۲۳۷۹ |
| ۹ | ټولنپوه خوشال | ۱۲۳۹۹ |
| ۱۰ | رنځپوه (طبیب) خوشال | ۱۲٤۰۵ |
| ۱۱ | سیاستپوه خوشال | ۱۲٤۱۲ |

| | | |
|---|---|---|
| ۱۲ | لیکګر (خطاط) خوشال | ۱۲٤۲۰ |


## څلورم څپرکی


| | | |
|---|---|---|
| ۱۳ | پر خوشال بابا ځانګړي لیکل شوي کتابونه | ۱۲٤۲٤ |
| ۱٤ | پایله | ۱۲٤۳٦ |


## پښتو لیکنی سمون


| | | |
|---|---|---|
| ۱ | د لومړي چاپ سریزه | ۱۲٤٤۱ |
| ۲ | ((پښتو لیکنی سمون)) یوه په زړه پورې هڅه | ۱۲٤٤۲ |
| ۳ | د پښتو لیکني سمون ضرورت | ۱۲٤٤٤ |


## لومړی څپرکی

## پښتو غږونه او توري


| | | |
|---|---|---|
| ٤ | الف- غږونه | ۱۲٤٥۰ |
| ٥ | ۱- خپلواک، غږن یا واول غږونه | ۱۲٤٥۱ |
| ٦ | ۲- نا خپلواك، ناغږن یا کانسونېنټ غږونه | ۱۲٤٥۳ |
| ۷ | ۳- نیمه خپلواك یا سیمي واول غږونه | ۱۲٤٥٤ |
| ۸ | ٤- غبرګغږونه یا دیفتونګونه | ۱۲٤٥٥ |
| ۹ | ب- توری، حرف، انځور، شکل یا ګرافیم | ۱۲٤٥۷ |
| ۱۰ | ج- پښتو توري او د هغو نومونه | ۱۲٤٥۹ |
| ۱۱ | د- پښتو الفبې | ۱۲٤٦۱ |
| ۱۲ | ه- پښتو غږیزه (فونیمیکه) ابیڅې | ۱۲٤٦۳ |
| ۱۳ | ګڼه | ۱۲٤٦۹ |
| ۱٤ | پښتو مروجه الفبا | ۱۲٤٦۹ |
| ۱٥ | فونیمیکه الفبا | ۱۲٤٦۹ |

## دويم څپرکی

## په پښتو کې د (ياګانو) سمه کارونه او اړتيا


| | | |
|---|---|---|
| ١٦ | ١- نرمه، بې ټکو، زورواله يا نرينه (ی = AY) | ١٢٤٨١ |
| ١٧ | ٢- څرګنده، لنډه يا معروفه (ي = I) | ١٢٤٨٢ |
| ١٨ | ٣- اوږده، مجهوله يا ښځينه (ې = E) | ١٢٤٨٤ |
| ١٩ | ٤- زورکيواله (ۍ = ƏY) | ١٢٤٨٦ |
| ٢٠ | ٥- همزه واله ئ (YƏ) | ١٢٤٨٧ |


## درېيم څپرکی

## په پښتو کې د مغيره حالت سمه ليکنه


| | | |
|---|---|---|
| ٢١ | ١- ثابت او نامغير نومونه | ١٢٤٩٤ |
| ٢٢ | ٢- بدلېدونکي نومونه | ١٢٤٩٥ |


## څلورم څپرکی

## په پښتو کې د کلمو سمه ليکنه


| | | |
|---|---|---|
| ٢٣ | ١- خپلواکې يا نا ترکيبي کلمې | ١٢٥٠٢ |
| ٢٤ | الف- پر کانسونينټ پايته رسېدلې کلمې | ١٢٥٠٣ |
| ٢٥ | ب- پر واول (زور= A) پايته رسېدلې کلمې | ١٢٥٠٣ |
| ٢٦ | ج - پر (ياګانو) پايته رسېدلې کلمې | ١٢٥٠٤ |
| ٢٧ | ٢ – ترکيبي کلمې | ١٢٥٠٥ |
| ٢٨ | الف – هغه ترکيبي کلمې چې د پيوستون وړتيا ونه لري | ١٢٥٠٥ |
| ٢٩ | ب – هغه کلمې چې د پيوستون وړتيا لري | ١٢٥٠٦ |
| ٣٠ | ٣- د ځينو اختلافي کلمو په اړه د پښتو ټولنې پرېکړې | ١٢٥١٠ |
| ٣١ | الف- لومړۍ پرېکړه | ١٢٥١٠ |
| ٣٢ | ب- دويمه پرېکړه | ١٢٥١٢ |

| | | |
|---|---|---|
| ۳۳ | ج- درېيمه پرېکړه | ۱۲۵۱٤ |
| ۳٤ | د- د پښتو د متحد ليکدود او ليکلار لپاره د... | ۱۲۵۱۸ |
| ۳۵ | ه- د پوهنې وزارت د تعليمي نصاب لپاره منل شوی ... | ۱۲۵۲۲ |
| ۳٦ | ٤- له نورو ژبو څخه پښتو ته راغلې کلمې | ۱۲۵۳۳ |
| ۳۷ | الف- له انگليسي ژبې څخه راغلې کلمې | ۱۲۵۳٤ |
| ۳۸ | ب- له عربي ژبې څخه پښتو ته راغلې کلمې | ۱۲۵۳۵ |

## پنځم څپرکی

## په پښتو کې د سربلونو او اوستر بلونو سم استعمال

| | | |
|---|---|---|
| ۳۹ | الف- سربلونه(پيشيني) PREPOSITIONS | ۱۲۵۳۸ |
| ٤۰ | ب- اوستربلونه ( پسيني) POST POSITIONS | ۱۲۵۳۹ |

## شپږم څپرکی

## په پښتو کې د ليکنښو سمه کارونه او اړتيا

| | | |
|---|---|---|
| ٤۱ | ۱- لمن ليك ( حاشيه) | ۱۲۵۵۱ |
| ٤۲ | ۲- شمېر گڼه (۱) | ۱۲۵۵۲ |
| ٤۳ | ۳- شارحه(:) | ۱۲۵۵۲ |
| ٤٤ | ٤- ليندۍ () | ۱۲۵۵۳ |
| ٤۵ | ۵- وير گول(/) | ۱۲۵۵٤ |
| ٤٦ | ٦- کامه (سرچپه واو) (،) | ۱۲۵۵۵ |
| ٤۷ | ۷- ټکی(۰) | ۱۲۵۵۷ |
| ٤۸ | ۸- پوښتنه (؟) | ۱۲۵۵۸ |
| ٤۹ | ۹- سيميکولن يا مميزه(؛) | ۱۲۵۵۹ |
| ۵۰ | ۱۰- درې ټکي (۰۰۰) | ۱۲۵۵۹ |

٥١ ١١- نقلنبه (( )) ١٢٥٦٠

٥٢ ١٢- فاصله (-) ١٢٥٦٢

٥٣ ١٣- ستوری (* ) ١٢٥٦٣

٥٤ ١٤- غږ نښه(!) ١٢٥٦٤

٥٥ ١٥ – لويې ليندۍ [ ] ١٢٥٦٤

٥٦ ١٦- د ندايي او سواليې مرکب شکل ( !؟) ١٢٥٦٥

٥٧ ١٧- درې ستوري ( *** ) ١٢٥٦٦

٥٨ ١٨- وروځو ته ورته نښه({) ١٢٥٦٦

٥٩ ١٩- غشي ( ⇄ ) ١٢٥٦٦

٦٠ وروستۍ يادونه ١٢٥٦٨

# د استاد یون پنځوس کلن یون

ښاغلي پوهاند دوکتور محمد اسمعیل یون زموږ د زمانې په تېره بیا د سختو حالاتو یو مخکښ فکري مبارز دی. ده د افغانستان د کورنیو او بهرنیو مخالفینو، جنگسالارانو او فسادگرو پر وړاندې د مبارزې یوه ځانگړې لاره، چې د قلم، ژبې او جرئت لاره وه، غوره کړه. دا یې د خپل ولس او خلکو د اوږدو مبارزو تر ټولو غوره، بریالۍ او ژغورندویه لاره او مبارزه وبلله. دی که په کابل کې و او یا هم په نورو ولایتونو کې، خپلو ملي او فرهنگي هلو ځلو ته یې دوام ورکړی، همدا علت و چې افغانانو دده د مبارزې پر حقانیت، رښتینولۍ او زړورتیا باور پیدا کړ، ډېری افغانان په ځانگړې توگه ځوانان یې تر څنگ ودرېدل او دې مبارزې ته یې لا نور ځواک وروباښه. یون ددې ځوانانو په راټولېدو سره پرځان لا باوري شو او خپلې دې مبارزې ته یې په سیستماتیک ډول دوام ورکړ.

که وویل شي چې یون د افغاني ټولنې، ملي تفکر او د مظلوم اکثریت د غږ پورته کولو یو بریالی وياند دی، نو مبالغه به مې نه وي کړې. ددې لپاره چې ښاغلی یون په بشپړه توگه وپېژنو، نو غواړم دلته یې د ژوند، اثارو او افکارو پر بېلابېلو برخو لنډه رڼا واچوم:

**۱- زوکړه:** محمد اسمعیل یون د حاجي محمد خان زوی او د هدایت خان لمسی دی، پر (۱۳۴٦ل) کال د کب پر (۱۸) مه نېټه د لغمان ولایت د الینگار ولسوالۍ د (الوخېلو) په یوې روښنفکرې کورنۍ کې زېږېدلی دی. یون لا د شېږم ټولگي زده‌کوونکی و چې پلار یې وفات شو،

د کور سرپرستي او د ژوند نورې چارې خپله ده ته ورپرغاړه شوې. خو په دې سختو شرایطو کې یې هم خپل هوډ قوي وساته، هم یې د کورنۍ سرپرستي کوله او هم یې خپلو زده کړو ته دوام ورکړ.

**۲- زده کړې:** محمد اسمعیل یون پر (۱۳۵۳ل)کال د الینګار ولسوالۍ د (سلینګار) په لومړني ښوونځي کې، چې د یون له کوره په پلي مزله یې نږدې یو نیم ساعت واټن درلود، په لومړي ټولګي کې شامل شو، یون یو کال د سویې ازموینه ورکړه او یو ټولګی یې ارتقا وکړه، پر (۱۳۵۷ل)کال دې ښوونځي ته نوې ودانۍ جوړه شوه او د یون کور ته نږدې ساحه کې اباد شو. پر (۱۳۵۸ل) کال دا ښوونځی د حکومت د مخالفینو له خوا وسوځول شو، یون د نورو زده کوونکو په شان له ښوونځي څخه بې برخې شو، یون له درس سره د خپلې مینې او د کورنۍ د موافقې پر اساس کابل ته راغی او دلته پر (۱۳٦۱ل) کال یې د کابل په (ده خدایداد) او بیا په (ده یحیی) لیسو کې خپلې زده کړې پسې تعقیب کړې. پر (۱۳٦۲ل) کال د کابل په خوشال خان لیسه کې شامل او پر (۱۳٦٦ل) کال تړې په دویمه نومره فارغ شو، (۱۳٦۷ل)کال د کابل پوهنتون په ژبو او ادبیاتو پوهنځي کې شامل او پر (۱۳۷۰ل) کال تړې اول نومره فارغ شو، پر (۱۳۷۰ل)کال یې د یاد پوهنځي پښتو څانګې کې د کدر ازموینه ورکړه، په یاده ازموینه کې بریالی او پر همدې کال د (نامزد پوهیالي) په رتبه د پښتو څانګې د کدر غړی شو. یون پر

(۱۳۸۵ل)کال د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي په ماسترۍ پروګرام کې شامل او پر (۱۳۸۷ل)کال کې ترې فارغ شو.

یون د (کابل پوهنتون) علمي مجلې موسس هم دی او درې کاله یې ددې مجلې مدیریت هم ورپرغاړه و.

محمد اسمعیل یون پر (۱۳۹۲ل) کال د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګې د دوکتورا (PhD) پروګرام کې شامل شو او د تحصیل دا پړاو یې هم پر (۱۳۹٦ل) کال په بریالیتوب سره بشپړ کړ.

یون پر پورتنیو زده کړو سربېره د لنډ مهاله کورسونو، ورکشاپونو او سیمینارونو لپاره په کور دننه او بهر په ځینو برخو کې زده کړې کړې دي او لنډ مهاله کورسونه یې هم تعقیب کړي دي.

یون له (۱۳۷۰ل) کال څخه چې د کابل پوهنتون په کدر کې شامل شوی، بیا تر (۱۳۹٦ل)کال پورې په منظم ډول تدریس کړی او په دې یاده موده کې یې له (نامزد پوهیالي) څخه نیولې بیا تر (پوهاندۍ) وروستۍ لوړې پوهنتوني رتبې پورې ټولې رتبې په ترتیب سره بشپړې کړي او د هرې رتبې لپاره یې له پوهنتوني مقرراتو سره سم ځانګړی اثر لیکلی دی.

**۳- دندې:** یون چې کله په ښوونځي کې د څلورم، پنځم او شپږم ټولګي زده کوونکی و، نو د ښوونځي د ترانې د ټیم غړی و، سپورت سره یې هم مینه درلودله، په ښوونځي کې د خپل عمر په هلکانو کې د والیبال

ټیم غړی و، یون چې کله له لغمان څخه کابل ته راغی، نو دلته په (خوشال خان) لېسه کې د ادبي انجمن مشر شو. یون د ثانوي زده کړو پر مهال (۹-۱۲) ټولګي پورې موده کې له یو شمېر اخبارونو او مجلو سره قلمي همکاري درلودله او د ځینو چاپي خپرونو له خوا ورته حق الزحمه هم ورکول کېدله. یون په کابل پوهنتون کې د تحصیل پر مهال هم د لیکوالو د ټولنې غړی، د ځوانو لیکوالو د ټولنې د مشرتابه غړی، د خوشال فرهنګي ټولنې د ځوانانو د برخې مسول او یو شمېر نورو فرهنګي ټولنو غړی پاتې شوی دی.

یون لا په (۱۲) ټولګي کې و چې د (هیلې) په نامه یې د لرو او برو افغانانو د ځوانو شاعرانو یوه شعري ټولګه راټوله او پر (۱۳٦٦ل) کال یې چاپ کړه.

د پوهنځي پر وروستي کال یې دوه اثار: د خپلو شعرونو ټولګه (مټکور) او د ولسي شاعر (محمد عالم حیران) د شعرونو ټولګه (نیمګړي ارمانونه) چاپ کړل.

یون د تنظیمي جګړو پر مهال کله په کابل او ځینې وختونه په پېښور کې اوسېده، هلته په پېښور کې یې (هیله) مجله چاپوله، د (معارف) مجلې همکار و، په جرمنې کې د دوو افغاني کلتوري ټولنو؛ (د افغانستان کلتوري ودې ټولنه) او (د پښتني فرهنګ د ودې او پراختیا ټولنې) استازی هم و.

محمـد اسـمعیل یـون د طالبـانو د نظـام تـر ړنگېـدو وروسـته پـر (۱۳۸۱ل)کال لومړی په ختیزو ولایتونو کـې د ملگرو ملتونـو د مرسـتو د ځانگړي دفتر یوناما (UNAMA) مشاور او ډېر ژر په یـادو ولایتونـو کـې د بېړنۍ لويې جرگې لپاره د انتخاباتو د دفتر مشر شو. یون دا دنـده هـم پـه ښه ډول ترسره کړه.

یون پر (۱۳۸۲ل)کال د بېړنۍ لويې جرگه چې نږدې (۱٦۰۰) تنـو پـه کې له ټول افغانستان څخه گډون درلود، غړی و، د جرگې د مشرتابه لپـاره ټاکنې وشـوې او یـون د رایـو پـه اکثریـت سره د بېړنـۍ لـويې جرگـې د لومړي منشي په توگه انتخاب شو، د منشیتوب دنـده یـې هـم پـه ښـه ډول ترسره کړه او بیا یې د یادې جرگې په باب (بېړنۍ لویه جرگـه- ولسـواکي او زورواکي) تر نامه لاندې یو ځانگړی اثر هم ولیکه.

یون پر (۱۳۸۵ل)کال د افغانستان او پاکستان تـر مـنځ د (امـن گـډې جرگې) لپاره د افغانستان له لوري د منشي په توگه غوره شو او دا دنده یـې هم په ښه ډول ترسره کړه.

یون پر (۱۳۸۵ل)کال د جمهور رییس حامـد کـرزي د یـوه ځـانگړي فرمان له لارې د امنیت شورا دفتر د فرهنگي چارو د رییس په توگـه غـوره شو، اوه کاله یې دا دنده پر مخ یوړه او جمهور رییس حامـدکرزي تـه یـې په ډېرو ملي او فرهنگي مسایلو کې خپلې مشورې ورکړې.

یون پر (۱۳۹۲ل)کال په حکومت کې د ولسمشر له خوا جنگسالارانو او فسادگرو ته د زیاتو امتیازاتو له ورکړې سره د مخالفت له امله له خپلې دندې استعفی ورکړه او پر همدې کال یې (د افغانستان ملي تحریک) په نامه  د یو ازاد، فرهنگي، مدني، ټولنیز، ملي او سیاسي حرکت بنسټ کېښود.

## ۴- کورنی ژوند:

استاد یون پر (۱۳۷۴ل) کال له (اریـن مومنـد) سره واده وکړ، اوس څلور اولادونه لري (هیله، سمسور، سوله او ودان). (هیله) او (سمسور) دا مهال (۱۳۹٦ل کال) پر لوړو زده کړو بوخت دي، (سوله) او (ودان) د ښوونځي زده کوونکي دي او مېرمن یې (ارین یون) په ولسي جرگه کې د ننگرهار د خلکو منتخبه استازې ده.

## ۵- فعالیتونه:

**الف- ټولنیزه برخه کې:** یون له (۱۳٦٦ل)کال څخه بیا تر (۱۳۹٦ل)کال پورې په ټولنیزو چارو کې زیات کارونه ترسره کړي دي، په یاده موده کې یې په سلگونو زرو هېوادوالو سره لیدنې کتنې کړي دي، په سلگونو ټولنیزې غونډې یې جوړې کړې، د خلکو مشکلاتو ته یې ځان رسولی، د نورو ملگرو او ملي تحریک د ملگرو په مرسته یې مصیبت ځپلو خلکو ته مرستې وررسولې. په کابل، کندوز، بغلان، بدخشان، فاریاب، بلخ، هلمند، ننگرهار، پکتیا، خوست، لغمان، کونړ او د هېواد په نورو سیمو کې

يې زلزله ځپلو، سېلاب ځپلو، جنګ ځپلو او نورو مصيبت ځپلو هېوادوالو ته د ملي پانګوالو مرستې رسولې دي، د دولت او خيريه ټولنو پام يې هغو ته وراړولی او لـه دې لارې يـې خلکـو تـه پـه مسـتقيم او نامسـتقيم ډول د ميليونونو ډالرو مرستو د ور رسولو زمينه برابره کـړې ده. د مصيبت ځپلـو خلکو لپاره يې لوی رسنيز کمپاينونه هم ترسره کړي او دا کـار ددې سـبب شوی چې هم دولت او هم خيريه ټولنې غمځپلو سيمو ته ځـان ورسـوي. د جګړې ټپيانو ته د وينې د ورکړې لپاره يې ځو پروګرامونه جوړ کـړي او همدارنګه يې د خلکو مدني او اعتراضيه غونډو ته لاره هواره کـړې ده. د مسجدونو او کلينيکونو په جوړونه کې يـې ونـډه اخيسـتې، د صـحي اوبـو لپاره يې د ژورو څاګانو په کيندنه او د چاپېريال د پـاک سـاتلو لپـاره يـې هم د هېوادوالو مرستې اړمنو هېوادوالو ته رسولې دي. په مجمـوعي ډول د ټولو هغو خيريه او ټولنيزو کارونو شمېر چـې يـون پـه تېـرو (۳۰) کلونـو کې ترسره کړي تر (۱۰۰۰) ګټورو او مرستندويه کارونو زياتېږي.

**ب- سياسي برخه کې:** محمد اسمعيل يون سره له دې چې لـه کوم سياسي ګوند سره تړاو نه لري او نه يې غړيتوب لري، خو په خپله يـې له نورو روښنفکرو افغانانو سره په ګډه (د افغانستان ملي تحريـک) په نامـه د يو ملي، مدني، خدماتي، ټولنيز، ملي او سياسي حرکت بنسـټ ايښـی دی. ددې تحريک له لارې يې په هېواد کې يو شمېر سـياسي فعاليتونـه تـرسره کړي دي.

یون له یو شمېر نورو افغانانو سره په ګډه په هېـواد کـې د ولسـواکۍ د ټینګښـت، د جنګسـالارانو او فسـادګرو د زور کمـونې، لـه منځـه وړنـې او همدارنګه د عادلانه سیاسي نظام د ټینګښت لپاره ګڼ شمېر لاریونونه ترسره کـړي او پـه ځینـو نـورو دا ډول مظـاهرو کـې یـې ګـډون کـړی دی. دا مظاهرې ټولې سولییزې او هدفمنې وې. د ټولـو هغـو غونـډو، لاریونونـو، جرګو، مرکو، سیاسي سیمینارونو او ورکشاپونو شمېر چې یون په مستقیم او نامستقیم ډول او د نورو هېوادوالو په مرسته جوړ کړي په تېرو (۳۰) کلونـو کې تر (۸۰۰) بېلابېلو غونډو اوړي.

د ملي او اسلامي هویت د خوندیتابه لپاره یې ټینګه او متواتره مبـارزه د ملي او سیاسي مبارزو یوه بېلګه ده.

**ج- فرهنګي برخه کې:** یون د یو خپلواک لیکوال په توګه په تېرو دېرشو کلونو کې ګڼ شمېرفرهنګي، علمي او اکاډمیک خدمتونه ترسره کړي،په ګڼو چاپي، رادیویي او ټلویزیوني مرکو کې یې د و اقعیتونو او حقایقو د څرګند بیان له امله د خلکو په زړونوکې ځای نیولی دی. که څه هم ډېر خلک د یون لیکنې، مرکې او نظریات خوښوي، خو یو شمېر داسې خلک هم شته، چې د یون سرسختي مخالفین دي؛ د هغه ملي او ګټورو نظریاتو ته هم غلط رنګ او تعبیر ورکوي، دا ډول اشخاص، چې اکثره یې زورواکي او د سیاسي ډلو ټپلو غړي او مشران دي، د یون نظریات خپلو شخصي او تنظیمي ګټو ته خطر بولي، نو ځکه یې په ټینګه مخالفت کوي. هر کله چې یون کومه لیکنه او مرکه کړې، نو ډډه پر وړاندې یې مثبت او منفي غبرګونونه دواړه راپارولي دي،

منفي غبرگونونه اکثره وخت د هغو اشخاصو او ډلو له خوا وي، چې په تېر کړکېچن سیاسي بهیر کې یې ډېرې نامشروع گټې ترلاسه کړي او ځانونه یې مطرح کړي دي.

مثبت غبرگونونه اکثره د ولس د مشرانو، روښنفکرانو او نورو مخورو له خوا وي، خو یون په دغسې سختو اغزنو او تنگو شرایطو کې بیا هم خپلو فرهنگي، سیاسي او ټولنیز کارونو ته دوام ورکړی دی.

د ټولو هغو لیکنو، مرکو او ویناوو شمېر چې استاد یون په تېرو (۳۰) کلونو کې د هېواد په داخل او بهر کې له چاپي، غږیزو، لیدنیو او برېښنایي رسنیو سره کړي تر (۱۲۰۰) عنوانو لیکنو، مرکو او ویناوو اوړي.

د استاد یون اوسنی فرهنگي کارونه، چې تاسو یې اوس په مسلسل ډول گورئ، د تېرو دېرشو کلونو په بهیر کې ترسره شوي دي. استاد یون په تېرو (۳۰) کلونو کې تر (۵۰) عنوانو زیات اثار لیکلي چې نږدې ټول یې چاپ شوي، دا اثار یې هم په برېښنایي ډول، هم په کتابي ډول او هم په (CD) کې لوستونکو ته وړاندې کړي دي. استاد یون پر خپلو فرهنگي کارونو سربېره د گڼو فرهنگي ټولنو د غړي، همکار او موسس غړي په توگه هم خپل فرهنگي رول ادا کړی دی، په پېښور کې یې د دوو المان مېشتو فرهنگي ټولنو (دافغانستان دکلتوري ودې ټولنې) او(د پښتني فرهنگ د ودې پراختیا ټولنې) د همکار په توگه د بېلابېلو لیکوالو په لسگونو اثار، ایډیټ او چاپ کړي دي. دغه راز یې د سلگونو کورنیو مشاعرو، ادبي غونډو او سیمینارونو په جوړونه کې ونډه اخیستې ده، خپله یې هم په سلگونو مشاعرې،سیمینارونه او علمي ورکشاپونه جوړ کړي دي.

په رسنيزه برخه کې يې د (ژوندون) په نامه يو رسنيز مرکز جوړ کړی چې ژوندون راډيو ټلوېزيون په کې فعاليت لري، دا راډيو ټلوېزيون د ټول هېواد په کچه نشرات لري او د سټلايټ او وېبسايټ له لارې يې هم ټولې نړۍ ته نشرات رسېږي.

په اکاډميکه برخه کې يون د ( کونړ) او (لغمان) پوهنتونونو په تاسيس کې اساسي نقش لوبولی دی او اوس دا دواړه پوهنتونونه په زرگونو محصلين لري، دغه راز د يو شمېر خصوصي ښوونځيو او پوهنتونونو په جوړونه کې يې هم مرسته کړې ده. يون د (هيلې، شمشاد او کابل پوهنتون) په نامه د درېو مجلو د مسول مدير په توگه هم خپله دنده اجرا کړې ده. پر خپلو کتابونو سربېره يې د بېلابېلو ليکوالو نږدې (۴۰۰) عنوانو بېلابېلو اثارو ته د چاپ زمينه برابره او د يو شمېر نورو د سمون چارې يې هم پر مخ وړي دي.

په سيمه ييزه او ملي کچه يې د (۳۰) کلونو په بهير کې تر (۱۱۰۰) زياتې ادبي، علمي او فرهنگي غونډې، سيمينارونه او ورکشاپونه جوړ کړي دي.

## چاپ شوي اثار يې په دې ډول دي:

## الف- پنځونې:

| کتاب نوم | ځرنگوالی | چاپکال |
|---|---|---|
| متکور | (لومړۍ شعري ټولگه) | دويم چاپ ۱۳۸۷ل کال. |
| په اورونو کې سندرې | (دويمه شعري ټولگه) | دويم چاپ ۱۳۸۷ل کال. |

## ب- راټولونې:

- هیلې (ګډه شعري ټولګه) دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- نیمګړي ارمانونه (د حیران شعري ټولګه) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- د لوونو فصل (ګډه شعري ټولګه)دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- د نازو انا یاد (د سیمینار د لیکنو ټولګه) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- د الفت نثري کلیات (د الفت نثرونه) درېیم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- سیندونه هم مري (د اسحق ننګیال شعري منتخبات) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- د پښتو ادب لرغونې دوره (لومړی ټولګی) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.

## ج- ژباړنې:

- د ټولنپوهنې له نظره: په افغانستان کې د واک جوړښتونه، د (پوهنوال روستار تره کي) اثر دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- .د افغانستان فرهنګي میراثونو ته یوه کتنه (د نینسي دوپرې اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- په افغانستان کې د جګړې جنایتکارانو محاکمه(د پوهنوال روستار تره کي) اثر دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- فلسفه او فلسفي بهیر (د استاد افغانیار اثر) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.

## د- یونلیکنې:

- د اماراتو سفر (د اماراتو یونلیک) دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- که یون دی یون دی (د اروپا یونلیک) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- دېنتاګون ترخنډو (د امریکا یونلیک) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- د کرملین په زړه کې (د روسیې یونلیک) لومړی چاپ۱۳۸۹ ل کال.
- د ډېلي تخت هېرومه (د هند یونلیک) لومړی چاپ۱۳۸۹ ل کال.

- درې ورځې د افسانو په وطن کې (د هلمند یونلیک) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- د خدای تر کوره (د حج یونلیک) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.

## هـ- څېړنې او شننې:

- د محمدګل خان مومند اند و ژوند ته یوه لنډه کتنه (څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- استاد زیار د پښتني فرهنګ یو ځلاند ستوری (څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- دکابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي پښتو کتابښود (څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- د افغانستان فرهنګ ته اوښتي زیانونه (څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- د پښتو شعر هندسي جوړښت (علمي اثر) شپږم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- له افغانستانه د مسلکي کادرونو د فرار عوامل (څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- ساینسي پرمختیاوې (څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- بېړنۍ لویه جرګه ولسواکي او زورواکي (سیاسي څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- اندیال خوشال (د څېړنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- هیله د خپلو سریزو په لمن کې (د تحلیلي لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- کلتوري یون(د ادبي څېړنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- فرهنګي فقر (د کلتوري څېړنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.

- مرکه او مرکې (له بېلابېلو لیکوالو سره د مرکو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- خوشال په خپل ایډیال (د څېړنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- دکتابونو په وړمو کې (پر بېلابېلو اثارو د لیکل شویو سریزو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- افغانستان په سیاسي کړلېچ کې (د سیاسي او ټولنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- پښتو لیکنی سمون (ژبنی څېړنیز اثر) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- اوسنۍ رسنۍ(څېړنیز اثر) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- که نړیوال ماته وخوري؟ (د سیاسي او ټولنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- جنګ او فرهنګ په افغانستان کې (د کلتوري څېړنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- د سمون په لټه (د سیاسي او ټولنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- کتاب الشعر (د علمي څېړنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- کره کتنه (علمي اثر) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- ادب تاریخ (علمي اثر) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- ملي درسونه (د سیاسي لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۹۴ل کال.
- د نجات څلی (څېړنیز اثر) لومړی چاپ ۱۳۹٦ ل کال
- د ارګ نا ویلې خبرې (سیاسي څېړنیز اثر) لومړی چاپ ۱۳۹٦ل کال.
- د زمانې په کړلېچ کې (څېړنیز او تحلیلي اثر) لومړی چاپ ۱۳۹٦ل کال.
- ملي هویت او ملي عزت (څېړنیز او تحلیلي اثر) ۱۳۹٦ل کال.
- د خادم نړۍ لید (څېړنیز اثر) ناچاپ ۱۳۹٦ل کال.

استاد یون د (۱۳۹٦ل) کال د کب پر (۱۸)مه نېټه په تذکره کې د لیکل شوي عمر له مخې پوره پنځوس کلن شو، ژوند یې د نیمې پېړۍ وروستي حد ته ورساوه. خو دا نیمه پېړۍ له منډو، تړړو، ستونزو، کړاوونو، جنجالونو او همدارنګه له بریاوو سره مله وه. له لومړي ټولګي څخه مخکې دوران خو بېخي د ماشومتوب دوران وي، په هغه کې انسان له زیاترو مسوولیتونو څخه بې غمه وي. له لومړي ټولګي څخه بیا تر دولسم ټولګي پورې د زده کړې زمانه وي، یون سره له دې چې په دې دوران کې د پلرنۍ مینې له نعمته محروم شو، د کور د سرپرستۍ درونده مسوولیت ورپه غاړه شو، خو دې سره سره یې خپلو زده کړو ته یې دوام ورکړ، په همدې بهیر کې یې ادبي پنځونې وکړې او د (۱۲) ټولګي په بهیر کې یې د خپلو ادبي هڅو یا راټولونو لومړی ثمر (هیلې) ګډه شعري ټولګه چاپ کړه. د ژوند درېیم پړاو یې د تحصیل دوره ده چې د څلورو کلونو په ترڅ کې یې په ښه ډول ترسره کړه. په دې بهیر کې یې (مټکور)، (د لوونو فصل)، (نیمګړي ارمانونه) او (د نازو انا یاد) اثار ټولنې ته وړاندې کړل. د ژوند بله مرحله یې د ګټو خدمتونو مرحله ده چې له (۱۳۷۱ل) کال څخه پیل بیا تر دې دمه (۱۳۹٦ل) کال پورې رارسېږي.

دا نو د ګټو خدمتونو مرحله ده چې پوره شپږ ویشت کاله وخت یې ونیو او ده هم په کې ښې ډېرې هلې ځلې وکړې چې موږ یې دمخه یادونه وکړه.

که یوازې په فرهنګي برخه کې د تېرو دېرشو کلونو په بهیر کې مـوږ د استاد یون له خـوا ټـول لیکـل شـوي، ژبـاړل شـوي او راټـول شـوي اثـار محاسبه کړو، نو تر (۱۵۰۰۰) کتابي مخونو یې شمېر اوړي او دا بیا کـه دده د لیکوالۍ پر (۳۰) کلن عمر ووېشو نو د ورځې لږ تر لـږه یـو نـیم مـخ کـار کېږي. یانې استاد په (۳۰) کلونو کې یوه ورځ هم بې لـه لیکـوالۍ نـه ده تېره کړې. دا په داسې حال کې ده چې پـه سـلګونو بېلابېـل لیکـل شـوي پیغامونه، ویناوې، مرکې، مباحثې، منـاظرې او لکچرونـه لا پـه دې کمیـت کې شامل نه دي. ددې ترڅنګ هغه په سلګونو غونډې، مظـاهرې، ټـولنیز او سیاسي خدمتونه ترسره کړي، چې موږ یې دمخه یادونه وکړه، هغه لا لـه دې فرهنګي کار څخه جلا دي، که دا ټـول کارونـه سره محاسـبه کـړو، نـو رښتیا هم سړی فکر کوي چې دا دومره کارونه د هـر چـا پـه وس پـوره نـه دي. هغه چا چې استاد یـون سره لـه نـږدې کارونـه کـړي وي، هغـو تـه د استاد د کار اوسېله، زغم، هوډ او اراده معلومېږي. هر سړی ورسره کار هـم نه شي کولای، یو ستړی، ستومانه او سرګردانه خو ګټور او مثمر ژوند لـري، زه ورسره له (۱۳۸۳ل) کال راهیسې کار کوم، د کار او فشار کچه یـې ماتـه تر هر چا زیاته معلومه ده. د همدغو کارونو برکت و چـې افغانسـتان کـې د ملتپالنې یوه نوې جذبه، روحیه او ولوله راپیدا شوه. داسې یو وخـت هـم دلته تېر شو چې د واکمنو جنګسالارانو پـر وړانـدې چـا سـوې هـم نـه شـو کولای، خو استاد یې په مقابل کې ودرېد، ځوانانو یې ملاتړ وکړ او بیا یـې ولس هم ملاتړ ته راودانګل. د هېواد ملي او اعتقادي هویت په خطـر کـې و، د ملي هویت تذکرو کې د (دین) او (ملت) د سـترو ارزښـتونو د لیکلـو

مخنیوی کېده، خو استاد یون او ملګرو یې د اسلامیت او افغانیت غږ اوچت کړ او ان د کرزي او غني حکومتونو هم د دې رسا غږ او داعیې مخه ونه شوه نیولی. په داسې حال کې چې افغانستان پردیو ایډیالوژیو سخت زیانمن کړی و، د یوه ملي فکر رغول او ځلول اسانه کار نه و، خو د استاد یون او دده په شان د ځینو نورو شخصیتونو برکت و چې د ملي هویت، ملي فکر او ملي ویاړونو ولولې تر هرې بلې ایډیالوژۍ زیاتې ځلیږي. زه نه غواړم دا لیکنه تر دې زیاته اوږده کړم، ځکه د استاد مبارزه دده په فعالیتونو او همدارنګه د استاد په ټولو اثارو کې انځوریږي. خو ددې څو ټکو یادونه مې ځکه وکړه چې زموږ راتلونکی نسل د استاد د ملي او فرهنګي مبارزو او د هغه د زمانې له چاپېریال څخه خبر شي.

استاد یون ته د اوږد عمر او لا زیاتو بریاوو په هیله

ضیاء الرحمن ضیاء

کابل- ژوندون راډیو ټلویزیون

(۱۳۹٦ل) کال د کب، (۲۷)مه نېټه

# زما د نیمې پېړۍ یون

ژوند یو سفر دی، پیل، منځ او پای لري. د (۱۳۹٦ل) کال د کب پر (۱۸)مه نېټه زه د تذکرې د رسمي سن له مخې پوره پنځوس کلن شوم. په دې مانا چې په دې نړۍ کې مې پوره پنځوس کاله مزل وکړ. دا مزل به ګوډ و مات و، له ستونزو او کړاوونو به ډک و، هدفمن او بې هدفه به هم و، خو هر څه چې و، ژوند و نو. له کومې ورځې چې مې ښي او کیڼ لاس پېژندلی، کوښښ مې کړی چې هدفمن ژوند ترسره کړم، خو ټول کارونه د انسان په وس پوره نه دي، چاپېریال کله پر سړي داسې کانې وکا چې د ژوند بهیر او د فکر مسیر یې وربدل کا. له کومې ورځې چې مې قلم ګوتو کې نیولی، نو بیا پر ځان پوه شوی یم چې نه هر څه چې وي، هر څومره ستونزې چې وي، وي دې، ملت ته باید یو څه وکړم. د شعر په لیکلو مې شعور نور هم وده وکړه، خوشال بابا وایي چې شعر مشتق دی له شعوره، نو کېدی شي شعور مې وده کړې وي او احساس مې څورېدلی وي چې د ژوند دې بلې نړۍ ته یې هم متمایل کړم. د ښوونځي په لسم ټولګي کې وم چې د وخت په اخبارونو کې مې شعرونه چاپ شول، دا زما د زیاتې هڅونې سبب شول. پر همدې مهال په خوشال خان لېسه کې د ادبي انجمن مسول وم. دې سره مې د خپل وخت له ځینو اخبارونو سره قلمي

همکاري پیل شوه او په دې ډول مې په رسمي ډول ادبي سفر هم پیل شو. خو له شعر او شاعرۍ سره مې مینه ان له هغه وخته وه چې په ښوونځي کې شامل شوم.

په دولسم ټولګي کې وم چې د (هیلې) په نامه مې د لرو او برو پښتنو افغانانو د ځوانو لیکوالو یوه تذکره یا غورچاڼ برابر کړ او پر (۱۳۶۶ل) کال چاپ شو، د پوهنځي پر وروستي کال مې د (نیمګړي ارمانونه) ، (د لوونو فصل) په نامه دوه راټولونې او هم مې د خپل شعرونو ټولګه (مټکور) چاپ کړې. په دې ډول نو له (۱۳۶۶ل) کال څخه بیا تر (۱۳۹۶ل) کال پورې چې پوره دېرش کاله کېږي، ما له فرهنګي دایرې بهر ژوند نه دی کړی او که د چا خبره ووایم چې یوه ورځ هم له فرهنګي کار او روزګاره بهر نه یم پاتې شوی، مبالغه به مې نه وي کړې. البته په دې تېر دېرش کلن بهیر کې ځینې سیاسي کارونه له ناچارۍ څخه راباندې تحمیل شوي او ځینې ټولنیز کارونه مې په خپله خوښه ترسره کړي، خو دا کارونه مې هم د خپل ولس د سوکالۍ، د ملي واکمنۍ د ټینګښت او د فرهنګي کارونو د ملاتړ لپاره ترسره کړي دي. په (۱۳۸۵ل) کال زه د جمهوري ریاست د ملي امنیت شورا دفتر د فرهنګي چارو رییس وم. دا مهال زما له منظم فرهنګي کار څخه څه باندې دوه لسیزې عمر تېر شوی و، په څنګ کې د نورو هغو ملي، سیاسي او ټولنیزو کارونو پر وړاندې چې ما یې د سرته رسولو هیله لرله، سخت خنډونه موجود وو، له خپلو ملګرو؛ ضیاءالرحمن ضیاء او وفاالرحمن وفا سره مې مشوره وکړه چې راځئ فرهنګي کار ته اړم شو، دا کارونه جانبي عوارض نه لري او که لري یې هم کم دي، تنګنظره سیاسي

اشخاص ورسره ژر حساسیت نه ښيي او که دوی حساسیت ښکاره هم کړي، نو موږ به خپل کار ترسره کړی وي. ددې فرهنګي کار لپاره مو یو پلان جوړ کړ، په څه باندې دوو کلونو کې مو د نږدې دوویشتو کلونو په ترڅ کې شوي فرهنګي کارونه راټول او منظم کړل. زما له خوا ټول پخواني لیکل شوي کتابونه او راټولونې مې له سره منظم او تر سمون وروسته مو چاپ ته تیار کړل، دا کار که څه هم ډېر ستونزمن و، خو پخې ارادې موږ خپل هدف ته ورسولو. ټول (۳۳) عنوانه بېلابېل اثار مو پر یوه وخت چاپ کړل. (۱۳۸۷ل) کال زما لپاره د فرهنګي کارونو یو غوره کال و. د خوږې خاطرې په توګه مې په ذهن کې دی. هغه وخت مې هم په یادښتونو کې لیکلي او ملګرو ته مې هم ویلي وو چې هېواد کې حالات ترینګلي دي، پر ژوند یوه شېبه هم باور نه شته، نو هر چا چې هر څومره فرهنګي کارونه کړي یانې اثار یې لیکلي دي، باید په خپله یې راټول او چاپ کړي.

زما کار یوه نوې تجربه وه، ځینو نورو لیکوالو هم هڅه وکړه دا تجربه تکرار کړي، خو په لاره کې ټکني شول، خپل کارونه یې بشپړ نه کړای شول. زما د خپلې تجربې له مخې ترڅو چې کار ته کار ونه وایې او خپله یې ترسره نه کړې، کارونه په خپل سر نه خلاصېږي. کله چې مې د عمر نیمه پېړۍ مزل وواهه، نو یو ځل بیا مې زړه کې راتېره شوه چې د خوشال بابا په وینا چې د عمر اساس پر باد ایښی دی، نو بیا خو پرې اعتماد هم په کار نه دی، راځه دا ځل د خپل ټول فرهنګي ژوندانه کړي کارونه چې دا وخت پوره دېرشو کلونو ته رسېږي، بیا له سره منظم او

کلیاتو په بڼه چاپ کړه. له دې کار څخه مې هدف دا و چې په ژوند کې مې نه دي غوښتي څوک راڅخه ازار شي او یا د چا د اوږو پېټی شم، هسې نه چې تر مرګ وروسته زما لیکنو او اثارو پسې، ښه دي، که خراب، کمزوري دي که قوي، هنري دي که ناهنري، څوک سرګردانه شي او پر راټولونې یې ځان ستړی کړي. له خدایه شکر کاږم چې ژوند یې راته د نیمې پېړۍ وروستي حد پورې راورسوه، دا د هغه لوی ذات پېرزوینه ده، که نور یې راته وغځوي، نو هم لویه مهرباني به یې وي او که نه برخلیک یې راته وخته لیکلي وي، نو ژوند خو د هغه لوی ذات ډالۍ ده، هر وخت یې اخیستلای شي. په دې خاطر مې یو ځل بیا پر ټولو پخوانیو چاپ او وروسته پر ځینو ناچاپو اثارو ګوتې ووهلې او د محتوایي وېش له مخې مې سره منظم کړل، ټول پنځوس عنوانه شول چې راټولونې، پنځونې، ژباړنې او څېړنې ټولې په کې شاملې دي. دا ټول پنځوس عنوانه بیا د شکل او محتوایي وېش له مخې په (۱۴) بېلابېلو ټوکونو کې تنظیم شول او (نیمه پېړۍ یون) نوم ورته ورکړل شو.

دا پنځوس بېلابېل اثار چې بڼه مې پورته ورته یاده کړه زما د نیمې پېړۍ په تېره بیا (۳۰) کلونو فرهنګي سفر پایله او ثمره ده چې خپلو قدرمنو هېوادوالو ته یې وړاندې کړم. که چېرې په هېواد کې جګړه او ناورین نه وای، نو کېدی شول تر دې زیات کار ترسره شوی وای، خو موږ بدمرغه نسل وو چې له ډېر تنکي زلمیتوبه مو جګړه پیل شوې او دادی تر نږدې سپینږیرتوبه لا دوام لري. زه د ښوونځي په شپږم ټولګي کې وم چې جګړې د پلار له خواږه نعمته محروم کړم. له هغې ورځې بیا تر دې لیکنې پورې (۳۸) کاله تېرېږي، خو د پلار مرګ مې د پرونۍ ورځې د ترخې

**خاطرې په شان په ذهن کې انځور دی. ما غوندې په ملیونونو افغانانو د جګړې ټپونه او دردونه لیدلي دي.**

**نږدې دوه نسلونه په جګړه کې راګیر شول او لوی شول. د جنګ نسل د فرهنګ نسل نه دی. جګړه ډېره بدمرغه پدیده ده، د فرهنګ او تمدن د عمرونو مېوه او ثمره په یوه ساعت کې پوپناه کړي، نو په داسې یوه جګړه ییز چاپېریال کې چې هر څوک د ټوپک تر واکمنۍ لاندې د قلم د حاکمیت لپاره کار کوي، له اور سره د لوبو په مانا دي. له دې معترضه جملې څخه مې هدف دادی چې زموږ راتلونکی نسل باید پر دې پوه شي چې که ما او زما د عمر ټول پښت راتلونکي نسل ته څه ډېر بډایه فرهنګي سوغات نه دی ډالۍ کړی، نو په دې کې زیات قصور د زمانې دی. خدای(ج) دې وکړي چې زموږ راتلونکی پښت زموږ په شان د ډول ډول انقلابونو د ژرندو تر پلونو لاندې ګیر نه شي، چې د غنم د دانې په شان یې ژوند محوه شي او یا یې هم اغزن چاپېریال د ژوند مېوه پخېدو ته پرې نه ږدي. الله تعالی دې وکړي زموږ راتلونکی پښت زموږ د زمانې له تاوجن چاپېریال څخه ښه پند او عبرت اخیستی وي او د یوه سوکاله ژوند او پرمختللي افغانستان لپاره ورته مناسب فرصتونه برابر شي.**

**ددې لیکنې په دې برخه کې غواړم د خپل ژوند په پنځوس کلن بهیر او په تېره بیا په (۳۰) کلن فرهنګي ژوند کې له ټولو هغو دوستانو څخه مننه وکړم چې په یو نه یو ډول یې زما د فرهنګي مبارزې لاسنیوی کړی دی. خپل مرحوم پلار ته د دعا لاسونه پورته کوم چې زما مزل یې تر شپږم ټولګي پورې راورساوه او بیا یې د خپل ابدي سفر لمنه ونیوه، خو ما یې د جنازې بازو ته اوږه ور نه کړای شوه او نه مې د مرګ پر مهال د هغه مبارکه څېره ولیده، د پلار قبر مې معلوم نه دی. د ژوند یو ارمان مې دا و**

چې کاشکې یې قبر معلوم وای چې لکه د مرغۍ د بچي په شان مې پرې وزرې غوړولای وای، څو شپېې ورسره ارام غځېدلای وای، د هغه د هغو مهربانیو قدر مې کړی وای چې زه یې پر اوږو گرځولای وم. بازار ته یې بیولی وم، مېلې ته یې بیولی وم، ډاکتر ته یې بیولی وم، پټې به یې جیب کې راته پیسې ایښودلې، له نورو پټې. اوس مې نو له خدایه لویه هیله همدا ده چې تر مرگ وروسته مې لومړی ملاقات له خپل پلار سره وشي، په پښو کې ورته ورغړم راورغړم او خپله مینه پرې ماته کړم.

مور مې راسره ډېره په تکلیف شوې، د ژوند ټول ارمان یې خپل زوی ته و، زه یې د یوازیني زوی په توگه ډېر نازولی یم، ځان یې په تکلیف کړی، خو زه یې سختو ته یې نه یم پرې ایښی، ماته یې د تعلیم زمینه برابره کړې، د ټیکري په پیڅکې پورې تړلې پیسې یې راته رالبږلې، خو زه یې بې خرڅه کړی نه یم، بختور وم چې د مور جنازې ته مې په خپله اوږه ورکړه، د وفات پر وخت مې د هغې جنازې ته ځان ورساوه، لکه د مرغۍ بچي چې د خپلې مور پښو ته رغړي، داسې ترې تاو راتاو شوم، سترگې مې ورته ښکل کړې، سترگې یې رڼې وې، لکه چې د خپل یوازیني زوی لیدو ته په طمع وې، مور مې ډېر وخت غېږ کې ونیوله، داسې چې زه به یې کلک غېږ کې نیولی وم، ایا څوک به وي چې د داسې یوې صحنې پوره انځور وکاږي.

له جلال اباده تر لغمانه مې د مور د تابوت سر ته ناست وم، ډېر مې ورته وکتل، په لیدو یې نه مړېدم، له حج څخه مې ورته کفن راوړی و، د خدای په کور مې موښلی او د زمزم په اوبو مې مینځلی و.

له خپلو خوږو خویندو مې هم ډېره مننه کوم چې زما په روزنه او پالنه کې یې ډېر زیات زیار گاللی، له مشرانو او کشرانو خویندو ټولو څخه

ډېره مننه، خو ما یې لا د خدمت حق نه دی اداکړی، له خپلو ټولو استادانو څخه چې له لومړي ټولګي څخه بیا د دوکتورا او پوهاندۍ تر کچې یې ګام پر ګام زما معنوي ملاتړ کړی، له خپلو ټولو هغو دوستانو، ملګرو، لیکوالو، د مال او عزت له خاوندانو څخه هم ډېره مننه چې په دې نیمه پېړۍ کې یې له ماسره مادي مرسته او لاسنیوی کړی دی.

له خپلې مېرمنې او اولادونو څخه ډېره مننه کوم چې په تېرو (۲۲) کلونو کې یې راسره د ژوند ډېرې سړې او تودې وګاللې او زما فرهنګي چارو کې یې له ما سره تر وروستي بریده مرستې وکړې.

له قلموالو، لیکوالو او نورو هغو دوستانو چې زما د اثارو په کمپوز، سمون او چاپ کې یې په یو نه یو ډول مرسته کړې له ټولو منندوی یم، خدای(ج) دې ټولو ته اجرونه او ثوابونه ورکړي، که ددغو ټولو دوستانو مالي او معنوي ملاتړ نه وای، نو خدای خبر چې زه د دغومره کارونو د سرته رسونې جوګه شوی وای او یا دغه اثار تر تاسو دررسېدلي وای او هم نور فرهنګي، ټولنیز او ملي کارونه ترسره شوي وای.

له ټولو یوه نړۍ مننه

ستاسو د ټولو یون

(۱۳۹٦ل) کال د کب (۱۹)مه

کابل- افغانستان



د پښتو شعر
هندسي جوړښت
لنډۍ
سروکی
کاکړۍ غاړې
د اتڼ نارې
ببولاله
چاربیته
بدله
بګتۍ
لوبه
او نور...
غزل
څلوریزه
قطعه
بولـــه
دویزه
درېیز
مستزاد
څلوریز
پنځه بیز
شپږیز
او نور...
محمد اسمعیل یون
۱۳۸۷ ل کال

# د پښتو شعر

# هندسي جوړښت

## لیکوال

## محمد اسمعیل یون

# بسم الله الرحمن الرحيم

## کتاب پېژندنه


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | د پښتو شعر هندسي جوړښت |
| لیکوال: | پوهیالی محمد اسمعیل یون |
| خپرندوی: | یون کلتوري یون |
| چاپشمېر: | ۱۰۰۰ ټوکه |
| لومړی چاپ: | ۱۳۷۷ل کال |
| شپږم چاپ: | ۱۳۸۷ل کال |
| د لیکوال پرله پسې نومره: | (۱۳) |
| د خپرندوی پرله پسې نومره: | (۱۳) |
| کمپوزر: | ضیاءالرحمن ضیاء |

# د دې چاپ سریزه

((د پښتو شعر هندسي جوړښت)) د پوهنیارۍ علمي رتبې لپاره زما تېزس و. د څو کلن تدریس په بهیر کې چې کله ما هم پښتو نظم او د هغه بېلابېل ډولونه تشریح کول او یا مې له محصلینو څخه د هغو د تعریف پوښتنه کوله، نو زیات شمېر به په کې ټکني کېدل، د وخت په تېرېدو سره ما پر تشریح سربېره د هغو شکلونه هم ورته پر تخته رسمول، بیا به مې تري پوښتنه کوله، نو دوی به د هر فورم شکل سم رسموه، خو په ګړني یا لیکني تعریف کې یې بیا هم ستونزې لرلې.




له دې څخه ماته ښه پته ولګېده، چې هر وخت د یوه شي جسم مجسم شي، نو ذهن ته ژر لاره پیداکوي. همدا وجه وه چې د پوهنیارۍ ترفیع لپاره مې همدا موضوع ثبت کړه. له ځانګې څخه

زما دا موضوع په ښه ډول پاس شوه، د پوهنځي علمي شورا هم په کې څه ستونزه راولاړه نه کړه، خو کله چې د پوهنتون علمي شورا ته لاړه، نو د طبيعي علومو پوهنځيو يو شمېر استادانو، لــه هغــې جملې څخه هم يو دوه تنو، چې د هر چا په علمي ترفيع کې به يې خنډ راولاړوه، سخت مخالفت وکړ، ويې ويل چې: شعر له هندســې سره څه اړه لري؟ او همدارنګه ځينې نور دلايل، خو کله چې زه ور پسې لاړم او ددې اثر په اړه مې معلومات ورکړل، نو د هغوی هم نه يوازې قناعت حاصل شو، بلکې ماته يې وويل، چې دا زمــوږ لپــاره هم جالبه موضوع ده. په پای کې دې اثــر د ترفيــع ټــول پړاوونــه ووهل. تر هغې وروسته مې د چاپ تکل وکړ. په امريکا کې زما يــو دوست ښاغلي وزيرګل پښتونيار يې مالي لګښت پر غاړه واخيست او دا اثر چاپ شو. تر چاپ وروسته هم چا چې لوســتی و، خــوښ شوی يې و، څرنګه  چې د پښــتو نظــم تشــريح د ژبــو او ادبيــاتو پوهنځيو د پښتو څانګو يوه مهمه موضوع ده، نو محصلينو ته د يو درسي مرستندوی کتــاب کــار يــې هــم ورکــړ. زيــاتو محصــلينو واخيست، نو ځکه يې د بيا بيا چاپ څو ځلــي اړتيــا پيــدا شــوه، تراوسه پورې دا اثر پنځه ځلي چاپ شوی، خو زه فکر کــوم، چــې نورو چاپونو ته يې هم اړتيا ده. که څه هم ما غوښتل چې يو څه نور تغيرات هم په کې راوړم، خو اوسمهال راته  دا مجال پيدا نه شو. له نورو ادبپوهانو څخه مې هيله ده، چې هم دا اثر کره کړي او هم يې

لاپسې وغځوي. له قدرمنو محصلینو څخه مې هم هیله ده، چې د لوستلو او ددې اثر د کارولو په حالت کې، کــه لــه کــوم ابهــام او ستونزې سره مخامخېږي او یــا هــم د نــورې اســانتیا لپــاره څــه وړاندیزونه او نظرونه لري، په لیکلې بڼه دې ماته راولېږي، چې پــه راتلونکو چاپونو کې يې په کې ځای پر ځای کړو.

نور نو دا کتاب او دا هم تاسې قدرمن لوستونکي.

په درنښت

د پوهنیزو مرکزونو د پیاوړتیا په هیله

پوهندوی محمد اسمعیل یون

ارګ، د جمهوري ریاست ودانۍ

د ۱۳۸۷ل کال د کب ۲۲مه نېټه

کابل - افغانستان

# د لیکوال په باب څو خبرې

ما لپاره د ډېرې خوښۍ ځای دی، چې د کابل پوهنتون ځوان استاد او د پښتو زیارکښ لیکوال او ښه شاعر پر ما ګران محمد اسمعیل یــون د کابل په ډېرو سختو شرایطو کې د یو بل نوي کتاب په لیکلو بریــالی شوی دی او زیاته خوشالي لا په دې کې ده، چې اوس یې چاپ ته امادہ کړی او چاپېږي.

ده مهرباني وکړه او له مانه یې وغوښتل چې څو کرښې د سریزې په توګه پرې وکاږم، خو زه په دې سریزه کې ددې اثر د ښاغلي لیکوال په باب څو خبرې کوم.

د شپېتمو کلونو په اوایلــو کــې لا ښــاغلی محمــد اســمعیل یــون پوهنتون ته نه و شامل شوی او د خپلو منځنیو زده کړو وروستي کلونه یې تېرول، خو ما به دی لیده چې پــه ډېــر ذوق او شــوق یــې د کابــل مطابعو ته منظومې رامندې کولې او اثار یې چاپول. د کابل له ځینو جریدو سره یې همکاري کوله، په مشاعرو کې یې برخه اخیستله. د ده هڅو او استعداد دی په خپلو همزولو ځوانانو کې ښه وځلاوه. ده د هغه مهــال په ځوانانو کې ښه موقف او نوم پیدا کړ. د لیکوالــو ټــولنې او د کابــل پوهنتون فرهنګي شورۍ ته یې لاره پیدا کړه او له دغو دوو فرهنګــي موسسو سره یې ښه د مزې همکاري وکړه.

دا مهال ده خپلې پوهنتوني زده کړې پای ته رسولې، د زده کړو تـر ځنګه یې خپلې فرهنګي هڅې لا پراخولې د پوهنتون د ځینو ځوانانو په مرسته یې په کابل کې د یوې فرهنګي ټولنې د جوړولو لپاره کار پیل کړ.

پر ډېرو مشرانو فرهنګیانو وګرځېد او زمینه یې دې ته مساعده کړه چې زموږ مشران، کشران، فرهنګیان سره کېني او د خوشال فرهنګي ټولنه جوړه کړي.

له دې ټولنې او ددې ټولنې له بري او د کارونو له پرمختګ سره یـې اورنۍ مینه وښوده او دا مینه تراوسه ورسره پالي او د ټـولنې خپرنـې ارګان شمشاد مجله د زړه په وینو چاپ ته اماده کوي او خپروي.

وروستي شپږ کلونه زموږ د هېواد او خلکو لپاره د ویر او ماتم کلونـه وو، ډېرو لږو خلکو دغو ویرونو او ماتمونو ته زړه ونیـولی شـو، زیـاترو فرهنګیانو هېواد پرېښود، اما ده دغو ټولو ناخوالو، ستونزو، تنګسـو او کړاوونو ته ځان ټینګ کړ او په خپل هېواد کې پـاتې او فرهنګـي کـار سره یې مینه تر پخوا لا زیاته شوه. د خپلې همدې مینې پر اساس اوس یې یوه پښه په پېښور کې وي او یوه په افغانستان کې، دلته په پېښـور کې په خورا لوړ همت او بې ساري زیارکښـۍ د هیلـه مجلـه چـاپوي، کتابونه چاپوي او بیا یې افغانستان ته رسوي او په کابل کې یې پر هغـو پاتې فرهنګیانو وېشي.

دی اوس نه یوازې د چاپ او خپرولو په کار بوخت دی، بلکې له ډېرو مصروفیتونو سره سره پـه لیکلـو او تـالیف هـم بوخـت دی. مقـالې،

سرمقالې رسالې او کتابونه ليکي، هغه هم په داسې شرايطو کې چې د هېواد دننه نه د څېړنې لپاره شرايط برابر دي او نه منابع او ماخذ ميسرېږي.

زه دده ټولې فرهنګي هڅې ستايم. د لا زياتو برياليتوبونو لپاره يې دعا کوم.

په درناوي

سرمحقق زلمی هېوادمل

# د پښتو شعر هندسي جوړښت
# یو هنري او ښکلاییز نوښت

د هند د نیمې وچې په ادبي اسمان کې د علامــه شــبلي نعمــاني د ((شعرالعجم)) ( که څه هم ادبي تذکره هم ده) د لمر وړانګو د پارســي شعر و شاعرۍ کړلېچونه دومره وځلول او دومره یې د پارسي شــاعرۍ مراندي راښکلي چې نن هم د پارسي ژبې او ادب کېږدۍ پرې نېغه ولاړ ده. ان چې د لس اتو لسیزو د ادبي پرمختیایي بهیر له چټکتیــا ســره سره دومره څوک پیدا نه شول او یا به یې د شعر العجم پــر تلپــاتېینې دومره باور وي چې پر شویو بدیعي او صناعي تعریفاتو باندې یې د بیــا کتنې اړتیا ونه انګېرله او د اغېزمنۍ اندازه یې له دې نه هم لګي چــې ایرانیانو یې ببرته پارسي ژباړه اړینه وګڼله.

په پښتو کې هم د شعر العجم په څېر یوه اثر ته چې عربي او دېواني ادبي صنایع (غزل، رباعي، قطعه، قصــیده، مثنــوي، مســتزاد، مثلــث، مربع، مخمس، مسدس، مسبع، مثمن، معشر، ترجیح بند، ترکیب بنــد او...) راوښیي اړتیا وه. که څه هم د شعر العجم په څېر منظم او اوډلــي څه رامنځته نه شول؛ خو پښتو لیکوالو بیا هم خورې ورې هڅې وکړې او د ادبي فنون، روح ادب، د ادب مناره، قافیه، خوره شپېلۍ، بدیع او بیــان، لیتکی، بدیع او د پښتو شعر، د پښتو ادب په تاریخ کې قصیده، پښــتو

غزل او ... په څېر ځینې اثار رامنځته کړل، چې دې هـر اثـر پـر خپـل وخت د ځانګړو صنایعو په پېژندنه او سپړنه کـې پـه زړه پـورې ونـډه واخیسته؛ خو په خپله د پښتو د ولسي او فولکوري شاعرۍ د څانګو او څېلونو د پېژندنې اړتیا ته په پاملرنـه لـومړنی لیکـوال چـې د یـوې تخصصي او څانګیزې(مسلکي) اړتیا په توګه یې د پښتو شعر د رغښت او سکښت اړتیا وانګېرله، هغه د پښـتو ژبپـوهنې نوښـتګر او زیـارن اسـتاد پوهانـد ډاکتـر مجاوراحمـدزیار و، چـې د شـاعرانه او ژبنیـو ازمېښتونو په رڼا کې یې ((پښتو شعر څنګـه جـوړېږي؟)) نـومي اثـر رامنځته کړ او د خپلې څېړنې او ازمېښتونو لـه کـوچ او نچـوړ یـې دا راوایستل چې په پښتو شعر کې تر هرو درېو څپو وروسته څلورمه څپه خجنه (فشاري) راځي او یوازې په پښتو شـعر کـې نـه، بلکـې دده دا سپړلی دود پر هغو شعري چوکاټونو هم سور راځي، چې له عربي ژبـې نه ورته راغلي دي.

د پوهاند زیار دغه نوښتې هڅه رښتیا چې د پښتو شعر رغـونې پـر موضوع د یوه ځانګړي ازمېښت لرونکی اثر و، چې په علمي او څېړنیزه جامه کې پښتو شاعرانو او د شعر مینه والو ته وړانـدې شـو. تـر دوی وروسته که څه هم د اروابښاد استاد روهي ((شعر پېژندنه)) هم د شـعر پر تیورۍ او منځپانګه باندې یو ارزښتناک اثر و، چې د ژوندۍ شاعرۍ او ژمنې شاعرۍ ټک و برید په ګوته کوي.

ښایي د همدغو دوو استادانو د استادانه او نوښتګرانه روزنـې او لـه دوی دواړو سره د همېشنۍ ناستې ولاړې اغېز و، چې د دوی وتلـي او رښتین پتمن او مینه وال شاګرد د پښتو تنکی او هڅاند لیکوال او خوږ

ژبې شاعر ښاغلی محمداسمعیل یون یې د پښتو د ولسي شاعرۍ پـه بېلابېلو ځېلونو(ژانرونو) کې د یوه نوښت رامنځته کولو ته وهڅاوه او د شعر او نظم بدیعي تعریف ته یې داسـې یـوه سـمبولیکه ژبـه او یـوه هندسي جوله ورکړه، چې په دودېدنې سره یې د شعر د جولیز ارزښت یو عادي مینه وال هم له سر خوړوونکیو تعریفونو پرته په ډېره اسـانۍ کولای شي، چې په دېواني او ولسي شـاعرۍ کـې د قـافیې (c,b,a او نور...) ردیف (=)، مسره (___) له نښو نه په دې وپوهېږي چـې د شـعر قافیه، ردیف او نور لوازم کوم کوم دي؟

ښاغلی یون د ټاکلیو نښو لپاره خپله ورکه له لرغونې نه نیـولې تـر ځوانې شاعرۍ پورې لټولې ده، چې دا لټون او څېړنه په خپله یـو ډول پرتلې ته یوه بلنه غوندې هم ده. دده د دغو سمبولونو یا قیمتونـو پـه ټاکنه کې کېدی شي له تخنیکي او غږیز پلوه څه کمزورۍ تر سترګو شي او هغه څنګه چې یو خو یې دومره درانه ژبني او شعري نوښت ته په یوازې ځان اوږه ورته کړې او بل دا چې له هر نوي ګام سره کـاواکي او د تینـدک اندېښنه ارومرو ملګرې وي. خو له دې سره سره خبره په لوی سر کـې پـر دغسې یوه نوښتي چار باندې د لاس پورې کولو او اوږې ورته کولـو ده. زه په داسې ترخ کې چې ښاغلي یون ته د هېواد د سیاسي فضا پـه دغسـې خړ پرتیا او دوند کې د داسې یوه ستر نوښت په کولو پر مبـارکۍ سـربېره ځانګوالو شعر پوهانو ته هم بلنه ورکوم، چـې ده تـه پـه خپلـو لورانـدو لارښوونو او نغوتو د ځوان کول په وده کې برخه واخلي. البته خپله دا یـوه یادونه هم د ښاغلي یون د هڅان فطرت د درناوي په ترخ کې اړینـه بـولم چې که دی د خپل دې زیار په وړاندې د ولولې د ځوانۍ په غوښتنه په ډېر

لږ څه (پوهنیارۍ) نه وای بسیا شوی؛ نو ما دده دغه زیار په ګانده کې د ده د لوړو علمي او پوهنتوني رتبو لپاره بســـنده ګاڼــه، خــو بیــا هــم ورتــه د مبارکیو د وړاندې کولو او د نور پرمختګ په هیله خپله خبــره د خوشــال بابا په دې هیله منه وینا رالنډوم چې:

لا به ډېر ګلونه وا شي په دا باغ کې

د ګلزار د غــوړېـــدلو يې اغازدی

نمانځنه

محمدآصف صمیم

۷/۱/۱۳۷۷

پېښور

# د لاړښود استاد نظر

له ډېرې مودې راهیسې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي په پښتو څانګه کې د پښتو شعر د شکلي جوړښت په بــاب د یــو بشــپړ علمي- څېړنیز اثر لیکلو ته اړتیا وه، له نېکــه مرغــه ښــاغلي محمــد اسمعیل یون په خپل علمي هاند او هڅې سره دا علمي خلا ډکــه او دا مهم ضرورت پوره کړ.

((د پښتو شعر هندسي جوړښت)) د پوهنیار علمــي رتبــې لپــاره د یون ټاکلې موضوع ده. دا موضوع خورا ډېره جالبه، ضــروري او جــامع ده. محمد اسمعیل یون په ډېر زحمت، زیار او زغم سره دا موضــوع پــه هر اړخیز ډول څېړلې ده. ګڼ اثار او منابع یې ورپسې کتلي او په پــای کې یې له ګڼو نویو او پخوانیو اخځونو نه په کې ګټه اخیستې ده. اثر پر (۴) څپرکو وېشل شوی دی، په پیل کې سریزه راغلــې، چــې د پښــتو شعر پر شکلي سکښت او ددې اثر د لیکلو د اړتیا په باب خبرې کــوي. ورپسې د نظم هغه بېلابېل فورمونه معرفي شوي، چې په پښتو او عربي ژبه کې دود دي، بیا د پښتو ازاد شعر په باب څېړنه راغلې ده، ورپســې د پښتو ولسي شاعرۍ ګڼ فورمونه معرفي شوي دي. تر دې وروسته په بل څپرکي کې د پښتو ولسي شاعرۍ ځینې نور فورمونه معرفي شوي، په پای کې یو پایله (نتیجه) راوړل شــوې، چــې ددې کتــاب پــر ټــول ځرنګوالي او په عام ډول د پښتو شاعرۍ پر شکلي رغښت بانــدې رڼــا اچوي. سره له دې چې تراوسه پورې د ښاغلي محمداسمعیل یون یــو

شمېر نور علمي او څېړنیز اثار چاپ شوي او د (پوهنیار) علمـــي رتبـــې لپاره د ده هر یو اثر کفایت کاوه لکه: ((د ژبو او ادبیاتو پوهنځي پښـــتو کتابښود))، (( افغانستان ته اوښتي فرهنګي زیانونه)) او نور... پـــر هـــر یوه ده د (پوهنیار) علمي رتبه اخیستلای شوه. خو ده بیا هم د خپلـــې علمي ترفیع لپاره د ((پښتو شعر هندسي جوړښـــت)) نـــوې موضـــوع وټاکله. په ډېرو سختو او تنګو شرایطو کې یې خپله دا هیله پوره کړه او هغه اړتیا یې هم له منځه یوړه چې په پښتو څانګه کې د داسې یو اثر د نشتوالي له کبله محسوسېدله.

زه (( د پښتو شعر هندسي جوړښت)) علمي څېړنیز اثـــر د ښـــاغلي محمداسمعیل یون د (پوهنیار علمي رتبې) لپاره وړ، پوره او بشپړ ګنم او له اړوندو څانګو څخه هیله کوم، چې نوموړي ته د دې ګتـــور علمـــي اثر له کبله د پوهنیار علمي رتبه تصویب او ورکړي.

په درناوي

پوهندوی محمدصابر خوېشکی

د پښتو څانګې آمر

# سریزه

تراوسه پورې په پښتو ادب کې یو شمېر داسې پوهنیز (علمي) اثــار کښل شوي، چې په هغو کې د پښتو شعر پر جوړښت او رغښت بانــدې رڼا اچول شوې ده. دغه راز د پښتو شعر د مانیز او جولیز جوړښت پــه اړه ګڼ شمېر لیکنې شــوي او یــو شــمېر بېلابېــل شــعري فورمونــه (شکلونه) تر څېړنې او شننې لاندې نیول شوي دي. هر فورم پــه جــلا جلا ډول څېړل شوی او ځانګړنې یې په ګوته شوي دي. له همدې کبله د پښتو شعر(نظم) شکلونه په ټولیز (عمومي) ډول پر دوو لویــو برخــو وېشل شوي دي: (۱)

۱- د شعر یا نظم هغه فورمونه او چوکاټونه چې له عربي ژبــې څخــه پښتو ته راغلي، خو دلته زموږ په ژبه کې دود دي، سره له دې چــې دا شعري فورمونه له عربي ژبې څخه پښتو ته راغلي، خو د پښتو ژبــې د غږیز جوړښت تابع دي. په دې مانا؛ د نظم هغه قوانین چې په عربي ژبه کې د عربي نظمونو لپاره دود دي هغه نه مني او د پښــتو نظــم خپــل جوړښــت یــانې څپیــز- خجیــز (ســېلاب-تونیــک) سیســتم پــرې تطبیقېږي.(۲)

د غږیز او څپیز خجیز جوړښت له مخې دا شعري فورمونه یا صنفونه هماغه قوانین مني چې د پښتو د نــورې ولســي، ملــي او یــا لوســتې شاعرۍ د نظمونو پر بېلابېلو فورمونو تطبیقېږي.

په دې شعري چوکاټونو کې په ټولیز ډول د (۱۵) پــه شــاوخوا کــې شعري فورمونه موجود دي لکه: غزل، قطعه، قصیده، مثنوي، مستزاد، مثلث، مربع، مخمس، مسدس، ترجیع بند، ترکیب بند، معشر او... (۳)

۲- هغه شعري فورمونه یا د نظم چوکاټونه دي، چې هغه په خپلــه د پښتو شاعرۍ زېږنده دي او یا هم له پخوا څخه په دې ژبه کې باب دي. اکثره دا شعري چوکاټونه په نورو ژبو او په ځانګړي ډول د ګاونډیو ژبــو په شاعرۍ کې لیدل شــوي نــه دي. داســې ښــکاري چــې دا شــعري فورمونه د پښتو ژبې د غرېز او اهنګین جوړښت پــر بنســټ رامنځتــه شوي او خوند یې هم په همدې ژبــه کــې دی. د دې شــعري فورمونــو ځینې یې قافیې او ان ردیفونه هم لري، خو ځینې یې بیا لــه دې قیــد څخه هم ازاد دي، خو د غږونو او څپو داسې پرله پسې اوډنه او انتظــام لري، چې د نظم هرې مسرې ته یو ډول ځانګړی ترنم او اهنګ ورکــوي او هغه خوند پوره کوي، چې څوک یې له منظوم کلام څخه اخیتسلای شي. د یو منظم قانون له مخې د اهنګ لوړوالی او ټیټوالی او د ژبې لــه غږیز جوړښت سره بشپړ پیوستون، د پښتو ملي او ولسي شاعرۍ ډېره خوندوره کړې ده. له همــدې کبلــه خــو دا شــاعري زمــوږ د ولــس د موسیقۍ له څپو سره ډېره ښه اوډلتیا مومي او کله چــې بیــا دا دواړه ښکلي هنرونه سره یوځای شي، نو بیا د دردمنو زړونو زنګ لرې کړي.

د پښتو ژبې د شعر دا چوکاټونه هر یو بېل بېل شکل لري، د څپــو د شمېر او د مسرو د څومره والي او څرنګوالي له پلوه یو له بلــه بــدلون مومي، خو بیا هم د څپیز خجیز جوړښت له مخې پر ټولــو یــو قــانون تطبیقېږي. یانې تر هرو درېو څپو وروسته څلورمه څپــه خــج (فشــار)

اخلي. د یادونې وړ ده، چې همدا نظام پر هغو شعري چوکاټونو هم د تطبیق وړ دی، چې له عربي ژبې څخه پښتو ته راغلي دي.

د پښتو شاعرۍ خپل چوکاټونه لنډۍ، سروکی، لوبه، بگټۍ، چاربیته، بدله، نارې یا غړونه، کاکړي غاړې او نور دي.

ددې ترڅنګ په پښتو ادب کې د ازاد شعر یا د ازاد نظم یو بل ډول شعري فورم هم موجود دی. ځینې کسان دا شعري فورم له نورو ژبو څخه پښتو ته راغلی شعري فورم بولي، خو ځینې نور ادبپوهان بیا پر دې ټینګار کوي، چې دا هم د پښتو ژبې د نورو شعري چوکاټونو په څېر د پښتو شاعرۍ زېږنده دی. دوی وایي د پښتو ولسي شاعري او ازاد شعر ترمنځ زیات ورتوالی موجود دی، د پښتو ملي شاعرۍ ځینې فورمونه هم د قافیې او ردیف له قید و بند څخه ازاد دي او د مسرو اوږدوالی او لنډوالی لري او ازاد شعر هم، نو په دې وجه پښتو ازاد شعر یا ازاد نظم له پښتو ژبې نه پردی شعري فورم نه شي ګڼل کېدی. ددې یادونه هم په کار ده، چې په پښتو ازاد شعر کې ځینې هغه قیدونه او قوانین، چې د پښتو شعر نور شعري چوکاټونه یې ثابت ساتلي او هغو ته یې یوه مشخصه بڼه ورکړې، هم له منځه تللي دي. ددې شعري چوکاټونو ترمنځ ګډه او مشترکه وجه د وزن شتوالی او د څپیز خجیز قانون منل دي.

ازاد نظم یا ازاد شعر لکه د لنډۍ، چاربیتې، غزل او یا هم نورو په څېر کوم ټاکلی شکل نه لري. لکه څنګه چې یې له نامه څخه ښکاري شاعر د خپل درد او اند د افادې لپاره کولای شي، خپلو ازادو شعرونو

ته ببلابېلې بڼې ورکړي، خو (وزن) بیا هم تراوسه پورې د ازاد شعر یــو رغوونکی رکن (توک) دی.

لکه څنګه چې دمخه یادونه وشوه، تراوسه پورې په پښتو ادب کې د پښتو شعري فورمونو د تشخص لپاره ګڼ شــمېر لیکنــې شــوې او یــو شمېر کتابونه لیکل شــوي دي. پــه دې لیکنــو کــې د پښــتو شــعر د تخنیکي جوړښت په اړه زیات معلومات او څرګندونې وړانــدې شــوې دي، خو بیا هم داسې یوې رسالې ته اړتیا وه، چې په هغې کې د پښــتو شاعرۍ د بېلابېلو چوکاټونو هندسي جوړښت ترسیم شي او د هغــو د بدن سیستم افاده کړي.

دا اړتیا هغه وخت ډېره رامنځته کېږي، چې څوک عملاً په پــوهنځي او یا بل روزنیز مرکز کې د پښتو شاعرۍ د جوړښت پر څېړنه، شننه او تشریح بوخت وي. هلته تشریح کوونکی مجبور دی، چې د محصــل او یا پوښتونکي د ذهني قناعت د خړوب لپاره د شعر هندسي شکل پــر تخته ترسیم کړي. زه چې عملاً له داسې یو تدریسي بهیر سره مخامخ وم، نو د محصلینو د پوهېدنې لپاره مې په ازمېښتي توګه د هر شــعري فورم هندسي بڼه هغو ته رسم کړه. ددې عملیې تر تکرار وروســته دې کار مثبته پایله ورکړه او محصلین د خپل ذکاوت په اندول له ډېرو هغو شعري فورمونو سره، یا په بشپړ ډول او یا په نیمه ډول اشنا شول، چې پښتو کې کارېدل. د نظم د هرې برخې او رکن د افادې لپاره بېلابېلــې نښې نښانې او علایم وټاکل شول، لکه د قافیې د افادې لپار (a) نښه، د ردیف لپاره (=) نښه او د مسرې لپــاره کرښــه (ـــــ) وټاکــل شــول. د همدغو علایمو او هندسي نښو په واسطه د یو شعر هندسي جوړښــت

لاسته راتلای شي. ددې امکان هم شته، چې په یو شعري فورم کې څو ډوله قافیې موجودې وي، نو د هغو بېلابېلو د افادو لپاره د قافیې څـو نور شکلونه په دې ډول (c,b او d ) وټاکل شول.

خو دا ټولې نښې نښانې د ښـوونکي او محصـلینو تـرمنځ د یـوې قراردادي وسیلې په توګه، د خپل مشکل د حل او شـعري جوړښـت د هندسي شکل د افادې په غرض استعمالېدې، نه د مطلقو ټاکل شـویو هندسي نښو په توګه.

اوس هم دا نښې د یو ازمېښت او وړاندیز بڼه لري. د پښـتو ژبـې او ادب له درنو پوهانو او لیکوالو څخه په ډېره مینه هیله لرم، چې د پښتو شعر د هندسي ترسیم لپاره زموږ دا هیله پوره او بشپړه کړي؛ زموږ پـر وړاندیز غور وکړي او په پای کې داسې یوه پایله لاسته راشـي، چـې د هغې په واسطه د دې امکان برابر شي، چې د پښتو شاعرۍ د بېلابېلـو چوکاټونو هندسي رغښت، اسکلیټ او جوړښت ترسیم شي.

موږ به دلته لومړی پر هغو شعري چوکاټونو او د هغـو پـر هندسـي جوړښت خبرې وکړو، چې هغه له عربي څخه پښتو ته راغلي او دلتـه زموږ په ژبه کې دود دي او بیا به د پښتو پر نورو شعري فورمونو او زموږ د ولسي شاعرۍ پر شعري فورمونو رڼا واچول شي.

# لومړی څپرکی

## ګڼ شعري فورمونه

### ۱- غزل:

په پښتو شاعرۍ کې غزل یو له هغو شعري چوکاټونو څخـه دی، چې ډېر عام مقبولیت لري. د پښتو اکثرو شاعرانو د غزل په فورم کـې زیات قلم چلولی دی. په همدې وجه خو غزل په پښتو کې د ځینو نورو شعري فورمونو په انډول زیات ظرافت او لطافت ته رسېدلی دی. د غزل ښکلا او ظرافت په دې نور هم زیات شول، چې دې فورم ته د پښـتني چاپېریال زیاتې انځورنې وردننه شوې، ځوانو پښتنو شاعرانو تـه هـم غزل داسې یو فورم دی، چې د دوی قلم په کې ښه ازمېښـت کـولای شي. اکثره ځوان شاعران په همدې فورم کې خپل وزن ښه پوخ کړي، پر قافیې، ردیف، څپو او د نظم پر ځینو نورو توکو ځان واکمن کړي، نو بیا نورو شعري فورمونو ته مخه کړي. پخوا به د غزل په فورم کې هغـه مسایل راتلل، چې په ټولیز ډول یې غنایي او عشقي مسایل پـه خپلـه غېږه کې رانغاړل، وروسته بیا د غزل ځولۍ د ژوند له نـورو رنګارنـګ ګلونو ډکه شوه او اوس غزل تر دې بریده رسېدلی، چې په یـوه مسـره کې یې ناخوالې او په بله کې یې د ژوند د خوږو رنګارنګي بیانېدی شي.

په پښتو کې لومړنی شاعر چې دې شعري فورم ته یې پښتني شـال ور په سر کړ، هغه لوی خان خوشال بابا و، چې د غزل په یوه مسره کې یې توره او بله کې زلفې وځلولې:

تــوره چــې تــېرېـږي خو ګوزار لـره کـه نه
زلفې چې ول ول شي خو خپل یار لره کنه(۴)

د غزل د دومره عام مقبولیت او زیات استعمال یوه وجه شاید همدا وي، چې د یو مانیز پیوستون اوتسلسل ترڅنګ د غزل هــر بیــت پــه اصطلاح ځانته پاچا دی او په ځانګړي او خپلواک ډول ډېر دروند مانیز بار پورته کولای شي.

غزل لکه چې له نامه څخه یې ښکاري عربي کلمه ده او له همــدې ژبې څخه پښتو ته دا فورم راغلی دی. له مانیز پلوه نورو هغو شــعرونو ته، چې غزلیز، عشقي یا غنایي مانیز بار لېږدوي، هم غزل ویل کېــدی شي، خو د فورم له پلوه بیا غزل ځانګړې بڼه او شکل لري.

غزل معمولاً هغه شعري چوکاټ ته وایي، چې مطلع ولــري، یــانې د سربیت یې اکثراً مقفی وي او د بل هر بیت دویمه مسره یې قافیه ولري او د مطلعې قافیه تعقیب کړي، د بیتونو شمېر یې لــه (۵-۱۵) بیتونــو پورې وي. د څپو شمېر یې معمولاً سره برابر وي. په ځینو خاصو غزلــو کې کېدی شي د غز ل هغه مسرې چې قافیه نه لري، یوه څپه تر قافیه والو مسرو څخه زیاتې شي. په پښتو کې له ۷ څپیز څخه نیولې بیا تــر ۱۵ څپیزو پورې غزلونه شته. قافیه په غزل کې اساسي توک دی، خــو ردیف اختیاري دی.

هر کله که په مطلع کې تر قافیې څخه وروسته ردیف راوړل شـو، د همغه ردیف راوړل په ټولو قافیه لرونکو مسرو کې حتمي ګڼل کېږي. په پښتو شاعرۍ کې د غزل فورم دا لاندې بڼې لري:

## ۱- بې ردیفه غزل:

هغه غزل دی، چې ردیف ونه لري او پر قافیه پای تـه رسـېدلی وي. لکه د پیرمحمد کاروان دا غزل:

پــه غرونــو کــې نښــتر وي او پــه کلــي کــې چنــار
پــه زړه کــې مګــر څــانګې څــانګې وغځېــږي يــار

زلمــي زلمــي خوبونــه دې پــه غېــږه کــې شــيندم
که وخت دې چېرتــه وغځــوي ګــونځې پــه رخســار

پــه ســر کــې لکــه غــر يوســي ګلونــه د جــلال
له کوم سر نه چــې ول تــاو شــي د دار لکــه دســتار

راوغځــوه لاس لکــه د کوچــو غونــدې ســپين
د تــورو وينــو ډک زړګــی مــې دی پرهــار پرهــار

اعجـاز دی د نغمـو ګنـې نـو څنګـه بـه یـې وړای؟
دا درونـد د غمـو بـار پـه نـري تـار تـار د سـتار

بېګاه مې تـوتکۍ جـوړې جـوړې پـه خـوب لیـدې
کېدی شي ګـډ شـم نـن د تـورو سـترګو پـه بـازار

نن خوند کوي چې سـور سـالو اور بـل کـړي پـر ګـودر
پـرون خونـد کـړو اورونـو د روسـانو پـر کتـار

ورځـه ورپسـې راولـه شـبنم غونـدې طبیـب
غـزل دې شـو کاروانـه د نـرګس غونـدې بیمـار(۵)

د پورتني غزل هره مسره ۱۴ څپې لري: چنار، یار، رخسـار، دسـتار، پرهار، بازار، کتار او بیمار یې د قافیې کلمې دي، ردیف نـه لـري. ددې غزل هندسي جوړښت په دې ډول دی:

a______________________________

a______________________________

______________________________

a______________________________

______________________________

a_____________________________

______________________________

a_____________________________

______________________________

a_____________________________

______________________________

a_____________________________

______________________________

a_____________________________

______________________________

a_____________________________

۱۲۱۱۳

په پښتو کې لومړۍ معلومه او لاسته راغلې منظومه ژباړه هم د غزل له فورم سره سمون خوري. د پټې خزانې په حواله ابو محمد هاشم ابن زيدالسرواني په (۲۲۳-۲۹۷هـ) کې د يو عراقي شاعر محمد ابن خلاد يو شعر په پښتو ژباړلی دی(۶). د شعر پښتو منظومه ژباړه داده:

ژبه هـــم ښـــه وينـــا کانـــدي چـــې يـــې وينـــه
د خاونـــــد پـــــه لاس کـــــې زر او درهمونـــــه

ژبـــــور ورلـــــه ورځـــــي وينـــــا يـــــې اوري
د درهـــم خاونـــدان تـــل وي پـــه وياړونـــه

کـــه درهـــم يـــې ځنـــې ورک سوســـي نتلـــی
پـــر نـــرۍ يـــې وي پـــه خـــړو پېژندونـــه

کـــه بـــډای ســـوښي وبـــولي خلـــک وايـــي
دا وينـــــا ده رښـــــتيانيه لـــــه رښـــــتونه

کـــــه ببـــــوزلی ووايـــــي رښـــــتيا خبـــــره
نـــور ووايـــي دا خـــو ســـوښي دې تېرونـــه

هـــو درهـــم ښـــندي هـــر چالـــه لويـــه برخـــه
د درهــــم د خاونــــد هــــر ځـــای پرتمونـــــه

درهـــم ژبـــه ده کـــه ځـــوک ژبـــور کېـــږي
ده وسله که ځوک پـرې کانـدي قتالونـه(۷)

د پورتني شعر هره مسره ۱۲ څپې لري (وينــه، درهمونــه، وياړونــه، پېژندونه، رښتونه، تېرونه، پرتمونه او قتالونه) يې د قافيې کلمــې دي، رديف نه لري. هندسي شکل يې دادی:

a______________________________

a______________________________

_______________________________

a______________________________

_______________________________

a______________________________

_______________________________

a______________________________

________________________

a________________________

________________________

a________________________

________________________

a________________________

**۲- ردیف لرونکی غزل:** د غزل د فورم هغه بڼه ده، چې د قــافیې ترڅنګ ردیف هم ولري. ردیف هغه یوه یا څو کلمې دي چې تر قــافیې څخه وروسته په یوه شکل او تر ډېره زیاته حده په یوه مانا تکرار راځي، دا غزل وګورئ:

د وخـــت ســـالار زمـــا تربـــور دی اشـــنا
دا نـــوم مـــې ځکـــه د منصـــور دی اشـــنا

د مغولـــــوالې انتهـــــا نـــــه ښـــــکاري
د وخـــت خوشـــال پـــه رنتبـــور دی اشـــنا

د اټـــک پلـــه نـــه د امـــو تـــر غـــاړو
د زړه وطن مې ټـول چـور چـور دی اشـــنا

ســـتا د نظـــر پـــه تعویـــذو بـــه رغـــي
ژونـدون مـې تـا پسـې رنځـور دی اشـــنا

هغـه چـې تـه بـه یـې ټکـور تـه راتلـې
د زړه ټـــپ هغســـې ناســـور دی اشـــنا

لـــوګی لـــوګی دې ببکســـیار لـــه کتـــو
درتلی چې نه شي بس مجبور دی اشـــنا(۸)

د پورتني غزل هره مسره (۱۱) څپې لري. تربور، منصور، رنتبور، چور، انځور، ناسور او مجبور، په کـې د قـافیې کلمـې دي. ( دی اشـــنا( دی اشنا) چې تر ټولو قافیو وروسته په یوه شکل او یوه مانا تکرار راغلـي، ردیف ګڼل کېږي.

د پورتني غزل هندسي بڼه داده:

=a________________________________

=a________________________________

=a

=a

=a

=a

=a

ددې شکل بله بېلګه داده:

**دا چــې ځړېــږي مخـــامخ درتـــه پـــه دار ســـرونه**
**په دې وطــن کــې بــس همدغــه وو د کــار ســرونه**

وړي يې هسې هــم غاصــب همېشــه وړي پــه زوره
کاشکې دا ځــل زمــوږ غـــنم وکـــړي د مـــار ســـرونه

زه خو د مينې ارمانجن وم مــا خــو زړونــه غوښـــتل
کـــړل دې د عقـــل طرفـــدارو راشـــمار ســـرونه

د سپينو ســتورو پــه ليــدو شــي فرښــتې رايــادې
داسې ښکاريږي لکــه وي چــې يــې هــوار ســرونه

تــر ســـړيتوب د زرو قـــدر يـــو پـــه زره زيـــات شـــو
دروېشه نن ســبا واړه شــول تــر دينــار ســرونه(۹)

د پورتني غزل هره مسره ۱۵ څپې لري. (دار، کار، مار، راشمار، هوار او دينار) يې د قافيې کلمې دي. (سرونه،سرونه) په کې رديف دی.

۳- دوه قافيز غزل: دا هغــه ډول غــزل دی، چــې دوه بېلابېلــې قافيې ولري. مانا دا چې د دوو مسرو د پای تر قافيې څخه دمخه او يا د مسرو په منځ کې بله قافيه موجوده وي. په مطلــع کــې دوه بېلابېلــې قافيې موجودې وي. د نورو مسرو قافيې د مطلعې خپله خپلــه قافيــه تعقيبوي، که چېرې تر هرې قافيې وروسته رديفونه راغلي وي، نــو تــر هرې تعقيبوونکي قافيې څخه وروسته د هغې خپل رديف هم په همغه

بڼه تکرارېږي. لومړی به دلته هغه بېلګه راوړو چې ځنګ په ځنګ قافيې ولري:

کــه یــم ډېــر د حوادثــو پــه کشــال شــل
خو درځم که مــې رهبــر شــه باکمــال مــل

تــا چــې ځــوان د دلبــرۍ د کــرم عــام کــړ
درته جوړ شو د عاشــق غریــب د ســوال ول

معشــوقه چــې د جبــین غوټــه خــوره کــه
د عاشق د خاطر غوټه شي فــی الحــال حــل

د جفــا وفــا ســودا پــه خپــل اختیــار کــه
د خوبــانو پــه دربــار کــې دی دلال لــل

اوښــکې تېــل صــبر پنبــه لــري اور مینــه
باري خدای(ج) مې چراغ نــه کــه د اقبــال بــل

د هنــر د چابــک ســوار لافــه کــه ماتــه
چې اسمان نیلي راواخلي د خپل چــال چــل

## خو چې ولید شـــي د مینـــې پـــه ورشـــو کـــې رقیبان که علي خـــان لکـــه شـــغال غـــل(۱۰)

په پورتني غزل کې د کشال، باکمال، سوال، فی الحال، لال، اقبـــال، چال او شغال، د لومړۍ قافیې کلمې دي او (شل، مل، ول، حل، لل، بل، چل او غل) د دویمې قافیې کلمې دي. ردیف نه لري.

هره مسره یې ۱۲ څپې لري. د غزل دا ډول په پښـــتو شـــاعرۍ کـــې دومره باب نه دی. په پخوانیو دېوانو کې یې بېلګې شته. هندسي شکل او جوړښت یې دادی:

ba______________________________

ba______________________________

______________________________

ba______________________________

______________________________

ba______________________________

______________________________

ba______________________________

______________________________

ba______________________________

______________________________

ba______________________________

______________________________

ba______________________________

د دوه قافیه ییزو غزلو بل ډول دادی، چې لومړۍ قافیه د مطلعې د مسرو په منځ کې راځي، ورپسې بیا ردیف راځي، ورپسې بیا بله قافیه او بیا ورپسې ردیف. د مطلعې هره قافیه ځانته ځانته ردیفونه او ځانته ځانته قافیې لري، یانې دا چې د وروسته مسرو قافیې، په مطلع کې راغلې قافیې تعقیبوي. لکه د اسحق ننګیال دا غزل:

## خیبري تنده

ټول عمر درنه ده سپکېدو ته یې چې پرې نړدئ
خاوره پښتنه ده او پردو ته یې چې پرې نړدئ
پرېږده خیبري تنده چې بیا په وینو ماته شي
ګرمه معرکه ده سړېدو ته یې چې پرې نړدئ

سره چې وړي اورونه پــه کمڅــو کــې د پښــتو نــاوې
ښه ده چې لمبه ده لوګېدو ته یــې چــې پــرې نــړدئ
زلفو د جانان ته چې څو سرې وينې غــوټۍ نــه شــي
لاره تکه سره ده وچېــدو تــه یــې چــې پــرې نــړدئ
نن مې د خوشال توره چې بیا هــوس د شــرنګ لــري
تاوه په شرنګ ښه ده چوپېدو ته یې چې پــرې نــړدئ
ګورئ چې اسمان کې وربځ د ستورو د لار پــل وهــي
ورځ خو لا اوړده ده تورو شپو ته چې یې پــرې نــړدئ
وړي يې چې غرور ته ثریــا پــه جــام د ســترګو کــې
نبغه مو شمله ده کړېدو ته یې چــې پــرې نــړدئ(۱۱)

دا غزل دوه قافیې او دوه ردیفونه لري. په لومړۍ قافیه کې (درنــه، پښتنه، معرکه، لمبه، سره، ښه اوږده او شمله) د قافیې کلمې دي. (ده، ده) یې ردیف دی او په دویمه قافیه کــې (ســپکېدو، پــردو، ســړېدو، لوګېدو، وچېدو، چوپېدو، شپو او کړېدو) د قافیې کلمې دي. (تــه یــې چې پرې نه ږدئ، ته یې چې پرې نه ږدي) یــې ردیــف دی. ددې غــزل هندسي جوړښت داسې انځورېدی شي:

=b________________=a________

=b________________=a________

______________________________

=b ____________________ =a __________

______________________________

=b ____________________ =a __________

______________________________

=b ____________________ =a __________

______________________________

=b ____________________ =a __________

______________________________

=b ____________________ =a __________

______________________________

=b ____________________ =a __________

**۴– ماته غزل:** (ماته غزل) ورته ځکه وايي چې په منځه ملا کې يې د هرې مسرې په منځ کې د اهنګ يوه وقفه راځي. په همدې منځ کې

د ځپو د شمېر له مخې هر مسره پر دوو مساوي برخو وېشـل کېـږي، لکه په لاندې غزل کې چې (ګوره د زخمو غوټۍ) د مسرې لومړۍ برخه او (ځاځي مې له سترګو نه) د مسرې دویمه برخه ده. کله کله د اهنګ دا وقفه تر قافیې وروسته راځي او کله د ردیف یوه برخه هـم ورسـره نیسي او بیا تر هغه وروسته وقفه او بیا نور ردیف راځي. دلته بـه ددې ډول غزل یوه بېلګه وړاندې شي:

## د تصور ځپې

ګـورم د زخمـو غـوټۍ ځـاځي مـې لـه سـترګو نـه
یار تـه د کمځـو غـوټۍ ځـاځي مـې لـه سـترګو نـه
نن چې دا تیـارې کـوځې ټـولې دي بـاغچې بـاغچې
جام جام د سپرلو غوټۍ ځـاځي مـې لـه سـترګو نـه
پربوتـل لـه شـونډو مـې سـتا د اننګـو ګـلان
ګرانـې د نشـو غـوټۍ ځـاځي مـې لـه سـترګو نـه
مات مې شو د صبر جام ښکل مې کړه مینوشـه خولـه
مـاتې د توبـو غـوټۍ ځـاځي مـې لـه سـترګو نـه
اوښـکه د لیمـو د بـاغ رغـړي دې قـدم پسـې
ګـوره د اسـرو غـوټۍ ځـاځي مـې لـه سـترګو نـه
اوري د ننګیـال پـر سـر سـتا د تصـور ځپـې
راغلې د خیالو غوټۍ ځاځي مـې لـه سـترګو نـه (۱۲)

په پورتني غزل کې (زخمو، کمځو، سپرلو، نشو، توبو، لېمو او خیالو) د قافیې کلمې دي. (غوټۍ ځاځي مې له سترګو نه) یې ردیف دی. هره مسره یې ۱۴ څپې ده. هندسي شکل یې دادی:

= /a
___________________
= /a
___________________

/
___________________
= /a
___________________

/
___________________
= /a
___________________

/
___________________
= /a
___________________

/
___________________
= /a
___________________

/
___________________
= /a
___________________

**۵- بې مطلعې غزل:** هغه غزل دی، چې یوازې مطلع نــه لــري، یانې د سر لومړی بیت یې مقفي نه وي. د لومړي بیت دویمه مسره یــې قافیه لري او د نورو بیتونو د دویمو مسرو قافیه یــې د لــومړي بیــت د دویمې مسرې قافیه تعقیبوي. که چېرې د لومړي بیت د دویمې مسرې تر قافیې وروسته ردیف راغلی وي، نو د نورو قافیه والو مسرو ردیفونه هم همدا بڼه لري.

په پښتو لرغونې شاعرۍ کې د شیخ رضــی لــودي او نصــر لــودي ترمنځ شوی شعري سوال او ځواب هم له همدې فورم سره ورته والــی لري. د دې فورم یوه بېلګه داده:

## هیله

چې خزان وهلی بڼ یــې ســور او شــین کــړم
د خیــالونو دنیــاګۍ تــه مــې نــن راشــه

د ګیلــو مــانو پــه شــونډو ګــوتې کېــږده
درواری شــمه یــوه شــېبه پخــلا شــه

چــې غــوټۍ زمــا دهیلــو پــې ســاه واخلــي
پــه ســږه څلــه کــې پرخــه د ســبا شــه

چې د مړاوو خاطرو سترګې یې ښکل کړم
په ترخو شونډو مې یو وارې موسکا شه

د رنتبور د شپو دردونه مې هېرېږي
د غزل ذهن ته ننوزه ساه شه

په ټپونو مې پټۍ د مینې کېږده
یوه هیله ده پوښتنې له مې راشه

وینې (څه وي) په کې نه شته دي ګیلې دي
د پیوند سپېرو زخمونو له دوا شه(۱۳)

په پورتني شعر کې (دا، پخلا، سبا، موسکا، ساه، را او دوا) د قافیې کلمې دي، (شه،شه) یې ردیف دی. هندسي بڼه یې داده:

______________________________

=a______________________________

______________________________

=a______________________________

______________________________

=a______________________________

______________________________

=a______________________________

______________________________

=a______________________________

______________________________

=a______________________________

______________________________

=a______________________________

## ۲- څلوریزه (رباعي):

رباغي هم هغه شعري فورم دی، چې له عربي څخه پښتو ته راغلی دی. دا فورم څلور مسرې لري، له ځینو استثنایي حالاتو پرته چې په هغه کې کېدی شي د دریېمې مسرې یوه څپه د قافیه والو

مسرو تر څپو کمه یا زیاته شي، په ټولیز ډول د ټولو څلور واړو مسرو د څپو شمېر سره مساوي وي. د رباعي لومړی بیت مقفی وي، درېیمه مسره یې قافیه نه لري او د څلورمې مسرې قافیه یې د مطلعې قافیه تعقیبوي.د غزل په شان په څلوریزه کې هم ردیف اختیاري وي، خو کله چې د رباعي په مطلع کې ردیف راوړل شو څلورمه مسره کې به ضرور بیا هماغه ردیف تکرارېږي.

په پښتو کې د بېلابېلو څپو په شمېر رباعي ویل شوي، خو لس څپیزې څلوریزې په کې زیاتې دي. دا رباعي اکثره په تول تللې دي. هغه رباعي چې لس څپیزې دي، هره مسره یې داهنگ له مخې تقریباً پر دوو برخو وېشل کېږي. پنځه څپې یې یوه خوا او پنځه یې بله خوا په تول تللې وي.

د لوی خان (خوشال بابا) هغه رباعیات چې د یو ځانګړي کتاب په بڼه د (خوشال رباعیات) په نوم د پښتو ټولنې له خوا چاپ شوي او شمېر یې تقریباً (۱۵۰۰) رباعیاتو ته رسېږي، تقریباً په سلو کې ۸۵ څلوریزې یې لس څپیزې دي.

پر اوسني وخت د څلوریزو بل بشپړ کتاب چې زمونږ په لاس کې دی، هغه د (پسته اور) په نوم د هېواد د نومیالي شاعر محمد صدیق پسرلي د څلوریزو مجموعه ده. په دې اثر کې څه کم (یوزر) څلوریزې راغلي، چې ټولې لس څپیزې دي. د استاد قیام الدین خادم اکثره څلوریزې هم لس څپیزې دي.

یوه بله خبره چې د رباعي یا څلوریزو په باب د یاد وړ ده، هغه داده، چې عام ولس او په ځانګړي ډول ځینې سندرغاړي رباعي هغه ډول شعر یا نظم ته وایي چې معمولاً د پند، نصیحت او اخلاقي مسایلو په باب ویل شوي وي او په موسیقۍ کې یې سندرغاړي تر غزل او یا کومې بلې سندرې دمخه وایي او په همدې موقع کې د اورېدونکو د ذهن پاملرنه ځانته راجلبوي. دلته یوه تېروتنه رامنځته کېږي؛ هغه دا چې اکثره سندرغاړي تر اصل غزل او سندرې دمخه کم شعر لولي هغه اکثره د مانا د انتخاب له مخې وي، نه د فورم له مخې. څرنګه چې په رباعي کې هم ډېر زیات اخلاقي، دیني، او نور مسایل راځي، نو دوی اکثره هغو شعرو ته چې دا موضوعات په کې بیان شوي وي، هغو ته رباعي وایي، سره له دې چې که د فورم له مخې هغه غزل هم وي. دلته ددې یادونه په کار ده، چې دا رباعي یا څلوریزه هغه رباعي نه ده، چې عام ولس یا سندرغاړي یې په کومه مانا او بڼه استعمالوي.

څلوریزه یا رباعي دا لاندې بڼې لري:

۱- هغه رباعي چې ردیف نه لري، لکه د استاد خادم دا څلوریزه:

که دا غفلت وي پښتو ورکېږي
چې پښتو لاړه پښتون ډوبېږي

تللي خو تللي دي خیر به غواړو
په پاتې قام مې اوس زړه رپېږي(۱۴)

په پورتنۍ څلوريزه کې (ورکېږي، ډوبېږي او رپېږي) د قافيې کلمې دي. رديف نه لري، هره مسره لس لس څپې لري. هندسي شکل يې دادی:

a________________________

a________________________

________________________

a________________________

بله بېلګه:

د مار که نه وي په تن کې زهر
سردار که نه لري خنجر د قهر

دا دواړه توکه به زما په پوهه
نه ياد په کلي وي نه ياد په شهر(۱۵)

په دې رباعي کې (زهر، قهر، شهر) د قافيې کلمې دي. رديف نه لري، هره مسره لس لس څپې لري.

۲- هغه ډول رباعي يا څلوريزې دي، چې تر قافيې څخه وروسته رديف هم لري.

دا لاندې څلوريزې وګورئ:

تــن بــه تــاوان وای کــه مينــه نــه وای
ژوند بــه حيــوان وای کــه مينــه نــه وای

انســـــان بـــــه څـــــه و د لارې دوړه
جهان به وران وای که مينــه نــه وای(۱۶)

په پورتنۍ څلوريزه کې (تاوان، حيران، او وران) د قافيې کلمې دي. (وای که مينه نه وای) يې رديف دی. هره مسـره لـس څپيـزه ده او د پښتو د اکثرو څلوريزو په شان، هره مسره په منځه مـلا کـې نيمـايي کېږي او تر لږې لفظي وقفې وروسته يې دويمه برخه لوستل کېږي، دوه نورې بېلګې يې دادي:

د باطـــل زړه کـــې خطـــر پيـــدا شـــو
تيـــارې بـــوګنېږي ســـحر پيـــدا شـــو

ضـــمير موســـکی شـــو د انســـانانو
سترګې پيـدا شـوې نظـر پيـدا شـو(۱۷)

✵✵✵

په تــوره شــپه کـــې شـــمعه رڼــا کـــا
مـــاوې: مـــاتم کـــا مـــاوې ژړا کـــا

کـــه پتنګـــان دي ســـتي ایـــرې شـــول
مـــاوې: پاکـــان دي عشـــق او وفـــا کـــا (۱۸)

هندسي شکل يې:

=a________________________

=a________________________

________________________

=a________________________

## ۳- قطعه:

قطعه هم په هغو فورمونو کې راځي، چې لـه عربـي ژبـې څخـه راغلي او په پښتو شاعرۍ کې باب شوي دي. قطعـه لکـه د څلـوریزې (رباعي) په شان څلور مسرې لري، خو له رباعي څخه یې تفاوت دا دی، چې په رباعي کې لومړی بیت مقفی وي یانې دواړه مســرې یــې ســره قافیې لري او یوه شان قافیه تعقیبوي او د دویم بیــت دویمــه مســره

ورسره هم قافیه وي، خو په قطعه کې د لومړي بیت لومړۍ او د دویم بیت لومړۍ مسرې له قافیې نه ازادې وي او د دواړو بیتونو دویمې مسرې په خپل منځ کې یو شان قافیه جوړوي. قطعه هم په دوو ډولو ده:

۱- هغه قطعه چې ردیف نه لري لکه:

بیـا د میـو جـام بـه مـات کـړم
چـې ځـوانـي شـي زمـا تېـره

پـه ځـوانۍ کـې ګناه خونـد کـړي
پـه پـیرۍ کـې تـقوا ډېـره(۱۹)

۲- هغه چې ردیف لري لکه:

د احساس دوزخ کـې اوسـم
په ارمـان د یـو جنـت کې

مـساوات دې بـر مـلا شي
شي انسان دې په عزت کې(۲۰)

هندسي جوړښت یې په دې ډول دی:

a

________________________

a________________________

بل شکل:

________________________

=a________________________

________________________

=a________________________

کله کله ځینــې لوستونکي،ســندرغاړي او ان لیکــوال ( ربــاعي او قطعه) دوه بېلابېل شعري فورمونه یو بل سره مطالعه کوي، (څلوریزې) ته (قطعه) وایي او (قطعې) ته څلــوریزه. دوی پــه دې تېــروزي چــې د دواړو د مسرو شمېر سره برابر دی، نو فکر کوي چې دواړه به یو شــان وي. دې کې شک نه شته چې د مسرو شمېر یې سره برابر دی، خــو د رباعي یا څلوریزې ټول بیت ضرور مقفی وي، یانې دواړه مسرې یې یــو شان قافیه لري، خو د قطعې لومړی بیت مقفی نه وي. البته د لــومړي بیت دویمه مسره یې قافیه واله وي، چې د دویم دویمه مسره هم همدا قافیه تعقیبوي. د اهنګ له پلوه هم دا دواړه شعري فورمونه توپیر لري.

## ٤- بوللــه (قصیده):

قصیدې ته په پښتو کې (بوللــه) وایي. خپله قصیده عربي کلمــه ده. په لغت کې (قصد کړای شوي) ته وایي. په عربي اصطلاح کې هغــه شعر و چې د بیتونو شمېر به یې تر ۱۶ یا ۱۷ کم نه و او دا نوم د قصد له

مصدره جوړ شو، چې معنا يې استقامت او اتصال، ســموالی، برابــري او سوچه توب وو(۲۱).

دا هغه شعري فورم دی، چې د غزل په شان د سر لومړی بیت يــې مقفی وي. د نورو بیتونو د هر بیت دویمه مسره يــې قافیــه ولــري او د مطلعې قافیه تعقیب کړي. قصیده په شکل او جوړښت کــې لــه غــزل سره چندان توپیر نه لري، توپیر يې دادی، چې د غزل د بیتونو شمېر له ۵ څخه تر ۱۵ پورې وي او د قصیدې بیا له ۱۶ څخه تر دوو سوو یــا تــر دې هم زیاتو بیتونو پورې دی. پخوانۍ قصیدې له مانیز پلوه هــره یــوه اکثره پر درېو برخو وېشل شوې دي:

د قصیدې لومړۍ برخې ته تغزل یا تشبیب وايي چې په هغــې کــې شاعر تر اصلي موضوع دمخه د طبیعت ستاینه کوي. د قصیدې دویمه برخه د هغې اصلي موضوع ده. دا برخه له تغزل یا تشبیب نه وروســته پیلېږي او په دې کې شاعر د خپل ممدوح ســتاینه کــوي. د قصــیدې درېیمه برخه دعائیه بولي چې په هغې کې شاعر د خپل ممدوح لپاره د خدای(ج) له دربار نه د بښنې او هوساینې غوښتنه کوي.

په اوسنیو قصیدو کې پورتني نورمونه چندان په پام کې نــه نیــول کېږي. د غزل او ځینو نورو شعري فورمونو په شان، په قصیده کې هــم ردیف اختیاري دی، خو که مطلع کې راوړل شو، نــو پــه نــورو دویمــو مسرو کې يې راوړل حتمي کېږي. قصیدې دوه شکلونه لري، یــو هغــه ډول دی، چې ردیف نه لري او بل هغه ډول دی، چــې ردیــف ولــري. د پښتو لومړۍ معلومه لاسته راغلې قصیده په هغه شکل کې راځي چې ردیف نه لري. هغه قصیده داده:

د فلـــک لـــه چـــارو څـــه وکـــړم کوکـــار
زمولـــوي هـــر ګـــل چـــې خانـــدي پـــه بهـــار
هـــر غتمـــول چـــې پـــه بیـــدیا غوړېـــده وکـــا
رېـــژوي یـــې پـــاڼې کانـــدي تـــار پـــه تـــار
ډېـــر مخونـــه د فلـــک څپېـــړه شـــنه کـــا
ډېـــر ســـرونه کـــا تـــر خـــاورو لانـــدې زار
د واکمـــن لـــه ســـره خـــول پرېباســـي مـــړ شـــي
د بېوزلـــو وینـــې تـــوی کانـــدي خونخـــوار
چـــې لـــه برمـــه یـــې زمـــري رپـــي ځنګلـــو کـــې
لـــه اکوبـــه یـــې ډاري تیـــر و جبـــار
هـــم یـــې غشـــي ســـکني ډال د ژوبلـــورو
رســـتمان ځنـــې ځغـــلا کانـــدي پـــه ډار
چـــې یـــې مـــلاوې نـــه کړېـــږي پـــه غښـــتلیو
دا فلـــک پـــرې وکـــا څـــه کـــاري ګـــوزار
پـــه یـــوه ګردښـــت یـــې پرېباســـي لـــه برمـــه
نـــه یـــې غشـــی نـــه لینـــدۍ وي نـــه یـــې ســـپار
څـــه تیـــری څـــه ظلـــم کانـــدې ای فلکـــه
ستا لـــه لاســـه نـــه دې هـــبڅ ګـــل بـــې لـــه خـــار
پـــه ویرژلـــو لـــور نـــه کـــړې پـــه زړه کراړیـــه!
پرنتلیـــــــو اوروې د غـــــــم ناتـــــــار

هېڅ روغی مــې پــه زړه نســته ســتا لــه څــوره
بېلـــــوې پـــــه ژړا ژړ مـــــین لـــــه یـــــار
لــــه تېریــــو دې اوښــــې څــــاڅي لــــه اورېځــــو
چینــــې ژاړي پــــه ورتې ورتې ســــتا لــــه شــــنار
نــه بــه لاس واخلــې لــه څــوره نــه بــه لــورې
نــــه بــــه مــــلا کــــړې لــــه بېوزلــــو لــــه تــــرار
نــــه بــــه زړه وســــوځوې پــــه هېچــــا بانــــدې
نــــه بــــه پربــــوزې لــــه ګردښــــته لــــه مــــدار
نــــه بــــه وصــــل کــــړې مــــین لــــه بــــل مینــــه
نــــــه بــــــه درملــــــې ټپونــــــه د افګــــــار
ســتا لــه لاســه دي پراتــه ژوبــل زګېــروي کــا
هــــر پلــــو تــــه ټپــــي زړونــــه پــــه څــــار څــــار
کلــــه غــــوځې کانــــدې مرانــــدې د زړګیــــو
کلــــــه تېــــــر باســــــې وګــــــړي هوښــــــیار
کلــــــه ټکــــــې واچــــــوې پــــــر نــــــازولیو
کلــــه څیــــرې کــــړې ګرېــــوان د نمنځــــي چــــار
کلــــه غورځــــوې واکمــــن لــــه پلازونــــو
کلــــه کېنــــوې پــــه خــــاورو کــــې بــــادار
زمور پر زړونــو دې نــن بیــا یــو غشــی وویشــت
ودې ژوبللــــــه پــــــه دې غشــــــي هــــــزار

پــر ســـوریو بانـــدې ویـــر پرېـــووت لـــه پاســـه
محمـــــد واکمــــن چـــې ولاړی پـــــه بـــل دار
یـــو وار شـــو اســـیر پـــه لاس د میـــر ځمنـــو
انتقـــال یـــې وکـــړ قبـــر لـــــه بـــل وار
پـــــه ســـــماوو یـــــې ودان اهنګـــــران وو
پـــه ټیکنـــه و پـــر درســـت جهـــان او ښـــار
د محمـــــود د ژوبلـــورو پـــــه لاس کښـــېوت
چـــې غزنـــه تـــه یـــې بـــاتلی پـــه تلـــوار
ننګیـــالیو لـــره قیـــد مړینـــــه ده ځکـــــه
ســـه یـــې والوتلـــه هســـک تـــه پـــر دې لار
تـــر نـــړۍ یـــې غـــوره خـــاورې هـــدیره کـــا
د زمریـــــو پـــــه ببرېـــــو کلـــــه وي خـــــوار
پـــه دې ویـــر د غـــور وګـــړي تـــور نمـــري ســـول
پـــــه دې ویـــــر رڼـــا تیـــاره ســـوله د ښـــار
ګـــوره خـــاخي رڼـــې اوښـــې لـــه دې غرونـــو
دا کړونګـــــی ســـــاندې لـــــي پـــــه شـــــورهار
نـــــه هغـــــه زرغـــــا د غرونـــــو د ببـــــدیا ده
نـــــه د زرکیـــــو پـــــه موســـــا دی کتهـــــار
نـــــه غتـــــول بیـــــا زرغـــــونېږي پـــــه لاښـــــونو
نـــــه بـــــامې بیـــــا موســـــېده کـــــا پـــــه کهســـــار

نــه لــه غرجــه بیــا راځــي کــاروان د مشــکو
نــه رادرومــي غــور تــه بیــا جــوپې د شــار
د پســـــرلي اوره تـــــودې اوښــــې توینـــــه
مرغلــرې بــه نیســان نــه کــړي نثــار
دا پــه څــه چــې محمــد ولاړ لــه نړیــه
پــه ویرینــه یــې ســو غــور تــول ســوګوار
نــه ښــکاربړي هغــه ســور د ســور پــه لتــو
نــه ځلیــږي هغــه لمــر پــر دې دیــار
چــې بــه نجلیــو پــه نڅــا پــه کــې خندلــه
چــې بــه پېغلــو کــا اتــڼ قطــار قطــار
هغــه غــور پــه ویــر ناتــار د واکمــن کښــېوت
هغــه غــور ســو د جانــدم غونــدې ســور اړ
لاس دې مــات شــه ای فلکــه چــې دې وکــا
محمــد غونــدې زمــری د مړینــې ښــکار
شــین زړګــی فلکــه ولــې لا ولاړ یــې؟
ای د غــور غرونــو پــه څــه نــه شــوئ غبــار
مځکــې ولــې پــه ربړدلــو نــه پرېــوزې
لانــدې بانــدې شــئ چــې ورک شــي دا شــعار
چــې زمــري غونــدې واکمــن ځــي لــه جهانــه
چــې څــوک نــه کــړي پــر نــړۍ بانــدې قــرار

سـخ پـه تـا ای محمـده د غـرو لمـر وې
پـه نـړۍ بـه نـه وي سـتا د عـدل سـار
تـه پـر ننګـه وې ولاړ پـه ننګـه مـړ سـوې
هـم پـر ننګـه دې پـه ننګـه کـا ځـان جـار
که سوري دې په تګ ویر کانـدي ویـرمن سـول
هـم بـه ویـاړي سـتا پـه نـوم سـتا پـه ټبـار
پـه جنـت کـې دې وه تـون زمـوږ واکمنـه
هـم پـه تـا دې وي ډېـر لـور د غفـار (۲۲)

د شیخ اسعد سوري پـه دې قصـیده کـې (کوکـار، بهـار، تـار، زار، خونخوار، جبار، دار، ګوزار، سپار، خار، ناتار، یار، شنار، ترار، مدار، افګار، ځار، هوښیار، چار، بادار، هزار، دار، وار، اوښار، تلـوار، لار، څـوار، ټبـار، شورهار، کتهار، کهسار، شار، نثار، سوګوار، دیار، قطـار قطـار، سـوراړ، ښکار، شعار، قرار، سار، جار، ټبار او غفار) د قافیې کلمې دي، ردیف نه لري هره قافیه واله مسره یې (۱۱) څپې او بې قـافیې مسـره یـې (۱۲) څپې ده.

هندسي شکل یې دادی:

a______________________________

a______________________________

______________________________

a______________________________

______________________________

a______________________________

______________________________

a______________________________

______________________________

a______________________________

______________________________

a______________________________

______________________________

a______________________________

______________________________

a______________________________

________________________________

a________________________________

________________________________

a________________________________

________________________________

a________________________________

________________________________

a________________________________

(ترپایه)

د ښکارندوی غوري لرغونې قصیده هم دا بڼه لري.

د قصیدې بل شکل دا دی، چې تر قافیې وروسته ردیف هم ولري.

## د کابل زخمي سندرې

د زړه زخـــم مـــې د ســـرې مـــالګې کمـــر دی
راختلـــی پـــرې د ســـپینو اوښـــکو لمـــر دی

د کابـــل زخمـــي ســـندرې یـــې رانـــه وړې
د بـــاګرام (ســـروش) لـــه مانـــه مـــرور دی

د بنـــو او شـــونډو یـــاد هـــم رانـــه هېـــر دی
جـــوړ غـــړل مـــې لـــه خنجـــر او لـــه پرهـــر دی

د لمـــــر پېغلـــــه د غربـــــت زېـــــړي نیـــــولې
سپین سحر مو زېـر پـه شـان د مـازیګر دی

پـــر مریـــو مـــو بـــلا چـــړې شـــوې پڅـــې
قصـــابان د کلـــي وایـــي چـــې اختـــر دی

چـــې پـــه تبـــر د بتـــانو مغـــزي غـــوځ کـــړي
چـا وې مـور کـې هـم پیـدا زوی د اذر دی

مـــات کـــودړي یـــې لـــه تانـــدو وینـــو ډک دي
د شـــهیدو پېغلـــو څـــه رنګـــین ګـــودر دی

مـــا یـــې زړه اوربــــده دی مـــې چغـــې نـــا وري
هـــو د کـــاڼو پـــه غوړونـــو کـــوڼ خیبـــر دی

ســـپین لبـــاس د پرښـــتو ابلـــیس اغوســـتی
جـــــاهلان وایـــــي وارث د پیغمبــــــر دی

پـــوروړي یـــې د ژونـــد د ســـکو ډېـــر دي
زمـــوږ کلـــي تـــه راغلـــی ســـوداګر دی

کـــــوټنی د ماشــــــومانو شــــــهیدانې
پـــر ســـاحل راخـــور د وینـــو ســـمندر دی

کـــړې ړنـــدې د تصـــویرونو مـــړو اوښـــکو
تښـــتېدلی لـــه هنـــدارو نـــه جـــوهر دی

ماڼوګـــان یـــې خرخـــوي پـــر نهنګـــانو
د بـــې نوحـــه ببـــړۍ څـــه ســـپېره لنګـــر دی

د حســـين او ذوالجنـــاح وينـــې مبـــاح دي
دلتـــه هلتـــه دا بيـــان د هـــر شـــمر دی

هـــر اغـــزی رانـــه د وينـــو قلنـــګ غـــواړي
د تنهـــاکو پـــه پنهـــو کـــې مـــو ســـفر دی

بـــې جرســـه قـــافلې تـــه يـــې جـــرس کـــړ
مات مـــې زړه کـــې د ظـــالم د غشـــي ســـر دی

څـــه ســـره تـــوده پېـــرزو د يـــار اغيـــار ده
د يـــو لاس کـــې زمهريـــر د بـــل ســـقر دی

ګرځـــوم يـــې در پـــه در چېرتـــه يـــې کېـــږدم
د ژونـــدون د مـــړي پېټـــی مـــې پـــر ســـر دی

د ژوندون پـــه هـــديره کـــې يـــې ايســـار کـــړم
يـــو اشـــنا راتـــه نکيـــر دی بـــل منکـــر دی

هـــر دجـــال دي د همـــدي جـــامې اغوســـتې
پـــه وطـــن راغلـــی بـــې نېټـــې محشـــر دی

پـــــر ګلونـــــو بـــــاروتي خپســـــې ناســـــتې
د وږمـــــو پـــــه لمبـــــو لولپـــــه ځیګـــــر دی

یتــیم ژونــد ایســار د غشــو پــه ســیلۍ کــې
تــاو لــه ځانــه یــې د زخــم ســور څــادر دی

د ایــــاز څنګــــې د ګــــور چینجــــي خــــوړلي
د محمــود دربــار بــې مشــکو بــې عنبــر دی

چې له هنــد بــه یــې وږمــې د چنــدڼ راوړې
د پښـــتون د طـــوطي مـــات هغـــه وزر دی

بیـــایې کـــړی دی اودس د چـــا پـــه وینـــو
چـــې خطـــاب یـــې د وژنـــې پـــر منبـــر دی

په خلــوت کــې بــه د تــاک تيونــه روي
پــه جلــوت کــې ســوی لــوی د کــوثر دی

د کـــاروان د وطـــن نـــوم پـــه وينـــو لـــيکم
مـــا تراشــلی ورتــه روح لکــه مرمــر دی.(۲۳)

په دې قصيده کې (کمر، لمر، مرور، پرهر، مازيګر، اختر، اذر، ګــودر، خيبر، پيغمبر، سوداګر، سمندر، جوهر، لنګر، شمر، ســفر، ســر، ســقر، پرسر، منکر، محشر، ځيګر، ځادر، عنبر، وزر، منبــر، کــوثر او مرمــر) د قافيې کلمې دي. (دی، دی) يې رديف دی. د شعر هره مسره ۱۲ څپــې ده. جوړښت يې په دې ډول دی:

=a______________________________

=a______________________________

______________________________

=a______________________________

______________________________

=a______________________________

________________________________

=a________________________________

________________________________

=a________________________________

________________________________

=a________________________________

________________________________

=a________________________________

________________________________

=a________________________________

________________________________

=a________________________________

________________________________

=a________________________________

________________________

=a________________________

________________________

=a________________________

تر پایه...

## ۵- دوه یزه (مثنوي):

دوه یزه (مثنوي) هغه ډول شعري فورم دی، چې هر بیت یې په خپل منځ کې ګډه قافیه لري (مقفی وي)، د بیتونو شمېر یې ثابت نه دی. په ټولو قافیه والو شعري چوکاټونو کې مثنوي تر ټولو خلاص او لوی شعري فورم دی. شاعر کولای شي په دې شعري فورم کې خپل مقصد تر وروستي بریده بیان کړي، ځکه نو اکثره شاعران د لویو موضوعګانو د بیان په غرض دا فورم انتخابوي، لکه ابوالقاسم فردوسي چې د شاهنامې د لیکلو لپاره دا فورم وټاکه. په مثنوي کې که شاعر په یوه قافیه کې له ستونزې سره مخ شي، نو بلې ته تللای شي. په مثنوي کې هر بیت ځانته قافیه لري، کېدی شي ځینې بیتونه یې ردیفونه ولري او ځینې یې ونه لري، خو د ټولو بیتونو وزن مشترک وي او د څپو شمېر یې سره مساوي وي. مانا دا چې مثنوي مقفی مشترک الوزنه او د مساوي څپو لرونکی فورم دی.

لکه دمخه چې مو یادونه وکړه په مثنوي کــې کبــدی شــي ځینــې بیتونه ردیف لرونکي وي او ځینې په قافیه ختم شوي وي، نــو پــه دې صورت کې مثنوي دا شکل اختیاروي:

a________________________________

a________________________________

=b________________________________

=b________________________________

c________________________________

c________________________________

همداسې نور بیتونه

او یا هم دا شکل:

=a________________________________

=a________________________________

b________________________________

b________________________________

c________________________________

c________________________________

او همداسې نور بیتونه

دلته به د مثنوي یوه بېلګه راوړو:

## ته به راغلې

په سترخوان به مې پرته وچه ډوډۍ وه
بل څه نه وو همېشه وچه ډوډۍ وه

ماشومان مې وو زلخوړي او خوا توري
شول پیکه یې د مخونو روښان ستوري

ما ویل چې بدلوم به دغه حال زه
ټولوم به په څه توګه زر او مال زه

یوه شپه بیا توره شپه وه ډېره توره
زه په غلا پسې روان ومه له کوره

چــــې لـــه ورایــــه څــــه رڼــا پــــه نظــــر راغلــــه
یــــو طـــرف تــــه خېمـــه ســــتا پــــه نظــــر راغلــــه

چــــــې خېمــــــې تـــــه در دننــــــه شـــــوم ژړا وه
ګـــــډه ســــــتا پـــــه ماشــــــومانو یــــــو غوغـــــا وه

ســــوځېدل واړه لــــه لــــوږې پــــه ســــره اور کــــې
د خوړلــــو هــــېڅ شــــی نــــه و ســــتا پــــه کــــور کــــې

بــــس یــــو دېــــګ و ســــتا و مختــــه پــــه اور بانــــدې
ایشــــولې دې پــــه دغــــه دېــــګ کــــې ســــپاندې

ماشــــومان دې تېــــر ایســــتل پــــه دې خبــــره
( چــــــې کتــــــغ دی پخېــــــدونکی ژر تــــــر ژره

د یــــــو څــــــه ســــــاعت لپــــــاره صــــــبر وکــــــړئ
بیــــا بــــه واړه خپــــل ځانونــــه پــــرې مــــاړه کــــړئ)

زما زړه کباب په دغه ننداره شو
ځان له دې کبله ټیټ راته ښکاره شو

چې په کور کې مې پرته سپینه ډوډۍ وي
په سترخوان مې همېشه سپینه ډوډۍ وي

خو د شکر سبق بیا هم له ما هېر شو
فرق د حق او ناحق بیا هم له ما هېر شو

پر ازغنه لاره باندې مې سفر و
سور د یبلو پښو په وینو مې هر پل و

لرې ځای ته وم روان له لرې ځایه
ګله من ومه په دې سبب له خدایه

چې د پښو څپلۍ یې هم نه وې راکړې
تودې څمکې مې وې دواړه تلې وړې

پــــه شـــــنه زړه مـــــې پـــرې کولـــــه اوږده لاره
پــــه عـــذاب ومـــــه د ژونـــــد لـــــه درانـــــه بـــاره

زړه مې غوښت چې زياتي ساه اخيستل بــس کــړم
مات د ژونــد دا زنـــګ خـــوړلی شـــان قفــس کـــړم

خـــو چـــې ځـــان مـــې جـــوړاوه و دغـــه کـــار تـــه
هغـــه وخـــت وم نـــږدې شـــوی يـــوه ښـــار تـــه

ددې ښـــــار پـــــه دروازه شـــــوم وردننـــــه
د ارام پـــــــه اراده شـــــــوم ور دننـــــــه

چـــې يـــو ځـــو قدمـــه لاړمـــه پـــه وړانـــدې
برابـــرې مـــې شـــوې ســـترګې پـــه تابانـــدې

پـــه ځکېـــدو وې را روان زمـــا پـــه لـــورې
پـــه بـــدن دې وو لاســـونه او ســـر پـــورې

مګـــــر پښـــــې دې ګـــــوره چـــاوې قلـــم کـــړي
نـــــیم ورنونـــــه دې وو پـــــاتې نـــــیم یـــــې وړي

زمـــــا زړه کبـــــاب پـــــه دغـــــه ننـــــداره شـــــو
زمـــــا حـــــال خـــــراب پـــــه دغـــــه ننـــــداره شـــــو

مـــــا ویـــــل چـــــې لـــــه ځپلیـــــو یـــــم ببـــــزاره
یبلـــــې پښـــــې مـــــزل کـــــولای شـــــم پـــــه لاره

ښـــادۍ نـــه غـــواړم لـــه پاکـــه خدایـــه نـــورې
زمـــــا پښـــــې دې وي زمـــــا پـــــه جســـــم پـــــورې

پـــــر مـــــا بانـــــدې همغـــــه عجیبـــــه وخـــــت و
شپه او ورځ به مې پـــه ســـر کـــې خیـــال د تخـــت و

پـــه دې نیـــت مـــې تـــولې کـــړې وې لښـــکرې
مســـــت اســـــونه تېـــــرې تـــــورې کلکـــــې زغـــــرې

چـــې پــــه زور د چـــا تخـــت ونیســـم باچـــا شـــم
پــه دې توګـــه بـــه تـــر هـــر چـــا ســـر بـــالا شـــم

هـــر یـــو لاس بـــه ماتـــه پورتـــه پـــه ســـلام وي
هـــر یـــو ســـر بـــه ماتـــه ټیـــټ پـــه احتـــرام وي

خـــو تـــر دې خبـــره وړانـــدې چـــې روان شـــم
پـــه وطـــن د چـــا ورګـــډ لکـــه توپـــان شـــم

ته مـــې ولیـــدې چـــې ټـــول پـــه اوښـــکو لونـــد وې
در پـــــه دره وې پـــــه دواړو ســـــترګو ړونـــــد وې

خپلـــــــه وېـــــــړه پاچـــــــاهي دې وه بـــــــایللې
د وطـــــــــن حکمرانـــــــــي دې وه بـــــــــایللې

هر څه هـــر څـــه وو خپـــل ورور لـــه تـــا اخیســـتي
تـــاج و تخـــت یـــې و پـــه زور لـــه تـــا اخیســـتي

په دې خیال چې بیا د تخت دعوه ونه کړې
په ده باندې دوباره حمله ونه کړې

ستا له سره یې ستا سترګې وې ایستلې
په ډبره یې ستا سترګې وې ایستلې

زما زړه کباب په دغه ننداره شو
زما حال خراب په دغه ننداره شو

ما ویل داسې منصب دې خدای میرات کړي
چې د سر دښمنان دومره د چا زیات کړي

چې خپل ورور یې هم کار اخلي له خنجره
دواړه سترګې یې په زور کاږي له سره (۲۴)

په پورتنۍ دوه یزه (مثنوي) کې تاسو ولیدل، چې اکثره بیتونه یې بېلابېلې قافیې لري. ځینې بیتونه یې ردیفونه لري او ځینې یې نه لري. خو ټول یې یو ګډ وزن تعقیبوي او د څپو د شمېر له مخې سره مساوي دي، خو په مثنوي کې کله کله داسې پېښېدی شي چې د ټولو بیتونو د

څپو شمېر کې یې یوه څپه زیاته یا کمه شي خو د هربیت مسرې یې د څپو د شمېر له مخې حتمي سره مساوي وي.

## ٦- درېیز (مثلث):

هغه ډول شعري فورم دی، چې هر بند یـې (درې مســرې) لــري. درېواړه مسرې یې متحدالوزنه وي او یو شان قافیه تعقیبوي. په مثلث کې قافیه اساسي او ردیف اختیاري توکي وي. د مسرو د څپو شمېر یې سره برابر وي. د ســر بند درېواړه مسرې یې په خپل مــنځ کــې ګــډه قافیه لري. یانې درې واړه مسرې یې قافیه لري، د هر بند دوه لــومړۍ مسرې په خپل منځ کې او درېیمه مسره یې قافیه کې له مطلعې او یا د سر د بند له قافیې سره یو شان وي. په ټولیز ډول د دې فورم هندسي جوړښت په دې ډول دی:

a________________________________

a________________________________

a________________________________

b________________________________

b________________________________

a________________________________

د مثلث د بندونو شمېر کېدی شي تر دوو زیات وي، خو که د بندونو شمېر یې هر څومره وي همدا پورتنۍ عملیه پرې تطبیقېږي. دلته به د مثلث یوه بېلګه وړاندې کړو، چې څلور بندونه لري:

څه اوښــکې وینــې اوري پــه دې ســپینو چنــارو
یــو شــور دی پورتــه کېــږي د اروا لــه منــارو
ژړا مـــې نـــه ودرېـــږي پـــه خوږمنـــو ولولـــو

اورونـــه دي اورونـــه چـــې بلېـــږي پـــه تقـــدیر
بــې وســې یــو بــې هیلــې ددې ظلــم پــه تــدبیر
څـــه مینـــه محبـــت رانـــه لاهـــو شـــول پـــه اورو

د ګــل پــاڼې مــې شــولې د جانــان د مــخ حیــا
په تــورو ســترګو پــاتې شــوه لــه مــا ټولــه دنیــا
څه سترګې ســترګې لارې شــوې د هیلــو پــه مېــرو

د ګلــو بــه دې بیــا هغــه دوران کلــه راځـــي
د هجــر پــه ســوز تللــی بــه ارمــان کلــه راځــي
څه تور مهرونه لګي له خندا پــه ډکــو خولــو(۲۵)

د پورتني شعر په لومړي بند کې (چنــارو، منــارو، ولولــو) د قــافیې کلمې دي، په دویم بند کې (تقــدیر او تــدبیر) د قــافیې کلمــې دي او

(اورو) د لومړي بند له قافيې سره يو شان ده. په درېيم بند کې (حيـا، دنيا) په خپل منځ کې د قافيې کلمې او (مېرو) د لومړي بند له قـافيې سره يو ډول ده. څلورم بند کې (دوران، ارمان) په خپـل مـنځ کـې د قافيې کلمې دي (کله راځي) رديف دی (خولو) د لومړي بند له قـافيې سره يوشان ده. هندسي جوړښت يې دادی:

a________________________________

a________________________________

a________________________________

b________________________________

b________________________________

a________________________________

c________________________________

c________________________________

a________________________________

=d________________________________

=d________________________________

a________________________________

## ۷- مستزاد:

(( د رباعي، غزل یا قصیدې پر هره مسره باندې چې یوه لنډه غونډې مسره ورزیاته شي، مستزاد ګڼل کېږي. په دې لحاظ لومړۍ یا لویه مسره وړوکې مسرې ته د مانا له مخې احتیاج نه لري، ځکه چې ټوله مانا په لومړۍ مسره کې بشپړه وي. جوړښت یې داسې دی، چې یوه مسره یې لنډه او بله اوږده وي. دلته به د بېلګې په توګه د مفتي عبدالحنان لغماني یو مستزاد شعر ولولو:

شپه د دوشنبې ده چې نبي صاحب روان شو
تېر تر لا مکان شو
شپه د دوشنبې وه ورته راغی جبرائیل
ویې کړ قال و قیل
زه یم رالېږلی په جلتۍ سره جلیل
پاځېږه خلیل
شاه نبي زموږه لکه سروه خرامان شو
تېر تر لا مکان شو

***

شاه نبي چې سپور شو په براق باندې له واره
ویې نیوله لاره
سل زره ملکې بل په لاس یې شعله داره
تلې به یو هواره

لاړه تـــر اســـمانه حاضـــر مـــاه تابـــان شـــو
تېر تــر لا مکــان شــو

❋❋❋

پــاس پــه اســمانو کــې چــې بــه تــه نبــي عــرب
شاه علــي نصــب
صـــف پـــه صـــف ملکـــو بـــه دده کـــاوه ادب
امـــــر و د رب
پاتې په خپل ځای کې جبرائيــل ورتــه حيــران شــو
تېر تــر لا مکــان شــو

❋❋❋

اتلـــس کالـــه شـــپه وه د معـــراج وکـــړه يقـــين
تللـــی نـــازنين
تـــاج يـــې د لـــولاک پـــه ســـرولهت شـــو د ياســـين
راغی مــاه جبــين
ځکـــه پـــه کـــې واړه ســـربلنده امتيـــان شـــو
تېر تــر لامکــان شــو

❋❋❋

تـــه ((عبدالحنانـــه)) د دنيـــا کارونـــه بـــس کـــه
ميني ته هــوس کــه
ځان دې د نبي اخــر زمــان پــه در کــې خــس کــه

بند دې دا نفــس کــه
ګوره هر غزل دې مشــهور پــه درســت جهــان شــو
تېر تــر لا مکــان شــو(۲۶)

هندسي شکل يې دادی:

=a________________________________

=a_______________

b_________________________________

b________________

b_________________________________

b________________

=a________________________________

=a_____________________

د نورو بندونو جوړښت يې هم همداسې دی.

## ۸- څلوريز (مربع):

مربع هغه ډول شعري فورم دی، چې هر بند يې څلور مسرې لري. د لومړي بند څلور واړه مسرې يې په خپل منځ کې همقافيه وي، يــانې يو شان قافيه تعقيبوي. رديف په کې اختياري دی که د سر پــه مســره کې رديف راوړل شو، نو د لومړي بند په څلور واړو مسرو کې يې راوړل

حتمي دي. د نورو بندونو درې مسرې سره په خپل منځ کې همقافیه وي، خو د څلورمې مسرې قافیه یې د لومړي بند د مسرو قافیه تعقیبوي او که لومړی بند ردیف ولري، نو د نورو بندونو د څلورمو مسرو قافیه او ردیف باید همغه د لومړي بند قافیه او ردیف تعقیب کړي. که شاعر هر څومره د بندونو زیاتول غواړي، نو پورتنۍ قاعده باید مراعات کړي. بله خبره داده، چې که چېرې د لومړي بند مسرې ردیف ولري، نو دا ضروري نه ده، چې د ټولو بندونو لومړۍ درې واړه مسرې دې هم ردیفونه ولري، بلکې د ټولو بندونو څلورمه مسره د لومړي بند د شکلي جوړښت یانې د قافیې او ردیف تعقیبولو ته اړه ده. بل ټکی دادی، چې اکثره د ټولو مسرو د څپو شمېر سره مساوي وي، خو په ځینو خاصو حالاتو کې کېدی شي د کوم بند د څپو شمېر د یوې څپې په اندازه زیات یا کم شي. ددې فورم هندسي جوړښت داسې ترسیمېدی شي:

=a______________________________

=a______________________________

=a______________________________

=a______________________________

b______________________________

b______________________________

b______________________________

=a______________________________

دا بڼه هم درلودای شي:

a______________________________

a______________________________

a______________________________

a______________________________

=b______________________________

=b______________________________

=b______________________________

a______________________________

دلته به د مربع یوه بېلګه وړاندې شي:

درېغـــه نـــوی عجـــب وخـــت د نوبهـــار وای
شـــګوفه هـــر رنـــګ ګلونـــه د ګلـــزار وای
لاس تـــر لاس ســـره نیـــولی مـــا او یـــار وای
پـــه مـــزه مـــزه خـــواږه ویـــل تکـــرار وای

***

یـــا وا ناســـت یـــا ســـره ګرځېـــدی پـــه بـــاغ کـــې
معطـــره وای د ګلـــو پـــه دمـــاغ کـــې

دوه پــــه دوه مـــو ســـره راز وای پـــه فـــراغ کـــې
هـــم مـــانع پـــه دواړو ســـترګو ړونـــد اغیـــار وای
❋❋❋
دواړه ســـــترګې تـــورې کـــړې پـــه رنجـــو وای
ملتـــاني نکریـــزې ایښـــي پـــر لاســـو وای
ســـره ناســـت غـــاړه غـــړی راز مـــو ورو ورو وای
شـــانه کـــړې تـــورې زلفـــې پـــر رخســـار وای
❋❋❋
راحـــت ناســـت پـــه ســـیاحي وای د ســـرو ګلـــو
بـــل غوغـــا راباتـــدې پـــاس وای د بلبلـــو
هـــم هنګـــام وای د ســـرو لبـــو د زبېښـــلو
مـــی خـــوري وای د ســـرو لبـــو مـــی تیـــار وای
❋❋❋
تـــور کاکـــل یـــې پـــر تنـــدي بانـــدې وای کښـــاته
پـــه دمـــاغ کـــې دګلشـــن ناســـت وای مـــخ راتـــه
ســـره ګـــلان مـــې وای حیـــران و تماشـــا تـــه
لاس مـــې ایښـــی پـــر اوږو د ګلعـــذار وای
❋❋❋
تـــورې زلفـــې یـــې پـــر مـــخ شـــمال وهـــلای
غوړیشـــی یـــې لـــه رمنځـــې خلاصـــولای

مـــا یـــې پـــاس پـــر ســـینه خولـــه ور جـــوړولای
شـــــرمولی بـــــوی د اوښــــــکو د تاتـــــار وای
❋❋❋
هـــر چـــې مـــا ورتـــه ویـــلای د ده هـــو وای
هـــم مطلـــب د ده قبـــول زمـــا پـــر لیمـــو وای
پـــه خوښـــې وای نوبـــت تلـــې د غمـــو وای
زمـــا خواســـت منـــات دده پـــه خپـــل اختیـــار وای
❋❋❋
پـــه خوښـــې وای ســـره ناســـت غمونـــه بـــس وای
هـــم زانـــو پـــر زانـــو ایښـــې دســـترس وای
پـــر ســـپین مـــخ مـــې لاس وهلـــې پـــه هـــوس وای
بـــل پـــه غـــاړه یـــې د ســـرو ګلونـــو هـــار وای
❋❋❋
خدایـــه تـــا تـــه دي اســـان کـــه دغـــه وشـــي
تـــږی زړه بـــه پـــه وصـــال د یـــار اوبـــه شـــي
د ((جمعـــه)) د زړه ارمـــان بـــه پاتـــه نـــه شـــي
دده ورون د اشـــنا ســـر لاس پـــر رخســـار وای(۲۷)

## ۹- پينځه يز (مخمس):

د مخمس او مربع عمومي جوړښت تقريباً يو شان دی، توپير يــې په دې کې دی، چې په مخمس کې تر مربع يوه مسره زياتــه وي. يــانې دلته هر بند پينځه مسرې لري. د لومړي بند پينځه واړه مســرې يــوه قافيه تعقيبوي او د نورو بندونو څلور مسرې په خپل منځ کې هم قافيه او د پينځمې مسرې قافيه يې د لومړي بند د قافيې تابع وي. تر لومړي وروسته چې نور بندونه راځي، د هر بند تر قافيې وروسته کېدی شــي په څلورو مسرو کې بېل رديف راشي. خو پينځمه مســره پــه قافيــه او رديف کې د لومړي بند د قافيې او رديف تعقيبونه کوي. پينځــه يــز دا لاندې بڼې درلودلای شي:

a______________________________

a______________________________

a______________________________

a______________________________

a______________________________

b______________________________

b______________________________

b______________________________

b______________________________

a______________________________

همداسې تر پايه

په یوه مخمس کې کېدی شي ځینې بندونه ردیفونه هم ولـري، پـه لومړي بند کې هم ردیفونه راغلي وي، خو ردیف بیا هم په مخمس کې اختیاري دی، خو قافیه د مخمس اساسي برخه جـوړوي. د مربـع پـه شان له ځینې استثنایي بندونو پرته د مخمس د ټولـو مســرو د څپــو شمېر سره مساوي وي. کېدی شي ځینې مخمسونه د ردیف د لرلو لـه کبله داسې بڼه ونیسي:

=a______________________________

=a______________________________

=a______________________________

=a______________________________

=a______________________________

=b______________________________

=b______________________________

=b______________________________

=b______________________________

=a______________________________

=c________________________________

=c________________________________

=c________________________________

=c________________________________

=a________________________________

او نور بندونه

دلته به د پینځه یز یوه بېلګه وړاندې شي:

د هجــــران لـــــه لاســــه ناســــت یمــــه ویرژلــــی
لکــــه بــــت پــــه غتېــــو ســــترګو دم ختلــــی
بېهــــوده پــــه صــــورت روغ پــــه زړه نتلــــی
بېلتانــــه پــــه مــــرګ حــــال یــــم رســــولی
ربــــه راولــــې اشــــنا پــــه ســــفر تللــــی
❋❋❋
ډېــــر مــــې وکــــړ د هجــــران پــــه بــــلا صــــبر
هــــېڅ مــــې صــــبر ســــرور نــــه شــــه پــــه دا جبــــر
کــــه مــــې ولګېــــده ســــر د غــــم پــــه قبــــر
ومــــې نــــه ژړل پــــه حــــال د مهــــر ابــــر
نــــه شــــته مــــا غونــــدې هېڅــــوک پــــه بخــــت کږلــــی
❋❋❋

دا كـــــوم شــــــرم دی كــــــوم درم د يــــــارۍ
دا پيونـــــــد دی بــــــدنما تـــــــر ويـــــــزارۍ
چـــې مـــې يـــار پـــه تـــوده زمكـــه د خـــوارۍ
كښـــېني پـــاخي خـــوار حيـــوان لـــه ناچـــارۍ
او زه ښـــوی ښـــېرازه ګـــرځم ســـپين ســـپېڅلی

***

يـــا لـــه يـــار ســـره ولاړ وای پـــه ركـــاب كـــې
يـــا يـــې مـــړ وای د هجـــران پـــه اول تـــاب كـــې
يـــا وای ډوب مـــدام د اوښـــو پـــه ســـېلاب كـــې
هســـې پـــاتې شـــوم بـــې ابـــه مـــخ نـــاولی

***

تـــف زمـــا پـــه دا بـــې پتـــه اشـــنايۍ شـــه
پـــف د بـــرق و د برېښـــنا پـــه روښـــنايۍ شـــه
لا مـــې حـــال تـــر دا بتـــر پـــه جـــدايۍ شـــه
صـــد رحمـــت زمـــا د يـــار پـــه دانـــايۍ شـــه
چـــې يـــې خـــام وم پـــه دا غـــم كـــې پېژنـــدلی

***

چـــې پـــه مينـــه كـــې كوتـــاه د چـــا قـــدم شـــي
مبـــتلا بـــه لكـــه زه پـــه درد وغـــم شـــي

په کلونو به جدا ځني صنم شي
په جرګه به د رښتینو هسې ګرم شي
چې به ما غوندې بې شرمه ګرځي غلی

❋❋❋

که مې مینه په دروغ نه وي رښتیا وي
په اسیا کې د هجران تللی کسیا وي
که دا نه وي لېونی سر په صحرا وي
چې هېڅ نه شوم که مې څه شرم و حیا وي
له دې شرمه چاته پورته مه کتلی

❋❋❋

هېڅ مې خوند نه شته د سترګو غړولو
دې مې کانې په تندي دوړولو
هم مې پوست دی په وهل د لوړولو
یم لایق د هر عذاب د کړولو
چې بې یاره کړم له خلکو کور و کلی

❋❋❋

نورې چارې کړم همه ناتراشې لواړې
په مذهب د عاشقۍ ورانې ویجاړې

کله کله مې که اوښې په مخ لاړې
چې له غمه مې شي تویې په مخ لاړې[1]

❋❋❋

یو د یار د جدایۍ خواري نیستي شوه
بله خپله بې پتي بې همتي شوه
یو پلو د رقیبانو بدنیتي شوه
بل پلو د تور طالع بې شفقي شوه
عشق په دا هومره بلا یم ازمویلی

❋❋❋

رب مه ګورې زما و بې پتۍ ته
ما و مه سپارې زما بې همتۍ ته
یا مې راولې د سترګو وویستۍ ته
نور مې مه نیسې د هجر و نیستۍ ته
وسوم ډېر لکه کباب په اور نیولی

❋❋❋

د اشنا په ښکلي مخ مې سترګې وا کړې
په ناسور مې د هجران پورې دوا کړې
تللی یار راسره وصل خوا په خوا کړې

(۱) د حمید دېوان په کابل چاپ کې ددې بند یوه مسره له چاپه پاتې شوې ده.

ژر پــــه ژر دا نـــاروا پـــه مـــا روا کـــړې
کـــه مـــې چېـــرې لـــه اخلاصـــه يـــې بللـــې

❋❋❋

کــه هــر څــو يــار تــه نــږدې د زړه پــه يــاد يــم
پــه صــورت چـــې ځنـــې لـــرې پــه هېـــواد يـــم
شـــپه او ورځ د خـــدای و داد تـــه پـــه فريـــاد يـــم
پــه تــش بــاد مــې تسلــي نــه شــي ناښــاد يــم
کـــه مـــې يـــار د ســـر پـــه ســـترګو وليـــدلی

❋❋❋

تور طــالع برګشــته بخــت د عشــق پــه کــار کــې
بـــد قســـمت او بـــد شـــامت پـــه دغـــه لار کـــې
بـــر ناحقـــه بـــدری خـــورم پـــه ســـمه لار کـــې
نه شته ما غونــدې هېڅــوک پــه هــېڅ ديــار کــې
پـــه څـــه شـــوم زبـــون ســـاعت يـــم زېږېـــدلی

❋❋❋

لـــه هغـــه چـــې پوهېـــدلی پـــه ښـــه بـــد يـــم
رســـــېدلی د پنجـــاه و پـــــنج تـــر حـــد يـــم
مبـــتلا د ښـــکلي مـــخ پـــه خـــال و خـــد يـــم
کـــه د صـــدق شـــل ســـنده ښـــيم رد يـــم
يـــوه ښـــکلي پـــه راســـتۍ نـــه يـــم منلـــی

❋❋❋

کـــه مـــې یـــو ځلـــه اشـــنا لـــه هنـــده راشـــي
پـــه هـــوس ورتـــه ګلـــزار د غـــم صـــحرا شـــي
لـــــه هجرانـــــه یـــــې حاصـــــله تبـــــرا شـــــي
فراغـــــت د جـــــدایي لـــــه چـــــون چـــــرا شـــــي
نـــور ((حمیـــد)) لـــه اشـــناییه لاس وکښـــلی(۲۸)

## ۱۰- شپږیز (مسدس):

هغه ډول شعري جوله ده، چې هر بند یې شپږ مسرې لري، د سر لومړي بند شپږ واړه مسرې یې په خپل منځ کې هم قافیه وي. ردیـف یې اختیاري دی.

د نورو بندو پینځه مسرې په خپل منځ کې هم قافیه او هره شپږمه مسره یې په قافیه کې د لومړي بند د مسرو د قافیې تابع ده. د مسدس ځینې بندونه کېدی شي ردیف ولري او ځینې یې کېدی شي ردیف هم ونه لري، خو قافیه د هر بند د هرې مسرې لپاره ضـروري ده. دغـه راز ټولې مسرې د څپو د شمېر له مخې سره مساوي وي او هـم یـې وزن مشترک وي. له مربع څخه یې دوه او له مخمس څخه یې یـوه مسـره زیاته وي.

د مسدس هندسي جوړښت داسې ترسیمېدی شي:

a________________________________

a________________________________

a________________________________

a________________________________

a________________________________

a________________________________

b________________________________

b________________________________

b________________________________

b________________________________

b________________________________

a________________________________

او همداسې نور بندونه

داسې شکل هم غوره کولای شي:

=a________________________________

=a________________________________

=a________________________________

=a________________________________

=a______________________________

=a______________________________

=b______________________________

=b______________________________

=b______________________________

=b______________________________

=b______________________________

=a______________________________

او د ردیف په تغیر سره نور بندونه.

دلته به ددې شپږیز یوه بېلګه راوړو:

حیف په دا ژوندون شه چې لــه یــاره یــم مهجــوره
هــر نفــس غــوځېږم د هجــران پــه تېــره تــوره
ژاړم پټ په زړه کــې پــه خولــه خانــدم لــه ضــروره
ســـترګې مـــې شـــوې دواړه پـــه ژړا ژړا بـــې نـــوره
عقــل لــه مــا لاړ شــه لېــونی یــم بــې شــعوره
دا قصـــه زمـــا ده پـــه تمـــام جهـــان مشـــهوره

***

لاس مې خپـل کوتـاه کـړه د دنیـا لـه هـره کـاره
غـم الـم مـې نـه شـته لـه چـا نـه یـم پـرواداره
یـار سـره واصـل شـوم بـې تلاشـه بـې ریبـاره
نن چـې بهـره منـد یـم زه لـه بـوس و لـه کنـاره
سترګې څه رنګ نیسـم د دلبـر لـه ښـه رخسـاره
تـــرې و اوبـــو تـــه همېشـــه وي ناصـــبوره

❋❋❋

ته په دا سرو سترګو چـې افـت پـر ځـان زمـا یـې
ځان مې درقربان شه چې تر ځانه ګران پـر مـا یـې
تـش پـه دا مـلال کاتـه لـه مانـه هـوش ربـا یـې
زه رنځـور د عشـق یـم تـه ثـاني د مسـیحا یـې
حورې به زه څه کـړم مـلا! څـه یـې راتـه سـتایې
ماوتـه تـر حـورو خپلـه کښـلې ده منظـوره

❋❋❋

څـه وایـې ناصـحه زه مریـد د مـی فـروش یـم
هـر چـې راتـه وایـي زه د ده حلقـه بګـوش یـم
پند کړه وهوښیار ته زه خو مست وبـاده نـوش یـم
خلک دې تهمـت رابانـدې وایـي زه خـاموش یـم
اوښې مې بهېږي تر چشمې نه زیات پـه جـوش یـم
هـم لـرم لـه غمـه سـینه ګرمـه تـر تنـوره

❋❋❋

نــــه ده د ســــــړیو بقـــــا زیاتــــه تــــــر حبابـــــه
خونـــه لا پخـــوا لـــه خپلـــه مرګـــه کـــړي خرابـــه
ســـیند ده دا دنیـــا چـــې رغـــړول کـــا بـــې ســـېلابه
کام د اژدها دی دنیـــا هســـک کـــړه ســـر لـــه خوابـــه
ولـــې ((معـــزالله)) پـــه ســـقر درومـــې بـــې اســـبابه
فکر د توښې کـــړه همیـــانۍ کـــړه خپلـــه پـــوره.(۲۹)

## ۱۱- اوه یز (مسبع):

دا هغه ډول شعري جوله ده، چې هر بند یې اوه مســـرې لـــري، د لومړي بند اوه واړه مسرې یې په خپل منځ کې هم قافیـــه وي. د نـــورو بندونو شپږ مسرې یې په خپل منځ کې هم قافیه خو اوومه مسره یـــې په قافیه کې د سر د لومړي بند د قافیې تابع وي. له مربـــع، مخمـــس او مسدس سره یې یوازې د مسرو په شمېر کې تفاوت وي. نور جوړښـــت یې سره ورته دی. دلته هم ردیف اختیاري دی، یانې دا چې کېدی شي ځینې بندونه یې ردیفونه ولري او ځینې یې ونه لري، خو که چېـــرې د لومړي بند مسرو تر قافیو وروسته ردیف درلـــود، نـــو د نـــورو بنـــدونو وروستۍ مسره باید په قافیه او ردیف کې ضرور د لومړي بند د قـــافیې او ردیف تابع وي. دلته به د یو اوه یز (مسبع) بېلګـــه راوړو، چـــې هـــم ردیف لرونکي بندونه لري او هم بې ردیفه بند. هندسي جوړښـــت یـــې دادی:

=a______________________________

=a______________________________

=a______________________________

=a______________________________

=a______________________________

=a______________________________

=a______________________________

=b______________________________

=b______________________________

=b______________________________

=b______________________________

=b______________________________

=b______________________________

=a______________________________

همداسې نور بندونه...

**و ((ت)) لـــه تـــوره وکـــاږه چـــې ســـپين شـــي**

**قـــاف و ((س)) ورســـره واچـــوه چـــې شـــين شـــي**

په تحصیف سره یې مـخ پریمینځـه چې سـین شـي
معـون یـې دوه سـو لـس کـه چـې رنګـین شـي
نـور دي تولـه پـه یـوه نـیم ځـای شـین شـي
جـوړ لـه دغـه یـوه نیمـه بـه امـین شـي
بـې لـه ((نـه)) بـه و ذکـي و تـه یقـین شـي

✵✵✵

څـه پـه کـار دي بـې لـه ده کـه جهـان سـتا شـي
بـل د حکـم قـاف تـر قافـه پـر هـر چـا شـي
د قـارون تـر دنیـا ډېـره سـتا دنیـا شـي
تـر سـخا دي د حـاتم تېـره سـخا شـي
بـې بقـا بـه تـر ماهیـه د کسـری شـي
عاقبـت بـه دي پـه ځـان پـورې بـلا شـي
سـخت مکـان بـه دي د اور جـوړ پـر سـجین شـي

✵✵✵

سـر و مـال واړه د ده تـر نامـه جـار کـه
شـیرین ځـان یـې تـورې خـاورې د دربـار کـه
تـل پـر ځـان بانـدې کنـدلې د پښـو لار کـه
ځـان لـه خاصـو عاشـقانو سـره شـمار کـه
خـط پـر ځـان دده د مینـې پـه پرکـار کـه
مـه وځـه لـه دغـه خطـه زړه قـرار کـه
چـې نامـه در بانـدې جـوړه د کمـین شـي

✵✵✵

ښـــه تصـــدیق بـــاوري واړه پـــه اقـــوال کـــړه
موافـــق یـــې هـــر یـــو فعـــل پـــر افعـــال کـــړه
ځـــان نګهـــه لـــه فســـادونو د محـــال کـــړه
کمـــالات حاصـــل د ده د ښـــه کمـــال کـــړه
پـــه دا حـــال ســـره موجـــود دده وصـــال کـــړه
زړه بـــه چـــاود لـــه ډېـــره غمـــه د لعـــین شـــي[1]

❋❋❋

لـــه اخلاصـــه دوســـت دار د چهـــار یـــار شـــه
پـــر بزرګیـــه د حضـــرت صـــدیق اقـــرار شـــه
پـــس لـــه ده حضـــرت عمـــر دی خبـــردار شـــه
پـــس لـــه دوی حضـــرت عثمـــان ګڼـــه هوښـــیار شـــه
کـــل و لیـــان دي تـــر ده لانـــدې فهـــیم دار شـــه
تـــر دا هســـې بزرګـــۍ جـــار د کـــرار شـــه
پیـــروي د دوی کـــوه چـــې تینـــګ دې دیـــن شـــي

❋❋❋

مخـــالف چـــې خـــوک لـــه دوی دي مـــخ یـــې تـــور دی
کـــوم بـــه زیـــات تـــر دوی ګڼـــې مکـــان یـــې اور دی
کـــه بادشـــاه شـــي د اقلـــیم ښـــکاره ســـرتور دی

[1] یوه مسره کمه ده.

یــا عــادل تــر نوشــیروان شــي هــم منگــور دی
یامــدام کــړي ســخاوت لعنــت یــې پــور دی
عاقبــت یــې تنهــا ټــک د گــور پــه لــور دی
کــی ثلــور طرفــه لانــدې تــرنگین شــي

❋❋❋

مــا ((جمعــه)) پــه خپــل قــدر دي دوی منلــي
موهبــات دور موهبــات چــې دي راغلــي
طبیعــت در طبیعــت یــې راســتولي
وراثــت در وراثــت چــې دي ویلــي
اصــلي ولــي مــې پــر زړه ښنیســتلي
ښــاخ د پــانې مــې تــر تــن ټولــه وتلــي
چې مې جــوړ عــین الیقــین حــق الیقــین شــي.(۳۰)

## ۱۲- اته یز (مثمن):

د نظم هغه ډول دی، چې هر بند یې اتــه مســرې لــري، اتــه واړه مسرې یې په خپل منځ کې یو شان قافیه لري. ردیف په کې اختیــاري دی. د بل هر بند اوه مسرې یې په خپل منځ کې هم قافیه وي او اتمــه یې د لومړي بند د مسرو قافیه تعقیبوي.

هندسي شکل یې دادی:

a________________________________

a________________________________

a________________________________

a________________________________

a________________________________

a________________________________

a________________________________

a________________________________

b________________________________

b________________________________

b________________________________

b________________________________

b________________________________

b________________________________

b________________________________

a________________________________

او که ردیف ولري، نو بڼه يې يوازې د ردیف په برخه کې بدلون مومي نور چوکاټ همدا شان دی. د بندونو شمېر يې قید نه لري.
بېلګه يې داده:

تــوره شـــپه شـــي نالیـــدونکي شـــان لاســـونه
ان تـــر لمـــره راتـــه زبېښـــي مـــې رګونـــه
لـــه ډېـــرو را بهـــر شـــي څـــو لاښـــونه
تـــاووي راتـــه پـــر مـــخ دېوالونـــه
تروږمـــۍ شـــي يـــو توپـــان شـــي ســـره تېغونـــه
پرېکـــوي تـــر ســـرو لانـــدې مړوندونـــه
وريځـــې وريځـــې شـــي زمـــا د خـــولې اهونـــه
بيـــا يـــې ســـيوري تـــه شـــي دمـــه ســـتا يادونـــه
❋❋❋
يـــو پـــه بلـــه کـــاروان لاړ شـــي د ســـلګيو
يـــو ســـور لال راڅخـــه ورک شـــي لـــه ککيـــو
پـــه لمحـــې ســـيوري راپرېـــوزي د پېړيـــو
پـــه توتـــو پـــه ســـر شـــکاوه شـــم لـــه ګړيـــو
ســـتا د څنـــو پـــه شـــړک بـــاد شـــي پـــه مســـتيو
ددې غـــره غـــوټې شـــي تېـــرې لـــه پګړيـــو
مـــلا شـــي ماتـــه د زړو زړو ځېريـــو
ســـترګې ډکـــې او لامـــده شـــي ګرېوانونـــه
❋❋❋

ستا پــه لــوري چــې مــې کلــه هــم نظـر شــي
ماتـــه ووړ څـــاڅکی د اوښـــکو ســـمندر شـــي
پـــولی وپړســـبړي لـــویې لکـــه غـــر شـــي
هر یو ګل مې راتــه مــات مــات پــه ډنــډر شــي
ستا په کور مــې چــې د خیــال کلــه ســفر شــي
لــه وربښــمو بــه مــخ جــوړ د هــر حجـر شــي
په لمــن کــې بــه مــې کــاڼي ټــول مرمــر شــي
نه یې پلورم که څوک راکــړي پــرې لالونــه.(۳۱)

## ۱۳- لسیز (معشر):

هغه ډول نظم دی، چې هر بند یې لس مسرې لري، د لومړي بنــد لس واړه مسرې یې په خپل منځ کې هم قافیه وي او بې قافیې مســره په کې نه وي. د بل هر بند نهه مسرې یې په خپل منځ کې هم قافیــه وي او لسمه مسره یې په قافیه کې د لومړي بند د مسرې له قــافیې ســره یوشان وي. د معشر ټولې مسرې یو واحد وزن تعقیبوي.

په معشر کې هم ردیف اختیاري دی. که چېــرې د لــومړي بنــد تــر قافیې وروسته ردیف راغلی وي، نو نــور بندونــه اختیــاري دي، چــې ردیف ولري او که یې ونه لري، خو د هر بنــد وروســتۍ مســره چــې د لومړي بند قافیه تعقیبوي باید ضرور د لومړي بند قافیه تعقیب کړي او که چېرې لومړی بند ردیف ولري نو باید د هر بند وروستۍ مسره هــم ردیف ولري. دلته یې هندسي جوړښت او یوه بېلګه وړاندې کېږي.

هندسي جوړښت يې دادی:

a________________________________

a________________________________

a________________________________

a________________________________

a________________________________

a________________________________

a________________________________

a________________________________

a________________________________

a________________________________

=b________________________________

=b________________________________

=b________________________________

=b________________________________

=b________________________________

=b________________________________

=b________________________________

=b________________________________

=b________________________________

a________________________________

c________________________________

c________________________________

c________________________________

c________________________________

c________________________________

c________________________________

c________________________________

c________________________________

c________________________________

a________________________________

او نور بندونه

**معشر:**

کـــه راکـــوز شـــي مســـیحا
اوبـــــه راکـــــا د بقـــــا
غوښـــــې راکـــــا د عنقـــــا
ســـم پـــه صـــدق و پـــه صـــفا
لاس کـــه پورتـــه پـــه دعـــا
شـــپه او ورځ مـــې کـــه دوا
دعـــا غـــواړي لـــه هـــر چـــا
څو ښـکل نـه کـړم لبـان سـتا
هســـې نـــه دی رنـــځ زمـــا
چـــې شـــفا یـــې شـــي پـــه دا

❋❋❋

خوب مې نه شته دی کـړمن یـم
آه فریـــاد کـــوم دردمـــن یـــم
په سـودا د عشـق سـودمن یـم
یا مجنـون یـم یـا کـوهکن یـم
پـه جمـال یـې چـې مـین یـم
لـه خپـل یـاره روح او تـن یـم
پـه وطـن کـې بـې وطـن یـم
کـــه دا نـــه وي دروغـــژن یـــم

لکه میاشــت پــه مــرد وزن یــم
ســتا پــه عشــق انګشــت نمــا

***

زړه مــې چــوي د یــار لــه غمــه
دود مـــې درومـــي لـــه قلمـــه
دوه مــې ســترګې دي پــر غمــه
غـــم زیـــاتېږي دم تـــر دمـــه
راپیـــدا شـــي غـــم لـــه غمـــه
قــدم ږدم پــه غــره پــه ســمه
دلربـــا خوښـــه خرمـــه
زه پـــه دا هـــومره ماتمـــه
چـــې جـــدا شـــوم لـــه عالمـــه
ســـر مـــې ونیـــو پـــه صـــحرا

***

همېشـــه شـــورو غوغـــا کـــړم
د ورېـــځ پـــه دود ژړا کـــړم
نـــه یـــو ځلـــه پـــه بیابیـــا کـــړم
د غمونـــو دې ســـودا کـــړم
همېشـــه درتـــه دعـــا کـــړم
یاد په شپه و پـه ورځ ســتا کــړم

دا چـــې ډېـــرې زه بـــلا کــــړم
د وصـــال پـــه تمنـــا کــــړم
لکـــه ســـتا مینـــې رســـوا کـــړم
مـــه شـــه بـــل هســـې رســـوا

❋❋❋

چـــې دې بـــاد د کـــوڅې راشـــي
پـــرې غنچـــه مـــې د زړه وا شـــي
چـــې پـــه کښـــلیو مبـــتلا شـــي
شـــپه و ورځ پـــه واویـــلا شـــي
پـــه وګـــړي کـــې رســـوا شـــي
ملامـــت پـــرې د هـــر چـــا شـــي
چـــې حاصـــل یـــې مـــدعا شـــي
غـــم یـــې هالـــه انتهـــا شـــي
معـــزالله چـــې پـــه ژړا شـــي
ستا پرې پورې شـــي خنـــدا.(۳۲)

## ۱٤- ترجیع بند:

دا هغه نظم دی، چې لومړی څو بیتونه وویل شي بیا ورپســـې یـــو مقفی بیت ورلوېږي او په دې ډول یو بند جوړوي، دغه راز بیا بـــل بنـــد پیلېږي او بیا ورپسې همدا مقفی بیت تکرارېږي. په ترجیع بنـــد کـــې د

هر بند لومړی بیت مقفی وي لکه د غزل په شان او د بل هر بیت لومړی مسره یې بې قافیه وي او دویمه یــې قافیــه لــري او د مطلعــې قافیــه تعقیبوي. د بندونو د بیتونو شمېر یې سره مساوي وي. ټولې مسرې یو متحد وزن تعقیبوي. په ترجیع بند کې هم ردیف اختیاري دی. ځینــې بندونه کېدی شي ردیفونه ولري او ځینــې یــې ونــه لــري. هندســي جوړښت یې داسې دی:

=a______________________________

=a______________________________

______________________________

=a______________________________

______________________________

=a______________________________

______________________________

=a______________________________

______________________________

=a______________________________

______________________________

=a______________________________

=b______________________________

=b______________________________

c______________________________

c______________________________

______________________________

c______________________________

______________________________

c______________________________

______________________________

c______________________________

______________________________

c______________________________

______________________________

c______________________________

______________________________

=b______________________________

=b______________________________

د ترجیع بند یوه بېلګه داده:

ســـتا پـــر مـــخ پـــر تـــورو زلفـــو زه شـــیدا یـــم
صـــبح و شـــام پـــه آه فغـــان پـــه واویـــلا یـــم
په فـــراق کـــې دې تـــل خـــورم د ځیګـــر وینـــې
صبر و توان مـــې بـــې تـــا نـــه شـــته مبـــتلا یـــم
نـــن فلـــک رابانـــدې تېـــغ د جـــور و کـــېښ
لـــه ســـرو وینـــو ډک لړمـــون لکـــه حنـــایم
رقیبـــان راســـره جنـــګ و جـــدل کانـــدې
پـــه دربـــار کـــې دې د ســـپیو مـــدعا یـــم
غزالـــه غونـــدې وحشـــي راخخـــه مـــه شـــه
زه صـــیاد دې د دیـــدن پـــه تمنـــا یـــم
کـــه شـــل کالـــه دې مـــانې وي لـــه مـــا یـــاره
بېګانـــه مـــې هنـــوز مـــه ګڼـــه اشـــنا یـــم
لـــه اشـــنا مـــه کـــړه مـــانې بـــې وفـــایي ده
چـــې ســـبزې مـــین بـــې اوره جـــدایي ده
❋❋❋
غمـــازان چـــې روغـــې چـــارې کـــړي ویجـــاړې
خوار عاشق به څرنـــګ ســـتا پـــه وصـــل ویـــاړې

چـــې احـــوال د فراقـــت پـــر ژبـــه راوړم
هغــه دم مــې وچــوي پــه خولــه کــې لاړې
د لالــه پــه دود لــه عمــره ځګرخــون یــم
پــه ګوګــل کــې مــې تــل وینــې دي ولاړې
یـا شـبنم دی چـې وربـړي پـه چمـن کـې
یـــا بلبـــل دی د ســـحر پـــر ګلـــو ژاړې
ګـرد غبـار دې د کـوڅې یـم ولـې دربغـه
خیـال د وصـل دې لمـن راڅخـه نغـاړې
کـه هـر څـو د تامـانې دي نـن پخـلا شـه
دل سـوخته اشـنا دې راغـی عـذر غـواړې
لـه اشـنا مـه کـړه مـانې بـې وفـایي ده
چـې سـبزې مـین بـې اوره جـدایي ده

✵✵✵

راشـــه راشـــه ای زمـــا د زړه مقصـــوده
مـا غریـب کـړه پـه وصـال سـره خوشـنوده
یو دیدن دې په سـر غـواړم کـه مینـده شـي
لاس پـر سـر یـم پـر دنیـا لـه بلـه سـوده
د وصـال قـدر لـه مـا زده چـې مشـتاق یـم
د ایـاز لـه قـدره چـا زده بـې محمـوده

لـــه مـــا تمـــه ســـیه پـــوش لکـــه ســـکاره یـــم
تـــر لېمـــه مـــې اوښـــې ځـــي د زړه لـــه دوده
لکـــه زه یـــم تـــل دا ســـتا پـــه درد و غـــم کـــې
بل څوک مه شـــه هســـې شـــان پـــه غـــم الـــوده
پـــه مـــانې پـــر څـــه زېبـــا نګـــاره
پیرمحمـــد غونـــدې اشـــنا دې کـــړ نـــابوده
لـــه اشـــنا مـــه کـــړه مـــانې بـــې وفـــایي ده
چـــې ســـبزي مـــین بـــې اوره جـــدایي ده.(۳۳)

د پورتني ترجیع بند په دویم بند کې د قافیې یو څه ستونزې او یـا هم پر قافیې لهجه یي تاثیرات او تحمیلات لیدل کېږي.

## ۱۵- ذوالقافیتین ترکیب بند:

په دې ډول نظم کې څو مقفی مسرې سره یو بنـد جـوړوي بیـا وروسته یو بل مقفی بیت ورلوېږي، چې د لومړي بند له قافیو سره یـې قافیې یو شان نه وي. وروسته بیا نور بندونه راځي او د هر بند مســرې یې په خپل منځ کې هم قافیه وي او د بل بند له قافیو سره توپیر لــري او هم د بل هر بند په پای کې ځانته بېل بېل مقفی بیتونـه راځــي. د بندونو د مسرو شمېر یې سره مساوي او یـو متحـد وزن تعقیبـوي. د

بیتونو او هم د بندو شمېر یې ټاکلی نه دی، خو ټول بندونه د مسـرو او شپو د شمېر له مخې سره برابر وي.

ردیف په کې اختیاري دی، ځینې بندونه کېدی شي ردیف ولـري او ځینې یې ونه لري. دلته به د حنان بارکزي یو ترکیب بند راوړو، چـې د (ترجیع بند) په نوم راغلی دی. خو په نورو ځایونو او دېوانونـو لکـه د خوشال بابا په ارمغان کې دې ډول نظم ته ذوالقـافیتین ترکیـب ویـل شوی دی. له ترجیع بند څخه یې توپیر دادی، چې په ترکیب بند کـې بیا دا مقفی بیت تر هر بند څخه وروسته یو شان نـه تکرارېـږي او بـل توپیر یې دادی چې د ځینو ترکیب بندونو د هر بند ټولې مسـرې یـې قافیه لري خو په ترجیع بند کې خبره داسې نه ده. هندسي جوړښـت یې دادی:

د حنان بارکزي د ترکیب بند شکل:

a________________________________

a________________________________

a________________________________

a________________________________

a________________________________

a________________________________

b________________________________

b________________________________

c________________________________

c________________________________

c________________________________

c________________________________

c________________________________

c________________________________

=d________________________________

=d________________________________

او نور بندونه

د یادونې وړ ده، چې د ترکیب بند بل شکل هم شته. د خوشال په ارمغان کې داسې ترکیب بند هم شته، چې د هر بند ټولې مسرې یې مقفی نه دي، داسې وي لکه یو غزل چې یو بند جوړ کړي یانې له لومړي بیت پرته د هر بیت لومړۍ مسره له قافیې ازاده وي. کله چې بند پوره کېږي بیا یو ځانګړی او بېل مقفی بیت ورلوېږي. د حنان بارکزي ترکیب بند:

یار مې ولاړ شو په سفر له دې وطنه

که ارواح و کوچ یې وکړ له بدنه

که بلبل په اندوه والوت له ګلشنه

که وروستی دم و د مړي له دهنه

چـــا بـــی کـــړې وي د ســـوي زړه پوښـــتنه
چـــا بـــی ایښـــي وي ملهـــم پـــر زړه دننـــه
دروغجـــن یمـــه پـــه مینـــه کـــې هـــر ګـــوره
اشـــنا ولاړ شـــو زه ونـــه وتـــم لـــه کـــوره

❋❋❋

چـــې خبـــر یـــې د تلـــو وشـــو ناګمـــان
لکـــه تنـــدر پـــر چـــا پرېـــوزي لـــه اســـمان
چـــې یوســـف مـــې شـــو ملګـــری د کـــاروان
شـــو یعقـــوب زمـــا د زړه پســـې پرېشـــان
پـــه ارمـــان ارمـــان بـــه ژاړم لـــه هجـــران
د ژونـــدون طمـــع مـــې وختـــه لـــه ځـــان
چې ترې پاتې شـوم پـه دا پېغـور ګنـده یـم
سترګې نـه لـرم پـه سـر کـې شـرمنده یـم

❋❋❋

ورســـره بـــه خـــوک پـــر لارې وي ملګـــرې
چې ویسا بـه یـې پـه نـه شـي نـژدې لـرې
لـــه ســـتړیا بـــه یـــې زړه نـــه غـــواړي خبـــرې
لـــه ناکامـــه تـــر خـــولې تـــویې کـــه شـــکرې
د ســـرو لبـــو لعـــل بـــه پرولـــي پـــه کـــودرې
اړوي بـــــه بانـــــدې تـــــل د غمـــــو ســـــرې

عاشــق نــه یــم اوس رښــتیا شــوه دا خبــره
چـــې پرهـــر دربانـــدې ژاړم بـــې اثـــره

❋❋❋

خوب به نه ورځې مانده بـه تـر حـد تېـر وي
خوشـــالي هـــوا هـــوس بـــه ځنـــې هېـــر وي
سپین رخسار به یې له فکره پـه بـل پېـر وي
لـــه ســـترګیا بـــه نیشـــکر ورتـــه ګنـــدهېر وي
په دیدن بـه یـې درې دوه ملګـري سـېر وي
پـر هـر ځـای بـه لکـه روي پـر چـارپېر وي
چې ترې پاتې شوم پـه کومـو سـترګو ګـورم
پوزه نه لـرم پـه درسـت جهـان کـې ښـورم

❋❋❋

دی روان شــو زه پـر کـور پـه دا حیـران یـم
چې نه مړ شوم نه مجنون سـر پـه بیـان یـم
نـــه اســیا رنګـــه لـــه غمـــه ســـرګردان یـــم
ملامــــت د هــــر هنــــدو د مســــلمان یــــم
دی پخـــوا را پوهېـــده چـــې دو زبـــان یـــم
رحمتونـــــه دې د ده پـــــــر زیرکـــــــۍ وي
لعنتونـــه دې زمـــا پـــر خیـــره ګـــۍ وي[1]

---

[1] د نقل پر وخت یوه مسره پاتې شوې ده.

❋❋❋

که مــې مینــه وای رښــتیا ســوی پــه اور وای
په نغــري کــې بــه د هجــر لکــه ســکور وای
پښې مې یبلې کالي خیـرې سـر سـرتور وای
په انــدوه ســره مــې تــرک د دنیــا کــور وای
له دې غمــه مــې تراوســه ســر پــه ګــور وای
ښایي دا چې مخ مې تور او پر خــره ســور وای
صـــــد رحمـــــت دې وي د ده پــــر دانــــایۍ
صـــد لعنـــت دې وي زمـــا پـــر اشـــنایۍ

❋❋❋

یار مــې ولاړ شــو پــه ســفر پســې زهیــر یــم
له دې غمــه تــل اختــه د ځــان پــه ویــر یــم
ریشــخندی د هــر صــغیر د هــر کبیــر یــم
چـــې پـــه غـــم لا د قلیـــل و د کثیـــر یـــم
زخمـــي کـــړی ببلتانـــه د غـــم پـــه تیـــر یـــم
همېشـــه د دغـــې چـــارې پـــه تـــدبیر یـــم
چـــې اجـــل مـــې عـــذر وکـــه پـــه عـــالم کـــې
ګنه ډېــر بــې آبــه پــاتې شــوم پــه غــم کــې

❋❋❋

په خپل فضل خواست قبول زما غریب کــړې
د وصال ښادي مــې یــو وار پــه نصــیب کــړې
تللــې یــار راســره وصــل عنقریــب کــړې
مشــرف پــه دغــه ګــل دا عنــدلیب کــړې
د هجران ناسور مې روغ پــه دا طبیــب کــړې
خوا په خوا راســره ګــرم خپــل حبیــب کــړې
پـــه کـــرم ســـره د خـــوږو زړو دوا یـــې
چـــې لار ورکــه کــړي هغــه پــر لارې بیــایې

***

وســیله مــې کــړې مجــاز او حقیقــت تــه
خاموشــي مــې کامیــابي کــړې معرفــت تــه
مشک مې ورک کړې له خــاطره طریقــت تــه
راپــه غــاړه کــړې زنځیــر ســتا و قربــت تــه
کړې طــامع مــې ســتا د وصــل و شــربت تــه
بــې پوښــتنې مــې لاهــو کــړې و جنــت تــه
غیر خیال مــې کــړه لــه زړه څخــه جــارو تــه
دغــه زهــر مــې کــړه ســتوني کــې دارو تــه

***

د سکوت په تــار مــې خیــرې زړه رفــو کــړې
رو بــرو مـــې ائینـــه د خپـــل زانـــو کـــړې

صـــبر را د نـــو خطـــانو لـــه جـــادو کـــړې
فســـادونه مـــې لـــه زړه څخـــه جـــارو کـــړې
بـــې ویلـــو مـــې پـــوره هـــره ارزو کـــړې
مـــا حنـــان د بـــیم پـــه اوبـــو کـــې لاهـــو کـــړې
کـــه مـــې چېـــرې یـــې بللـــی لـــه اخلاصـــه
په کرم مې کړه له غشو سـینه خلاصـه.(۳۴)

## ۱٦- ټول قافیز فورم:

دا هغه ډول فورم دی، چې هره مسره یـې قافیـه لـري او ټـولې مسرې یې یوه قافیه تعقیبوي. ردیف په کې اختیاري دی، خو کـه پـه لومړۍ مسره کې تر قافیې وروسته راوړل شي، نو په همدې بڼه په نورو مسرو کې هم راځي. د هرې مسرې د څپو شمېر له بلې سـره مسـاوي وي او یو ټاکلی وزن تعقیبوي، د مسرو شمېر یې ټاکلی نـه دی، دا ډول شعري فورم په پښتو کې د دود عربي فورمونو له بڼې سره یو څه توپیر لري. هندسي شکل یې دادی:

a______________________________

a______________________________

a______________________________

a______________________________

a______________________________

a______________________________

a______________________________

a______________________________

a______________________________

a______________________________

a______________________________

a______________________________

# یادګارونه یادګارونه

مـــا درتـــه لیکلـــي وای شـــعرونه او شـــعرونه
تـــا زلفـــو کـــې ایښـــي وای ګلونـــه او ګلونـــه
ما په وچو شونډو درنــه کــړي وای ســوالونه او ســوالونه
تـــا پـــه زړه را ایښـــي وای زخمونـــه او زخمونـــه
مـــا ژونـــد تـــه نیـــولي وای دارونـــه او دارونـــه
ســتا شــونډو، خنــدا کــړای غورځنګونــه غورځنګونــه
زړه کـــې زمـــا بـــل وای ســـره اورونـــه، ســـره اورونـــه
ســـتا ژونـــدون ډیـــوې وای څراغونـــه څراغونـــه
دغســـــې وای هیلـــــې او همداســـــې ارمانونـــــه

مـــا ورتـــه ژړلـــی تـــا خنـــدلی ولونـــه ولونـــه
حســـــن بـــــه د تـــــا و داســـــتانونه، داســـــتانونه
ژونـــد بـــه ټـــول زمـــا و یادګارونـــه یادګارونـــه.(۳۵)

## د ټول قافیز دویم ډول:

په پښتو ژبه کې د دې ډول فورمونو ترخنګ یو بل فورم هم شته، چې د هر بیت لومړۍ مسره یې د بل بیت له لومړۍ مسـرې سـره پـه قافیه کې یو شان وي او د دویمو مسرو قافیه یې په خپل منځ کې سره یو شان وي، د غزل د سر لومړی بیت یې مقفی نه وي. هره مسـره یـې ځانته، ځانته قافیه لري. یانې دا چې د هر بیت لومړۍ مسره له لـومړۍ او دویمه یې له دویمې سره په قافیه کې یو شان وي او ردیفونه یې هم همدا شان وي. هندسي جوړښت یې په دې ډول دی:

=a_____________________________

=b_____________________________

=a_____________________________

=b_____________________________

=a_____________________________

=b_____________________________

=a________________________________

=b________________________________

=a________________________________

=b________________________________

دلته به د دې ډول فورم يوه بېلګه وړاندې شي:

## له ستورو نه خالونه

يو ځل مې د زړګـــي پــه وران محــل کــه ګــذر وکــړې
قـــدم تـــه دې جانانـــه د لمـــدو ســـترګو ګېـــډۍ ږدم
وعـــده راســـره نـــن کـــه د ماښـــام پـــه ګـــودر وکـــړې
له ستورو نه خالونـــه درتـــه ټيـــک بـــه د ســـپوږمۍ ږدم
کوچۍ لـــيلا کـــه کلـــي تـــه مـــو بيـــا تـــه ســـفر وکـــړې
د شپو په لويه دښته کـــې د لمـــر ســـپينه کېـــږدۍ ږدم
د ناز پېغلې ورږمـــې! کـــه پېښـــه زمـــا پـــه ســـهر وکـــړې
ټـــالو کـــې د کمڅـــو دې د پســـرلي تانـــدې غـــوټۍ ږدم
پـــه برنـــدو پښـــتنو دې کـــه دېخواتـــه نظـــر وکـــړې
د غره وربښمينو څڼو نه پر سر لويـــه پګـــړۍ ږدم.(۳۶)

# دویم څپرکی

## پښتو ازاد شعر

په پښتو شاعرۍ کې د ازاد شعر څو ډولونه تر سترګو کېږي. په دې مانا چې پښتو بشپړ ازاد شعر تر څو پړاوونو وروسته دې شکل ته رسېدلی دی. دلته به د ازاد شعر څو بېلګو ته اشاره وکړو.

۱- هغه ډول ازاد شعر، چې د دودیز شعري فورمونو په چوکاټ کې نه وي راغلي، په شکلي ډول په کې یو څه بدلون راغلی وي. ځینې مسرې یې له قافیې ازادې، لنډې یا اوږدې وي، په نورو اکثرو مسرو کې قافیه راغلې وي، خو دا قافیه په مسرو یا بیتونو کې یو شان نه وي، څو مسرې یا څو بیتونه په خپل منځ کې مشترکه قافیه لري، بیا بېلې مسرې ورپسې لوېږي او په دې ډول یو بند جوړوي. په دې ډول نظم کې اکثره مسرې تقریباً یو متحد وزن تعقیبوي. یانې له ځینو وړو مسرو پرته د نورو اکثرو مسرو د څپو شمېر سره برابر وي. په دې ډول فورم کې د ځینو بندونو د مسرو تر قافیې وروسته کېدی شي ردیفونه راغلي وي او ځینې هم کېدی شي هېڅ ردیفونه ونه لري. په پښتو ژبه کې ټاکلي شمېر نظمونه او شعرونه په همدې او یا دې ته ورته فورم کې ویل شوي دي. د نیمه ازاد شعر دا فورم یا ډول عام نه دی، بلکې د

کارونې ساحه یې ځانګړې او خاصه ده، دلته به د بېلګې په توګه د اسحق ننګيال د شعر یوه بېلګه راوړو:

## ښکاري ته!

ای ښکاري اشنا! درته سلام کوم

پربړده چې دا ښکلې مرغۍ والوزي

لاړې شي جوړه جوړه ګلونه شي

ښلکې شي ښایسته شي امېلونه شي

واخلي په وزرونو کې تنکي بچي

وموښي سینو کې ګلالي بچي

سپینې سرې مښوکې زرکني بچي

پام کوه!

پام کوه ماشې له ګوتې مه وروړه!

ای ښکاري اشنا! درته سلام کوم

پربړده چې دا شنو جلګو کې وځغلي

پېغلې د هوسیو د دامان په لور

واړوي پیکي د شنه اسمان په لور
وخاندي راتاوې شي مستي وکړي
ورغړي نخرې وکړي خوښي وکړي
شپو د پېغلتوب ته خوشالي وکړي
پام کوه!
پام کوه ماشې له ګوتې مه وروړه!

ای ښکاري اشنا! درته سلام کوم
پرېږده د غونچو له لمن پرېوزي
زموږ د کلي باغ کې د سپرلي بلبل
زموږ د خمارونو شرابي بلبل
پرېږده چې په سرو مښوکو وبولي
زموږ د بام له پاسه د سپرلو سرود
بڼ ته د غوټېو د ښکالو سرود
ځمکې ته د وربځو بارانو سرود
پام کوه!

## پام کوه ماشې له ګوتې مه وروړه!(۳۷)

ددې ډول شعري فورم د هندسي جوړښت انځور امکان لري، ځکه چې د مسرو شمېر او د بندونو شمېر يې نسبتاً ټاکلی او څرګند دی. د دې فورم هندسي جوړښت داسې ترسيمېدی شي:

________________________________

________________________________

=a________________________________

=a________________________________

=b________________________________

=b________________________________

=b________________________________

__________________

________________________________

________________________________

________________________________

=c________________________________

=c________________________________

۱۲۲۱۲

=d

=d

=d

=e

=e

=f

=f

=f

دا ډول شعرونه یا نظمونه چې تر زیاته حده د یوه قید او سیستم تابع وي، د هندسي شکل ترسیم یې ډېر سخت نه برېښي، خو د بشپړو ازادو شعرونو د هندسي شکل ترسیم بیا د هر شعر په خپل خپل جوړښت پورې اړه پیدا کوي.

۲- د ازاد شعر بل ډول دادی، چې له مسرو څخه قافیه لرې شوې وي، یو متحد وزن تعقیبوي، یانې د یو قراردادي وزن لرونکی وي. د مسرو د څپو شمېر یې سره مساوي وي، خو یوه ټاکلې موضوع تعقیبوي. ځینې پښتانه ادب پوهان له هغې جملې نه پوهاند ډاکټر مجاوراحمد زیار دې ډول شعر (نظم) ته (مونډی) (۳۸) شعر (نظم) وایي. دا هم د بشپړ ازاد شعر پر لوري یو ګام دی. شاعر دلته د قافیې او ردیف له باره ځان ژغورلی دی، خو له غزلو او قافیه والو شعرونو سره یې توپیر دا دی، چې دلته یوه ټاکلې موضوع تعقیببېږي. د شعر دوه مسرې کومه خپلواکه او مستقله مانا نه شي خندلای. د مسرو شمېر یې هم ټاکلی نه دی.

د ښکلا لمبې:

جوړ زما د نظر سیوری

ستا په دواړو اننګو کې

دا چې ناځي راته وایي

په لمبو کې د ښکلا دې

د الفت د دوک په ګوتو

اړولم راړولم

ستا له پامه چې یاغي شوم

د کړو وروځو په ول مې

د ارام زړګي کوډله

د ماښام د اوښکو تل کې

د کباب زړګي له تاوه

په امید د ژوند لاهو کړه.(۳۹)

دلته به د دې شعر هندسي جوړښت یوه بېلګه راوړو:

**۳- ازاده منظومه:** د ازاد شعر یو بل ډول، ازاده منظومه ده، چې یوه اوږده موضوع او پېښه انځوروي. دا فورم داستاني بڼه لري، په پېښو کې نورې پېښې هم انځوروي، په دې ډول فورم کې قافیه او ردیف موجود نه وي، خو کله کله کېدی شي د خوند لپاره یو نیم ځای په کې قافیه او ردیف راشي. په دې فورم کې د مسرو د څپو شمېر سره یوشان نه وي. په پښتو کې دا ډول منظومې ډېرې دي. د استاد بهاوالدین مجروح ځانځاني ښامار، نا اشنا سندرې هم دې فورم ته ورته دي، د پیرمحمد کاروان او ځینو نورو شاعرانو هم دا ډول منظومې شته. دلته به له دې ډول ازادو منظومو څخه د ځوان شاعر عبدالغفور لېوال د منظومو یوه بېلګه وړاندې کړو.

## باد

کبرګل[1] کبر وکړ

او خدای(ج) له باغ څخه تبعید کړ اوس په غره کې اوسي

باد راته تشه لپه بیا نیولې

ستا مینه وړو او په تمه اننګو ته زما له شونډو نه سلام غواړي

باد زما پر مینه مین نه دی

ستا لیدو ته درځي

(۱) کبر ګل یو ډول غرنی ګل دی او د سړو سیمو په لوړو غرونو کې تو کېږي، د سترګو په شان بڼه لري او جوله یې د غاټول ده، ډېر ښکلی دی، سر یې کښته ځړېږي او اوښکې ورڅخه تویېږي، د دغه ګل په هکله فولکوریکې کیسې هم شته.

باد د پلمو تړی دی

باد ډېر هوښیار دی په کیسو کې راته خوب راولي

غواړي په خوب کې زما له شونډو نه سلام غلا کړي

او باد کیسه کوي چې:

هلته جنت کې کبرګل پر یوې ښلکې ښاپېرۍ مین و

ګل ښاپېرۍ ته د هغې د ښایستونو د ستاینو کتاب

په څومره مینه د لېمو په ژبه ختم کړلو

خو د هغې په ښکلو سترګو کې یې ټکی د باور ونه لید

د ښاپېرۍ ایمان پر خپل حسن هنداره غوښته

ګل د باغچې پر سینه خوب پرېښوده

ګل لېونی شو د غره کاڼو ته یې غېږ پرانیسته

چې ښاپېرۍ ور نه خپل حسن ته هنداره غوښته

خو ګل جنت کې د وږمو پر ښیښه کبر وکړ

چې: زه مې ښکلې ته غزلو نه ائینه جوړوم

❋❋❋

نو ای د باغ شهزاده!

ولاړ شه د غرونو د کوڅو ملنګ شه

تر هغې ورځې چې شاعر شې

تر څو مینه زده کړې

او ګل همداسې وکړل

چې لا تراوسه د ډبرو د اوښانو په پیکي کې زانګي

چې لا تراوسه یې په زړونو کې غزل لټوي

او لا د اوښکو په تار

د لمر د وړانګو پر لیک

د خپل شهید ګرځنده سیوري په نوم

پر خپلو پاڼو شنه توغونه لیکي

خو ګل لا نه دی شاعر

باد مې د کلي پر کوڅو پېښ شو

باد لکه سترې بقال

د خپل شاعر زړګي بوخڅې راته پرانیستې

د کیسو په بیه ما څخه سلام غواړي.

***

۲

یو ببر سري د پښو پر شونډو ښکل کړې

د ډبرو د زخمي اوږو سپېرې شونډې

او هلته پاس يې د غره تور کاکل کې وليد د سپرلي شهزاده

څه دي کوچيه ګله؟

ولې دې خپل څيرې ګرېوان کې اشرپۍ د اوښکو

تر خپل قدم لاندې د ورک قسمت د کرښو برج ته

لکه د پښت بابا پر پټه خزانه شيندې

او تش بانه دې ورته نېغ لکه نېزې نيولي

مګر ته هم لکه مومند بابا د خپل مراد د مخ جلوه خپل زړه کې ګورې

بس ببر سريه څوک يې!

او تاته چا ده درښودلې د ګلونو ژبه

زما د زړه له راز نه چا خبر کړې؟

ماته شاعر ښکاره شوې

زه دې د سترګو د ايلبند له کومې پېغلې کوچۍ

د خپل ارمان پګړۍ ته ګل وغواړم

زه مې د مينې د ښکلا قامت ته څه شي نه آينه جـوړه کـړم او ببـر سري ورته

لار د مينتوب وښوده...

❋❋❋

۳

باد مې د عشق په غنم لور راغی

لکه لوګر مې د زړه للمو نه سترۍ، سترۍ سلام رېبي

او سره غرمه کې زما د روح د شنه توت سیوري ته د باد لوګر

کیسو سترۍ کړ

چې د شنه باغ شهزاده

د تورو غرونو ملنګ

ها لېونی ګل خپل زلمی زړګی کوچی کړ

چې د مینې له بادونو سره کډه وکړي

او د شپېلۍ کوډګر او مست غړ یې بیا

د ښاپېرۍ پر تور وربل وناځي

ځوک له خپل شنه تخته راپاځي لالهانده شي کوچی شي

او ګودر وویني

ځو شنه ویاله کې د خپل حسن انځور وپېژني

تر ځو په مینه پوه شي

ځو یې چې مینه کړي د تورو غرونو جبل کې بندي

او ځو د ګل له شنې اروا سره شي غاړه غړۍ

**شپېلۍ پر شونډو یو کوچي د باران لار وهله**

**او ملایکو د اسمان پر دروازو ولیکل:**

**(( د ګل مین زړګی پردېس شو د اسمان کلي ته))**

**❋❋❋**

**باد مې د اوښکو چم ته بیا راغلی**

**زما پر ستومانه بڼو کاڼي تړي**

**باد شو د مینې د سلام د شنو مرغیو ښکاري**

**باد د خوب باغ کې راته دام د کیسو بیا ایښی دی.**

**۴**

**وخت د پېړیو غمي وپېیل د غرونو هار کې**

**او د زلمي کوچې کوډګرې شپېلۍ**

**د ښاپېرۍ د شنې اروا په غوټۍ**

**په څومره مسته مینه**

**د لېونتوب شنې پرخې پڼ ولې**

**او ښاپېرۍ یې لالهاند کړه کوچۍ شوه پر ګودر پېښه شوه**

**یوه مینه کوچۍ**

لکه ګل ځانګه کې شبنم او لکه اوښکه ښکلې

لکه پر شنه ځنګله خوره وره د وربځو لړۍ

لکه د غره هسکه دره کې ړنګه بنګه د باران ګردله

کوچۍ دنیا ته راغله

خو د ګل زړه بېرته راونه ګرځېد

هو د زلمي کوچي خبر رانه غی

لکه د وربځو له خاطر څخه هېر شوی د باران ځاځکی

لکه تاریخ څخه په جبر ویستل شوی اتل

لکه سرحد د نادري اور د سیخونو او پښتون سیدال د سترګو ترمنځ

لکه میوند کې د ملالې د لنډۍ انګازې

لکه زما مینې نه وتلی جنون

لکه ستا سترګو څخه تللی غرور

کوچۍ دنیا ته راغله

خو ګل هماغسې بې زړه پاتې شو.

❋❋❋

باد شو لېمو کې د کیسو انځورګر

بیامې د خوب او ویښتابه پر پوله ناست دی لکه سترې مانښام

زما د مستۍ بېخودۍ لار کې یې ایښی نظر

څو مې له عقل څخه لرې د عشق کلي نه سلام غلا کړي

او ښایي باد دی چې په خوب کې مې اروا سره

د عرش مېلمه شو.

۵

او زما د خوب د پاڼو سترګې لا کوچۍ پېژني

ها د شپېلیو د کوډګرو سندریزو میو مست ساقي

هغه اروا د کبرګل هغه د عشق د بېخودیو پاچا

ها پر ښکلا د سپین باور د آینو سوداګر

ها له مجاز نه حقیقت پورې د ترږیو کاروانونو څاروان

ها د سهار پر اوږو ناست هغه د ورځې دلیل

ها د ایمان په کروندو کې د شنې مینې بزګر

ها د سپرلي عیسی چې زما د خوب صلیب

یې پر اوږو بار دی

ها د شاعر د سترګو شپو کې تر معراجه تللی

ها را ببل شوی له اسمانه چې په خدای مین شو

ها له خپل آر نه د ببلتون له چیغو جوړ انځور

د ښاپېرۍ د مینې لاس نه دخدای مینې یووړ

او د جنت مېلمه نه ځان هېر شو

چې ځنګه پانې پانې ژاړي د اسمان لارو ته

چې یې ښکالو ته لا د غره په کاڼو سیورى کوي.

❋❋❋

ماته د خوب شهزادګۍ غېږ پرانیستې

زه یې سینه باندې د غره د وږمو مینه کوم

دا راته سترګو کې کیسې د ښاپېریو کوي:

۶

د ښاپېریو له ټبر نه یوه پېغله کوچۍ

چې یې ورک کړی د خپل عشق د اوږد مزله ملګری

لکه د وربځو د کوځو بوږبوکې

لکه د ګډو سترې فصل کې

له خپلې خېلخانې نه پاتې شوې لالهانده زانه

راغله د غرونو د کوځو لیلا شوه

وخت د پېرېو له باران نه لېږې ډکې کړلې

پر ګل د ډېرو کوچانیو کمیسونو د لمنو سیوري ورپېدل

ګل یو ځل نه ځو ځلې هسک شو پر کمځو د پېغلو ونځېده

خو نه ګلونه ښاپېرۍ پېژنده

نه ښاپېرۍ ګلونه وپېژندل

لکه ړانده غاټول نه ورک د پسرلیو موسم

لکه له ترږي چنار هېره د ګودر غاړه

لکه شېبه د بېلتانه کې مروره سلګۍ

لکه بېدیا کې له چینې نه سیند ته پټه لاره

لکه زمورږ د هرې ورځې د سپېدو له شونډو ورکه موسکا

ورکه همداسې ورکه

خو ګل لا خپل غزل ساتلی د کوچۍ قامت ته

مینځې یې هره ورځ په سپینو اوښکو

او ښاپېرې لا په دې نه پوهېږي.

✵✵✵

مانه د خوب پرښتې والوتلې

لا مې د سترګو د سپېرو مینو نغریو کې د خوب

د سبایي اورونه بل دي ما ترې کډه کړې

او زه په برندو د ګل سیورى وینم

چې لالهانده دی د خپلې مینې لارې څاري.

۷

او دا دی خپل یوازېتوب مې لاس نیولی ځم د غرو څوکو ته
هلته به ګل ته د کوچۍ د کوچ کیسې وکړم
زما دا اروا په ماته چیغه کې به ګل ووینې
چې زړه یې څنګه د اسمان کوربه شو
چې ښاپېرۍ ورپسې څنګه لالهانده شوه،
کوچۍ شوه اوس پر غرونو ګرځي
څو چې د ښکلي ګل پر هرې لېونۍ پاڼې
زما د خوب یو تاج محل جوړ شي
زه به کوچۍ ته کبرګل وښیم
څو مې غزل شي د رښتیا هنداره
خوب مې ساقي شي د راز جام به د کوچۍ تږي خاطر ته ورکړي
څو یې اروا د باد په پټو کیسو وپوهېږي
زه به وصلت شم ښاپېرۍ او ګل به بېرته د جنت مېلمه کړم
هلته به عشقه ستا دربار ته په غرور درځم
هلته به مینې ستا د ښکلي چم شاعر شم

لېونی به شم څو مینه زده کړم

دا دی کوچۍ درغلم!

او دا دی واوره ګله!

آه خدایه! دا څه وینم

باد مې سلام غلا کړی

باد رانه ژبه د ګلونو وړې.(۴۰)

د ازادو منظومو هندسي جوړښت ټاکلی نه دی ځکه چې ټولې دا ډول منظومې یوه ټاکلې بڼه نه لري. سره له دې چې ازادې منظومې سره څه ناڅه ورته بڼه لري، خو بیا هم د یوې او بلې ترمنځ د مسرو د شمېر، د بندونو د څومره والي، د مسرو د اوږدوالي او لنډوالي له پلوه توپیرونه موجود دي، نو ځکه لکه د غزل، لنډۍ، څلوریزې او یا هم قطعې په شان د ټولو لپاره یوه ټاکلې هندسي بڼه نه شته، البته کېدی شي هره ازاده منظومه په جدا او بېله توګه ترسیم شي او د همغې لاسلرلې منظومې شکل انځور شي.

**۴- بشپړ ازاد شعر:** بشپړ ازاد نظم هغه دی، چې په هغه کې یوه ټاکلې موضوع انځورېږي، د مسرو شمېر او اوږدوالی یې مقید او ثابت نه دی. قافیه او ردیف په کې مطرح نه دي، البته کله یو نیم ځای د خوند د زیاتون لپاره راځي، خو وزن تراوسه پورې د ازاد شعر په اساسي توکو کې راځي. لکه څنګه چې د ازاد شعر له نامه څخه

ښکاري؛ د یوه ټاکلي او ثابت شکل قید نه زغمي؛ نو ځکه د ټولو ازادو شعرونو لپاره یو ټاکلی ثابت او کوټلی هندسي شکل نه شته، چې د ټولو ازادو شعرونو رغښت دې افاده کړي. البته په ځانګړي ډول د هر ازاد شعر د ځانګړي هندسي شکل د ترسیم امکان شته. یو ځل بیا یادونه کېږي، چې ازاد شعر د څپو او د مسرو د شمېر او د مسرو د اوږدوالي او لنډوالي له مخې ازاد دی، خو تراوسه لا د وزن له بند څخه، نه دی ازاد شوی او هم هماغه څپیز خجیز جوړښت، چې د پښتو شاعرۍ پر نورو شعري فورمونو تطبیقېږي، پر پښتو ازاد شعر هم د تطبیق وړ دی. دلته به د ازاد شعر څو بېلګې وړاندې شي:

**د مور لیک ته!**

**لیک مې د مور نه دی زده**

**چاته بی ویلي وي**

**چاته بی زاري کړي**

**چې راشه زما ګران زوی ته**

**ولیکه!**

**زه روغه یم ته څنګه یې!**

**یاد خو به دې وي!**

**چې یوه شنه پاڼه**

زموږ د کور له ونې نه
په زوره چا شکولې وه
ژړل به دې
تاتۍ، تاتۍ دې ډېره وکړه
ویده شولې
نو ګرانه مینه ګیرکۍ مې
راولیکه!
زه روغه یم ته څنګه یې!(۴۱)

هندسي جوړښت یې د مسرو د څومره والي، اوږدوالي او لنــډوالي له مخې په دې ډول دی:

———————————————
———————————————
———————————————
———————————————
———————
———————————————————
—————————

_______________

____________________

___________________

_________

___________________

_________

___________________

_________

__________________

بله بېلګه:

## ګیله

دا منم چې پرښته یې

د شنه سیوري په رڼا کې

لویه شوې ښایسته یې

مګره ګوره:

ما دې ځانګو ته

**لا لاس در وړی نه و**

**تا د سرو منهو د غله په نوم رسوا کړم!!! (۴۲)**

**هندسي جوړښت يې دادی:**

=a______________________________

______________________________

=a______________________________

_________________

_____________________

_________________________

______________________________________

**د ازاد شعر بېلګه:**

**کب**

**بېچاره کب!**

**هغه تور نه پېژني**

**او نه بی وروسته له دې وپېژني**

**ځکه چې هر ځلې يې تور وليده**

**بیا یې د سترګو کنګل**

**د اوبو مخ ونه لید. (۴۳)**

**هندسي جوړښت یې په دې ډول دی:**

__________

______________

_______________________

_______________________

__________________

__________________

**۱۲۲۳۲**

# درېیم څپرکی

# د پښتو ولسي شاعرۍ یا نظم فورمونه

## ۱- لنډۍ:

لنډۍ په پښتو شاعرۍ کې تر ټولو کوچنی شعري فورم دی، خو د مانا د ځواک او لېږد له پلوه نه یوازې په پښتو شاعرۍ، بلکې په نړیواله شاعرۍ کې یې ساری لیدل شوی نه دی.

د لنډۍ کمال په دې کې دی، چې مجموعاً په (۲۲) څپو یا دوو مسرو کې د روند مانیز بار او ښکلا لېږدوي. د لنډۍ لومړۍ مسره (۹) او دویمه (۱۳) څپې لري، لنډۍ قافیه نه لري، خو د دویمې مسرې په پای کې یوه اهنګینه کلمه لري، چې د لنډۍ ټول اهنګ بشپړوي. هره لنډۍ باید د زور (ه) په واول یا غږن اواز پایته رسېدلې وي. په پای کې دا زور (ه) رانه شي نو اهنګ یې نیمګړی پاتې کېږي. لنډۍ د پښتو ژبې د فونولوژیکي (غرېز) جوړښت تابع ده او د هغې پر بنسټ جوړېږي. په نورو ژبو کې د دې ډول شعر (البته په همدې وزن او اهنګ) څرک لیدل شوی نه دی او نه نورو ژبو ته د لنډۍ په ژباړه کې ددې اهنګ ساتل شوی دی.

پر ټولو لنډیو باندې یو قانون د تطبیق وړ دی، یانې دا چې د هرې لنډۍ لومړۍ مسره باید حتمي (۹) او دویمه (۱۳) څپې وي. د هرې لنډۍ د لومړۍ مسرې څلورمه او اتمه څپه او د دویمې مسرې څلورمه اتمه او دولسمه څپه، خجنه وي. لکه:

امانتي مې ګور کې کېږدئ

که یار خبر شي ما به خپل وطن ته وړینه

ددې لنډۍ څپیز- خجیز جوړښت په دې ډول دی:

U -U U U -U U U

U -U U U –U U U -U U U

له مانیز پلوه لنډۍ پر بېلابېلو ډولونو وېشل کېدی شي. د پښتني ټولنې د ژوند د ټولو ډګرونو انځورنه په کې کېدی شي او شوې هم ده، خو د شکل او جوړښت له مخې لنډۍ همدا یو ټاکلی شکل او قانون لري.

دلته به یو څو لنډۍ د بېلګې په توګه وړاندې کړو:

یوه وعده راسره وکه

چې د صراط په پله به یوځای سره ځونه

❋❋❋

ستا به واده زما به مرګ وي

ستا به ډولۍ زما به کټ خاورو ته وړینه

✵✵✵

**ولې دې بد راسره وکړه**

**زما همدغه هیله وه چې یار لرمه**

څرنګه چې په لنډیو کې د وروستۍ مسرې وروستۍ کلمه اهنګینه وي او د وروستۍ څپې اهنګ یې لوړ او تر هغې دمخه څپې اهنګ یې لوېدلی شان وي (  ) نو دلته کېدی شي د لنډۍ هندسي جوړښت داسې ترسیم شي:



لنډیو ته (ټیکۍ)، (مسرې) او (ټپې) هم وایي، چې دا هر یو نوم خپل ځانګړی تعبیر او لهجه یي استعمال لري، خو ددې ډول شعر عام او منل شوی نوم همدا (لنډۍ) دی.

## ۲- سروکی (نیمکۍ):

سروکی د پښتو ولسي سندرو یو ځانګړی ډول دی، چې بېلابېل فورمونه یا شکلونه لري. ځینې پښتانه سروکی (نیمکۍ) بولي او د پکتیا په منګلو کې د (پام) په نوم یادېږي.

سروکی د پښتو ولسي سندرو د نورو اصنافو په څېر د پښتون قام د

زیاترو کړو وړو انځورنه کوي او د خلکـو د ملـي، اجتمـاعي او روحـي ځانګړنو عکاسي په کې شوې ده.

سروکی معمولاً د لنډیو په واسطه بشـپړېږي، داسـې چـې لـومړی سروکی ویل کېږي، بیا ټیکی (لنډۍ) ور اچول کېږي. له سـروکو سـره ټولې لنډۍ ویل کېږي، خو هغه لنډۍ چې د سروکي له موضـوع سـره ارتباط ولري، خوندورې وي. لنډۍ وار په وار بـدلېږي، خـو سـروکی د هرې لنډۍ په پای کې مکرر راځي. لکه:

خانه راځه دلبره

ډکې لارۍ د جنکو لندن ته ځینه

د جنکو قدر یې کم که

امان الله ته دې خدای لونې ورکوینه

خانه راځه دلبره

ډکې لارۍ د جنکو لندن ته ځینه

سروکی کله یو بیتیز وي، یانې دوه مسرې لري، چې لـومړۍ مسـره یې اوږده او دویمه یې لنډه وي او کله یې دویمه مسره اوږده او لـومړۍ یې لنډه وي، کله درې مسریز، څلور مسریز او پینځه مسـریز هـم وي، چې دلته به د هر یوه بېلګه راوړو:

**دوه مسریز سروکی چې لنډۍ هم ورسره مله ده:**

**الا یو غرږ وشو**

**راغلې مه وای د جبو په میدانونه**

**د لمندار کمیس مېرمنې**

**الا یو غرږ وشو**

**اور له لمنې باروې ستي دې کړمه**

**الا یو غرږ وشو.**

**درې مسریزه سروکی:**

**پسې ورجګ کړه سره لاسونه**

**لنډ کړه د ټیکی مزي دې**

**خال به دې وران شي.**

**څلور مسریزه سروکی:**

**تورې سترګې خماري**

درته کړم ناله زاري

د زړه زخم مې کاري

شوم رسوا ستا په ياري

پینځه مسریز سروکی:

بي بي شېرينې

زېړې ګلې

راباندې واچوه

یوه لونګۍ

جوړه لاسونه

ښاغلی زلمی هېوادمل لیکي: (( سروکی بېلابېل فورمونه لري چې ځینې یې ډېر زاړه دي او د اوستایي ګاتونو له (هوخشتاتره) او (اهونار) سره په تول او وزن کې برابر خېږي)). (۴۴)

ددې ډول سروکوهندسي رغښت داسې انځورېدی شي. دوه مسریز سروکي لږ تر لږه دغه لاندې بڼې درلودلای شي:

______________________

______________________________

a______________________________________

a_________________

a______________________________________

a______________________________________

دویمه او درېیمه بېلګې يې دادي:

**شین کمیس راوړی کمر بند مې دی تر ملا**

**و غازي امان الله**

**✵✵✵**

**مین چې شومه په ګل ببو**

**ستي يې کړمه په سرو لمبو (۴۵)**

## د درې مسریز سروکي شکلونه:

یو ډول يې هغه دي، چې د سر لومړۍ مسره يې تر دویمې اوږده وي او دویمه يې تر درېیمې. بل ډول يې دادی، چې د سر لومړۍ او درېیمه

مسره يې د څپو د شمېر له مخې برابرې وي او هم قافيه وي، خو دويمه مسره يې قافيه نه لري او هم لنډه وي. شکل يې دادی:

____________________________

______________________

__________________

❋❋❋

a____________________________

_______________

a____________________________

دويمه بېلګه يې داده:

**پورې د جانان کډې بارېږي**

**زم ورسره ځمه**

**کله مې مين زړګی صبرېږي (۴۶)**

## څلور مسرييز سروکی:

هغه ډول چې ټولې مسرې يې قافيې ولري او د څپو شمېر يې سره مساوي وي. لکه:

a____________________________

a____________________________

a________________________________

a________________________________

بله بېلګه یې داده، چې څلور واړه مسرې یې ټولې قافیه والې نه وي او هم یې د څپو شمېر سره برابر نه وي، لکه دا سروکی:

ګودر غاړه اجاره

ما بې وروره مه کې

ورورې ما سره جوړه

شرنګ دې د بنګړو (۴۷)

د پورتني سروکي شکل داسې دی:

a____________________________

________________________

a____________________________

_______________

د پینځه مسریز سروکي یو شکل په دې ډول دی:

__________________________

_________________

__________________________________

_________________

____________________________

سربېره پر دې د سروکو نور ډېر ډولونه هم شته لکه هغــه ســروکي چې د ښځې او نارینه ترمنځ د سوال او ځواب په توګه ویل کېږي لکه:

ښځه: جانانه راشه دیدن وکړه
خفه زړګی مې ښه کړه
سبا بېلتون دی

نارینه: ګلې سبا ته به درځمه
تا نه خفه کومه
ښکلی ژوندون دی

بله بېلګه:

ښځه: خان دلاور خانه، توره دې لونګۍ شمله دې لا مزه کوینه.

نارینه: ګلې بي بي ګلې، تورې سترګې سره لاسونه لا مزه کوینه.

دغه راز یو شمېر ډول ډول سروکي هم شته، چې په بېلابېلو ســیمو پورې اړه نیسي، په لنډ ډول هغه د سر محقق زلمي هېوادمل په وینــا: ((د سروکو د فورمونو شمېر خورا زیات دی.))

## ۳- کاکړي غاړې (کاکړۍ):

کاکړي غاړې چې کاکړۍ لنډۍ يې هم بولي، د پښتو ولسي ادبیاتو یو خوږ ډول دی، چې راز راز موضوعات (رزم او بـزم د پښــتو ټــولنیز، اقتصادي شرایط، کلتوري پابندي، دیني او عقیده یي مســایل، ســاده ولسي افکار، ټوکې او ټکالې او د پښتني کلتور بېلابېل اړخونه، خویونه او رواجونه په خپله لنډه تنګه غېږ کې رانغاړي.

کاکړي لنډۍ که څه هم له نامه څخــه یــې لــه کــاکړو ســره تړلــې معلومېږي، مګر د ټولو پښتنو اصیل مال دی او په پښتنو کې داسې کام نه شته چې ددې لنډیو په جوړولو کې یې لړه یــا ډېــره ونــډه نــه وي اخیستې. دغه ډول له نورو ټپو څخه یو جــلا او بېــل شــی دی، چــې لومړی وار کاکړو نښلولي دي او تر ننه به زیات و کم پنځوس زره کاکړي لنډۍ جوړې شوې وي.

کاکړي لنډۍ له دوو مسرو څخه جوړې وي، چې کله کله یې د دواړو برخو سېلابونه سره برابر او کله کله توپیر ســره لــري او د دواړو برخــو وروستي توري یې سره یو رنګ وي. هغه کاکړي غاړې چې هره مســره یې اته اته سېلابه وي:

نبایستې که ستا رضا ده

ستا د قام بدي پر مــاده

هغه غاړې چې یوه مسره یې اته او بله نهه سېلابه وي:

شیـــن خالی، نجونې لاښې دي

پــه لاره ځي لــه خندا شنې دي

هغه غاړې چې یوه مسره یې اوه سېلابه او بله یې اته سېلابه وي:

تر لاس نه تړو ګړۍ

موږ ملنګان یو شین خالۍ

اوه سېلابه غاړې:

د بوټو تنۍ تړم

د شاکار مېلې ته ځم (۴۸)

په عمومي ډول د دې ډول فورم هندسي جوړښت داسې دی:

یو ډول:

=a___________________________

=a___________________________

بل ډول: a________________________

a________________________

## ٤- د اتڼ نارې:

د اتڼ نارې، لکه له نامه څخه یې چې معلومېږي، یوازې په اتڼ کې ویل کېږي، پر ناستې نه ویل کېږي، که څوک یې ووایي هم خوند نه کوي. ښځې هم په ښادیو کې اتڼ کوي او نارینه هم. د نارینه وو د اتڼ نارې ښځې هم په خپل اتڼ کې وایي، خو ښځې ځانته بېلې مخصوصې نارې هم لري، چې هغه نارینه په خپل اتڼ کې نه وایي. د نارینه وو د اتڼ نارې پر ډول ډول او بېل بېل وزن د اتڼ چیانو له حرکاتو سره سمې ویل کېږي، لکه ورو اتڼ، یو بغله اتڼ، دوه بغله اتڼ، درست اتڼ، د ایشلي اتڼ، د ناستې اتڼ د پروتې اتڼ، د پروتې دوه بغله اتڼ، چپه و راسته اتڼ، غلی اتڼ او... (۴۹)

ددې هر ډول اتڼ له حرکاتو سره سم ناره له خپل وزن څخه اړوي او په نوي وزن یې وایي.

د اتڼ نارې معمولاً درې او څلور مسرې لري، خو هم په درې مسریزه او هم په څلور مسریزه ناره کې د مسرو د څپو شمېر سره مساوي نه وي. په درې مسریزه ناره کې لومړۍ او درېیمه مسره سره هم قافیه یا هم اهنګه وي، وروستۍ یا درېیمه مسره معمولاً لویه وي او دویمه مسره یې تر ټولو کوچنۍ وي.

چټې چې په پښو دې کړې چوټې

څوانان دې لېوني کړه

زاړه خواران دې وایستل له ګټې

په پورتنې ناره کې (چوتې، ګټې) د قافیې کلمې دي. لومړۍ مسره ۱۰، دویمه مسره ۷ او دریېمه ۱۱ څپې ده.

**واوړئ د هوا مرغانو واوړئ**

**مساپر مې دورې تللي**

**مرغانو په وزرو کې یې راوړئ**

په دې ناره کې لومړۍ مسره ۱۰، دویمه ۸ او دریېمه ۱۱ څپې ده (واوړئ او راوړئ) یې د قافیې کلمې دي. هندسي جوړښت یې داسې انځورېدلای شي:

a____________________

_______________

a________________________

ددرې مسریزو نارو بل ډول دادی، چې د قافیې ترڅنګ ردیف هم لري لکه:

**کمیس مې تر لمنې ګلاګل دی**

**د خیال کمیس مې دادی**

**چې اورونه لګوي هغه لا بل دی**

په دې ناره کې (ګل او بل) د قافيې کلمې دي. (دی، دی) يې رديف دی. لومړۍ مسره ۱۱، دويمه ۷ اودرېيمه ۱۲ څپې ده. هندسي جوړښت يې داسې دی:

=a____________________

______________

=a________________________

کله کله په درې مسريزه ناره کې داسې هم پېښېږي، چې لومړۍ او وروستۍ مسره د څپو شمېر له مخې سره مساوي وي. لکه په دې ناره کې:

هلکه چې سپين موټی دې چاړه ده

ما به خولګۍ درکړه

هلکه خو ريباره دې ميره ده

ددې نارې لومړۍ مسره ۱۱ دويمه ۶ او درېيمه هم ۱۱ څپې ده.

هندسي رغښت يې دادی.

=a____________________

____________

=a____________________

د اتڼ نارو بل شکل دادی، چې څلور مسرې ولري، ددې هرې مسرې د څپو شمېر له بلې سره مساوي نه وي. لومړۍ او درېیمه مسره یې نسبتاً کوچنۍ او دویمه او څلورمه یې تر هغو دوو نورو لویې وي. معمولاً لومړۍ، دویمه او څلورمه مسره یې سره هم قافیه وي. لکه:

دله دله دله

کوتره یم راغلې له کابله

یا به کابل خپل کم

یا به راوړم د کابل ژېړه بلبله

لومړۍ مسره ۶ دویمه مسره ۱۱ درېیمه ۶ او څلورمه ۱۲ څپې ده. (دله ، کابله او بلبله) د قافیې کلمې دي. بله بېلګه:

خانه زموږ خانه

دا ستا خاني دې خدای نه کي ببرانه

ملکونه دې رعیت کړه

د دښمن کلا دې وکښه د میدانه.

په دې ناره کې لومړۍ مسره ۶، دویمه ۱۱، درېیمه ۷ او څلورمه ۱۲ څپې ده. (خانه، ببرانه او میدانه) یې د قافیې کلمې دي، د لومړۍ نارې هندسي شکل دادی. لومړی شکل:

a____________

a________________

___________

a_____________________

دويم شکل:

a__________

a________________

______________

a_____________________

دويمه بڼه:

د څلور مسريزو نارو بل ډول دادی، چې د قافيې ترڅنګ رديف هم لري. لکه:

څه کم د چا څه کم

پر خپل غولي ولاړه يم کاته کم

يار که مې نادان دی

د بل پر ښايستو به يې ور نه کم

په پورتنۍ ناره کې لومړۍ مسره ۶، دویمه ۱۰، درېیمه ۶ او څلورمه يې ۱۱ څپې ده. (څه، کاته، ورنه) يې د قافيې کلمې دي. (کم، کم) يې رديف دی، هندسي شکل يې دادی:

a=___________________

a=__________________________

__________________

a=______________________________

ولاړه (دوه څپې)

د څلور مسريزې نارې بله بېلګه داده:

پوړنی مې ابي دی

له خياله مې غبرګ کړی پر تندي دی

مابه اتڼ وکړای

دا ستا د بابا کلی رخشندي دی (۵۰)

په پورتنۍ ناره کې لومړۍ مسره ۷، دویمه ۱۱، درېیمه ۶ او څلورمه ۱۱ څپې ده. (ابي، تندي او رخشندي) د قافيې کلمې دي. (دی، دی) رديف دی.

هندسي رغښت يې داسې راځي:

=a______________________

=a____________________________

____________________

=a__________________________

پر پورتنيو يادو شکلونو سربېره د اتڼ په ځينو نارو کې د قافيې او څپو د شمېر په حساب لږ شان بدلون ښکاري، خو ډېر عام نه دی. د اتڼ د نارو اساسي شکلونه همدا وو، چې پورته يې يادونه وشوه.

## ۵- ببولاله:

ببولاله د پښتو ادب هغه مخصوص شعري فورم يا سندره ده، چې د واده پر لومړۍ ورځ، کله چې د ناوې سر وغوړوي او د واده پر مخصوص تخت يې کېنوي، د ورا او د ناوې تر خوا ښځې ګډې وډې شاوخوا سره کېني او ناوې په منځ کې ناسته وي، نو دا ښځې دغه سندرې په ګډه وايي.

کله کله د ببولالې له اصلي متن سره يوه بله مسره هم يوځای کوي او بيا يې په ترنم کې وايي، دا مسرې ببلابېلې دي، چې د خپلې مانا له مخې ببولاله هم د هغې په نامه يادېږي. لکه ( دوه دوه تاره اخلي) (خور ښادي) او (ښه رورا)، ببلګې يې دادي:

دوه دوه تـــــاره اخلــــــــي

ګيســـو ورو ورويـــې بېلويـــه

نـــــاوکۍ مــــوده ناندانــــــه
تــر غرمــې مــې یــې ځنډویــه
❋❋❋
خــور ښــادي دې مــه ســه پاتــه
خــور ښــادي دې مــه ســه پاتــه
خـــــــور ښـــــادي مــــــو ده
د کمپلـــــې ژۍ یـــــې تـــــورې
د کمپلـــــې ژۍ یـــــې تـــــورې
خـــــــور ښـــــادي مــــــو ده
لالـــــی پـــــر ننـــګ مـــین دی
خېښـــــې نـــــه باســـي ســـــرتورې
خـــــــور ښـــــادي مــــــو ده
❋❋❋
ښــــه رورا ښـــــادي دې وســــــه
شـــــاه ســـــلامتي دې وســــــه
شـــــین بادرنـــــګ او بــــورا وړی
شـــــین بادرنـــــګ اوبـــــو راوړی
چا په خوب نــه دی لیــدلی(۵۲)

ببولالې عموماً درې مسرې لري. د مسرو د څپــو شــمېر یــې ســره

مساوي وي، د پښتو اکثره ببولالې د څپو د شمېر له مخې (اته) څپې وي او دا قانون تقریباً پر ټولو ببولالو تطبیقېږي. کېدی شي د لنډیو په شان د ببولالو وزن هم ځانګړی وي، خو پر لنډیو بیا پر مطلق ډول یو قانون تطبیقېږي، خو په ببولالو کې یو څه شکلي بدلون شته.

په ببولالو کې قافیه شته. د ببولالو لومړۍ او درېیمه مسره په خپل منځ کې هم قافیه وي، خو دویمه یې له قافیې ازاده وي. یانې دا چې:

a____________________________

______________________________

a____________________________

دغه راز ځینې ببولالې تر قافیې وروسته ردیف هم لري چې دا بڼه غوره کوي:

=a____________________________

______________________________

=a____________________________

په ځینو استثنایي حالاتو کې کېدی شي دویمه مسره هم قافیه اختیار کړي او هم کېدی شي د څپو په شمېر کې کومه څپه زیاته او یا کمه شي، خو د ببولالو عمومي شکل او جوړښت همدا دی، چې درې مسرې لري، هره مسره یې اته څپې لري، لومړۍ او درېیمه مسره یې هم قافیه وي، که د څپو په شمېر کې زیاتی او کمښت راشي، نو له

ورایه يې په وزن کې کمی احساسېږي. د ترنم او موسيقۍ پـر وخـت د ببولالو له مسرو سره (ها ببولاله لا له وای) یو ځــای کېـږي او د شـعر کمپوز برابرېږي؛ لکه:

اوښ ولاړ زنګــــون تړلـــــی (هــــا) ببولالـــــه
اوښ ولاړ (وای، وای) زنګــــون تړلـــــی (وای)
تر هغو به يې خلاص نه کم (وای) ببولالــه، لالــه
څو زما جان (وای وای) نــه دی راغلــی (وای) (۵۳)

دلته به د ببولالو څو ببلګې وړاندې کړو:

پر کور سور زومبک ځړېږي
هغه لور دې سترګې وخوري
چـــې د پلار په کور نازېږي

د مسرو شمېر يې ۳، د څپو شمېر يې ۸، (ځړېږي) او (نازېږي) يــې د قافيې کلمې دي. هندسي رغښت يې داسې دی:

a____________________________

____________________________

a____________________________

**د همدې شکل بله بېلګه:**

پر کور دوه زرغونه شاله
زما جان ورته ولاړ دی
لاس يې نه ورځي د خياله

**د ببولالې بل شکل دا دی، چې تر هماهنګو اهنګینو کلمو یا قافیې وروسته بله کلمه یا ردیف هم ولري. دا يې بېلګې دي:**

**تر بالښت لاندې انار دی**
**داسې زوم مو دروستلی**
**چې نامتو د کندهار دی**

**بله بېلګه:**

**ناوکی ګوتې د سرو دي**
**تر دسمال يې را ایستلي**
**چې سکه لېورونه څو دي(۵۴)**

**په لومړۍ ببولاله کې (انار، کندهار) او په دویمه کې (سرو او څو) د قافیې کلمې دي. په لومړۍ کې (دی، دی) او په دویمه کې (دي، دي) ردیفونه دي، هندسي بڼه يې داده:**

=a________________________

________________________

=a________________________

## ٦- چاربیته:

چاربیته د پښتو ملي شعري فورمونو هغه ډول دی، چې هر بند يې تر څلور مسرو څخه کم نه وي. زياتره چاربيتې په ملي موسيقۍ کې ځانته په زړه پورې اهنګونه او خوږې نغمې لري او د دې لپاره چاربيتې بلل کېږي، چې بندونه يې يا له څلور بيتو او يا تر څلورو مسرو څخه بېخي کم نه دي. په چاربيته کې همېشه يوه اوږده موضوع چې اکثراً عشقي او حماسي وي (لکه د قصيدې او مثنوي په شان) افاده کېږي.

چاربيته د فورم له مخې په عمومي ډول پر دوو لويو برخو وېشل کېږي:

۱- ساده چاربيته.

۲- زنځيري چاربيته:

دغه دوه ډوله چاربيتې بيا په خپل وار سره د مسرو د شمېر برابروالي اوږدوالي او لنډوالي له مخې پر ډېرو نورو ډولو وېشل کېږي؛ لکه: د څلورو، پينځو، شپږو، اتو، نهو او لسو مساوي لنډو يا اوږدو مسرو زنځيري چاربيته.

له مانيز پلوه چاربيته پر عشقي، تاريخي، رزمي او نورو برخو وېشل کېږي. د ساده چاربيتې يوه بېلګه، دا چاربيته د نوښار د محمد دين ده.

مطلع: څوک به پيدا نه شي د فرهاد او شيرينۍ په شان

يوځای به څوک نه شي د ادم او درخانۍ په شان

بند:

يو ځای به څوک نه شي لکه و عاشق فرهاد
تل به يې کولو په اشنا پسې فرياد
وه يې کړه خواري ځکه حاصل يې شه مراد
کړې به يې خبرې د طوطا د ښارونې په شان

بند: کړې به يې خبرې د مجنون دا مشغولا وه نه
بل به يې څه نه وو خو په خوله به يې ليلا وه نه
وچ شه لکه دړه د خاوند په دې رضا وه نه
بيا به ګرځېده په دې پسې د لېونې په شان

بند: راغی قطب خان چې راروان له رانيزو نه شو
سر په ټيک ويده و ځکه پاتې له مزو نه شو
پروت و لکه مړی سرو کار يې له نيازو نه شو
غوڅ يې په ځيګر که لکه تورې ايرانې په شان

بند: غوځ يې په ځيګر كه چې رانجا عاشق په هير شو
تـل يـې سر تـندی وا هه همېش د ځان په وير شو
مـړ مـلا بـهادر نـيمبو لا ځكـه د ستـګير شـو
هلته ظلم نه شته دی شاګرده د خانۍ په شان(۵۵)

ددې ډول چاربيتې هندسي بڼه داسې انځورېدلای شي:

مطلع:

=a____________________________

=a____________________________

بند:

b____________________________

b____________________________

b____________________________

=a____________________________

تر پايه

په دې ډول ساده چاربيته كې له ځينې استثنايي حالت پرته، د ټولو مسرو د څپو شمېر سره مساوي وي. د هر بند وروستۍ مسره په قافيه كې د مطلعې له مسرو سره يو شان وي.

د پښتو ولسي شاعرۍ په باب ډېر ځله دا څرګندونه کېږي، چې په دې فورمونو کې ویل شوي شعرونه اکثره د نالوستو شاعرانو زېږنده دي. دا خبره مطلقه نه ده، په همدې فورمونو کې د هېواد یو شمېر نومیالیو لوستو شاعرانو هم شاعري کړې ده، له هغې جملې نه د همدې چاربیتې په فورم کې په ساده چاربیته کې له پورتني ډول پرته نور ډولونه هم راتلای شي. دلته به د ساده چاربیتې د یو بل ډول دوه بېلګې راوړو. لومړۍ بېلګه یې د جرار صیب ده:

د سترګو مخ مې وسو یاره ستا د مخ په نور　　تک تور لکه ماغوت
تاو کړی په ماغوت کې خپل اشنا ته ورم ضرور　　د سرو اوښکو یاقوت

که وایم ستا په مخ مې دا جوړه کسي وریته دي　　تاثیر به د لمبې وي
وبښته د مخ له تاوه تار په تار سره پراته دي　　دا تاو به د شغلې وي
حبشو ته حیران یم په فرنګ یې ورخاته دي　　دا زور به د حملې وي
سپین مخ دې معرکه شو امتحان به کړي ضرور　　معلوم به شي مزبوت(۵۲)

په دې ډول فورم کې د سر لومړۍ او درېیمه مسره د څپو د شمېر له مخې په خپل منځ کې سره برابرې دي او یو شان قافیه تعقیبوي. دویمه او څلورمه مسره بیا په خپل منځ کې د یو شان قافیې لرونکې او د څپو د شمېر له مخې سره برابرې وي، د هر بند لویې مسرې په خپل منځ کې دڅپو د شمېر له مخې سره برابرې او په خپل منځ کې یو شان قافیه تعقیبوي او وړې مسرې یې په خپل منځ کې، خو د هر بند د پای

لویه او وړه مسره بیا د مطلعې د لویې او وړې مسرې د قافیې او شکلي جوړښت تابع ده. په ټولیز ډول ټولې لویې مسرې له لویو او وړې مسرې له وړو سره د څپو د شمېر له مخې برابرې وي.

بنه یې داسې انځورېدلای شي:

a______________________ b______________

a______________________ b______________

c______________________= d______________=

c______________________= d______________=

c______________________= d______________=

a______________________ b______________

دې ته د ورته چاربیتې یوه بله بېلګــه هــم راوړو. دا د مــلا مقصــود چاربیته ده:

مطلع:

شین خال دې په شمال اینبنی د وروځو په پیوند — ځلېــــــړي زرافشان

اوربل دې الول لکه بخمل دې بند پـــــه بنـــــد — راپورته کړه چشمان

بند:

شین خال دې په مشال اینبنی د وروځو په مابین — له ورایه تجـــلی کا

نرۍ پوزه الف خـــــواره دې دواړه شفتیـــــــن — زړګی مې واویــلا کا

زنخ لرې ګبين خوله دې شيرين سره دې عنين څوک څه لره ګيلې کا

***

جمال درکړی رب، لـــــرې نسب داســې څرګنـــد رايــــــت دې کـــه خاقـــان
جــــــمال راکړی رب لــــــرم نسب د پاچايــــانو روغ ځـــان ســـاته کمبختــــه
عاجز غريب سړی يې ياري مه کړه د خـــــوبانو چــې رانــه شـــې بـــې وختــه
ته خپل مساوي ګوره ستا دی ځوی د نــــادارانو لــــرمه طبــــــعه ســـخته
ژوندی به دې پرې نه ږدم زما خدای په نوم سوګند تــــه واوره دا بيـــان(۵۷)

زنځيري چاربيته: زنځيري چاربيتې ته اته مسريزه چاربيتــه هــم وايي، په دې باب يو ليکوال وايي:

هغه چاربيتې چې اته مسرې لري هغې ته عوامي چاربيته ويلی شو، ځکه چې د عامو شاعرانو په اصطلاح کې چاربيته وايي همدې ته چــې څلور بيته او اته مســرې وي، پــه دې ډول چــاربيتو کــې د ســر دواړه مسرې په خپل منځ کې هم قافيه نه وي، بلکې اوله يې په يــوه قافيـــه وي او دويمه يې په بله. او بيا د هر بند په پای کې چې کوم بيت راځي د هغه بيت د دواړو مسرو قافيه د مطلعې د دواړو مسرو له قــافيې ســره يوشان وي. عبدالحکيم اثر هم همدا راز د (۸) مسرو چاربيته پــر درې ډولونو باندې وېشي:

۱- يو قسم هغه ده، چې د هر بند اول درې بيتونه يانې شپږ مســرې يې په خپل کور کې سره په يوه قافيه وي او وروستی بيت د چــاربيتې له مطلعې سره موافق وي. ددې بېلګه داده:

مطلع:

شـــاګرده اول نـــص د الهـــی پروردګـــار دی
استاده بل حدیث د محمـد نبـي حضـرت دی

بند:

شـاګرده پـه جهـان کـې جبرائیـل نـومی ملـک دی
اســتاده خــاص مقــام د ده اووم اســمان فلــک دی
شاګرده ټول وجـود یـې د زنځیـر حدیـده کلـک دی
اســتاده ســر تــر پایــه پــه وزرو بانــدې چــک دی
شاګرده د رحمـت پـه رب کـې ډوب لکـه سـمک دی
اســتاده مــا پــه دې خبــره هــم ویســتلی شــک دی
بې حده ښایســته د نــور پــه شــان شــعله انګــار دی
د باد په شان تـه ګرځـي پـه هـوا بانـدې اوچـت دی

بند:

شـــاګرده زه یـــې نـــوم ویلـــی نـــه شـــم ویـــرول کـــا
اســـتاده هغـــه دادی چـــې د روحـــو قبضـــول کـــا
شـــاګرده قبضـــول د ګنهکـــارو پـــه زلـــزل کـــا
اســـتاده بختـــورو تـــه پـــه پـــوزه بـــو د ګـــل کـــا
شاګرده غټ عذاب دی چې زورونـه پـه ګوګـل کـا

استـــاده پـــه ســـختۍ د بـــدو روحـــو وښـــکل کـــا
کمبختـــو ګنهګـــارو تـــه پـــه دغـــه شـــان قهـــار دی
چې سم یې پـــه شـــرف یـــې مقـــرر ورلـــه جنـــت دی

بند:

شـــاګرده زه ډوب شـــوی د غمونـــو پـــه دریـــاب یـــم
اســـتاده زه د غـــره لانـــدې حصـــار پـــه پـــېچ و تـــاب یـــم
شاګرده پـــه تهمـــت بانـــدې تـــک تـــور لکـــه غـــراب یـــم
اســـتاده لاس مـــې مـــروړم پـــه ارمـــان لکـــه ذبـــاب یـــم
شـــاګرده زه غریـــب بنـــده د پـــاک غنـــي وهـــاب یـــم
اســـتاده شـــکر وایـــم چـــې مســـلمو کـــې حســـاب یـــم
مرګی مې رانبـــژدې شـــو نـــن ســـبا لـــه مـــې رفتـــار دی
((میاګل)) د ګټکي ژاړي چې په مـــخ کـــې مـــې قیامـــت دی(۵۸)

=a________________________

=b________________________

=c________________________

=c________________________

=c________________________

=c________________________

=c________________________

=c________________________

=a________________________

=b________________________

همداسې نور بندونه

په پورتني فورم کې د ټولو مسرو د څپو شمېر سره مساوي دی. دسر لومړی بیت یا مطلع په خپل منځ کې د قافیې اختلاف لري. دوا‌ړو مسرو کې قافیه حتمي او ردیف اختیاري دی. د هر بند شپږ مسرې په خپل منځ کې یوه قافیه تعقیبوي؛ اومه او اتمه مسره یې په قافیه کې د مطلعې د لومړۍ او دویمې مسرې تابع ده.

## ۲- د اته مسریزې چاربیتې دویم ډول:

په دې ډول چاربیته کې د سر یو بیت، چې د مطلعې په توګه راځي. لومړۍ مسره یې ځانته قافیه لري، د دویمې مسرې په منځ کې یې یوه قافیه راځي، چې د لومړۍ مسرې له قافیې سره سمون خوري، خو د دویمې مسرې وروستۍ قافیه ځانته جلا او د لومړۍ مسرې له قافیې سره سمون نه لري. د هر بند لومړۍ، دریېمه، پینځمه مسره، په خپل منځ کې هم قافیه وي او هم د دویمې، څلورمې او شپږمې مسرې په منځ کې راغلې قافیې هم د نوموړو مسرو د قافیو بڼه تعقیبوي، خو د دویمې، څلورمې او شپږمې مسرې په پای کې نورې قافیې راځي،

چې دا بیا د نوموړو مسرو خپلمنځي قافیې ګنل کېږي، د بند اوم او اتم بیت د مطلعې د شکلي سکښت تابع وي.

لکه په دې لاندې مثال کې:

د ښایسـت اواز دې لاړو پـه عـالم کـې لـور پـه لـور
زه دې سوی یم په اور، ټیک دې کوز کـړه لـه جبینـه
د ښایسـت اواز دې لاړو پـه کابـل پـه هندوسـتان
ځکـه ناسـت یمـه حیـران، رارسـېږي یـا نصـیبه
عاشـقي ده ډېـره ګرانـه ځـي د اوښـکو مـې بـاران
پرې مې لوند شولو ګرېوان، پوه نـه شـوم لـه ترتیبـه
پـه هـر چـا بانـدې تېرېـږي د فـاني دور دوران
څوک راځي څوک تـرې روان، کانـدي یاروتـه قریبـه
بـارې خپـل دی کـه پـردی دی راکـوي راتـه پېغـور
سترګې نه شمه نیولی ګوره ډوب یم سـتا پـه مینـه.

❋❋❋

بارې خپل دي کـه پـردي دي راکـوي راتـه تهمـت
کتی نه شـمه اوچـت پـه یـارۍ کـې د بـې ننګـه
چېرې تا کتلی نه دي لکه سپي ته چـې کـړې سـت
تاو چې راغی په صورت، تـه لـه مانـه کـوې څنګـه
جاروتی نه شمه بېرته رب دې نه کـا څـوک عـادت
د سرو شونډو په شربت، کیف یې زیات وینـم لـه بنګـه

پــه رنــې زنـــې دپاســـه دې خالونـــه درې څلـــور
ما پرې تل کړی دی زور، خوند یې زیات دی لــه ګبینــه

✵✵✵

د نـــری زنـــې لـــه پاســـه دې خالونـــه دي قطـــار
تـــورې زلفـــې دې تـــار، تـــار دي پرتـــې لکـــه ورېځـــې
پـــه ســـینه کـــې دې پـــخ شـــوي دي د مینـــې دوه انـــار
ورتـــه پـــروت یمـــه بیمـــار، دارو مـــې د مـــرض یـــې
رب دې نه کا څوک په رنـځ کـې سـتا د مینـې ګرفتـار
نن دې ځان کړلو سـینګار، ببګـاه مـې پـه اور سـوزې
کله زېر شي کله بم شي سـره ګنګـري دې کـوي شـور
قدم اخلي په ټکـور، ښـاپېرۍ راغلــې لــه چینــه.(۵۹)

a________________________________________

b_______________ a_______________

c________________________________________

d_______________ c_______________

c________________________________________

d________________ c________________

c__________________________________________

d________________ c________________

a__________________________________________

b________________ a________________

او همداسې نور

بندونه

د پورتنۍ چاربیتې د لومړي بند د وروستۍ مسرې په منځ کې (سترګې نه شمه نیولی ګوره ډوب یم ستا په مینه) کې (سترګې نه شم نیولی) برخه کې قافیه خطا شوې، خو په نورو بندونو کې پورتنۍ شکل په پوره ډول تعقیب شوی دی. د یادونې وړ ده، چې په پورتني ډول چاربیته کې د مسرو د څپو شمېر سره مساوي وي.

۳- د اته مسریزې زنځیري چاربیتې بل ډول دادی، چې ټوله مقفی وي او هر بیت او هره مسره یې په خپل منځ کې قافیې لري. یوه بېلګه یې داده:

د لیلا په لبـــــو سور　　　پېزوان لکه ښامار

ترینه ځي شغلې د اور　　　نتکۍ نه یې باربار

راوځي ماسپخـــــین　　　ژونـدی زما صورت که

زما زړه یې کړ غمګین　　　سرداره څه حکمت که

ګونګري يې کوي شور          چې دا شي په رفتار

***

رفتار مې کوي خـــوند          ورځـــــمه مازيګر
وربل مې بند په بنـــد          د سپين تندي په سر
خراب به دې کړم ژوند          کاته کړم پـــه هنر
شين خال مې ادم خور          ذقن مې مزه دار(۶۰)

په دې ډول چاربيته کې له ځينو مسرو پرته د نورو اکثـرو مســرو د څپو شمېر سره مساوي وي. په مطلع کــې د لـومړي او دويــم بيــت د لومړيو مسرو قافيې سره يوشان وي او د دويمو مسرو قافيې په خپــل منځ کې يو شان وي. د هر بند د درېو بيتونو د درېو لومړيو مسرو قافيه يو شان او درېو نورو مسرو قافيه بل شان وي، خو د څلورم بيت رغښت او بڼه د مطلع د بيت تابع وي. هندسي جوړښت يې په دې ډول دی:

مطلع:

a_______________          b_______________

a_______________          b_______________

بند:

c_______________          =d_______________

c_______________          =d_______________

c_______________          =d_______________

a_______________          b_______________

همداسې نور بندونه...

د دېرې قافیه لرونکې زنځیري چاربیتې یوه بله بېلګه داده:

مطلع:

کله به راوړې دواړه بس دې دي رنګـین شـیرین
سـپین دې جبـین زریـن مـخ دې ځلېـږي

بند:

کله بـه راکـړې دواړه لـب شـات او ملهـم صـنم
مـه کـړه سـتم هـر دم پـه غضـب ښـورې
سرې دې منګولې همـېش وړې زړونـه قلـم قلـم
اخلـې قـدم پـه چـم سـترګې دې تـورې
په در دې پروت یم همېش غواړم سـتاکرم محکـم
لـرې کـړه غـم الـم کـه رب تـه ګـورې
نن دې پـه غـاړه بانـدې زانګـي لـونګین رنګـین
سـپین دې جبـین زریـن مـخ دې ځلېـږي.(۶۱)

په دې ډول چاربیتې کې د سر لومړی بیت یا مطلع په لومړۍ مسره کې یو شان دوه قافیې موجودې وي. د دویمې مسرې تر نیمایي پـورې بیا یو شان دوه قافیې چې د لومړۍ مسرې له قافیې سره یوشـان وي، راځي او د مسرې په پای کې اهنګینه کلمه راځي چـې لـه دې قـافیو سره په جوړښت کې توپیر لري.

د هر بند لومړۍ مسره ځانته يو شان دوه قافيــه لــري او د دويمــې مسرې په پاى کې يوه ځانګړې قافيه؛ درېيمه مسره له لومړۍ مســرې سره په قافيه کې يو شان وي څلورمه د دويمې په شان وي، پينځمــه د لومړۍ او شپږمه د دويمې په شــان وي او هــم د څلــورمې او شــپږمې مسرې په منځ کې راغلې قافيې د بند د لومړۍ مسرې د قــافيې تــابع وي، اوومه مسره د لومړي بيت يا مطلع د لومړۍ مسرې په شان وي او اتمې مسرې د منځ قافيې د مطلعې د لومړۍ مسرې د قافيو تابع وي او پاتې برخه يې د مطلعې د دويمې مسرې پاتې برخــه وي؛ د مطلعــې د دويمې مسرې تکرار وي. په دې چاربيته کې د سر بيت لــومړۍ مســره ۱۴ او دويمه ۱۱ څپې ده. د بند لومړۍ، درېيمه، پينځمه او اومــه مســره هم ۱۴ څپې او دويمه، څلورمه، شپږمه او اتمه مسره ۱۱ څپې لري.

هندسي بڼه يې داسې انځورېدلاى شي:

مطلع:

aa________________________________

aa
__________________________

بند:

bb________________________________

c____________bb،______________________

bb________________________________

c____________bb،______________________

bb________________________________

c________bb،________________________

aa________________________________

__________aa،____________________

## ۷- مقام:

ځينې پښتانه يې رباعي هم بولي، پښتانه ولسي مجلسيان يې د مجلسونو په پيل کې وايي، مقامونه نسبتاً ورو، اوږده او په داسې تال او اهنګ ويل کېږي، چې ټول مجلس چوپ شي او پوره غوږ يې نيولی وي، کله چې مقام خلاص شي نو سندرغاړی سمدستي لوبه، چاربيته او يا بګتۍ يا غزله پيلوي، چې اورېدونکي سم له لاسه له هغه ارام او غلي حالت نه راوېښ او په شور او زوږ يې راولي.

د مقامونو مضمون معمولاً ټولنيز او اخلاقي وي او د پند او عبرت ښه مطالب لري، عشقي مقامونه هم شته، مقامونه لکه د دېواني غزلو داسې جوړښت لري، د لومړي بيت دواړه مسرې يې په يوه قافيه وي او د نورو بيتونو لومړۍ مسرې يې له قافيې نه ازادې او دويمې مسرې يې له لومړي بيت سره قافيه تري. له درېو څخه نيولې تر پينځو او شپږو بيتونو پورې وي. د مقام هره مسره دولس يا يوولس څپې وي له دېواني غزلو سره يې توپير دادی:

يو خو يې ژبه ډېره ساده، عام فهمه او ولسي وي او بل د ولسي سندرو د قافيه ترنې پر اساس د سره ورته غږونه قافيه ګول په کې

عادي خبره ده، ځکه دغه سندرې په شفاهي بڼه منځته راغلي، نه په لیکنۍ بڼه. بل دا چې ویونکی یې ولسي شاعر وي، د سېلابونو شمېر یې یوولس یا دولس وي. دا چې د ولسي سندرو دغه فورم ولې مقام بولي باید وویل شي چې د مقام نوم ورسره په څو سببه وړ دی:

۱- دا چې د مقام لغوي مانا (ځای) دی او دغه سندرې د پښتو په ادبي مجلسونو کې د چاربیتو، غزلو، بګتیو او بدلو څخه مخکې ویل کېږي، په دې حساب نو مقام د مجلس پیل او د نورو ولسي نظمونو لپاره انتظام برابروي او خلک دې ته متوجه کوي چې خپل ځایونه ونیسي او په کرارۍ سره مجلس واوري.

۲- دا چې په مقام کې پندونه او نصیحتونه بیانېږي، نو کېدی شي چې سړی د مقام پر موضوعاتو عمل وکړي او یو لوړ اخلاقي مقام ونیسي، له دې کبله چې دا وروستۍ خبره سمه او مانا لرونکې ده او نوم له نومول شوي سره برابر دی، دا سندرې په دې نامه یادې شوې دي، که چېرې دا سندرې مقام وبولو، نو یوه بله ګڼه به مو هم کړې وي او هغه دا چې د دېواني سندرو له رباعي سره به مو د مغالطې مخنیوی کړی وي. دلته به د ولسي شاعر ګلستان یو مقام چې په دغه مقام کې د (بحث) دکلمې عامیانه تلفظ (باس) له لباس او خلاص سره قافیه شوی دی. د بېلګې په توګه راوړو:

د کم اصلو له یارۍ نه واخله لاس
مه غولېږه د هغو په تش لباس

د کــم اصــلو یارانــه د خــره ســورلي ده
عاقبت به دې پــه کنــده کــړي راخــلاص
شامدام بــه درنــه ګرځــي کــوز او پــاس
له کم اصــلو نــه وفــا کلــه مونــده شــي
دا متل دی په هر ځای کې عــام و خــاص
چې له لرې نــه یــې ګــورې ورنــه تښــته
ګلســـتانه ورســـره مـــه کـــوه بـــاس(۶۲)

هندسي جوړښت یې دادی:

a______________________

a______________________

______________________

a______________________

______________________

a______________________

______________________

a______________________

a

**یادښت:** سره له دې چې زموږ یو زیات شمېر ادبپوهانو او لیکوالـو ((مقام)) یو ځانګړی جلا ادبي فورم بللی، خـو زه چـې دې فـورم تـه ګورم، له غزل سره یې په هندسي جوړښت کې کوم خـاص تـوپیر نـه شته، نو ځکه ویلای شو، چې ((مقام)) یوه محتوا ده نه جـلا ځـانګړی فورم. تر هغه پورې چې زموږ ادبپوهـان پـه مطلـق ډول (مقـام) یـوه محتوایي مسئله وګڼي نه شکلي، تر هغه پورې زه په دودیز ډول (مقام) د همدې فورمونو په چوکاټ کې محاسبه کوم، خو بیا هم زمـا نظـر او وړاندیز دادی، چې مقام فورم نه دی، محتوا ده.

## ۸- بدله:

د پښتو په ځینو سیمو کې په عام ډول ټولې ولسي سندرې لکـه: لنډۍ، سروکي، د واده سندرې، چاربیتې، نیمکۍ او نورې بدلې بـولي، خو دلته زموږ مطلب د ولسي خاصو سندرو له هغه ځانګړي فورم څخه دی، چې پښتانه مجلسیان یې ملي غزلې یا ولسي غزلې بولي.

دغه سندرې هم لکه د ولسي سندرو د نورو فورمونو په څېر د عربي عروضو او بحرونو په شعري چوکاټ کې نه ایسارېږي او د اریایي ژبـو د شعرونو په شان د سېلابونو او څپو پر بنسټ ویل کېږي.

بدلې عموماً شفاهي دي او مجلسيان يې خوله پر خوله يــو بــل تــه سپاري خو د بدلو ليکلې او پخوانۍ بېلګې هم لرو؛ تراوســه زمــوږ پــه ليکلو اسنادو کې د شيخ بستان بړېڅ بدله له لومړنيو لاسته راغلو بدلو څخه ده، چې د لسمې پېړۍ په وروستۍ لسيزه کې تر زرم کال وړاندې ويل شوې ده.

بدلې له شکلي پلوه په لومړي سر کې پر ساده او سپرو بدلو وېشــل کېږي او بيا يې هر ډول په خپل کور کې د مسرو د شــمېر او مســرو د اوږدوالي لنډوالي او برابروالي پر اساس پر ډېرو نورو برخو وېشل کېږي. د بدلو هر بند اکثراً تر دوو مسرو زيات وي، چې کله يې هــر بنــد درې مسرې، کله څلور مسرې اوکله لا زياتې مسرې هم لري، چې د (خلکــو سندرې) مولف په شکلي لحاظ بدلې پر پينځلسو ډولو وېشــلي او کــه پلټنه وشي ښايي تر دې هم زيات ډولونه ولري.

ولسي بدلې لومړی يو کسر (مطلع) لري او ورپسې يې بندونــه وي، کسر يې له يوې اوږدې او يوې لنډې مسرې څخه جوړ وي، چــې بيــا د قافيه يي تړون له مخې له هر بند سره قسماً يا ټول تکرارېږي. د ســاده بدلې په بېلګه کې د شيخ بستان بړېڅ (۱۰۰۲ه کال مړ) د بدلې سر او يو بند راوړو:

مطلع:

اوښکې مې څاخي پر ګرېوان يو وار نظر که پر ماراسه ګذر که پر ما

بند:

د خوږو زړونو له حاله ته يې ای باداره اګاه　　　يې د بېوزلو همراه

د خپل عزت په روی(بستان) ته کړه مهر ښندل کړي له ګناه ګواښل

اوښکې مې څاڅي پر ګرېوان یو وار نظر که پر ما          راسه ګذر که پر ما

په دې ډول بدله کې یو ځل د سر لومړی بیت چې یــوه مســره یــې اوږده او بله یې لنډه، یانې تقریباً د هغې تر نیمایي وي. د بند هره اوږده مسره یې تقریباً د لومړي بیت له اوږدې مسرې او لنډه یــې لــه لنــډې سره برابره وي. د بند هر بیت په خپل منځ کې هم قافیه وي او د بنــد په پای کې د بدلې لومړی بیت بیا تکرارېږي. هندسي شکل یې داســې دی:

مطلع:

=a______________________

=a______________

بند:

b______________________

b______________

c______________________

c______________

=a______________________

=a______________

سپره بدله، د بدلې بل ډول دی، دې کې ګڼ شمېر قافیې موجــودې وي، دې ډول بدله کې هم د مسرو اوږدوالی او لنډوالی موجود وي، خو د سر د لومړي بیت د مسرو له اوږدوالي او لنډوالي سره یې د بندونو د مسرو اوږدوالی او لنډوالی برابر وي. دلته د ښاغلي جرار د سپري بدلې کسر او یو بند وړاندې کېږي:

مطلع:

دا دی جنګېږي د ګوګل دپاسه هار که مار

چې لري زار په خوار کوي تاثیر

بند:

پر ما شوې تېرې ستا په مینه کې خوارۍ زارۍ

لاس د یارۍ جارۍ راکړه محکم

پرسان مې وکړه ساه مې راغله تر مرۍ پرۍ

زلفې چورۍ نرۍ رقم رقم

ورکړه چې بایلو زړه صنم ستا په رخسار انار

سینه ګلزار ((جرار)) مه کړه تاخیر.

هندسي جوړښت یې داسې دی:

a.a________________________________

b__________a.a__________

c.c________________________________

d__________c.c__________

c.c________________________________

d__________c.c__________

a.a________________________________

b__________a.a__________

## ۹- لوبه:

لوبې هم د ولسي خاصو سندرو يو ځانګړی او جلا شعري ډول دی، چې له بګټيو څخه هم چابکې ويل کېږي. لوبې تر ډېره حده د لنډيو په خم کې رنګ شوي، کله کله يې بندونه لنډيو ته ورته جوړښت خپلوي او کله بيا په وزن او رواني جوړښت کې لنډيو ته ورته بندونه لري.

ځينې کسان لوبې له بګټيو سره ورته بولي، په داسې حال کې چې لوبې د يوه ځانګړي شعري فورم په توګه له بګټيو سره يو د ويلو پر وخت توپير لري او بل دا چې د لوبو دکسر مسرې اکثره وخت سره په يوه قافيه وي او بګټۍ ټول ټال دا شان نه دي. لوبې له نيمکۍ سره هم جوت توپير لري، ځکه په نيمکۍ کې لنډۍ کټ مټ راوړل کېږي او په لوبه کې په خپله لنډۍ نه راځي او بل دا چې لوبه د ولسي سندرو له عمومي برخې سره چې ويونکي يې معلوم وي، اړه لري. دلته به د لوبې يوه بېلګه راوړو چې ولسي شاعر محمد نور ويلې ده:

لوبه:

غمونه لرې کړه له ما عاجز غمګینه
راتاو شه لونګیه
ودې ویشتم روغه دې نه کړم
نوره یاري درسره نه کـــــړم
بل دې په سرو شونډو نتکۍ زانګي مینه
راتاو شه لونګینه
❋❋❋
پاس په بامو ګرځې کوترې
زما د خوږ زړګي دلبـــرې
چې شال پر سر کړې څنګه ښه ښکارې سنګینه
راتاو شه لونګیه
❋❋❋
د محمد نور فقیره بخته
څنګه راپرېوتې له تخته
بخت مې کوټه شو اس مې لاړ سره له زینه
راتاو شه لونګینه (۶۳)

په دې ډول لوبه کې د سر لومړۍ مسره اوږده او دویمه لنډه وي. بیا د هر بند دوه لومړۍ مسرې په خپل منځ کې هم قافیه وي او هـــم یـــې څپې سره برابرې وي. د بند درېیمه مسره د لوبې د ســـر بیـــت (کســـر)

سره په قافیه او د څپو په شمېر کې یو شان وي او ورپسې د سر بیــت دویمه مسره د تکرار په ډول راځي. شکل یې داسې دی:

a________________________________

a______________

=b______________

=b______________

a________________________________

a______________

c______________

c______________

a________________________________

a______________

d______________

d______________

a________________________________

a______________

## ۱۰- داستان:

داستانونه د ولسي ځانګړو سندرو د یوه ځانګړي فورم په توګه د شکل او مضمون دواړو له پلوه ځانته خاص سکښت او بېل جوړښت لري او د ولسي ادب هر څېړونکی پر دې پوهېږي، چې زموږ ولسي ادبیات د مضمون له پلوه، زموږ د ولس د قامي ژوند هنداره او د شکل له پلوه هم زموږ د ژبې خاص ملي اهنګونه دي، چې زوړ اریایي اساس لري او پښتانه مجلسیان یې په ځانګړي وزن او خاصه لهجه وايي. داستانونه هم د ولسي خاصو سندور د نورو فورمونو په څېر اوږده ماضي لري او د لومړي ځل ویلو ځای او نېټه یې معلومه نه ده، یوازې د داستانو هغه بېلګې چې د پټې خزانې په واسطه لاسته راغلي، څلور سوه کلن عمر لري؛ په پټه خزانه کې دحافظ عبدالطیف اخکزي د (سوی او اوښ) فولکوریک کومیډي او انتباهي داستان راغلی، چې دلته یې یو کسر او یو بند وړاندې کېږي:

غوږ ونیسۍ یارانو د اوښ او سوی قصه سوه

خورا ډېره خوږه سوه

یو سوی د اوښ اشنا سو

بې حده یې همرا سو

یاري به یې کوله یو له بله یې یارانه سوه

خورا ډېره خوږه سوه

داستان د ډېرو اوږدو مضامينو د بيان لپاره پوره زغم لـري. مطالـب يې عموماً فولکوري، ديني، رزمي او تاريخي وي، لکه په اخلاقي برخــه کې د ولسي شاعر غلام شاه د حاتم طايي د سخاوت روايتي داستان.

**په وړاندې زمانه کې يو فقير و مستانه**

**غوښته يې شهزادګۍ پاچا ته ودرېده**

په عشقي برخه کې د سيف الملوک او بدرۍ جمالې داستان:

**روان شو شهزاده سيف الملوک باغ ارم ته**

**سفر د جدايۍ دی رخصت غواړي له پدره**

په ديني برخه کې د حضرت ابراهيم خليل الله د صــداقت، حــق او رښتيا ويلو روايتي فولکوري داستان

**د نمرود په زمانه کې**

**راغلی په کيسه کې**

**پيدا شو ابراهيم خليل الله دوست د اکبر و**

**ښېشکه پيغمبر و**

داستان ويونکی د داستان ويلو پر وخــت د تفــريح او جلــب لپــاره لنډۍ هم وايي، چې د داستان خوند نور هم زياتوي. ځينــې پوهــان او اديبان د ولسي خاصو سندرو دغه فورم عربي مثنوي او قصيدو ســره يوشان بولي او وايي چې ولسي داستانونه د عربي مثنوي او قصيدې په

پیروي ويل شوي دي. باید ووایو چې دلته داسې ډېر دلایل شته، چې د هغو له مخې موږ ولسي داستانونه له کتابي مثنوي سره یو ډول نه بولو او لومړی اریایي فورم او دویم تقلیدي شکل ګڼو، لومړی دا چې د ولسي داستان د زنځیر د سرکړۍ له لرغونو اریایي سرودونو سره نښلي او د عربي مثنوي او قصیدو په پیروۍ نه دي ويل شوي. د ولسي داستانونو ویونکي معمولاً ولسي او نالوستي شاعران دي. دغه ولسي سندرې ټولې قافیه یي ازادۍ لري او هغه شرطونه چې په مثنوي او قصیدو کې شته، ولسي داستانونه يې پر منلو مکلف نه دي.

د ولسي مثنوي ډوله داستانونو په څېر نورې سندرې هم په پښتو ادب کې لرو، چې مثنوي ته ورته دي، لکه د بېټ نیکه مناجات، د شکلي جوړښت له مخې دغه مناجات هم د مثنوي په ډول دي، خو د تذکره الاولیا مولف يې سندره بولي. دغه ډول د کاکړیو فورمي جوړښت هم د مثنوي په ډول دی، مګر هېڅ له مثنوي سره یو شی نه دی بللی او نه يې مثنوي ته غاړې ویلې دي. دا هم د ولسي داستان یو څو بیتونه:

خان بابا د چکدرې چې په سفر لاړ
له دنیا نه د حق لور ته برابر لاړ
ظریف خان لعل بېګ ترې پاتې ماشومان شول
موريې مخکې مړه وه دواړه یتیمان شول
چې يې لور بې بي کو پاتې شوه یتیمه
یرېده به له دښمن ظالم غلیمه

دا هم د یوه بل داستان یوه برخه:

نن مې ولید عجیبــه ښــکلی داســتان
طلســمات بــه درتــه واړه کــړم بیــان
د یمـــن یـــو شـــهزاده و زمـــا یـــاره
یوه ورځ ښکار ته وواته لــه ښــاره(۶۴)

دا ډول داستان په پښــتو کــې پــه څــو ډولــه دی. مــثلاً د حــافظ عبدالطیف خان اڅکــزي د (ســوی او اوښ) فولکوریــک کومیــډي او انتباهي داستان داسې دی، د کسر لومړۍ مسره اوږده او دویمــه یــې لنډه، خو دواړه په خپل منځ کې هم قافیه وي. ورپسې بنــد راځــي. د بند د سر لومړۍ دوه مسرې په خپل منځ کې هم قافیــه او لنــډې دي. درېیمه مسره یې د کسر له لومړۍ مسرې سره په اوږدوالي او قافیه کې یو شان وي. د بند څلورمه مسره هماغه د کسر د دویمې مسرې تکرار دی. شکل یې داسې دی:

=a________________________________

=a____________

❋❋❋

=b______________________

=b______________________

=a____________________________

=a_______________

د حضرت ابراهیم خلیل الله د صداقت داستان په دې فورم کې دی، چې لومړی دوه لنډې هم قافیه مسرې چې تقریباً په څپو کــې برابــرې دي، ورپسې یوه اوږده مســره چــې د هغــو دواړو مســرو د څپــو لــه مجموعي شمېر سره یې څپې برابرې دي او ځانته بېلــه قافیــه لــري، ورپسې یوه لنډه مسره راځي، چې په قافیه کې له درېیمې او پــه څپــو کې له دویمې مسرې سره برابره وي. سکښت یې په دې ډول دی:

=a____________________

=a____________________

=b______________________________

=b____________________

بل ډول داستان چې زیات عمومیت لري، دا دی، چې هر بیــت یــې ځانته قافیه لري، خو د ټولو بیتونو دمسرو دڅپو شمېر یې ســره برابــر وي:

=a____________________

=a____________________

=b____________________

=b____________________

او همدرانګه نور..

**يادښت:** د داستان په باب بــه دا خبــره معقولــه وي، چــې ووايــو داستان داسې يوه محتوا ده، چې په بېلابېلو شعري فورمونو، لکه غزل، قصيده، مثنوي او د پښتو نظم په نورو ولسي فورمونو کې ځايېدلای او دا فورمونه ورته کارېدلای شي، خــو ددې ترڅنــګ داســې ځــانګړي فورمونه هم شته، چې د پښتو له نورو ولســي شــعري فورمونــو ســره ورتوالی لري، خو د داستان لپاره کــارول کېــږي، خــو بيــاهم دې ډول ولسي فورمونو سره توپير په کې ليدل کېــږي، کــه دې ډول فــورم يــا فورمونو ته د داستان فورم نوم ورکړل شي، معقوليت به ولري.

## ۱۱- بګتۍ:

په پښتو ولسي شعرونو کې دغه فورم ځانته د خونــد او رنــګ بېــل بازار لري، بګتۍ پښتانه مجلسيان او سازيان له مقام، چاربيتو او بــدلو څخه کله وروسته او کله هم په منځ او پای کې په يوه ګرم تــال او وزن، خو په ورو او نرم اواز (اهنګ) د مجلس د رنګ د بدلولو او د اورېدونکو د خوښۍ او خوشالۍ زياتولو لپاره وايي. د بګتيو د اورېدلو پر وخت پــه مجلس کې ټول حاضر کسان په ولولو راځي، اتومات ټول ښورېږي او له مجلس نه خوند اخلي.

بګتۍ هم د بدلو او چاربيتو په څېر کسر لري، خو کسر يې معمولاً يو بيت (دوه مسرې) وي. بندونه يې هم ډېرې مسرې نه لري او په عمومي توګه د څلورو مسرو په شاوخوا کې وي. د بندونو شمېر يې هم محدود وي، خو بيا هم د بګتيو د بېلابېلو بېلګو خپلمنځي توپيرونه ډېر دي. په

بګټیو کې هم هر ډول عشقي، تاریخي او افسانوي کیسې په لنډ ډول بیانېږي، دا یې هم یوه بېلګه ده:

وزیرســــــتان بانـــــــدې جنګونـــــــه
انګرېزان وایي چې ســبا بــه جنــګ لــه ځونــه
انګرېــز ویلــي چــې خاونــده څــه اســرار دی
په سترګو نه وینم غازیـان، پــه مــا ډزهــار دی
نصیب مې نه شته، بری، بنــد مــې شــو توپونــه

فقیـــــر ویلـــــي دا ســــتا لاس دې را دراز وي
کـــه د بغـــداد مېړنـــی ځـــوان زمـــا همـــراز وي
پـــه شـــان د ختـــو بـــه دې بنـــد کړمـــه بمونـــه

وزیرســتان بانــدې خــو نــن ســبا جګــړې دي
غازیــانو لاس کــې پــولادي تــورې تېــرې دي
ما شېرافضل یې په شــعرو کــړل صــفتونه.(۶۵)

دا ډول بګټۍ د سر بیت د څپو د شمېر له مخې له لنـډیو سـره یـو شان وي. یانې دا چې د لنډۍ لومړۍ مسره هم نهه او دویمه دیـارلس څپې ده، خو په وزن کې هغه وزن نه لري چې لنډۍ یې لـري خصوصـاً لومړۍ مسره د بندونو دوه مسرې یې په خپل منځ کــې هــم قافیــه او

درېیمه یې د کسر یا د سر بیت له قافیه سره یو شان وي. د بګټۍ سـر بیت له لومړۍ مسرې پرته نورې ټولې مسرې د څپو په شمېر کې سـره مساوي وي. هندسي شکل یې داسې دی:

a____________

a_____________________

=b_____________________

=b_____________________

a_____________________

=c_____________________

=c_____________________

a_____________________

=d_____________________

=d_____________________

a_____________________

# څلورم څپرکی

## د پښتو ولسي شاعرۍ یا نظم ځینې نور فورمونه

په پښتو ولسي ادبیاتو کې د نظم یو شمېر نور داسې فورمونه شته، چې په هغو کې د ولس ځینو ستونزو، ربړو، دودونو، تاریخي روایاتو، نیمګړتیاوو، دردونو، ناخوالو او د چاپېریال پېښنو انعکاس موندلی دی. دا فورمونه په دې ډول دي:

منظوم فالونه، د بي بي دستې سندرې، لنډکۍ، سولې، برغازي، سلسلې، انګۍ یا چغیان، د میندو سندرې، د ماشومانو سندرې، د وړو مشاعرې، کیسې، د ځوانانو سندرې، محلي پارچې یا ولسي ننداري، ساندې، نکلونه، د ښادۍ سندرې، تاریخي نارې، سنځر خبلې نارې، د مروتو کسرونه، سوزخواني او ځینې نور. څرنګه چې د نظم دا پورتني فورمونه د پښتو نظم د ځینو نورو ولسي فورمونو لکه لنډۍ، سروکي، کاکړي غاړې، د اتڼ نارې، ببولالې، چاربیتې، بدلې، لوبې، بګتۍ او داستان په شان ډېر دود او اغېز نه لري، نو دلته یې یوازې د هره یوه د بېلګې په راوړلو سره بسنه کوو.

منظوم متلونه:

چې ډول دې وي په څنګ

له وهلو یې څه ننګ

❋❋❋

امیر چې ظلم کار وي

اور بل پر ټول دیار وي

فالونه:

د جنت په منارې

سور چرګ وهي نارې

شېر د خدای تېرېږي

خلکو کاندئ ننداري

د بي بي دستې سندرې:

د دوهی ملنګې سـر دې ولــې تــور دی

سر مــې داســې تــور دی پــر مــورې هــم

ښــه لــوی دیــن د محمدرســول الله دی

لا الـــه الله محمــــــد رســـــول الله

برایـــــي د شـــــېرعلي د لـــــور واده و
ملکی په ورا رالـــی لـــه ښـــه زړګـــي یـــې
د ســــــــترګو کســــــــي ســــــــره وو
ښـــه لـــوی دیـــن د محمدرســـول الله دی
لا الـــــــــه الله محمدرســـــــــول الله

لنډکۍ:

ته چې جواري کړې مـا بـه بایـه کـړې مینــه
مـه راپســـې ژاړه ووړکیـــه نـــه مـــې درکوینـــه
جګ کـړه مړوندونــه جلــۍ غبــرګې لــه درځمــه

شولې:

شولې ټکومه ټکوم تا به واده کمه
په خدای مې دې قسم وي وپلاني ته به دې ورکمه
شولې ټکومه ټکوم زه پلانی نه کوم
په خدای مې دې قسم وي پلانی زوړ دی که یې وه کمه
شولې ټکومه ټکوم تا به وده کړمه
په خدای مې دې قسم وي و پلاني ته به دې ورکمه

شولې ټکومه ټکوم زه پلانی نه کوم
په خدای مې دې قسم وي پر ما لوی دی که یې وکمه.
برغازي:

بـــازار میـــان دی خـــولګۍ راوړه
چـــرګ اذان دی خـــولګۍ راوړه
لـــوړ ســـهار دی خـــولګۍ راوړه
زمـــا تلـــوار دی خـــولګۍ راوړه

***

راځـــه وړې راځـــه چـــې ځـــو
د ګـــل ګېـــډۍ راځـــه چـــې ځـــو
نـــن ســـبا راځـــه چـــې ځـــو

***

الکـــانو کـــور مـــه چېـــرې دی
د لال ټکـــر مـــه چېـــرې دی
دمستۍ غـــولی مـــه چېـــرې دی

**سلسلې:**

راوتلـــــی پـــــر ســـــحر یـــــم
زه د ښـــو نجونـــو اجـــل یـــم
پـــه شـــان د ســـپینکي مـــار یـــم
د هـــــر چـــــا تـــــر اوده تـــــر یـــــم

**انګۍ یا چغیان:**

زه په خپل کور کې وم په راحـت
بابک خرخه کړم پــه ډېــر دولـت
په پردي کور کې مې نشـــته عــزت
خود به ژړا کــړم پــه هــر ســاعت

❋❋❋

شـــــینکۍ کـــوتره وم ښـــورېدمه
نـــه چـــا نیومـــه نـــه چـــا کتمـــه
پـــه هـــر یـــو ټکـــي بـــه پرېوتمـــه
نـــــن ناولـــــده یـــــې کېنســـــتمه

د وړومشاعرۍ:

ددې ځـــــای اور ســـــــیچو
چرګـــه راغلـــه بـــې بچـــو.

ددې ځـــای او ددې ډنـــــډه
تیـــر پـــروت دی شـــل برغنـــډه

تـــــه وایـــــه غـــــنم
خبـــــرې دې مـــــــنم.

کیسۍ:

په یورپ ځې اسمان ته
چار چاپېره ټول جهان ته (د سترګو لید)

دپاسه راغی سور بلوڅ
اغوستي یې دي پنځه پنځوس (پیاز)

## د ځوانانو سندرې:

ابکه له کمه رالې
له بلخ و بخارا
په شا دې څه شی دي
وربڅ او باران
ماینې دې څو دي
ویل یې اووه
نومونه یې څه دي
ویل یوه چیختته ده
یوه بخته ده
یو ترګوګ لاندې ورسته ده
یوه اسمان ته غرېده
پچکولمه یې وشلېده یوه سپینه زلیخا ده.

## محلي پارچې یا ولسي ننداري:

### ۱- تمثیلي پارچې:

وئ وئ مرم ابۍ
بچی کوم ځای دې خوړېږي
بچی کوم ځای دې خوړېږي

ابۍ ګېډه مې خوږېږي

ابۍ ګېډه مې خوږېږي

ګولۍ به درته راوړم

نه خورمه ګولۍ

دا ګولۍ له زارو ډکې دي

نه خورمه ګولۍ

دا ګولۍ له زارو ډکې دي

ابۍ ګېډه مې خوږېږي

بچی کوم طبیب دې خوښ دی

بچی کوم طبیب دی خوښ دی

دا (پلانکی) خان طبیب مې خوښ دی پرې رغېږمه

نه خورمه ګولۍ دا ګولۍ...

۲- کمیډي پارچې:

ما بورې نانګه خوړل

زامن مې بلا وخوړل

هی هی اجي ډومبک

ما بورې ګذر راوړی

دوی د خاورو ډک خوړلی

هی هی اجي ډومبک

## ۳- عادي پارچې:

د یوې تاریخي پېښې په باب:

نـــواب مـــړ کـــړ پـــه ځنګلـــه کـــې نوابـــه ګـــل
وینـــې یـــې راغلـــې پـــه راده کـــې نوابـــه ګـــل
د نـــــواب ســــــترګې غتـــــې غتـــــې نوابـــــه
په هر میدان یـې اړوي لکـه سـکروټې نوابـه ګـل
نـــــواب دې پـــــټ مـــــې تېرویـــــه نوابـــــه
دلته مې خور ده او ورور مـه راخبـروئ نوابـه ګـل.

سانديې:

په لنډیو کې سانديې:

(پلانکی) د خاورو لایق نه دی

دا (پلانکی) دې ورته جوړه کړي بالکۍ په سینګارونه

که نور دې هر څه میراتېږي

میرات دې مه شه دا د غاړې تاویزونه

بې وروره خور په کوڅه راغله

ناره یې وکړه شپه به چا کره کومه

## د نکلونو نارې (غړونه):

لکه د ادم او درخو په نکل کې چې د درخو رویباره (استازې) ادم خان ته د درخو احوال وروړي، نو ادم پر خپلې ښځې توتیا داسې غږ کوي:

(نکلچي وايي) ادم وویل:

زما توتیا عزت یې وکړه

دغه استازی د درخو راغلی تاته

کله چې درخانۍ د خپلې ملګرې بسوګۍ واده ته ځي، نو مور یې منع کوي او داسې غږ کوي:

ته چې دې واده ته ځې سلا مې نه ده

اوس وتنه د همداسې نجونو نه ده

درخو وايي:

تر قیامته به کوې تورې ماتورې

ځان به جوړ کړم دواړه سترګې به کړم تورې
د بسو واده ته ځم ادکۍ مورې.

د ښادۍ سندرې:

د کونج مېرمنې پاځه که دې زړه شي
هومره خو پانه څې چې پلانکی خان دې لونګۍ په لاس درته رانه شي

✵✵✵

زموږه ناوې تیله داره ده نه ژاړي
چې د (مېږه نوم یې اخلې) لغتې وخوري دا به ښه ژاړي.

تاریخي نارې:

د هوتکو د دورې:

څوک خبر وو چې تقدیر به کوي داسې
شاه حسین به نادر نیسي
بیا به یې نورې د ایران ته بندي باسي

د احمدشاه بابا د وخت:

که زمری دی شاه ولي د جنګ زمری دی

له سنګرو يې ایستلی مېړنی دی.

سنځر خېلې نارې:
سعدالله ول په پښې کې مې اځغی دی
اځغی مه راځخه کاږې
تر ما لاندې د اودولو اوسلی دی

شاه نادر ویل زما له دا غونډیه ډار سي
دوست محمد پروزلی
دوست محمد پرېکړې راولیاړ سي

د مروتو کسرونه:
د سر (مطلع) یو دوه بېلګې:
ډېرې اندېښنې مې په زړګي شوې راچاپېرې
ښکلې محبوبه پېزوان په شونډو رپېده

د مروتو یو کسر:
چې په تا باندې بنیا هغه به وشي
چې په تا باندې بنیا نوره به نه شي

سلطان خېل موسيان ګنجيو لشکري شي
الهي په تا باندې راولې خواري
خواري په تا باندې راولې آه سخته

سوز خواني:

د نورالله شاعر يوه سوز خواني:
يارانو ټول په وسلې وو يو لاسونه
نن بهار دی کربلا
شاميان نږدې شو ورته وتړو صفونه
تور غبار دی کربلا
ورځ د لسم دی د علي د زويو ننګ دی
بېدار شو وخت د جنګ دی
عباسه وروره مخکې واخله نشانونه
نن ګلزار دی کربلا. (۶۶)

# پایله

کله چې ما د پښتو شعر د بېلابېلو فورمونو د لټون هڅه پیل کړه نو دا راته لا ښه څرګنده شوه، چې د پښتو شاعرۍ لمن ډېره پراخه ده. پښتو نه یوازې اکثره هغه شعري فورمونه چې په عربي ژبه کې دود دي، راخپل کړي، بلکې په همدې فورمونو کې يې ډېر جولیز زیاتون هم راوستی دی.

ددې شعري فورمونو شمېر هم تر هغو زیات دی، چې فکر يې کېږي. کله چې خپله د پښتو د ځانګړو شعري فورمونو خبره رامنځته کېږي، نو دلته هم سړي ته په ډاګه کېږي، چې تراوسه پورې ددې امکان برابر شوی نه دی، چې د پښتو شاعرۍ ټول فورمونو دې معرفي شوي وي. البته د پښتو د ولسي او لوستې شاعرۍ ځینې مشهور فورمونه له بېلګو سره معرفي شوي، خو بیا هم د پښتو ولسي شاعرۍ لمن ډېره پراخه ده او تر اوسه لا د هر فورم ټول ډولونه او د هغه بشپړې بېلګې نه دي معرفي شوي. په حقیقت کې د پښتو ولسي شاعرۍ هر فورم باید په جلا جلا ډول وڅېړل شي. ځکه چې د ټولو څېړل د یوه کتاب له اوسېلې نه وځي.

په پښتو شاعرۍ کې د مشترکو نظمونو، ازادو شعرونو او د ازادو شعرونو ترڅنګ ځینې نور داسې شعري فورمونه هم شته چې په پورتنیو یادو فورمونو کې نه راځي او پښتو شاعرانو د خپل فکر او ژوند د اړتیا له مخې د نورو شعري فورمونو له په پام کې نیولو پرته رامنځته

کړي او کومه ځانګړې نومونه نه لري. دا برخه هم یو جلا باب غواړي، له همدې کبله که چېرې موږ د پښتو شاعرۍ د نظم د ټولو فورمونو او د هغو بېلابېل ډولونه په مجموعي ډول تر نظر تېر کړو، نو شمېر به یې تقریباً دوو سوو بېلابېلو جوړښتونو ته ورسېږي. ګڼ شمېر نور داسې پښتو شعري فورمونه شته، چې هغه زموږ په لوستې او ولسي شاعرۍ کې باب دي او په دې اثر کې له راغلو شعري فورمونو څخه جوت توپیر لري، په دې اثر کې نه دي څېړل شوي، یوازې هغه شعر فورمونه تر شننې لاندې نیول شوي، چې په پښتو شاعرۍ کې ډېر زیات باب دي او یوه ټاکلې نومونه لري. په پوره ډول د پښتو د ټولو شعري شکلونو پېژندګلوي، د بېلګو راوړل او د هغو د هندسي جوړښت ترسیم د یوه ټاکلي اثر په پاڼو کې نه ځایېږي.

ما د خپلې علمي ترفیع (پوهنیار رتبې) لپاره د پښتو شاعرۍ یو شمېر مشهور فورمونه څېړلي او د هغو هندسي رغښت مې انځور کړی دی. کېدی شي د ځینو فورمونو د پېژندنې ترمنځ ټکر هم پېښ شوی وي، خو دا ټوله هڅه د وړاندیز بڼه لري. د وخت د لنډون او د علمي ترفیع د معیار په پام کې ساتلو سره مې اوس پر همدې بسنه وکړه. هیله ده وخت ددې امکان برابر کړي، چې د خپلې ژبې د نورو درنو لیکوالو او پوهانو په مرسته دا هڅې نورې هم وغځوو.

# اخځونه


۱- د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي درسي لکچر نوټ.

۲- پوهاند زیار پښتو شعر څنګه جوړېږي؟ د اطلاعاتو او کلتور وزارت کابل، ۱۳٦۱ل کال.

۳- اورنګ زېب ارشاد، بدیع او د پښتو شعر، پېښور، دانش کتابتون، ۱۳٦۹ل کال، ۹۵-۱۱۰ مخونه.

٤- خوشال بابا، ارمغان خوشال، پېښور، یونیورسټي بک ایجنسي، ٤۹۷ مخ.

۵- پیرمحمد کاروان، چنار خبرې کوي، پېښور، دانش کتابتون، ۱۳۷٦ل کال، ۲۵۳مخ.

٦- محمد هوتک پټه خزانه، څلورم چاپ، د زلمي هېوادمل په زیار، کابل، ۱۳۵٦ل کال، ۲۹ مخ.

۷- محمد هوتک پټه خزانه، څلورم چاپ، د زلمي هېوادمل په زیار، کابل، ۱۳۵٦ل کال، ۳۰ مخ.

۸- عبدالمالک بېکسیار، سوچونه او کړلېچونه، ۱۳۷٦ل کال، ۱۹مخ.

۹- درویش درانی، هوا او څراغونه، لاهور، ۱۹۹۵م کال، ۱٤۰مخ.

۱۰- اورنګ زېب ارشاد، بدیع او د پښتو شعر، دانش کتابتون، ۱۳٦۹ل کال، ٤۲-٤۳ مخونه.

۱۱- اسحق ننګیال، هغه شېبې هغه کلونه، کابل، ۱۳٦۵ل کال، ٤٦-٤۷مخونه.

۱۲- اسحق ننګیال، څاڅکي څاڅکي، د لیکوالو انجمن، ۱۳٦۸ل کال، ٦۵ مخ.

۱۳- علي گل پیوند، سیلۍ او باولۍ، پېښور، دانش کتابتون، ۱۳۷٦ل کال، ۱۷-۱۸ مخونه.

١٤- هیله دوه میاشتنۍ خپرونه، ۳ گڼه، ۱۳۷٦ل کال، ۲۰ مخ

۱۵- د خوشال رباعیات، کابل پښتو ټولنه، ١٦ مخ.

١٦- محمد صدیق پسرلی، پسته اور، لاهور، ١٣٧٤ل کال، ۱۸۷مخ.

۱۷- حمزه شینواری، د خیبر وږمې کابل، پښتو ټولنه، ١٣٧٤ل کال، ٨٤ مخ.

۱۸- ډاکتر سید بهاوالدین مجروح، نا اشنا سندرې، پېښور، ۱۹۸۹م کال، ۱۰۹ مخ.

۱۹- ډاکتر امین الحق امین گوري وریځې، کابل، ١٣٦٦ل کال، ۹۸ مخ.

۲۰- عاصي اشنغری، توده وینه، کابل پښتو ټولنه، ١٣٥٤ل کال، ۱۸۵مخ.

۲۱- پوهاند عبدالحی حبیبي، د پښتو ادب په تاریخ کې قصیده، کابل، ۱۳۵۷ل کال، ۱ مخ.

۲۲- محمد هوتک، پټه خزانه، څلورم چاپ، د زلمي هېوادمل په زیار، کابل، ١٣٦٥ل کال، ۱۹-۲۳ مخونه.

۲۳- پیرمحمد کاروان، چنار خبرې کوي، پېښور، دانش کتابتون، ۱۳۷٦ل کال، ٤٨مخ.

٢٤- درویش درانی، هوا او څراغونه، لاهور، ۱۹۹۵م کال، ۱۵-۲۰ مخونه.

۲۵- پوهندوی عبدالخالق رشید، د ژبو اوادبیاتو پوهنځي درسي لکچر نوټ.

۲٦- اورنگ زېب ارشاد، بدیع او د پښتو شعر، پېښور، دانش کتابتون، ١٣٦٩ل کال.

۲۷- د حاجي جمعه خان بارکزي دېوان، د زلمي هېوادمل تدوین، کابل، د علومو اکاډمی، ١٣٦٠ل کال، ۱۸۵ مخ.

۲۸- د عبدالحمید مومند دېوان، کابل، د علومو اکاډمی، ١٣٦٣ل کال، ٤٠٧ مخ.

۲۹- د معزالله خان دېوان، د خیال بخاري ترتیب او تدوین، پېښور، پښتو اکاډمي، ۱۱۲-۱۱۳مخونه.

۳۰- د جمعه خان بارکزي دېوان، کابل، ۱۳٦٠ل کال، ۱۹۰ مخ.

۳۱- د نورمحمد لاهو شعري مجموعه، ناچاپ.

۳۲- د معزالله خان دېوان، ۱۱٤-۱۱۵ مخونه.

۳۳- پوهنـدوی نوراحمـد شـاکر، بـدیع او بیـان، کابـل، ۱۳٦۵ل کـال، ۲۵-۲٦مخونه.

۳٤- د حنان بارکزي دېوان، کابل پښتو ټولنه، ۱۳۳٦ل کال، ۲۲۹-۲۳۳ مخونه.

۳۵- اسمعیل یون، مټکور (شعري مجموعه)، د لیکوالـو انجمـن، ۱۳٦۹ل کـال، ۸۸-۸۹ مخونه.

۳٦- عبدالغفور لېوال، فرهنګ مجله، ۲ ګڼه، ۱۳۵۷ل کال.

۳۷- اسحق ننګیال، هغه شېبې هغه کلونه، کابل، ۱۳٦۵ل کال، ۱۳۵-۱۳۷ مخونه.

۳۸- پوهاند زیار پښتو شعر څنګه جوړېږي؟ ۱٤۲ مخ.

۳۹- اسدالله اسد، د کاڼو موسکا، د افغانستان د لیکوالو انجمن، ۵۲ مخ.

٤۰- عبدالغفور لېوال، مخه ښه، پېښور، ۱۳٦۷ل کال، ۱-۱۱ مخونه.

٤۱- علي ګل پیوند، سیلۍ، د لیکوالو انجمن، ۷۱-۷۲ مخونه.

٤۲- کمال الدین مستان، د پاڼو شهادت، د اطلاعـاتو او کلتـور وزارت، ۱۳٦۹ل کال، ۵۰ مخ.

٤۳- احمد تکل، کرونده، کابل، د لیکوالو انجمن، ۱۳٦۹ل کال.

٤٤- غوټۍ خاورۍ د پښتو شفاهي ادبیات (شکل او مضمون) د علومو اکاډمۍ، ۱۳٦٦ل کال، ۵۹-٦۱ مخونه.

٤۵- تورخان شېرزاد، پښتو سروکی، ناچاپ اثر.

٤٦- تورخان شېرزاد، پښتو سروکی، ناچاپ اثر.

٤۷- تورخان شېرزاد، پښتو سروکی، ناچاپ اثر.

٤۸- غوټۍ خاورۍ هماغه اثر، ۵۵-۵٦ مخونه.

٤۹- محمدګل نوري، ملي سندرې، کابل، پښتو ټولنه، ۱۳۲۳ل کال، ٥ مخ.

۵۰ – محمد ګل نوري، همدا اثر، بېلا بېل مخونه.

٥١- محمد گل نوري، ملي سندرې، کابل، پښتو ټولنه، ١٣٢٣ل کال، ح،ط، ی مخونه.
٥٢- محمد گل نوري، ملي سندرې، کابل، پښتو ټولنه، ١٣٢٣ل کال، ک مخ.
٥٣- محمد گل نوري، ملي سندرې، کابل، پښتو ټولنه، ١٣٢٣ل کال، ح مخ.
٥٤- محمد گل نوري، ملي سندرې، کابل، پښتو ټولنه، ١٣٢٣ل کال، بېلابېل مخونه.
٥٥- پوهنیار احمد شاه زغم، پښتو چاربیته ( د پوهنملۍ تیزس) ١٣٧١ل کال، ١ مخ.
٥٦- غوټۍ خاورې هماغه اثر، ٨٢-٨٣ مخونه.
٥٧- پوهنیار احمدشاه زغم، هماغه اثر، ١٤-١٥ مخونه.
٥٨- سرمحقق زلمی هېوادمل، ولسي سندرې، ٢ ټوک، ١٣٦٦ل کال، ٨٢ مخ.
٥٩- پوهنیار احمد شاه زغم، هماغه اثر، ١٨-١٩ مخونه.
٦٠- پوهنیار احمد شاه زغم، هماغه اثر، ٢٠-٢١ مخونه.
٦١- غوټۍ خاورې، هماغه اثر، ٨٣ مخ.
٦٢- غوټۍ خاورې، هماغه اثر، ٨٩-٩١مخونه.
٦٣- غوټۍ خاورې، هماغه اثر، ٩٦-٩٧مخونه.
٦٤- غوټۍ خاورې، هماغه اثر، ١٠١-١٠٦مخونه.
٦٥- غوټۍ خاورې، هماغه اثر، ٩٨-٩٩ مخونه.
٦٦- غوټۍ خاورې، هماغه اثر، بېلابېل مخونه.


Yoon Cultural Foundation
یون کولتوري یون
اندیال
خوشال
محمد اسمعیل یون
۱۳۸۷ ل

# اندیال خوشال

لیکوال

محمد اسمعیل یون

۱۳۸۷ل کال

# بسم الله الرحمن الرحیم

## د کتاب ځانګړنې

نوم: اندیال خوشال
لیکوال: محمد اسمعیل یون
خپرندوی: یون کلتوري یون
لیککال: ۱۳۸۰ل
چاپکال: ۱۳۸۷ل
چاپشمېر: ۱۰۰۰ ټوکه
د لیکوال
پرله پسې نومره: (۲۱)
د خپرندوی
پرله پسې نومره: (۲۱)
کمپوزر: ضیاالرحمن ضیا

# سریزه

له (۱۳۷۱) څخه تر (۱۳۸۰ل) کال پورې په کابل پوهنتــون، پښتو څانگه کې پر تدریسي چارو بوخت وم، په څو سمسترونو کې د خوشال پېژندنې مضمون د تدریس چارې ماته راســپارل شــوې وې، خو د یادو کلونو په ترڅ کې دا مضمون چې په دوو سمسترونو کې تدریسېده،په متواتر ډول ماته نه و راسپارل شوی، نو ځکه خو د یو منظم تدریسي کتاب د لیکلو چارې برابرې نــه شــوې. مــا د تدریس پر مهال اکثره د خوشال بابا په اړه له متفرقه اثارو، د بابا له خپلو اثارو او د نورو اســتادانو لــه هغــو لکچرنوټونــو څخــه گټــه اخیسته، چې تر دې دمخه لیکل شوي وو او دا مهال زموږ په واک کې وو. یاد کلونه هغه مهال و، چې د بېلابېلو جگــړو او نــورو ډول ډول بندیزونو له امله پوهنتون لکه چــې پخــوا و او یــا اوس دی، هسې او داسې نه و، نږدې څلورنیم کلونه پوهنتون په مهاجرت او نږدې نور پنځه کلونه یې په بندیزونو کې تېر کړل. خو هغه وخت، کله چې هم د تدریس زمینه برابره شوې، له ماســره د خپــل هــر تدریسي مضمون لپاره د یوه تدریسي اثر د رامنځته کېــدو هیلــه پیاوړې شوې ده، د خوشال پېژندنې مضمون د تدریس پــر مهــال ماته دا ځرگنده شوه چې محصلین د خوشال د ژوندانه او مبــارزو ترڅنگ د هغه فکري نړۍ لید ته هم زیــات لېــوال دي. د ۱۳۷۹ل

کال په لومړيو کې ما د خپلې علمي ترفيع (پوهنملی علمي رتبې) لپاره د ( خوشال اندو ژوند ته یوه لنډه کتنه) تــر عنــوان لانــدې موضوع ثبت کړه. د پوهنتوني ترفيعاتو له قانون سره سم د یو کال په موده کې باید دترفيع اثر بشپړ شي. د هغــه وخــت د حــالاتو، ستونزو، بوختياوو او تنګسياوو په پام کې نيولو سره مې کله کله د ترفيع پر دې ټاکلې موضوع هم کار کاوه، نو کله چې د ترفيع ټاکلی وخت راورسېد، دا اثر هم د ترفيعاتو له غوښتنو سره سم بشپړ شو. د علمي ترفيع په توګه ددې اثر د ټاکنې پر مهال، زمــا هــدف دا و چې دا اثر تر ترفيع وروســته د يــوه تدريســي او يــا هــم د يــوه مرستندوی تدريسي اثر په توګه محصــلينو تــه وړانــدې کــړم، د تدريس په بهير کې ددې اثر اډانه او منځپانګه ورو ورو پسې بډايه او بيا به يې وروسته د يوه مناسب تدريسي کتاب په توګــه چــاپ کړم، خو د تېرو کلونو په بهير کــې ماتــه د ګڼــو نــورو عواملــو او بوختياوو له امله ددې زمينه برابره نه شوه، چې يا پر دې اثر نــور کار وکړم او نه هم د تدريس په بهير کې ماته د خوشــال پېژنــدنې مضمون را په برخه شي، چې په عملي ډګر کې ددې اثر نيمګړتيــا پوره او کره کړم او د بشپړتيا لپاره يې کار وکړم، نو په دې خــاطر نږدې اته کلونه دا اثر همداسې پاتې شو. اوس ځينې هغه ناچــاپ کتابونه چې ما په دې اثر کې معرفي کړي و، چاپ شــوي هــم دي، لکه د سرمحقق عبدالله بختاني خدمتګار (خوشال خان ختــک او څو نور فرهنګيالي ختک) او د مېــرمن خديجــه فيروزالــدين ( د

خوشال ژوند او مبارزه)، سربېره پر دې سرمحقق زلمی هېوادمل د ((ننګیالی د زمانې)) په نامه یو اثر چې د خوشال پېژندنې په برخه کې یو ډېر پراخ، هر اړخیز او شارح اثر ګڼل کېږي او تر دې دمخه د بابا په اړه نورو اثارو ته یې هم په کې اشاره کړې، لیکلـی او چـاپ کړی دی. له دې اثر څخه د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د (۱۳۸۶) او (۸۷ل) کلونو د ماستری پروګرام د محصلینو لپاره د خوشال پېژندنې مضمون د یوه تدریسي کتاب په توګه هـم ګټـه پورته کېده. دغه راز په تېرو څو کلونو کې د بابا د فکر او ژوند پـه اړه نورې په لسګونو لیکنې هم شوي او د بابا د ژوند د څلورسومې کلیزې په ویاړ په جرمني کې د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې له خوا یو نړیوال سیمینار هم جوړ شوی و او د بابا په اړه ځینې نـور اثار هم چاپ شوي دي.

په دې شپو ورځو کې زه غواړم خپلې تېرې لیکنې او کـړی کار یو ځل بیا له نظره تېر او ځینې لیکنې چاپ کړم، نو ( د خوشال اند و ژوند ته یوه کتنه) اثر مې هم په دې لړ کې، د علمي ترفیع د یوې ټایپي نسخې له مخې کمپوز ته برابر کړ. دا اثر مې په نوې بڼه کمپوز کړ، په متن کې مې ګوتې ونه وهلې او د هغه وخت د شرایطو د یوه محصول اثر په توګه مې هماغسې پرېښود، چاپ مـې ورتـه ځکه مناسب وګاڼه چې د خوشال بابا په باب چې هر څـومره اثـر ولیکل شي بیا به هم کم وي، د خوشال بابا په جامع فکر کې داسې

څه شته چې هر څوک ترې خپل خپل تعبیر واخلي او یا هم بابا هر چاته د هغه د ذوق مطابق یو فکر ډالۍ کړي. د چاپ بله اړتیا مې دا وګڼله چې لا اوس هم د ژبو او ادبیاتو پوهنځیو د پښتو څانګې لیسانس دورې ته د خوشال پېژندنې د یوه بشپړ تدریسي کتاب اړتیا ده، نو که دا اثر لږ تر لږه د یوه مرستندوی درسي اثر په توګه کار وکړي، زما یو هدف به ترلاسه شوی وي.

د تدریس په بهیر کې کېدی شي دا اثر بشپړ او د محصلینو اړتیا له دې اړخه تر یوه حده پوره کړي. نور نو خوشال داسې یو څوک نه دی چې څوک دې هغه په یو کتابګوټي، کتاب او یا هم څو کتابو، تشریح کړي او د هغه د فکر هر ژور لید ته دې ځان ورسوي، هر چا تر خپلې وسې د بابا اندوژوند ته یوه کتنه کړې، دا لړۍ به روانه وي او دا هم د همغو کتنو په لړۍ کې یوه کتنه ده.

(( د خوشال بابا اندوژوند ته یوه کتنه)) څخه مې (اندیال خوشال) ته ځکه د اثر نوم ور بدل کړ چې د اندیال، (مفکر) خوشال د فکر څېړنې ته لا ډېره اړتیا ده.

سره له دې چې د بابا د شخصي، ټولنیز او سیاسي ژوندانه دهر ډګر څېړنه موږ ته د ژوند او روزګار ډېرې تجربې را په برخه کوي او دا برخه نورې نورې څېړنې ته هم اړتیا لري، په تېره بیا دا چې دا تجربې تراوسه پورې راغځېږي او تکرارېږي او موږ باید له

هغو ځخه پند واخلو، خو د بابا فکر داسې دی، چې دومــره، بکــر، تازه او نایاب دی چې د زمانې پوړۍ او ګردونه یې ځــلا او ښــکلا، موثریت او جذابیت کمولای نه شي، موږ د بابا له فکــر ځخــه نــه یوازې د افغان ملت د یو معمار او بنسټګر عنصــر پــه توګــه کــار اخیستلای شو، بلکې د بابا فکر د بشري نــړۍ د ســوکالۍ لپــاره داسې یو ځلند مشعل دی چې د نړۍ د هر وګــړي ذهــن او فکــر روښانولای شي. د بابا په تفکر کې داسې ستر مضمونونه، رازونه او ګنجونه پټ دي چې هغه جغرافیایي او موسمي بریدونه نه پېژني او ((انسان)) د ((انسان)) په توګه ورځخه ګټه اخیستلای شــي، نــو ځکه خو زه د یوه وړاندیز په توګه ټینګار کوم چې زموږ د انــدیال (مفکر) بابا د فکر خزانه باید لا وپلټل شي او لا وشنل شي.

د همداسې ارمان د پوره کېدو په هیله

پوهندوی محمد اسمعیل یون

ارګ- د جمهوري ریاست ودانۍ،کابل- افغانستان

۱۳۸۷ ل کال

# لومړۍ څپرکی

## د خوشال بابا پېژندگلوي

**الف- ژوند:** خوشال خان پر (۱۰۲۲هـ ق) کال چې لـه (۱۶۱۳ ميلادي کال) سره سمون خوري، د اکوړي په سرای کې زېږېـدلی دی. خپله خوشال خان هم همدا نېټه په خپل يو بيت کې ثبت او د هغې يادون يې کړی دی:

د هجرت زر دوه ويشت سن و
چې زه راغـــلم په جـــهان

خوشال خان د شهبازخان زوی، د يحيی خان لمسی او د ملـک اکوړي کړوسی و. خوشال په خپله يـوه قصـيده کـې خپـل غـور نيکه(ملک اکوړي) پورې خپله پېژندنه داسې کړې ده:

زه خوشال د شهباز خان يم — چې تورزن يم کان په کان
شهبازخان د يحيی خان — چې بل نه و هسې ځوان
يحيی خان د اکوړي و — چې په توره شو (سلطان)
د اکبر پادشاه په دور — شو د خپل ولس تورخان
د هجرت زر دوه ويشت سن و — چې زه راغلم په جهان
د هغه دور بادشاه و — قدردان شاه جهان
د پلار ځای و ما راکړ — په ولس شوم حکمران(۱)

خو نسبنامه چې د خوشال بل منثور اثر دی او لومړی ځل افضل خان په تاریخ مرصع کې ځی کړی او بیا په مستقل ډول هم چاپ شوی دی، خوشال خپله پېژندګلوي په ترتیب سره په (شلم) پښت خرښبون بابا، ته رسولې ده.

خوشال په نسبنامه کې وايي:

(( خوشال خان د شهباز خان، شهبازخان د یحیی خان، یحیی خان دملک اکوړي، ملک اکوړ د درویش چې مشهور په چنجو دی، چنجو د تمن، تمن د حسن، حسن د شیخ علي، شیخ علي د عطا، عطا د بټي، بټي د انو، انو د برګویټ، برګویټ د تري، تري د تورمان، تورمان د لقمان چې مشهور په خټک دی، لقمان د ککي، ککی د کرلاڼ، کرلاڼ زوی د هوني دی او هوني داخل په اولاد د سړبن دی چې اولاد د شرکبون دی.)) [1]

دا د خوشال د زېږېدو او اصل و نسب په باب په خپله د خوشال څرګندونې وې اوس راځو د خوشال ژوند پېښو ته:

**ب- ژوند پېښې:** خوشال بابا څو اړخیز شخصیت و؛ هم شاعر و، هم لیکوال، هم تورزن و، هم تورپال و، هم سیاستپوه و، هم سیاستوال، هم ټولنپوه و، هم رنځپوه، هم عالم و، هم مارشال، هم ښکاري و، هم فلسفي، هم ټبر پوه و، هم ملتپال، خو لنډه دا چې هر څه و او ډېر زیات انساني ارزښتونه، صفتونه او هنرونه په

[1] نسبنامه د خوشال خان خټک او افضل خان، د حبیب الله رفیع سریزه، سمون او سپړنه ۱۳۷۸ل کال، ۳-۲۳مخونه.

کې راټول شوي وو. خوشال خان د ژوند د هر ډګر د مبارز په توګه په ژوند کې له زياتو ستونزو، پېښو او کړاوونو سره مخامخ شوی و. دا پېښې اکثره ده په خپله هم په خپلو ليکنو کې ځای کړي او نورو ليکوالو او خوشالپوهانو هم د هغو يادون کړی او هغه يې ثبت کړي دي.

موږ به دلته د همدغو ثبت شويو پېښو لنډيز را واخلو. استاد محمد اصف صميم په لومړي ګام کې په خپله دخوشال اوپه دويم ګام کې د ځينو نورو ليکوالو اثار په ډېر دقت څېړلي او د خوشال ژوند پېښې يې ګام پر ګام تعقيب کړي دي. دا پېښې چې د تاريخي تسلسل له مخې څېړل شوي، دلته يې په ترتيب سره وړاندې کوو:

✶ ۱۰۲۸ق (۱۶۱۸ع):

خوشال شپږ کلن و چې په لنډي سيند کې لاهو (ډوب) شو.

✶ ( ۱۰۳۰ق ، (۱۶۲۰ع):

اته کلن و چې له څپر نه پرې کانې راپرېوته او سخت ژوبل شو.

✶ ۱۰۳۵ ق (۱۶۲۵ع):

په هغه بريد کې له خپل پلار (شهباز) سره ملګری و، چې د باکوخان يوسفزي په مشرۍ پر خټکو وشو.

✶ ۱۰۴۰ ق (۱۶۳۰ ع):

لومړی واده يې له توتيا ( د اشرف خان له مور) سره وشو، د واده پر ورځ د سختې تبې له امله خسر کره هم د تګ نه و، ناوې يې نيا

(قذیفې ادې) راوسته، د خان دا تبه د ولس ورځې اوږده شوه.

✷ ۱۰۴۰ ق (۱۶۳۰ ع جون- جولای):

د واده پر ورځ یې دتبې له امله مور ته چا وویل چې برستن پرې ټینګه کړي چې خولې شي، برستن یې پرې ټینګه کړه، ښځې پرې کېناستې، ساه یې تنګه شوه، هلاکت ته نږدې شو، بې حاله بې ساه پروت و، ژړا انګولا شوه خو ساه په کې وغوړېده.

✷ ۱۰۴۲ ق (۱۶۳۲ع):

په شل کلنۍ کې یې په شاعرۍ لاس پورې کړ لومړی شعر یې دا ګڼل کېږي:

عقل سل د مصـــلحت بند ونه جـــوړ کـــــا

چې د عشق سیلاب پرې راشي واړه نوړ کا

✷ ۱۰۴۲ق (۱۶۳۲ع):

پر عیسی خېلو یې برید وکړ.

۱۰۴۴ق رمضان ۹ (۱۶۳۵ع ۱۷ مارچ):

اشرف خان زوی یې وزېږېد.

✷ ۱۰۵۰ ربیع الثاني ۱۷ ( ۱۶۴۰ ع جولای):

په تاراګړ کې د شاه جهان د زوی مراد بخش له دولس زریز لښکر سره ملګری شو او د مغولي حکومت د مخالفو ځواکونو پـه ځپلـو کې یې لوی لاس و.

✷۱۰۵۰ ق دشوال لومړۍ (۱۶۴۱ ع جنوري):

پلار يې له يوسفزيو سره په جګړه کې سخت ژوبل شو او له همغه ټپ نه څو ورځې وروسته مړ شو.

خان وايي:

سن د هجر زر پنځوس

چې شهيد شه شهبازخان

✷۱۰۵۰ شوال ۵ جمعه (۱۶۴۱ ع جنوري):

خان د خټکو مشر شو.

✷۱۰۵۰ ق، (۱۶۴۰ع):

له شيخ رحمکار ( کاکا صاحب) سره تر ملاقات او دعا اخيستو وروسته يې لښکر تيار کړ او د يوسفزيو پر سيمه يې يرغل وکړ او برى يې وګاټه او د خپل پلار تر بدل اخيستو وروسته بريالى کور ته راستون شو.

✷ ۱۰۵۰ ق ذيقعده (۱۶۴۱ع):

پر يوسفزيو باندې تر بري وروسته ورته شاه جهان د يوه فرمان په ترخ کې د شهبازخان رسمي او قومي مقام وسپاره.

✷ ۱۰۵۰ ق محرم شپږمه (۱۶۴۲ع اپريل ۷):

سعادت خان زوى يې وزېږېد چې خان يې د زوکړې ماده په ((غازي دل)) کې رانغښتې ده.

✶ ۱۰۵۲ق (۱۶۴۲ع):

د کواټ د خټکو په شمال کې یې په ((رېسبې)) کې د شاه جهان له مشر زوی دارالشکوه سره وکتل چې د ایرانیانو د مقابلې لپــاره (کندهار) ته روان و.

✶ ۱۰۵۲ق (۱۶۴۲ع):

د شاه جهان زوی دارالشکوه له ((محال)) نه بې برخې کړ.

✶ ۱۰۵۳ ربیع الاول یوولسمه (۱۶۴۳ جولای دویمه):

بهرام خان ورکره وزېږېد، خان یې د زوکړې مــاده (( بخــت بابــا آمد)) ویلې ده.

✶ ۱۰۵۵ق/ ذوالحجه/ لومړۍ (۱۶۴۵/ جنوري ۲۷):

د شاه جهان د کشر زوی مراد بخش په هغه لښکر کې دویم ځل ملګری شو چې د بلخ او بدخشان ماموریت ته د تګ پــه لــړ کــې پېښور ته راغی.

✶ ۱۰۵۵ ق ( ۱۶۴۵ع):

پر دغه کال یې دا قصیده وویله:

د ډهلــي د ښهرښــه شــان او شــوکت و
لــور پــه لــوري ښــکلي ښــکلي عمــارت و
کــه ددې ویلــو حــال لــه مانــه غــواړې
په حســاب کــې واوره کــال د ((قرشــت و))
ابتـــدا ددې بیـــان پـــه نمازپښـــین وه
د ماښــام پــه وخــت یــې شــوی نهایــت و

✷ ۱۰۵۵ ق (۱۶۴۵ع):

لومړی ځل یې د بلخ او بدخشان په مهم د (اصـالت خـان) تـر مشری لاندې برخه واخیسته.

✷ (۱۰۵۶ ربیع الثاني ۲۷ ( ۱۶۴۶ جون):

له خپلو پلیو (پیاده) لښکریانو سره اصالت خـان پنجشـېر تـه ورغی.

✷ ۱۰۵۶ جمادي الاولی ۳ - ۴ ( ۱۶۴۵ جون وروستی):

تر دغه وخته یې د بهادرخان داودزي او اصالت تر مشری لاندې په بلخ او بدخشان کې د ستاینې وړ خدمتونه وکړل.

✷ ۱۰۵۶ جمادي الاولی ۱۵ (۱۶۴۵ جون وروستی):

د بلخ د مهم په لړ کې نهرین ( دکندوز په جنوب کې) نه نـیلاب ته لاړ. پر ۱۰۵۶ د افغانستان او تاجکستان پر پولـه پرتـې سـیمې حضرت امام صاحب ته لاړ.

✷ ۱۰۵۸ ق ( ۱۶۴۷ع):

عابدخان ورکره وزېږېده چې خان یې تاریخ (( عابـدخاني زلـی رسید)) ویلی دی.

✷ ۱۰۵۹ وری دولسمه ( مارچ- اپریل ۱۶۴۸ع):

دغه قصیده یې وویله:

چــې موســـم مـــې د ګلونـــو د ګلـــزار شـــي
نــــرم نــــرم ترشــــح پـــــه مرغــــزار شــــي
زر اتـــــه پنځـــــوس کلونـــــه د هجــــرت وو
د نـــوروز پـــه دولســـم چـــې دا ګفتـــار شـــي.

✷۱۰۵۹ صفره وروستۍ (۱۶۴۸ع د اپریل دویمه):

له اټک نه پورېوت او د میرزا ابوالحسن ( اصــف خــان) د یــوې ښکلې ماڼۍ او باغونو د زړه راښکونکو منظرو په باب یې یــو اوږد نظم ووایه.

✷ ۱۰۵۹ ق ( ۱۶۴۸ع):

شاه جهان د یوسفزیو سردار کړ.

✷ ۱۰۵۹ق (۱۶۴۸ع):

دارالشکوه ترې منصب او سرداري واخیستل.

✷ ۱۰۵۹ق ( ۱۶۴۸ع):

پر دغه کال چې شاه جهان له ایرانیانو څخه دکندهار د نیولو په نیت د مهم د انتظام په لړ کې کابل ته، ته او پر اباســین پورېــوت، خان یې هرکلی وکړ او تر (ډکــې) پــورې ورســره ملګــری لاړ بیــا وروسته کابل ته هم ورغی او همملته ورته شاه جهان د یوســفزیو د ملک انتظام وسپاره.

✷ ۱۰۶۰ محرم (۱۶۴۹ع):

نظام زوی یې وزېږېده چې خان یې د زوکړې دا تاریخ ووایه: (( نظام کل وجود)).

✷ ۱۰۶۱ق د صفرې ۱۳مه (۱۶۵۵ع):

ظفر زوی یې وزېږېد چې خان یې د زوکړې ماده ((کـل ریـاض)) ویلې ده.

✷ ۱۰۶۲ق جمادی الاولی (۱۶۵۲ع):

د خان دوه زامن سکندرخان او کمـال خـان پـر همدغـه کـال وزېږېدل.

✷ ۱۰۶۲ق، (۱۶۵۲ع):

دا نظم یې پر همدغه کال ووایه.

کلــه مــا وتــه ویــل کــړې چــې خــدمت کــړه
په خــدمت کــې دل نشــین د شــاه جهــان شــه
حـــق نـــا حـــق خونونـــه کـــړه د مســـلمانو
په هر شــان یــې خــواروه د دوی حرمــان شــه.

✷ ۱۰۶۲ق رجب ۲۴ ( ۱۶۵۲ع جون جمعه):

د خان مرشد حضرت شیخ رحمکار (کاکا صاحب) د اتیاو کلونـو په عمر، د جمعې د خطبې پر وخت وفات شو او ماښام یې جنـازه

خاورو ته سپارل کېده، خان یــې هــم د جنــازې د بــازو اوچتولــو نېکمرغي ترلاسه کړه.

✷ ۱۰۶۳-۱۰۶۴ق ( ۱۶۵۲-۱۶۵۴ع):

دغه یو کلنه موده یې له بنګښو سره په جنګونو تېره شوه.

✷ ۱۰۶۳ق (۱۶۵۲ع):

د عبدالقادر خان زوکړه چې په خپله، نوم یې د تــاریخي مــادې پرځای پرې ایښی دی.

✷ ۱۰۶۹ ق رمضان ۲۴ (۱۶۵۹ جون):

د اورنګ زېب د دویم ځل تخت ګټنې پر وخت خان له دارالشکوه نه د خفګان له امله په پښتونخوا کې د اورنګ زېب ملاتړ وکړ.

✷ ۱۰۷۰ق (۱۶۵۹ع):

د تیرا په مهم ووت او د اورنګزېب دمخالفو ځواکونــو تــر ځپلــو وروسته بېرته خپلې سیمې ته راستون شو.

✷ ۱۰۷۰ق (۱۶۵۹ع):

د جلبۍ پر میدان یې د دارالشکوه دملګري باکوخان تر مــاتولو وروروسته دا بیتونه وویل:

هر څوک دې خپل یون کــا    کارغـــــه دی که کوتره
څوک چې خپل هنر بدل کا    خپله چار کاندي اوتره

✷۱۰۷۰ ق (۱۶۵۹ع):

د تیرا تر پېښنو وروسته یې یوسفزیو ته ماته ورکړه، په دغه لښکر کې ورسره درې زامن ( اشرف خان، بهرام خان او سعادت خان) هم ملګري وو او اشرف خان په لومړي ځل د پلار تر بولۍ (قوماندې) لاندې په جنګ کې برخه واخیسته.

✷ ۱۰۷۰ رجب ۶ پنجشنبه حمل ( ۱۶۶۰ع فبروري):

د تیرا له مهم نه بریالی راستون شو، په کواټ کې ورته د بنګښنو دمشرانو شېرمحمدخان کواټي مور (بي بي دوره) چې د زوی په غیاب کې د قوم مشره وه، مېلمستیا وکړه.

✷ ۱۰۷۲ ق لړم (۱۶۶۱ اکتوبر نومبر):

خیراباد ته مخامخ یې په اباسین کې بېړۍ د دوو ګټو ترمنځ دوه نیمه شوه، سعادت خان او بهادرخان ورسره وو، یوه تخته پاتې شوه، تخته اوبو ښکته پورته خوځوله، د شپې ناوخته پرې یوه پهره رابرابره شوه او بچ یې کړل.

✷ ۱۰۷۴ د جمادي الثاني نیمايي جمعه (۱۶۶۵ فبروري):

د پېښور دصوبه دار سید امیر خوافي خان په حکم پېښور ته راغی، تر دریو ورځو وروسته یې ونیو، پنځسېرۍ بېړۍ یې ورواچولې او تر دوو میاشتو ایسارولو وروسته یې د روژې په نیمايي کې ډهلي ته واستاوه.

✷ ۱۰۷۴ ق جمادی الثاني (۱۶۶۵ فبروري):

دا قصیده يې پر همدغه وخت وویله:

و مغولـــو تـــه خبـــرې پـــه وربـــوزکړم
سر مې پرېوزه که به ســر ورتــه بیـا کــوز کــړم

✷ ۱۰۷۴ شعبان (۱۶۶۵ اپریل):

دا قصیده يې ډهلي ته د تګ پر لار وویله:

زمــانې لــه ښــو یــارانو نــه مهجــور کــړم
خــه بــلا یــې مبــتلا پــه ډېــر ضــرور کــړم
دا بیـــان مـــې د غعـــد پـــه کـــال ویلـــی
په شعبان چې د لاهور په سیندعبور کــړم.

او دا قصیده يې هم همدا وخت وویله چې مقطع يې ده:

ما خوشال په خوب داحال لیدلی نه و
چې به دا د غم بیتونه په پنجاب کښم.

✷ ۱۰۷۴ ق رمضان نیمایي (۱۶۶۵ع):

په ډیلي کې مغولي دربار ته وروستل شو.

زه هم په وسط د رمضــان کوچمــال کوچمــال
ورغلــم دربــار تــه زر خلــور اویــا و کــال

✷ ۱۰۷۴ ق شوال ( ۱۶۶۵ جون):

مغولي دربار ته د پېښور دصوبه دار سید امیرخــان هغــه لیــک ورغی چې پکې غوښتل شوي وو؛ خوشحال باید نــه پــه ضــمانت خوشې شي او نه په رعایت، ځکه دده خلاصون ګډوډي پیدا کوي.

✷ ۱۰۷۴ ق (۱۶۶۵ ع):

بختناک زوی یې وزېږېد.

✷ ۱۰۷۴ ق ذیقعده (۱۶۶۵ جولای):

د رنتهبور له کوټ نه یې اګرې ته بوته.

✷ ۱۰۷۵ ق (۱۶۶۵ع):

فراقتنامه یې په رنتهبور کې بشپړه کړه:

دوه سوه شل بیتونه دي یــوولس بنــده ښــه
ما په رنتهبــور کــې د زړه تــاو پــرې ســړاوه

✷ ۱۰۷۵ ق (۱۶۶۵ع):

دا بولــله یې پر دغه کال وویله:

یوهســــې ســــتوری وخــــوت پــــه دا بــــده زمانــــه
چې ګز یې د لمبــه غونــدې تــر خولــه ځــي زبانــه
دا کال مې په حساب کې پوره (عــین غــین هــې) و
پخپله به پــرې پــوه شــي چــې ســړی وي فرزانــه.

✷ ۱۰۷۵ دنوي کال ورځ (۱۶۶۵ع):

دا بولله یې هم د رنتهبور د ورځو پیدا وار دی:

هغه خدای چې بندي کړی یــې خوشــال
هم هغه به يې خلاصی کـا پــه هــر حــال
زر پنځــــه اویـــا کلونــــه د هجـــرت وو
پـــه اغـــاز د نـــوي کـــال شـــو دا مقـــال

✷ ۱۰۷۶ ق رمضان /لسمه (۱۶۶۶ اپریل):

اشرف خان ته يې له رنتهبور نه دا وصيت نامه وليکله:

(( اووه پړکه وصيت نامه مؤکده په ډېر تاکيد موشحه په مبالغــه شديد، چې فرزند ارجمند، د اشــرف خــان واړه فرزنــدان جميــع خواهان، ياران دې په دا عمل وي، عمل دې د هر يوه پرې تل وي، د ما د قيد په حادثه د اولس اووه قسمه عالم داخل دی...))

✷ ۱۰۷۶ ق ( ۱۶۶۵ع):

خان خپله دستارنامه د رنتهبور د اورنګزېب په زندان کې وليکله:

انشاء قطعه يې دا وويله:

داکتاب چې په پښتو خوشال انشــاء کــړ
پخـــوا نــــه دی انشــــاء کــــړی پښــــتانه
که تاريخ يې د انشاء لــه مــا نــه غــواړې
وايـــم دا بـــس دی محنـــت دبيلتانــــه

✷ ۱۰۷۶ ق ذيقعده پنځمه (۱۶۶۶ ع جون):

له رنتهبور نه اګرې ته بوتلل شو او له همغه ځايــه بيــا خوشــې

کړای شو.

✷ ۱۰۷۷ ق رجب لومړۍ (۱۶۶۷ فبروري):

له زندان نه تر خلاصون وروسته په ډهلي کې نظربند و، ماسخوتن مهال پر آس سپور و، له اسه پرېوت او پښه یې ژوبله شوه.

✷ ۱۰۷۷ ق رجب څلورمه (۱۶۶۷ فبروري) :

له آسه تر پرېوتو درې ورځې وروسته یې دا قصیده وویله:

چې بهتر تر هر نعمت دی
که نعمت دی روغ صورت دی
ما چې دا قصیده ووې
په ډهلي مې اقامت دی
څلورمه د رجب وه
زر اووه اویا هجرت دی.

✷ ۱۰۷۹ ربیع الاول (١٦٦٨ع اګست):

فرحت خان زوی یې د هندۍ مور له ګېډې پیدا شو.

✷ ۱۰۷۹ ق لومړۍ خور لسمه (١٦٦٨ع):

دویم ځل د اورنګزېب منصبدار شو.

✷ ۱۰۷۹ق (۱۶۶۸ع):

له هند نه وطن ته راغی.

✶ ۱۰۷۹ ق (۱۶۶۸ ع):

د لنګر کوټ له جوړولو سره يې مخالفت وکړ.

✶ ۱۰۸۰ ق (۱۶۶۹- ۷۰ع جون):

مهابت خان لنګرکوټ جوړ کړ چې خان ورسره د خپل اختلاف او ناخوښۍ یادونه داسې کوي:

لنګــــر کـــوټ مغلـــو ســـاز کـــړ
زه پـــه ننـــګ بيـــا د افغـــان شـــوم
کـــــه يوســـــف و کـــــه منــــدړ و
زه د دواړو نګهبـــــــان شـــــــوم.

✶ ۱۰۸۰ ق (۱۶۶۹ ع):

پر دغه کال کابل ته لاړ او دا غزل يې هم هلته ووایه:

چې ښه ترويت دخپلې چارې ځيــر کـړ
ځان مې واړه حبطه په خپل تــدبير کـړ
پـــوره زر اتيـــا کلونـــه پـــه کابـــل کـــې
دا غزل مې په بياض باندې تحريــر کـړ.

✶ ۱۰۸۰ ق ( ۱۶۶۹ ع):

مشره بي بي (توتيا ګله) يې پر همدغه کال ومړه.

پـــوره زر اتیـــا کلونـــه دهجـــرت وو
چې دمور په خوا مې ومړ مشر کـــور.

✷ ۱۰۸۰ ق صفر (۱۶۶۹ ع جولای):

د پلار د وفات پر دېرشم کال يې مور وفات شوه.

چې د پلار د مرګ مې تېر شـــو پـــوره قـــرن
د صـــفرې پـــه میاشـــت ومـــړه زمـــا مـــور.

✷ ۱۰۸۰ ق صفر (۱۶۷۰ ع جون):

دابولله يې وويله:

په ځان او په جهان کې مـــا دوه څیـــزه دي وکښـــلي
په ځان کې دواړه سترګې په جهان کې واړه کښـــلي
دوه بهـــره دوه مطلـــع لـــري کـــه دا قصـــیده ګـــورې
زر یـــو اتیـــا کلونـــه پـــه صـــفر کـــې مـــا ویلـــي.

✷ ۱۰۸۱ شوال وروستۍ ( ۱۶۷۱ ع مارچ):

دا بولله يې وويله:

نـــا خلـــف چـــې حوالـــه کـــړ پـــه تقـــدیر
نصـــیحت وربانـــدې نـــه کانـــدي تـــاثیر
دشـــوال وروســـتۍ ورځ کـــال د ((غفـــا)) دی

مــا چـــې دا شـــپېته بیتونـــه کـــړل تحریـــر.

✷ ۱۰۸۱ ق ذوالحجه (۱۶۷۱ع مى ):

له دوه کلنۍ نس ناستې (اسهال) نه روغ شو.

کـــه دعـــا ده کـــه توبـــه ده کـــه دارو
و خوشال ختېـک تــه خــدای ورکــړه شــفا
پــه دوه کالــه د اســهال پــه رنــځ اختــه و
تـــرې خلاصـــی پـــه ذوالحجـــه و د غفـــا

✷ ۱۰۸۱ بوکه (دلو) (۱۶۷۱/جنوري- فبروري)

ددې کال د ودانۍ اټکل په دې قطعه کې کوي:

د غفـــا پـــه بوکـــه پرېـــوتې پـــه غرونـــو
تـــر کابلـــه تـــر اټکـــه ســـپینې واورې
شکر زر به درست جهان ســره ګلــزار شـــي
د بد کال په سرخو بیا شوې تــورې خــاورې.

✷ ۱۰۸۳ ق محرم دویمه (جمع) (۱۶۷۲ ع اپریل ۳۰):

دخیبر جنګ په پښتونخوا کې دمغولي صوبه دار محمد امین په حکم وشو او خوشال پکې د یوه محسن په توګه د هغه ملاتړ وکړ، خو پښتنو د ایمل خان مومند او دریا خــان اپریــدي پــه مشــرۍ څلوېښت زره مغولي پوځ تس نس کړ.

✷ ۱۰۸۳ ق محرم درېیمه /شنبه (۱۶۷۲ ع اپریل می دویمه):

دا قطعه یې د خیبر جنګ یوه لنډه خو ژوره نقشه انځوروي:

دویــم د محــرم ورځ د شـــنبې کــال د غفــج
نه غشي وو نــه تــورې چــې مغولــو وکــړ پــج
شینوارو افریدو یــو د ډکــې خــوارو مومنــدو
روپۍ یې په خروار، یوړې مهران واړه پــه چــج

✷ ۱۰۸۳ ق ربیع الاول لومړۍ (۱۶۷۲ ع جون):

بهرام ورپسې د مغولو په لمسون راواخیسته.

✷ ۱۰۸۳ ق ذي القعده وروستۍ (۱۶۷۳ ع مارچ):

له بهرام سره یې شخړې وشوې چې خان په کې لاسبری و.

✷ ۱۰۸٤ ق محرم نهمه (۱۶۷۳ ع اپریل ۲۷):

خان له نظامپور نه ډمبرې او غربین تــه لــه مغــولي پــوځ ســره دمقابلې لپاره اپریدیو ته د جرګې په نیت ورغی.

✷ ۱۰۸٤ ق محرم یوولسمه (۱۶۷۳ ع اپریل ۲۹):

مغولي پوځ له نظامپوره ولېږل، خان ورپسې د سونېالي پر غاښي ورواوښت، تر یوه پهره جنګ وشو. د دښمن دولس کسه مړه او تر سلو زیات ټپیان شول. د خــان لښــکر ( ختــک او اپریــدي) تېــر ماسپښین ګاړو ته کوز شو.

✷ ۱۰۸٤ ق محرم دولسمه (۱۶۷۳ ع مې لومړۍ):

له (ګاړو) نه د (نیلاب) پر کلیو ورغی ((توهه)) او نور کلي له یوې مخې ووهل شول، د کټروشل دېرش ځوانان ومړل، بند او ولجه هم ډېر شول.

✷ ۱۰۸٤ ق محرم دیارلسمه (۱۶۶۳ مې دویمه):

له نیلاب نه ډمبرې ته روغ رمټ راستون شو.

✷ ۱۰۸۳ ق محرم (۱۶۷۳ ع اپریل مې):

بیا یې له بهرام سره په جګړو کې بری په برخه شو.

✷ ۱۰۸٤ ق محرم څوارلسمه (۱۶۷۳ ع مې څلورمه):

د اپریدیو مخور یې رخصت کړل او د جاروتو تړون لاسلیک شو، نظام خان او عثماني یې دریاخان ته ولېږل.

✷ ۱۰۸٤ ق صفره اتمه ( ۱۶۷۳ مې ۲۶):

اشرف خان یې د دریا خان په لیکلې غوښتنه له مغولو سره د روغې جوړې په نیت خیبر ته ولېږه، خو روغه ونه شوه.

✷ ۱۰۸٤ ق ربیع الاول اوومه (۱۶۷۳ ع جون ۲۵):

خان وایي: له بهرام سره مې د مقابلې لپاره ابراهیم کډو راوباله، هغه رډ ځواب راکه چې زما وسه نشته، ته توتکی پرېږده، زه هم یو څو ورځې وروسته درپسې درځم، مقصود یې دا و چې که دی له موږ نه ورک شي، موږ به په خوږه کې له بهرام سره روزګار وکړو، ماته ژړا راغله، مراد خان دمیتو او مهمندي ممه خېل وقهرېدل،

ويل، مونږ خو خپل سر دخدای رضا، ننګ او د خان د نمک لپاره په میدان کې ایښی، د جنګ حکم مې ورکړ، دېرش څلوېښت سواره، د بهرام پر لښکر چې په یوه کروه فاصله کې پـروت و، ورغلـل، د بهرام لښکر وبوږنېد تار په تار شو.

✷ ۱۰۸٤ ق شعبان اوولسمه (۱۶۷۳ نومبر):

پر نوښار باندې برید د ختکو او اپریدیو په مرسته وشو. په دغـه برید کې د پښتنو مقابلې ته اورنګ زېب، شجاعت خان او مهاراجه جسونت سنګه ورولېږل.

✷ ۱۰۸٤ ق (۱۶۷۳ع):

دا قصیده یې په تخت کوټ کې د استوګنې پر وخت وویله:

پـرورده کـه دمغولـو پـه نمـک یـم
د اورنګ له جوره هم له غرېوه ډک یـم
د افغـان پـه ننـګ مـې وتړلـه تـوره
ننګیالی د زمانې خوشـال ختـک یـم.

دا قصیده یې نظامپور نه د راتلو پر وخت وویله:

د فساد فکر مـې نشـته خـدای حاضـر دی
خپـل سـاعت بـه تېـروم عمـر اخـر دی
د چـا زړه بـه هسـې روغ پـه دنیـا نـه وي

د خوشال خټک چې چاود ځنــې خــاطر دی.

✷ ۱۰۸٤ ق (۱۶۷۳ع):

په تیرا کې یې له دریاخان، تاتارخان، شابیک خان کواټي او ملک خواص خان سره لویه جرګه وشوه او پر نوښار یې د برید پرېکـــړه وکړه.

✷ ۱۰۸۵ ربیع الاول لومړۍ (۱۶۷۴ ع جون):

له بهرام سره یې بیا په دې جنګ ونښت چې بهرام د مهابت خان په لمسون غوښتل چې خان د چراټ په جنوب کې له تـــوتکي نـــه وباسي، یانې مهابت خان به د بهرام پر ځای بیا مشري اشرف خان ته ورکړي، خو بهرام بریالی نه شو، البته خان له بهرام سره په ټولو نښتو کې سور مخ و.

✷ ۱۰۸۵ق/ د محرم وروستۍ ورځې (۱۶۷۴ع):

له خوړې نه د تیرا پر لور وخوځېد، د ربیع الاول پر لومړۍ ورځ د تیرا میدان ته روسېد.

✷ ۱۰۸٤ ق ربیع الاول ۱۵ ( ۱۶۷۴ ع جون):

د دریا خان افریدي د ورور تاتارخان فاتحې ته ورغی.

✷ ۱۰۸۵ ق د جمادی الثاني وروستۍ (۱۶۷۴ع):

په تیرا کې یې څلور میاشتې پوره کېدونکې وې، چې د یوسفزیو دملکانو (عبدال، طالي او اخترعلي) په بلنه د یوسفزیو پـــر لـــوري

وخوځېد.

✷ ۱۰۸۵ ق د رجب وروستۍ (۱۶۷۴ع):

رستم ته لاړ او هلته يې په شپږو ورځــو کــې خپلــه ۹۱۹ بیتــه منظومه پښتو بازنامه ولیکله:

پـــه نهــه ســوه اونــولس بیتــه تــم شــوه
خاتمـــه ددې نظـــم پـــه رســـتم شـــوه
زر پنځـــه اتیـــا کلونـــه د هجـــرت دي
د رجـــب ورځـــې اخـــر شـــوې نهایـــت دي
پـــه لـــړم کـــې مـــې شـــروع بازنامـــه کـــړه
په شپږ ورځې مې تمامــه پــه خامــه کــړه.

✷ ۱۰۸٤ ق ربیع الاول (۱۶۷۴ ع جون):

له خوړې نه د تیرا میدان ته ورسېد:

✷ ۱۰۸۵ د جمادی الثاني وروستۍ (۱۶۷۴ ع اکتوبر):

خان د راز علي او حسن علي پــه ملگرتیــا او د اوښ ســورو پــه بدرگه له تیرا نه یوسفزیو ته روان شو، په بازار کې له ایمــل خــان سره چې له تیرا نه یوسفزیو ته روان و، مخ شو، خان وایي چې سره کېناستو، خبرې مو سره وکړې، د جاروتو یې راته وویل، خو ما ورته وویل، چې که زه پوهېدلای، چې ته به راځې، نو درته ایسار شــوی به وای، اپریدیو ډېر ستنولم، خو ســتون نــه شــوم، اپریــدي مــې رخصت کړل، د څخوبي پر لار د ایمل خان سړي راسره ډکــې تــه

راغله، شپه مې هلته تېره کړه، سبا بېړۍ راغله، پکې پورې وتم، پر مومندو تېرېدو، ټولو ښه پښتونولي راسره کوله، مېلمستيا يې کوله، مومند مې ښه عالم وليد، خصوصاً نظرمومند عجب ځوان و، کمال خان يې ورور و، زما ډېر خوښ شو، ډېر ننګيالی مېړه و، د پنډيالی پر لار تر سيند پورې وتو، په ملاګوريو کې مو شپه کړه، د چنده په لار ټوټی او د ختکو سيمې ته راغلم.

✷ ۱۰۸۵ ق (۱۶۷۴ع):

خپله خاني يې اشرف خان ته وسپارله.

✷ ۱۰۸۶ ق جمادی الاول لومړی (۱۶۷۵ ع مې):

دمردان په شمال لويديځ ۲۵ ميلي کې، برمول ته لاړ او دا بوللہ يې وبوللہ:

بيا له کومه راپيدا شو دا بهار
چې په هر لوري يې ملک کړلو ګلزار
د درېيمې خور اول کال د غفو و
ما چې وې په برمول کې دا اشعار.

✷ ۱۰۸۶ق د لوی اختر ورځ (۱۷۷۴ ع دسمبر):

د ګومبت په جنګ کې چې بنګښو ګټلی و، ژوبل شو، عبدالقادر خان هم ورسره په همدې جنګ کې ټپي شو، خان ددې جنګ انځور داسې ايستلی دی:

همگـــي ځوانـــان زمـــا د زړه ارمـــان دي
پکـــې ببلـــه د عبـــدال تانـــده ځـــواني وه
د غلـــیم ســـره پـــه آس غـــاړه غـــړۍ شـــو
د عبـــدال د مړنتـــوب بخـــره کـــاني وه.

✷ ۱۰۸٦ق/ درېیمه خور/ جمادي الاول (۱۶۷۵ع اګست):

نظام زوی یې ومړ، چې تاریخي ماده او ویرنه یې خان دا وویله:

خدایه وبخښې نظام ځای یې جنـت کـړې
کـه د پـلار پـه رضـا شـي ځنـې رضـا و
په درېیمه خور کـې ومـړ کـال ((غفـو)) و
شـپږ ویشـت کالـه یـې د عمـر وو برنـا و

✱✱✱

د نظـــام د غشـــي یـــو برابـــر نـــه دي
کـه خوشـال پـه زړه خـوړلي ډېـر تاوکـه
مګر زړه یې د هـاتي وي چـې زغمـي یـې
دا شیتۍ چې د خوشال په زړه شـوه لکـه.

✷ ۱۰۸٦ درېیمه خور اوومه (۱۶۷۵ اګست):

ملک عبدال، اختر علي او طالي برول ته ننواتې ورغلل او د هـر ډول مرستې لوز او ژمنه یې ورسره وکړه، د سوات د تګ بلنه یـې

هم ورکړه چې خان وایي: (( زه هم د دوی په مصلحت دایم سوات لره روان یم، هر چې د خدای رضا شي، هغه به وشي))

✶ ۱۰۸۸ محرم (۱۶۷۶ مارچ):

د مغولي صوبه دار سید امیرخان خوافي د دوستۍ په ویاړ له خوترې نه پېښور ته د پښتنو او مغولو ترمنځ د سولې راوستو لپاره راغی، د شهزاده معظم شاه عالم هر کلی یې هم وکړ او دا غزله یې هم په پېښور کې وویله:

د بې ننګه پښتنو له غمه ما
لویه پرېښوه ونیوله کمه ما
هاتي ځکه په سرلوڼي توري خاورې
چې خبر کړ د خوشال له غمه ما.

✶ ۱۰۸۸ ق (۱۶۷۶ ع):

خان ددې کال د سولې او له هنده د شاه عالم د راتګ یادونه داسې کوي:

په دا کال چې شاه عالم راغی له هنده
صلحه وشوه دمغولو د افغان.

✶ ۱۰۸۸ محرم (۱۶۷۶ مارچ):

له امیر خان خوافي سره تر فتح اباده ( دجلال اباد په لویدیځ کې) پورې ملګرتیا وکړه.

✷ ۱۰۸۸ق زمری ( ۱۶۷۶):

دا یې ددغه کال ویلې څلوریزه ده:

سږ کـال چـې کـال د ((رحمـت تـم)) دی
باران په هـر چرتـه پـه غـره پـه سـم دی
پس له شپږ میاشتو په چنګابن شروع شـو
پـه هـره ورځـې، تـر نـیم ضـیغم(*) دی.

دا بولله یې هم پر همدغه کال وویله:

شـپږ اووه میاشـتې پـه هنـد پـه خراسـان
چرتـه ونـه شـه پـه سـم پـه غـره بـاران
دا سږ کال چې یې تـاریخ ((رحمـت تـم)) دی
په وګړي مبارک دی په هر شان.

✷ ۱۰۸۸ زمری ۲۹ (۱۶۷۶ ع)

تر شپږ میاشتې وچکالۍ وروسته د مسلسل باران یادونه داسې کوي:

چې باران په جهان وشو پس له یاسـه
فـتح البـاب و پـه تحویـل د سـرطان
د اسد تر نویشتمه ورځ پـه ورځ شـي

(*) د زمري یا اسد میاشت

په باران سره نهال شو درست جهـان.

✷ ۱۰۸۸ ق (۱۶۷۶ع):

د خپلو مړو هلکانو (زامنو او لمسو) غم په همدې بوللہ کې داسې ژاړي:

دېـــر زمـــوږ د خېلخـــانې هلكـــان ومـــړل
داغ د زړه دی ((عبـــدالله)) د يحيـــی خـــان
په (( نيک نام)) پسې که زړه درانـــه چـــوي
د باكو خاطر خوشال شـــو پـــه ((كـــامران))

✷ ۱۰۸۹ ق صفر د حمل دولسمه (۱۶۷۷ ع اپریل):

د ګرانۍ او وچکالۍ یاد په دې قطعه کې داسې کوي:

د نـــــو روز پـــــه دولســـــــم
میاشـــت صـــفر كـــال د غفـــط و
غلــه ګرانــه كښــت زبــون شــو
پـــه عـــالم نـــازل خـــط و

✷ ۱۰۸۹ ق رمضان (۱٦٧٨ ع جون):

فالنامه يې نظم كړه.

✷ ۱۰۸۹ جمادی الاول اوومه (۱٦٧٨ ع جون):

سوات ته لاړ او اووه میاشتې هلته پاتې شو.

✷ ۱۰۸۹ ق د کمکي اختر ورځ (۱٦۷۸ ع فبروري)

د خپل فقهي اثر ( فضلنامې) نظمول يې چې په روژه کې يې پيل کړي وو، د اختر پر ورځ پای ته ورسول.

دا ســـړ کـــال چـــې د غفـــط دی
يـــو کتـــاب مـــې پـــه نمـــط دی
پـــه روژه کـــې التيـــام شـــه
د اختـــر پـــه ورځ تمـــام شـــه

✷ ۱۰۹۰ق ( ۱٦۷۸ع):

ددې بې مطلعې بوللې د بوللو کال:

قســـمت څـــو چـــارې راوکـــړې
ننـــداره د درســـت جهـــان شـــوم
نـــه ګنـــاه نـــه مـــې تقصـــير و
د بادشـــاه پـــه بنـــد زنـــدان شـــوم
اوس زرنـــوي کـــال دهجـــرت دی
چـــې بـــاني ددې بيـــان شـــوم.

✷ (۱۰۹۰ ق رجب دربيمه (۱۶۷۹ ع دسمبر):

د کواټ د ډوډي په جنګ کې يې چـې د مغـولي لاسـپوڅو پـه لمسون ونښت، د مغولو د پلوي بنګښو لښکرو ته ماته ورکـړه، دا سوبه يې داسې انځورلې ده:

د اســـد تحویـــل زر یـــو نـــوي رجـــب و
پـــه درېـــیم د جنـــګ اغـــاز شـــو دا کـــلام
په غلیم بانـــدې دې هســـې فـــتح تـــل وه
لکـــه دا فـــتح چـــې وشـــوه والســـلام

✷ ۱۰۹۱ ق رمضان د میزان لومړۍ (۱۶۷۹ ع سپتمبر)

دا قصیده یې وویله:

راشـــــه واوره د داســـــتان
نیـــک و بـــد پکـــې بیـــان
د اویـــا کلونـــو اوس یـــم
پـــــه دا مـــــاه رمضـــــان
کال زر یو نوي هجـرت دی
هـــم تحویـــل دی د میـــزان

دا قصیده یې هم پر همدغه کال په ((نړۍ))(✷) کې وبولله:

چې مـــې ولیـــده د خپلـــو زویـــو کـــار
زویه واړه ځګرخون دي د خپـــل پـــلار
دهجرت زر سل کلونـــه نـــه تـــرې کـــم
چې نړۍ کې مې اغـــاز کـــړه دا اشـــعار

(✷) د یو کلي نوم

✷ ۱۰۹۲ ق جمادی الاول پنځمه (۱۶۸۰ ع - جون):

د اشرف خان پرځای یې بهرام خان ته مشري وسپارله.

✷ ۱۰۹۲ ق (۱۶۸۰ع):

ددې بې مطلعې بوللې یا قصیدې د بوللو کال:

زمـــا مشـــران زویـــه
چې یې کار شـو امتحـان
زر دوه نـــوي د هجـــرت
ګـوره څـه وکـا اسـمان

✷ ۱۰۱۳ق / ١٦٨١ع:

دا غزل یې د همدې کال وینا ده:

پارینه چـارې چـې سـړ نـه شـته خوشـاله
دا د سـړ چـارې بـه هـم نـه وي تـر کالـه
دا سړ کال چې دغفـج دی چـې غفـد شـي
امیـــدوار اوســـه لـــه بختـــه لـــه اقبالـــه

✷ ۱۰۹۵ ق محرم (١٦٨٣ دسمبر):

دا بولله یې وبولله:

زه د شعر په کار هـېڅ نـه یـم خوشـال
ولې خـدای مـې کړېـه غـاړه دا مقـال

نوي میاشت دمحرم غصه یــې کــال دی
پــه غلــیم مـــې غصـــه وورېـــژه دا کـــال
خدایه هومره مهلت ورکړې په دنیا کـــې
چې کاڼه کارونـــه ســـم کانــدي خوشـــال

✷ ۱۰۹۵ ق (۱٦۸۳ ع):

پر دغه کال یې د پښتو اشعارو شمېره څلوېښت زرو ته ورسېده:

✷ ۱۰۹۵ ق  شعبان (۱٦۸۳ ع):

د برات دلومړۍ شپې د خوب انځور داسې کوي:

شـــپه د بـــرات وه، یـــو خـــوب مـــې ولیـــده
کال یې ((غصه)) دی هر کور مې ښه لیـــده
دوه توري ماتې شوې، یوه مې روغـــه شـــوه
دویـــم صمصـــام مـــې پـــه رغېـــده ولیـــده

✷ ۱۰۹۷ق ( ۱٦۸۵ع)

ددې کال د ټولنیزې وضعې انځورونه یې په دې بې مطلعې بوللې کې داسې کړې ده:

سږ کـــال چـــې دغـــواص دی
پـــه هـــر لـــوري دي تبـــژن
د مـــرګ تبـــی یـــو څپـــر دی
د ژونـــدون تبـــی بـــل څېـــر

د خپل درویشت کلن ((بختناک)) زوی د مړینې یاد هم په همدې قصیده کې کوي:

بخت ناک پــه دوه هفتــې شــي
تـــر فـــاني جهانـــه ســـېر
ژونـــدی و درویشـــت کالـــه
زلمیتـــوب شـــه بانـــدې زلېـــر

✷ ۱۰۹۸ ق (۱٦٨۵ ع):

ددې بوللې په ترخ کې د ۱۰۹۷ کال له وبا نه د خلاصون او د خپل یوې مېرمنې د بختناک دمور، د یوه زوی ((بختناک)) او یوه لمسي (سرفراز) د ویر یاد داسې کوي:

د غـــــواص د کــــال وبــــا
خــدای یــې مــه راولــه بیــا
بختنــاک مـــې پکـــې ومـــړ
مـــور مـــې هـــم بـــو تـــه قضـــا
یـــو هلـــک یـــې و راپـــاتې
ورپســـــې شـــــه زر فنـــــا
ســـــرفراز د ســـــعادت و
بنـــه لمســـی مـــې و زېبـــا
په دا کـــال لـــه مـــا قضـــا کـــړ

پـــه ارمـــان ارمـــان جـــدا
کـــال حصـــغ شـــو وبـــا لاړه
هم عســـرت کـــړه راتـــه شـــا
یـــو خوشـــال دا دعـــا نـــه کـــا
درســـت جهـــان کـــا دا دعـــا

✷ ۱۰۹۸ ق (۱۶۸۶ ع):

پر دغه کال یې یو زوی طاهرخان، مومند یو ختکو وواژه، (تاریخ مرصع ۱۲۵۱) یو یې لمسی د بهرام خان زوی معظم ومړ چې خان یې ویر په دې توګه کړی دی:

مـــا د معظـــم پـــه لیـــدو مینـــه ماتـــه نـــه کـــړه
څه د قضا رنځ و پـــه هفتـــه کـــې څـــه و څـــه شـــو
دریغه دریغه که یې مـــرګ پـــه بدلېـــده وای
ځو به مې پرې ورکړل، ولې مرګ مېلمه د ده شـــه
ښـــه تـــاریخ یـــې راغـــی ( بـــې بـــدل معظـــم)
خوشال دده نیکه دی، دنیکه یې داغ په زړه شـــه

✷ ۱۰۹۹ ق شعبان (۱۶۸۸ ع جولای):

دېوان یې د اپریدیو په چانکوړ کې ( د چراټ په جنوب لویـــدیځ کې) بشپړ شو.

✷ ۱۱۰۰ ق ربيع الثاني ۲۸ جمعه (۱٦۸۹ ع فبروري) شلمه د ۱۰٦۸ د کب لومړۍ.

زمونږ ستر خان خوشال خان خټک اخر تـر ۷۸ کالـه سـتړي او نيمګړي ژوندانه وروسته د ژوند امانت د خپـل حقيقـي څښـتن حضور ته وسپاره. ( انا لله و انا اليه راجعون)

خان تر جامې بدلولو لږ دمخه هم د پښتنو بې ننګي په دغو ټکيو ژړله:

پښتانه چې بې ننګي کا څوک يې څه کـا
ګورستان لـره بـه درومـو لـه ارمانـه.[1]

---

[1] محمد اصف صميم، ګام پر ګام له خوشال سره، د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه- جرمني، پېښور، ۱۳۷۸ل کال، ۳-۲۳مخونه.

# دویم څپرکی

## د خوشال بابا اثار

خوشال بابا د ستر فکري نبوغ او ژور تخیل خاوند و. له خپلو ګڼو سیاسي اوټولنیزو بوختیاوو سره سره یې یوه شېبه هم قلم او کاغذ له ګوتو لرې نه کړ او له شمېره وتي اثار یې ولیکل.

که موږ د خوشال سیاسي او ټولنیز ژوند وڅېړو او د هغه مبارزې او مصروف ژوند ته نظر وکړو او بیا د هغه لیکلو اثارو ته پام وکړو، نو ویلای شو چې خوشال بابا د نړۍ داسې یو ستر لیکوال دی چې د نړۍ هېڅ لیکوال هم په داسې یو سخت، تنګ او کړکېچن ټولنیز او سیاسي چاپېریال کې دومره اثار نه دي لیکلي.

ختیځپوه میجر راورټي انګریز د بابا د ټولو اثارو شمېر (۲۵۰) عنوانه ښودلی دی. کله چې د بابا نبوغ او تخیل ته ګورو، نو د راورټي خبره له مبالغې ډکه نه برېښي. د بابا د اثارو بله ارزښتمني په دې کې ده چې د ژوند بېلابېلو خواوو ته ځانګړې شوي او په هره خواکې په داسې ژور فکر لیکل شوي چې تر ده دمخه خو یې هېڅ ساری نه و آن تر ده وروسته هم، چا په هغو برخو کې داسې اثار نه دي پنځولي.

ښکار، سیاست، ادب، صحت، سـفر، فلسـفه، تصـوف، عرفـان، مبارزه، ښوونه او روزنه، ټولنپوهنه او د ژوند نورې خواوې، ټولې په کې رانغاړل شوې دي. د خوشال بابا ټول لیکل شوي اثار تراوسـه پورې لاسته نه دي راغلي، خو د وخت په تېرېدو سره کېدی شـي نور اثار یې هم لاسته راشي. موږ به دلته د بابا هغه اثار معرفي کړو چې تراوسه لاسته راغلي او یا یې یوه برخه د څېړونکو تـر ګوتـو شوې ده:

# الف- د بابا منظوم اثار:

## ۱- دېوان خوشال خان خټک:

دا دېوان د ډاکټر ایچ ډبلیو بیلیو په سمون، اوډون او د سلطان بخشي داروغه په اهتمام د پېښور چلخانې په چاپخونـه کـې پـر (۱۸٦۹ یا ۱۸۷۰م) کال چاپ شـوی دی. (۶۰۸) مخـه لـري، بشـپړ دېوان نه دی، خو د خوشال د کلام د هرې برخې بېلګې لري.

## دېوان خوشال خان خټک:

په (۱٦۸) مخونو کې د لاهور په کریمي چاپخونه کې چاپ شـوی دی. د چاپ نېټه یې څرګنده نه ده، خو داسـې ښـکاري چـې تـر (۱۹۲۰) کال وروسته چاپ شوی دی.

## دېوان خوشال خان ختک بزبان افغاني و فارسي:

دا د خوشال خان ختک د کلام منتخب دی، چې دوه برخې لري؛ لومړۍ برخه يې ۵۶ مخه لري او دویمه برخه يې ۱٦٨ مخه ده. د دېوان د منتخباتو اهتمام د پېښور د قصه خوانی بازار د کتاب سوداګر کهرک سنګه له خوا شوی دی. په دې انتخاب کې غزلونه، قصیدې، قطعې او څه رباعي هم راغلي دي. دا منتخب د ډاکتر ایچ ډبلیو بیلیو له دېوان څخه راچاڼ شوی او بیا چاپ شوی دی.

## دېوان خوشال ختک بزبان افغاني و فارسي:

د خوشال بابا د کلام دا ټولګه هغه ټولګه ده، چې د سلطان بخش داروغه په اهتمام چاپ شوی و اوپر (۱۹۲۹م) کال د حاجي عبدالرحمن په غوښتنه د مولانا عبدالمجید افغاني په مقدمه یو ځل بیا په (٦٠٨) مخونو کې چاپ شو.

## د خوشال مرغلرې:

د بابا د کلام دا ټولګه چې غزلونه، قصیدې، قطعې، رباعي او نور شعري شکلونه په کې راغلي، د علامه عبدالحی حبیبي په هڅه او زیار پر ۱۳۱۷ ل ۱۹۳۸م کال په کندهار کې چاپ شوې ده، دا ټولګه ۱۱۲۸ مخه لري.

## کلیات خوشال خان ختک:

په دې کتاب کې د خوشال بابا غزلونه، قصیدې، قطعې او نور متفرقه شعرونه راغلي دي. تکړه څېړونکي دوست محمد کامل

مومند پرې حاشیه او سریزه لیکلې ده. دا کتاب پــر (۱۳۷۱هــــ ق ۱۹۵۲م) کال د اداره اشاعت سرحد له خوا چــاپ شــوی او همــدا کتاب دویم ځل پر (۱۹۶۰م) کال بیا چاپ شوی دی.

## د خوشال خان خټک کلیات لومړی ټوک:

د خوشال بابا د شعرونو دا کلیات پر ۱۹۷۹ (۱۳۵۷) کال د بابا د درې سوه یم تلین په درناوي، د افغانستان د علومو اکاډمۍ له خوا چاپ شوی دی. د بابا (۹۱۰) غزلونه په کې خوندي شوي او (۵۱۹) مخونو کې چاپ شوی دی. دا کتاب پر (۱۹۸۰م) کال بیا چاپ شوی او پر دواړو چاپونو یې ډاکتر ګل محمد نــورزي او محمــد صــدیق روهي سریزې لیکلې دي.

## منتخبات خوشال:

د پېښور پښتو اکېډمي، پر (۱۹۵۶م) کال په (۳۲۰) مخونــو کــې چاپ کړی دی. سید انورالحق یې په نثر، اردو ژباړه هم کړې ده.

## کلیات خوشال خان خټک:

په دې کتاب کې د بابا غزلونه راغلي دي، شېرشاه ترخوي ترتیب کړی، سریزه یې پرې هم لیکلې ده، د (۱۹۸۵)یا (۱۹۸٦) کال په پیل کې عظیم پبلشنګ هاوس پېښور کې چــاپ کــړی دی. د مخونــو شمېر یې (۳۷۶) دی.

## ارمغان خوشال:

د بابا د شعرونو دا کتاب سید رسول رسا ترتیب کړی او یوه اوږده سریزه یې هم پرې لیکلې ده. دا کلیات تر ټولو لوی دی، چې فضل نامه، بازنامه او سواتنامه نامه هم په کې دي او پر (۱۹۶۴م) کال په پېښور کې چاپ شوی دی، د مخونو شمېر یې (۱۱۷۷) دی.

## د خوشال رباعیات:

په کابل کې د پښتو ټولنې له خوا په (۱۹۷۰م) کال چاپ شوی، چې (۲۹۹) مخونه لري.

## ۲- د خوشال خټک کلیات دویم ټوک:

دا اثر پر (۱۳۷۰ ل) کال د افغانستان د علومو اکاډمۍ له خوا په کابل کې خپور شوی او د خوشال بابا یو شمېر داسې غزلونه، قصیدې او نور شعرونه په کې راغلي، چې په لومړي ټوک کې نه شته.

## ۳- بازنامه:

دا کتاب په مثنوي فورم کې لیکل شوی او د لیکلو کال یې (۱۰۸۵هـ ق) دی. دا کتاب پر (۱۹۵۳م) کال د پښتو ټولنې له خوا چاپ شوی او (۶۷) مخونه لري. پوهاند صدیق الله رښتین پرې حاشیه لیکلې او سمون یې کړی دی. په کتاب کې د بازونو د روزنې، پالنې او د رنځونو علاج په باب معلومات راغلي دي. دا

کتاب دهمېش خلیل په حاشیه او سمون پر ۱۹۸۵م کال د خوشال ریسرچ سیل له خوا هم چاپ شوی دی.

## ۳- سوات نامه:

دا هم د بابا یوه مثنوي ده، چې پر ۱۰۸۶ ه ق کال لیکل شوې او د سوات د سیمې جغرافیایي، ټولنیز او کلتوري حال پــه کــې بیــان شوی دی. دا کتاب دخوشال د درې سوم تلین په مناسبت په کابل کې د پښتو ټولنې له خوا چاپ شوی دی. استاد عبدالحی حبیبي پرې سریزه لیکلې ده، د پېښور د اسلامیه کالج د انګریــزي ژبــې پروفیسور شکیل احمد، سوات نامه په انګریزي ژباړلې او حاشــیه یې پرې لیکلې ده، چې پېښور پوهنتون ورتــه پــرې د (ایــم فــل) ډګري ورکړې ده. سواتنامه د همېش خلیل په ســریزه پــر ۱۹۸۶م کال خوشال ادبي و ثقافتي جرګې اکوړه خټک له خوا چاپ شوې ده. سواتنامه په تاریخ مرصع کې هم راغلې او ارمغان خوشال کې هم چاپ شوې ده.

## ۴- فضل نامه:

دا کتاب هم په مثنوي فورم کې لیکل شوی دی. د لیک نېټه یې (۱۰۸۹هـ ق) کال دی. فقهي مسایل په کې څېړل شوي دي. یو څه برخه په کې د طب په باب هم شته. دا کتاب پــر (۱۹۵۲م) کــال د محمد عبدالشکور په سریزه د اداره اشاعت سرحد پېښور له خــوا چاپ شوی دی. اصل متن یې (۲۵۰) مخه دی.

## ۵- طب نامه:

دا کتاب هم په لنډ بحر په مثنوي فورم کې لیکل شوی او د بابا د ۲۸۶ تلین په مناسبت په کابل کې د پښتو ټولنې لــه خــوا چــاپ شوی دی. دا کتاب بیا د همېش خلیل په حاشیه، لټون او ســمون په پېښور کې خوشال ادبي جرګې اکوړې چاپ کړی دی او بل ځل بیا د میا تقویم الحق کاکاخېل په سمون د خوشال ریسرچ ســیل له خوا پر ۱۹۸۵ کال چاپ شوی دی. طب نامه په نظم لیکل شوې او طبي مسایل په کې څېړل شوي دي.

## ۶- اخلاق نامه:

دا هم یوه مثنوي ده چې حمد و نعت، مذهبي او اخلاقي مسایل په کې راغلي دي. دا کتاب لومړی ځل پــر ۱۹۸۱م کــال د پېښــور پوهنتون د پاکستان د مطالعاتو مرکز له خوا په پاکستان مجله کې چاپ شوی دی.

دا اثر (۱۷۶) مخه لري. همېش خلیل یې لټون اوسمون کــړی. دا کتاب په جلا بڼه، د قامي مکتب پېښور له خوا هم چاپ شوی دی. اخلاقنامه وروستي ځل د حبیب الله رفیع پــه ســریزه، ســمون او سپړنو پر (۱۳۸۰ل) کال په (۱۶۷) مخونو کې په لاهــور کــې چــاپ شوې ده.

## ۷- فراق نامه:

دا هم منظوم اثر دی، بڼه یې زیاتره د مثنوي ده. د خوشال بابا د

زندان د شپو ورځو اثر دی. دا کتاب لومړی ځل پر (۱۹۸۲م) کال د پېښور پوهنتون د پاکستان د مطالعاتو مرکز له خوا په پاکستان مجله کې چاپ شوی او بل په ځانګړي ډول د همېش خلیل په سمون، لمنلیکونو هڅه او هاند دقامي مکتبه پېښور له خوا پر (۱۹۸۳م) کال چاپ شوی دی.

فراقنامه په کابل کې هم پر (۱۳۶۳ل) کال چاپ شوې ده. خو دربیم ځل پر (۱۳۸۰ل) کال د سرمحقق زلمي هېوادمل په سریزه، سمون او تعلیقاتو د پښتون کور له خوا د (۵۰۰) ټوکو په شمېر په (۲۱۷) مخونو کې چاپ شوې ده.

## ۸- فالنامه:

دا کتاب د فال کتلو او د هغې په پوهې پورې اړه لري. د حبیب الله رفیع په سمون د خوشال ریسرچ سیل له خوا پر (۱۹۸۵م) کال چاپ شوې او (۸٦) مخونه لري. دا اثر دویم ځل د همدې لیکوال له خوا د پښتني فرهنګ د ودې او پراختیا ټولنې په لګښت پر ۱۳۸۰ل کال په لاهور کې چاپ شوی دی. دا اثر د مثنوي په فورم کې لیکل شوی دی.

## ۹- نام حق:

نام حق د خوشال بابا هغه اثر دی چې د فارسي له ( پنج ګنج) څخه ترجمه شوی دی. خوشال بابا دا ژباړه په ۱۰٦٦ه کال کې بشپړ کړې ده. په دې اثر کې ځینې دیني مسایل لکه روژه، لمونځ

او د هغو فرایض تشریح شوي دي. دا اثر د همېش خلیل په سریزه په ۴۰ مخونو کې په پېښور کې پر ۱۹۹۶ کال چاپ شوی دی.

## ب- د بابا منثور اثار:

خوشال بابا د خپلو ډېرو منظومو اثارو تر څنګ، ګڼ شمېر منثور اثار هم لري، چې د ژوندانه پر بېلابېلو خواوو رڼا اچوي، دلته یې هغه اثار معرفي کوو چې د زمانې له بادونو او ګردونو خوندي پاتې او یا یې څېړونکو او خوشالپوهانو ته څرک معلوم دی:

### ۱- دستار نامه:

د بابا د نثر کتاب دی چې په رنتهبور زندان کې یې د اسارت په ورځو شپو کې لیکلی او لومړی ځل پر ۱۳۷۱ هـ ق، ۱۹۵۲م کال د اداره اشاعت سرحد پېښور له خوا چاپ شوی دی. عبدالشکور صاحب پرې سریزه لیکلې، سمندرخان سمندر او دوست محمد کامل مومند یې پېژندنه کړې ده. دا کتاب پر ۱۳۴۵ل - ۱۹۶۶م کال په کابل کې دپښتو ټولنې له خوا هم چاپ شوی، چې پوهاند صدیق الله رښتین پرې سریزه لیکلې ده. د پېښور چاپ اصل متن ۲۷۸ مخه او د کابل چاپ ۱۴۵ مخه دی. د دستارنامې اردو ژبې ژباړه طاهر غزنوي کړې ده او پر (۱۹۸۰م) کال پښتو اکېډیمۍ پېښور چاپ کړې ده.

## ۲- زنځیري یا خط نامه:

دا د لیک یو ډول دی چې د بابا له کورنۍ سره اړه لري. دا کتاب د حبیب الله رفیع په حاشیه او هڅه د خوشال ریسرچ سیل پېښور له خوا پر (۱۹۸۵م) کال په (۱۷٦) مخونو کې چاپ شوی دی.

## ۳- هدایه:

له عربي ژبې څخه فقهي مسایلو په باب د بابا نثري ژباړه ده چې دیني مسایل پکې څېړل شوي دي.

## ۴- بیاض:

په نثر کې د خوشال یو ډېر ښه اثر دی. ځینې تاریخي برخې هم لري، چې افضل خټک په تاریخ مرصع کې نقل کړي دي.

## ۵- فرخ نامه:

د تورې او قلم بحث دی چې تراوسه چاپ شوی نه دی.

## ۶- ائینه:

دا هم یو دیني کتاب دی چې تراوسه چاپ شوی نه دی.

## ۷- خټکنامه:

د خوشال بابا بل اثر دی چې د خټکو د اصل و نسب په باب معلومات په کې راغلي دي. دا لیکنه په تاریخ مرصع کې هم راغلې او افضل خان خټک هم پرې خپل نظر ورکړی دی. د بابا دا اثر په

مستقل ډول پر (۱۳۸۰ل) کال د حبیب الله رفیع په سریزه د پښتني فرهنګ د ودې او پراختیا ټولنې له خوا په لاهور کې چاپ شوی دی. (۳۹) مخه لري.

## ۸- نسبنامه:

نسبنامه د خوشال خان خټک بل اثر دی چې افضل خان خټک په تاریخ مرصع کې راوړی او ځای پر ځای یې خپل نظر او فکر هم په کې ګډ کړی دی. دا اثر په مستقل ډول د حبیب الله رفیع په سریزه، سمون او سپړنه پر (۱۳۸۰ل) کال د پښتني فرهنګ د ودې او پراختیا ټولنې له خوا په لاهور کې چاپ شوی او د ټولو مخونو شمېر یې (۶۹) دی. په دې کتاب کې خان د خپلې کورنۍ پېژندنه کړې ده.

## ۹- ساعتنامه:

د خوشال بابا یو بل ډېر کوچنی او منثور اثر ګڼل شوی، چې حبیب الله رفیع پرې سریزه لیکلې او سمون یې کړی. په دې اثر کې د ساعت او وخت او سفر په باب لنډ معلومات راغلي دي. دا اثر له سمون، بشپړتیا او سریزې سره ټول (۲۰) مخه لري او پر (۱۳۸۰ل) کال د پښتني فرهنګ د ودې او پراختیا ټولنې له خوا د لاهور په ملت چاپخونه کې چاپ شوی دی.

## ۱۰- هندوکوهنامه:

د خوشال بابا یو منثور یونلیک دی، چې د دده دوو جګړه ییزو

سفرونو بیان کوي. ددې یونلیک متن هم له تاریخ مرصع څخــه را اخیستل شوی، دا کتاب د پښتني فرهنګ د ودې او پراختیا ټولنې له خوا د لاهور په ملت چاپخونه کې پر (۱۳۸۰ل) کال چاپ شوی او سریزو سره (۶۵) مخه لري.

## ۱۱- وصیتنامه:

د خوشال بابا یوه بله لیکنه ده چې په تاریخ مرصع کــې د هغــه لمسي افضل خان خټک خوندي کړې ده. دا لیکنه په مستقل ډول د حبیب الله رفیع په سریزه پر (۱۳۸۰ ل) کال په لاهور کې په ملت چاپخونه کې چاپ شوې ده. د کتاب لګښت د پښــتني فرهنــګ د ودې او پراختیا ټولنې له خوا برابر شوی او د سریزو په ګډون یې د مخونو ټول شمېر (۱۷) ته رسېږي. په دې لیکنه کې خوشــال بابــا خپلو زامنو او لمسو ته له نورو سره د چلنــد او ســلوک پــه بــاب نصیحتونه کوي.

## درېیم څپرکی

# د خوشال بابا د اند ځینې خواوې

خوشال بابا د علم او تفکر یو کان دی، هر څوک چې پر خوشال څېړنه کوي، نو دده د فکر ژورلید ته متوجه کېږي، د ژوند یو ډګر هم د بابا د فکر له پلوشو تیاره پاتې شوی نه دی، خو د بابا د فکر د ټولو خواوو څېړنه، کتاب نه، کتابونو ته اړتیا لري، موږ به دلته پــه ډېر لنډیز او چاڼیز ډول د بابا د فکر ځینو خواوو ته نغوته وکړو:

# صوفي خوشال

کله چې څوک د خوشال بابا د شعرونو ظاهري ښکلا او خپلــه د بابا رندانه او شاعرانه مزاج ته ګوري، نو داسې یو شخصیت یې په ذهن کې تداعي کېږي چې خوشال داسې یو رنــد، مســت، ازاد او باغي شاعر دی، چې یوازې د ښکلا په میو مست دی او نــور نــو د ژوند د اسرارو تل ته نه دی ښکته شوی او د معرفت په خوړلنیوکې یې خپل روح نه دی لمبولای، خو کله چې د بابا دکلام په سمندر کې اوږد سفر وکړي، نو بیا ورته معلومېږي چې د بابــا د فکــر پــه

سمندر او د تخیل په اسمان کـې د معرفـت ځـومره مرغلـرې او ځومره ستوري بلېږي، کله چې موږ د بابا صوفیانه کلام ته پام کوو، نو یو داسې بشپړ صوفي زموږ په نظر راځـي چـې لـه عبـادت او ریاضیت پرته یې بل هېڅ کار نه دی کړی. هغه د خدای معرفـت د بنده لویه نېکمرغي ګڼي او هغه چا ته چې خدای پـاک دا ځـواک ورکړی وي، هغه د خدای خاص خاص بنده ګان دي. دی وایي کـه انسان غواړي چې هغه لوی نقاش (خدایۍ) وپېژني ښـه بـه دا وي چې خپل ځان وپېژني، چې ښنګه او چا جوړ کـړی یـم، لکـه یـو انځورګر چې یو انځور جوړ کړي او پر دېوال یې وځړوي، نو خلـک بیا ټول دهغه انځورګر صفتونه پیل کړي ، دغسې چې خـدای(ج) په خپل کرم او پوهې انسان جوړ کړی، باید موږ متوجـه شـو او د همدې انسان پېژندنې له لارې خپل رب او اصلي نقـاش وپېژنـو. بابا په خپل یو کلام کې وایي:

صورتګر چې ښه صورت پـه دېـوال سـاز کـا
کـــل عـــالم پـــه صـــفت زبـــان د راز کـــا
د هغـــه نقـــاش پـــه صـــنع نظـــر نـــه کـــا
چې له څه ځاځکي نـه دا نقـش و طـراز کـا
سترګې، وروځې، پوزه نور کبـړدي پـه مـخ کـې
غاښ و شونډې، ژبه، خولـه سـره پـرداز کـا
یو سر بل سر په سـر جـوړ کـا دوه غوږونـه
چـــې پـــه دواړو اورېدنـــه د اواز کـــا

بند پـه بنـد د لاسـو ګـوتې و بلـه کېږدي
سر ترپایـه درسـت صـورت سـره یـو رازکـا
کـه څـوک زرکتابـه وکښـي لـه دې بابـه
که په کښل شي زر بـه نـور پسـې اغـاز کـا
هر وېښته چې په صورت بانـدې لیـده شـي
که پرې ځیر شې د شناخت ور به درته وازکـا
خـاص بنـده د خـدای هغـه ګڼـه خوشـاله
چې د ځـان پـه معرفـت یـې سـرفراز کـا[1]

د تصوف ډېر تعریفونه شوي دي، چا ورته د فاضله اخلاقو او چـا ورته د رباني عشق حصول ویلی دی، څوک وایـي چـې لـه لـوی خدای(ج) سره د مانا او معاملې ساتل تصوف دی. شیخ عبدالقادر جیلاني وایي چې د خدای(ج) او بنده ترمنځ چې کوم حجابونه دي د هغو لرې کول تصوف دی، حمزه بابا وایي: ((دانسانیت له عنصر نه د حیوانیت او ملکیت تسلط پورته کول او دا دواړه د انسانیت تابع کول تصوف دی)).

هر صوفي چې کله د تصوف لاره نیسي، نو یو استاد ته اړتیا لري، چې د تصوف په اصطلاح کې ورته شیخ ، مرشد او پیر وایـي، چـې پرته له هغو ورته په دې لاره تګ ډېر ګران او لـه خطـره ډک وي. خوشال بابا هم همداسې یو مرشـد درلـود، دی د حضـرت شـیخ رحمکار کاکا مرید و لکه چې وایي:

[1] د خوشال خټک کلیات، لومړی ټوک، د علومو اکاډمی، ۱۳۵۸ل کال، ۱مخ

(( طریقت کې مقلد د شیخ رحمکار یم))

او په یو بل ځای کې ترې مرستې غواړي:

د خوشال تکیه په خدای ده بیا په تا ده رحمکاره

د تصوف له مخې که یو انسان د خدای(ج) د ټولو صفاتو هنداره وي، خو یو صفت یې دا هم دی چې هغه مرکزي حیثیت او د نورو ټولو صفتونو لپاره د محور حکم لري او هغه د انسان د تخلیق منشا ده چې مرکزي صفت لري.

په تصوف کې لومړی درجه د فنا فی الشیخ ده او هر کله چې دا فنا حاصله شي نو بیا سالک د فنا فی رسول مرحلې ته تیار شي او له دې مرحلې نه بیا د فنا فی الله او په پای کې بیا د بقا بالله مرتبه حاصلوي، چې د سالک ژوند ومري. خوشال وایي:

زه هاله د عاقبت ناوې قبول کړم

چې یې خپله تمنا ورکړه په مهر

تر هغه چې انسان په خپل فطرت غالب نه شي، هغه پر خپل وجود نه شي واکمنېدلای، د کائیناتو تسخیر خو لا ډېره ګرانه خبره ده.

خوشال وایي:

بیا هاله د یګانګۍ له حاله لاف کړه

ته د غیرو اندېښنې له زړه خارج کړه

***

تـــرې پـــه ســـل رنګـــه ګلونـــه شـــګفته شـــي
هر سړی چې خاکساري واخلي ځان خاک کـا

***

چـــې دې زړه هغـــه بـــه ووينـــي خوشـــاله
خـــو يـــوه قطـــره کـــه تېـــر شـــي تـــر درختـــه

***

تـــر مطلوبـــه پـــورې شـــرط د رســـېدو دی
کـــه تمامـــه لار پـــه وينـــو شـــي الـــوده

***

نـــور څـــه نـــه شـــته لانـــدې بانـــدې
واړه دی دی چـــــې څـــــه کانـــــدي

***

يو وهم که څه دي چې په خلکـو بانـدې پـېښ شـو
دنيا دنيا هېڅ نشته که نمـود کـه نـا نمـوده

***

مـــخ د يـــار لـــه خـــط و خالـــه مســـتغني دی
د غنـــي وي هـــر اســـباب لـــه خپلـــه کـــوره

د خوشال په شعرونو کــې د تصــوف دواړه برخــې (وجــودي) او (شهودي) تر سترګو کېږي  او د دواړو ښودنه يې کړې ده.

جدايي نشته وصال ځينې بعد وهم وخيـــال دی
له هغه چې هم خانه وم هم خانه یم لا تراوســـه

هغه شان له خپله یاره بې وکیله بې ریباره
زه خوشال چې یګانه وم یګانه یم لا تراوسه

***

یار مې هسې رنګه ځای ونیو په سترګو
چې د هر لوري ته ګورم واړه دی دی

***

خدای یو هسې فکر راکړ چې یې ملک راته رڼا کړ
چې په ملک په ملکوت دی پرې خبر یې زړه زما کړ
په اعلی په اسفل واړه رابښکاره یې هر اشیا کړ
که په نورو توره شپه ده په خوشال یې سپین سبا کړ

***

یار د ما څه په کور دننه ناست و
زه بې روحه ګرځېدم دده په مرسته

***

یار په هر لوري جلوه کا ورته ګوره
که دې نه دي د لیدلو سترګې پټې

***

که دې سترګې د عرفان شته مبارک شه
د ګلزار په ننداره چې استقلال کړ ې

***

یـــو مـــې بیامونـــد پـــه هـــر څـــه کـــې
چـــــې مـــــې وکـــــړ د زړه ســــــیر

***

ذرې تـــه چـــې داســـې برېښـــې منـــوره
که پـــوهېږې دا برېښـــنا دې ده لـــه لمـــره

# شاعر خوشال

د خوشال بابا د ليکوالۍ زياته برخه د هغه شـاعري ده، چـې ده ورته د خپل ژوند (۵۸) کلونه وقف کړي وو. خوشال د خپل ژوند په دې (۵۸) کلن ادبي بهير کې تر (۲۵۰) عنوانو زيات اثار وليکل، چې زياته برخه يې منظوم اثار وو. بابا په خپل دې منظوم کلام کې د ژوند د بېلابېلو خواو منځپانګه خوندي کړې ده.

خوشال په شل کلنۍ کې پر شعر ويلو پيل کړ او لومړنی شعر يې پر (۱۰۴۲ق -۱۶۳۰ ميلادي) کال ووايه چې داسې پيلېږي:

عقـل سـل د مصـلحت بندونـه جـوړ کـا
چې د عشق سيلاب پرې راشي واړه نوړ کـا

خوشال بابا د خپلې شاعرۍ له پيله بيا تر پايه پورې په بېلابېلو شعري فورمونو کې شعرونه وليکل چې په هغو کې قصيده، غـزل، مستزاد، قطعه، رباعي او نور بېلابېل فورمونه شامل دي.

بابا په پښتو شاعرۍ کې د نوې پښتو شاعرۍ بنسټونه کېښودل، د پښتو د شعر مانۍ يې ودانې کړې او کله چې يې پښتو شـاعري پيلوله نو دا ژمنه  او وړاندوهنه يې هم ورسره کړې وه چې:

د پښتو ژبه به اوس په آب وتاب شي
ما خوشال چې په پښتو شعر بيان کړ

کله چې خوشال بابا د پښتو شاعرۍ عزم وکړ، نو بیا یې ټول شاعران هم وتلل، د هغو نیمګړتیاوو ته یې ګوته ونیوله او دا یې هم وویل چې پښتو شاعري تر ده پخوا په تول تللې نه وه؛ وزن، بحر او عروض یې معلوم نه وو او دا ټول ورته ده جوړ کړل.

یو په حال او په ماضي کې هسې نه و
چې ښکاره یې د خبرو راته خوند کړ
د میرزا دېوان مې ومانده په ګوډي
مسخره مې ارزاني خویشکی زمند کړ
که دولت و که واصل و که دا نور وو
په خبرو مې د هر یوه ریشخند کړ
کلمې مې ورته سازې کړې د قندو
د وربشو په ډوډۍ به چې یې شخوند کړ

***

کله چې د خوشال بابا شاعري وغوړېده، نو هنګامې یې لور پر لور خورې شوې.

بندوبست د پښتو شعر ما پیدا کړ
ګنه شعر د پښتو و غیر سیال
نه یې وزن نه تقطیع نه یې عروض وو
دوه مصرع یې د ضعیف بحر دوه تال

د غــزل یــې نــه مقطــع نــه یــې مطلــع وه
نــه صــفت نــه یــې تشــبیه نــه یــې مثــال
گلســــتان زمــــا د نظــــم شــــگفته شــــو
پــــرې وهــــې شــــیدا بلبلــــه پروبــــال
گلدستې یې لور په لورپه ملک خورې شوې
تــــر کابلــــه تــــر کشــــمیره تــــر بنگــــال

خوشال ختک د خپلې دورې د کلتور او ثقافت یو ځلاند ستوری و او د خپلې زمانې د ډېرو علومو او څانگو پـه بـاب یـې زیـات معلومات په خپله شاعری کـې بیـان کـړي دي. اوس کـه څـوک وغواړي چې د خوشال ختک اشعار ترجمه کړي، نـو بایـد دایـره المعارف یې تر څنگ وي، ځکه چې د ترجمان لپاره نه یـوازې پـه شاعری، تـاریخ، حقـوق، اسـلامپوهنه او جنگـي مهـارتونو کـې معلومات په کار دي، هغه باید پر فلسفه، بیولوژي، ښکارپېژندنه او د نورو علومو په څانگه کې هم معلومات ولري. بابا وایي:

درست دیوان مې لکه باغ د علم گنج دی
پــــه کــــې هــــر رنگه گلونه هر نهال

خوشال بابا سره له دې چې پر عربي، فارسي او ځینو نـورو ژبـو پوهېده او په پارسي کې خو یې ښه شاعري هـم کـړې ده، خـو د

خپل ژور ملي شعور لــه مخــې یــې پښــتو شــاعري ډېــره زیاتــه خوښېږي، نو ځکه خو وایي:

پارســـي شـــعر مـــې هـــم زده
ســـــــليقه لـــــــرم د دواړه
پښتو شعر مــې خــوښ کــړ
هر څوک خپل ګڼي ښــاغلی

نو ځکه خو یې بیا د پښتو شاعرۍ عروج ته ملا وتړله او هغه یې ډېره لوړه کړه:

په وزن په مضمون په نزاکت هم په تشبیه کـــې
پښتو ویل مــې عــین تــر پارســي دي رســولي
***
هــر کـــلام مـــې واردات دي یـــا ایهـــام دي
چې موزون مـــې پـــه تقطـــع د بحـــر بنـــد کـــړ
پـــه تـــازه مضـــمون د پښـــتو شـــعر
پـــه معنـــی مـــې د شـــېراز او د خجنـــد کـــړ

خوشال بابا د شعر یو ناپایه سرچینه لرله چې دده د ځــوانۍ لــه کلونو دا چینه را وخوټېدله او بیا دده د عمر ترپایه پورې همداسې رڼه او بهانده پاتې شوه، د عمر یې لا څو کلونه پاتې وو چې د خپل دېوان بیتونه یې سره حساب کړل او تر (۴۰) زرو پورته شول.

د دېوان مې که بیت بیت سره حساب کړې
تر څلوېښـــــــتو زرو به تېر شي په سرِ کال

خوشال بابا د یو اور ژبي شاعر او لیکوال په توګه پر خپله ژبه داسې واکمن و چې له کلمو څخه یې شات ونبات جوړولای شول. د ژبې پر جوړښت او د نظم او قافیې پر فن دومره برلاسی او واکمن و چې ډېر تاریخي، طبي، ټولنیز، سیاسي او نور مسایل یې د نظم په تارپېیلای شول، ځکه خو یې که فراقنامه هم لیکله، نو په نظم کې یې اچوله، که بازنامه هم، طبنامه او سواتنامه هم داسې او همدارنګه نور بېلابېل منظوم اثار.

لنډه دا چې که موږ د دنیا له هر شاعر سره د خوشال بابا شاعري پرتله کوو، نو څومره مانیزه رنګارنګي چې د بابا په کلام کې خوندي ده، دنړۍ د هېڅ شاعر په کلام کې نه لیدل کېږي. د هغو اکثرو کې یوه مانیزه برخه رانغاړل شوې ده، یا به تصوف وي یا به رزم وي یابه بزم وي او یا به نور څه، خو د بابا په کلام کې دا ټولې رنګارنګۍ شته، نو ځکه خو یو ایراني لیکوال ویلي دي:

(( که چېرې فردوسي په رزمي، حافظ په غنایي او سعدي په تصوفي یا عرفاني برخه کې سره یوځای کړو، نو یو خوشال خټک ځنې جوړېږي.))

ددې خبرې مانا دا ده چې خوشال داسې یو څو اړخیز شخصیت دی چې یوازې په شاعرۍ کې یې د ژوند څو خواوې رانغاړلي دي او دده د کار او مبارزې اند و ژوند نورې برخې خو لا پرځای پرېږده.

# فلسفي خوشال

کله چې څوک د خوشال څو اړخیز شخصیت مطالعه کوي، نو هر اړخ يې چې مطالعه کوي، په پيل کې ورسره داسې فکر پيدا کېږي، چې خوشال به یوازې په همدې اړخ کې دومره رسېدلی وي او بس. خو کله چې ورته ځير شي په هره برخه کې د پوره فکر او نظر خاوند دی او خبره يې د کاڼي کرښه ده. د خوشال فلسفي خوا هم همداسې ده، کله چې د خوشال په اشعارو او کلام کې د هغه ژور فلسفي ليد ته متوجه کېږو، نو هلته مو يو ستر او ژور فلسفي خوشال تر سترګو کېږي، چې ژوندني مسايل يې تر رياليستي دايرې اخوا په يو فلسفي نظر څېړلي دي.

د خوشال خان فلسفي اند دومره ژور دی چې (( علامه اقبال د خوشال خټک له اثارو نه ګټه پورته کړې او د خودۍ فلسفه يې د خوشال خان له افکارو نه اخيستې ده چې هېڅوک تربې د انکار کولو مجال نه لري. علامه مرحوم په خپلو اثارو کې د خان بابا افکار د بل مشعل په توګه ګڼلي دي او د خوشال خان دملي وحدت نظريه يې په دې ډول څرګنده کړه، چې (( بايد قبايل د ملت په وحدت کې ورک شي؛ ای ملګريه راشه چې د زړه خبره درته وکړم، د خوشال خان هغه قبر هم د ځان لپاره خوښ نه دی چې د مغولو د آسونو ګرد پرې پرېوتی وي.))

د فلسفې يو تعريف دا هم دی: (( څه چې د انسان په ماحول او

فضا کې موجود وي او حواس يې درک کولای شي، انسان د هغوی په باب فکر کوي او حکم پرې لګوي.))

همدغه فکر او سوچ خوشال بابا ته هم په مخه ورغلی او ویلي يې دي:

ما چې نظر وکړ په ذرات په موجودات
ګول په جهان راغلم ترې به ګول درومم هیهات
یو ځادر ترمیان وي فهم پاتې شي له کاره
دا هومره کیسې هومره ادراک د سموات
هېڅ نبي ولي يې درست اسرار موندلی نه دی
لویه کارخانه ده که وګورې کاینات

عقل چې ډېر الوت وکړي او د کاینات د راز په لټون کې خپلې انتها ته ورسېږي، نو له مادیت نه ماورا له هر څیز نه انکاري شي، ځکه چې تر خپل حد نه پورته الوت ممکن نه وي، دلته فلسفه په تېربدو شي او د انسان خیالات چې هر څه وي دا دي چې کاینات یو بې منعقده څیز دی، په اتفاق سره پیدا شوي دي او په اضطراري ډول لګیا دی کار کوي، هېڅ غایه او مقصد نه لري، انسان د سارتر په وینا په فضا کې غورځېدلی خو غورځوونکی يې نه شته، نو شاید خوشال خان ته هم دا سوچ ورغلی وي او ویلي يې دي:

دا عالم ریګ روان دی که يې ګورې
خو هم هسې سره اوړي لاندې باندې

خو انسان د یو ځیز تر کتنې او مشاهدې وروسته له هغــه ځیــز څخه انکار کولای نه شي، یانې دا چې هغه شیان چــې تــر ایجــاد دمخه یې نه منل، تر ایجاد وروسته یې مني.

خوشال بابا هم د عقل د الوت په پای کې چې د عقل واګې یې د انسان روح ته حواله کړې، نو د یقین رڼا یې زیاته شوه او ویې ویل چې:

دېــــر عـــــالم زمـــــا پـــــه یــــــاد
راغـــــی تېــــر شــــو لکــــه بــــاد
هـــم دا هســــې راشـــي تېــــر شـــي
بـــس ځـــای نـــه لـــري اســــتاد
عجـــــب لویـــــه کارخانـــــه ده
چـــې پیـــدا کـــړه لـــوی اســــتاد

بیا وایي:

هـــر تنـــاب یـــې و دانـــا وتـــه معلـــوم دی
دا خېمــــه ولاړه نــــه ده بــــې تنــــاب

***

ګل ته چــا دا هســې زېــب او حســـن ورکــړ
چا یـې هسـې نــه پـه نــه پـاڼې پرانسـتې

خو د ماوراى طبعيـت يـا مـا بعـدالطبعيت د مشـاهدې لپـاره مجاهدې ته ضرورت دى، لکه چې خان وايي:

همېشه ژوندون که غواړې درته وايم

همېـــــشه کوه له نفس ســره جهاد

خوشال بابا بيا د خداى پېژندنې په فلسفه کې دومره خپل نظـر ژور ځغلولاى چې په هر څه کې يې د خداى(ج) د نور ننداره کوله او په هر څه کې يې هغه ليده.

په هر څه کې ننداره د هغه مخ کړم

چې له دېرې پيدا يېه ناپديد شو

حمزه بابا د خوشال بابا پر همدغه يوه بيت، يو کتاب ليکلى او د هغه دا شعر يې له فلسفي او تصوفي نظره څېړلــى او شــنلى دى. ددې خبرې مانا داده چې خوشال دومره ژور فلسفي او تصوفي ليد لري چې پر يوه بيت يې هم يو کتاب ليکل کېدلاى شي.

# کره کتونکی خوشال

لکه څنګه چې مو یادونه وکړه، د خوشال بابا ژور او تېـز نظـر د ژوند هره خوا او د هنر بېلابېل ډګرونه په خپل کلام کې رانغـاړلي دي، داسې يې کره کتنه، نیوکه او بیا د سمون لاره هم له یاده نــه دي ایستلې. خوشال بابا لکه څنګه چې د پښتو ژبې او ادب پــلار ګڼل کېږي، داسې په علمي، ټولنیز، ادبي او سیاسي ډګر کې هم یو ستر او ژور کره کتونکی دی.

له یوې هنري ښکارندې (شعر) څخه رانیولې بیا تر یــوې لــوړې ټولنیزې پېښې او عمل پورې چې هر یو دده په نظر نیمګړی معلوم شوی، هغو ته يې د انتقاد ګوته نیولې او بیا يې د سمون لاره هــم ورپه ګوته کړې ده.

خوشال بابا یو زړور کره کتونکی و، نه يې د چا مدح کوله او نــه يې ځانستاینې ته اړتیا لرله، خوشال له فکري، اقتصادي او ټولنیز پلوه په داسې یو دریځ کې و، چــې د ســالم انتقــاد لپــاره یــې وړ صفتونه او ظرفیتونه لرل، نو ځکه خو ده له خپل ځانه نیــولې تــر خپلو اولادونو، کورنۍ، قبیلې او ټولو پښتنو پورې څه شی چې په کې د انتقاد وړ وو هغه يې څرګند کړي او نیوکه یــې پــرې کــړې، همداسې يې په ادبي او سیاسي برخه کې د سمون او اصلاح لپاره ډېرې نیوکې کړې دي. د خوشال بابا د نیوکې محتوا ځکه پر خلکو

ښه لګېږي چې حقیقتونه څرګندوي او د رښتیاینې پر بنسټ ولاړه ده.

بابا دومره اخلاقي جرئت لري، چې که په ځان کې یې هم نیمګړتیا وي هغه نه پټوي او په ډاګه یې وايي:

د مغول نمک مې وخوړ شپږ پېړۍ
ما د زرو پکې روغې کړې بیړۍ
رعیت مې یوسفزیه درست ختک وو
په عزت او په حرمت کې یې څه شک و
د مغول لپاره ما توري وهلې
پښتنو به راته کړې ډېرې کنځلې

یادا چې:

چې منصب مې د مغول خوړ یو ملک وم
چې منصب دمغول نه شته اوس ملک یم

خوشال بابا بیا په دویم ګام کې پر خپلو ځینو زامنو او د کورنۍ پر غړو چې دده پر وړاندې په ناحقه راولاړ شوي او یا یې نافرماني کړې او یا هم د خپل ولس پرضد ودرېدلي، سخت انتقادونه کړي او د هغو شخصیتونه یې څېړلي، شنلي او څېرې یې ورته څرګندې کړې دي:

نـــا خلـــف مـــې حوالـــه کـــړ پـــه تقـــدیر
نصـــیحت وربانـــدې نـــه کانـــدي تـــاثیر
خوی خصلت چــې ازلــي وي نــه نــورکېږي
پــه ارشـــاد او پـــه تلقـــین د کامـــل پیـــر
بد فرزند دې خدای د هېچـا پیـدا نـه کـا
په خصلت یې پلار په ځان دی مور پـه ویـر

یا دا چې:

زمـــا زویـــه د ننـــګ نـــه دي غړیتـــار دي
پرې پـوهېږم چــې همــه واړه مــردار دي
نه یې لویه اندېښنه نه یې لوی کـار شـته
د مغولـــــو وطبـــــاخ وتـــــه تیـــــار دي
د منصـــب د اضـــافو خبـــرې کانـــدي
په عـزت، پـه حرمـت کلـه خبـردار دي
اتفـــاق، یګـــانګي یـــې ســـره نـــه شـــته
همګـــي روان پـــه ببلـــه ببلـــه لار دي
نه د نوم دي نـه د شـرم نـه د ننـګ دي
اندېښـنې یـې د نـاکس، د ناسـردار دي
شـــکایت لـــه نـــورو مـــه کـــوه خوشـــاله
چې خپل زویه هم په ننګ له تـا ویـزار دي.

***

چــــې پیـــدا دي همګـــــي زمــــا لــــه ځانـــه
که پنځوس دي کــه شــپېته دي داغ د زړه دي

***

یـــــو و پـــــلار نیکــــه تــــه نـــــه شــــو
همګــــــــــي د مــــــــور پــــــــه شــــــان

***

اشــرف ســر تــر ســره نفــس امــاره دی
پــه حســـد پــه حماقــت کـــې اواره دی

***

د مــــــور پــــــلار نیکــــه تــــه نـــــه دي
دا نــــــــاکس دي لابـــــــــل شـــــــــان
پــــه ژونـــدون مـــې خپـــل ځـــای ورکـــړ
بانـــــــــدې زه شـــــــــوم مهربـــــــــان

***

یو خو لا په کــې افــت شــول تــر دا میانــه
څوک ((بهرام)) غوندې بدبخت بخیل شـــي

***

چـــې هـــېڅ کــار نیــولی نــه شــي اســتوار
په شامت یې خېلخانــه شـــي تــار پــه تــار

ځوک ((سدو)) غوندې نامراد عبدالزوجه شـــي
پــه تنګســـه لــه خپلــه پــلاره شـــي ویـــزار
ځوک ((مالو)) غوندې((جلو))غوندې پیداشـــي
سراســـــــر واړه نـــــابود او نـــــا بکـــــار

***

مـــرګ د نـــا اهلـــو ســـبا بېګـــاه غـــواړم
دعـــــــا مـــــــې داده الله غـــــــواړم
زمـــا توبـــه ده د بهـــــرام لــــه خیـــره
دده لـــــه شــــره امـــــان پنـــــاه غـــــواړم

***

زمـــا زړه لـــه چـــا نـــه روغ نـــه دی بهرامـــه
د هرچـــا ســـره مـــې زیســـت دی لـــه ناکامـــه
نور دې نوم زما په زویو کـــې حســـاب مـــه شـــه
د خوشـــــال ختـــک وینـــا پـــــه دا تمامـــــه

***

چې پــه ځــای یــې نــا قابــل زویــه خــاني کــا
د خوشـــــال خـــــاطر پــــه دا پـــاره پـــاره دی

لکه څنګه چې خوشال خان پر خپل ځان او هم پر خپلو زامنـو نیوکه کوي او نیمګړتیاوې یې رابرخېره کوي داسې پر خپلې قبیلې

(ختېکو) هم نيوکې او انتقادونه لري او د هغو له ځينــو عملونــو او نيمګړتياوو څخه هم ناخوښي څرګندوي.

له ختېکــو نــه مــې هــومره زړه نــاخوښ دی
چـــې توبـــه دهمګـــي ختېـــک لـــه نامـــه
د نعمـــت پـــه قـــدر هـــېڅ خبـــردار نـــه دي
نوم ختېک به مې خــلاص نــه وي لــه انعامــه
ختېـــک واړه د دودام دي کـــه يـــې ګـــورې
څوک بــه څــه غــواړي د خپلــو لــه دودامــه
د وفـــا پـــه ځـــای همـــه واړه جفـــا ده
چـــې بــه ماتــه رســېده لــه خپلــه قامــه
که په توره ختېک خپل کړې ګڼې خپــل شــي
کنه هېڅ به يې خپــل نــه کــړې لــه اکرامــه

***

چــــې زمــــا اختيــــار يــــې خــــوار کــــړ
خــــدای دې خــــوار هغــــه ختېــــک کــــا

***

درســــــت ختېــــــک زمــــــا پــــــه دور
نــــــــامور شــــــــو پــــــــه دوران
کــــــه ختېــــک پــــه مځکــــه پــــروت و
پــــاس مــــې يــــوور پــــه اســــمان

***

تفحــص کــه څــوک د خــوږ زړونــو کانــدي
د خپل قام له لاسه ورک خوشال ختــک دی

خوشال بابا د ختکو تر انتقادي دايرې او نيوکې وروسته، پښتانه په خپله انتقادي دايره کې داخل کړي او هغه نيمګړتياوې چې پــه پښتنو کې دي هغه يې يوه يوه څېړلې ده. پــه پښــتنو کــې بــه د خوشال بابا غوندې هېڅ داسې بل لوی ليکوال تر سترګو نه شي، چې د بابا په څېر د پښتنو پر رواني چلند او ټولنيز ژوند بلد وي او هغو ته يې په خپلو اثارو کې په دې کچه ځای ورکړی وي. خوشال بابا د خپل فطري بغاوت او ژور فکر له مخې د پښتنو نيمګړتياوې هم څېړلي او نيوکې يې پرې کړي دي. د خوشال بابا اثار د پښتنو د ژوند هنداري دي، چې د هغوی ښېګڼې او بدګڼې ټولې په کې په ښه روښانه ډول څرګندېږي:

لېــوني شــول پښــتانه پــه منصــبونو
خدايــه مــا ژغــورې لــه هســې غضــبونو

***

پښــتانه لکــه مګــس وربانــدې ګرځــي
ورتــه ايښــی دی مغــل د حلــوا تــال

***

شــــرم دی ننــــګ دی کـــه ډار د ســــر دی
ســـمه مـــې پرېښـــوه ځـــای مـــې غـــر دی
پښـــــتانه واړه دمغـــــول شــــوروا خــــوري
ماتــــه يــــې پـــاتې دا شــــور و شــــر دی

***

پښـــتانه پـــه عقـــل پوهـــه څـــه نـــاکس دي
کوتـــه ســــپي دقصــــابانو د جــــوس دي
اوښ له بــاره پــه ولجــه پــه کــور ورغلــی
پـــه ولجـــه د اوښ د غـــاړې د جـــرس دي

***

درست جهــان پــه ناپوهــانو ســره ډک دی
ولـــې زيـــات کـــه پکـــې وګـــورې افغـــان دی

***

که رښـــتيا وايـــم شېرشـــاه دا هســـې نـــه و
لکـــه مـــوږ يـــو نـــن پيـــدا لـــه کوهســـتانه
پښتانه چې بې ننګي کا څوک يـــې څـــه کـــا
ګورســــتان لــــره بــــه درومــــو لــــه ارمانــــه

***

که په نور خلکو کې ښه سړي موندل شـــي
ولـــې ښـــه ســـړي بـــه لـــږ وي افغانـــان

هــــره چــــار د پښــــتانه ترمغـــل ښــــه ده
اتفـــاق ورســــره نــــه شــــته ډېــــر ارمـــان
د بهلــــــول او د شېرشـــــــاه خبـــــرې اورم
چې پــه هنــد کــې پښــتانه وو بادشــاهان
شپږ او اووه پیړۍ یې هســې بادشــاهي وه
چې په دوی پورې درست خلک وو حیــران
یا هغه پښــتانه نــور وو دا څــه نــور شــول
یا دخدای دی اوس دا هسې شــان فرمــان
کــــه توفیــــق د اتفـــــاق پښــــتانه مــــومي
زوړ خوشال به دوبــاره شــي پــه دا ځــوان

***

پښـــــــتانه د ادم زاد لـــــــه زاده نـــــــه دي
د عفریت دی کـــه د دیـــو دي کـــه د دد دي

خوشال بابا د پښتنو ترڅنګ مغول هم د خپل انتقاد په دایره کې شامل کړي دي. د خوشال بابا د ژوند او مبارزې یوه زیاته برخه له مغولو سره په دوستۍ اودښمنۍ کې تېره شوې ده. لکه څنګه چې بابا ته پښتانه معلوم وو، داسې ورته مغول هم ښه معلــوم وو. نــو ځکه خو یې د هغوی ظلمونو، بدو عملونو او نورو نیمګړتیاوو ته هم نغوته کړې او انتقادونه یې پرې کړي دي. مغول پاچا (اورنګزېــب)، چې د خوشال بابا د سیاسي مبارزې یو اړخ ورسره تړاو لري، د بابا

په کلام کې ډېر زيات ياد شوی او غندل شوی دی او همدارنګه نور مغول هم.

تفاوت د خپــل پــردي وربانــدې نــه شــته
که يې ګورې اورنګزېب بادشــاه ګمــراه دی
دا لاځه چــې هندوســتان تــوره تيــاره ده
پــه هــر ځــای دده د خويــه بويــه اه دی
د اورنــګ بادشــاه پــه دور ارام نــه شــته
چا ويــل چــې جهــان ځــای د ارامګــاه دی
که زينــت و تــه يــې ګــورې يــو يزيــد دی
کــه طاعــت وتــه يــې ګــورې اهــل الله دی

***

وخــت د اورنــګ شــاه دی د هر چا تسپې پــه لاس دي
خــدای(ج) ځينــې خبــر دی په اخلاص که پــه لباس دي

***

پلار يې پــه بنــد، ورور يــې بنــد بنــد کــړ
ځان يــې هــم شــيخ، هــم دانشــمند کــړ
اوس په غزا کې خپــل ځــان غــازي بــولي
په څو څو رنګ يې، خپل ځان څرګند کــړ

***

خانـــان یـــې واړه تـــلاوت خـــوان کـــړل
د هنـــد هنـــدوان یـــې دانشـــمندان کـــړل
وخت داورنګ دی عمل یې هېڅ نه شـــته
خو کتابونـــه یـــې پـــه عـــالم ګـــران کـــړل

***

ددې دور شیخان ډېـــر دي لـــور پـــه لـــور
اورنګزیـــب بادشـــاه د واړو دی انځـــور
په هغه چـــاړه قلـــم ســـازکا قـــرآن کښـــې
په هغه چـــاړه شـــهرګ پـــرې کـــا دروګـــر

***

نو ځکه خو خوشال بابا دداسې واکمن اطاعت نه کوي:

اطاعت د اولوالامر ځکه نه کړم

خلیفه د زمانې په زړه کافر دی

بابا د نورو مغولو په باب هم انتقادونه لري:

د هند په تخت چې عالمګیر کېناست

په خلکو کانې د اسمان پرېوت

بابا د مغولو پرضد په مبارزه لاس پورې کوي او د پښتنو د یووالي هیله کوي، چې ټول پښتانه باید له کندهار تر اټکه د ننګ په کـــار

کې پټ اوښکاره سره یو شي، چې د مغولو له ستم نه ځان خلاص کړي.

تول پښتون له کندهاره تر اټکه
سره یو د ننګ په کار پټ او اشکار

***

ناګهانې په دا ملک فساد بنیاد شو
د ما هم د تلافۍ کار را په یاد شو

***

نن د واړو پښتنو په ننګ ولاړ یم
دا چې هسې په هر در درنګ ولاړ یم
چې پښتون شوم په داهسې سپینه ږیره
نور مې خدای مه کړه مغول وایم په خیره

***

و مغول و ته به نن کړم اټک پوله
ملک به خلاص کړم د مغول له غاله غوله

خوشال بابا نه یوازې په ټولنیز ژوندانه کې د ټولنیزو نیمګړتیاوو نقاد دی او پر دغو برخو یې نیوکې کړي، بلکې پر هغه چا یې هم سختې نیوکې کړي، چې د ریا عبادت یې د خپل ژوند د اړتیاوو د خړوب وسیله ګرځولی او خلک پرې تېرباسي. خوشال تل دا ډول شیخان غندلي او له دې ډول ملایانو سره یې ورانه ده.

حقیقي سجده هغه ده چې د یار پــه لــور یــې کــړې
و کعبې ته چې ســجده شـــي دا ســجود دی مجــازي

***

هر چېرتــه چــې ګرځــې پــه لاحــول ورنــه تېرېــږه
سل بــلا پــه زړه کــې ســل دانــې تســپې پــه غــاړه

***

د ابلـــیس غونـــدې مکرونـــه یـــې پـــه زړه کـــې
پـــه فریـــب کـــې تـــر ابلیســـه لا مـــاهر دی

***

ډېــر دي چــې تــر تــا نــه، خپــل ځــان ملــک کــا
پـــه ښـــو خبـــرو، ځـــان پـــه فلـــک کـــا

نغـــوذ بـــالله، چـــې ښـــه یـــې ځیـــر کـــړې
شـــیطان تـــر ځـــان پـــورې، لکـــه کـــودک کـــا

***

پـــه خولـــه یـــې ذکـــر پـــه زړه کـــې نـــور فکـــر
فســـــــاد د دور دانــــــــا شـــــــیخان دي

***

چـــې د کنـــز د قـــدوري شـــي ځـــان مـــلا کـــا
هـــر حـــلال حـــرام پـــه ځـــان بانـــدې روا کـــا
نـــه د کنـــز پـــه دقیقـــو ځـــه خبـــر شـــوي
نـــه پـــه مـــخ د قـــدوري مبصـــر شـــوي
کتابونـــه پـــه ســـر کېـــږدي ځـــان مـــلا کـــا
پـــه هـــر کلـــي علـــت ګرځـــي ټګـــي غـــلا کـــا
کښـــي شـــرع پرېکـــوي پـــه رشـــوتونو
ځـــان قاضـــي کـــا پـــه غلـــط روایتونـــو
و هرچاتـــه مســـلې د ســـخاوت کـــا
خپلـــه خونـــه ډکـــوه بلـــه غـــارت کـــا
پـــه مســـجد راځـــي پنځـــه وختـــه اذان کـــا
چې ذکـات سرسـایه نـه وي مسـجد وران کـا
د میـــراث مالونـــه خـــوري لـــه ظالمـــانو
نـــوم پـــه ځـــان بانـــدې کېـــږدي د عالمـــانو
پـــه دا هســـې علـــم برنـــد کښـــي مـــلا یـــي
و عـــالم تـــه میـــراث خـــور د انبیـــا یـــې
نه یې کښل زده، نه لوسـتل زده، تـل ټګـل کـا
تعویذونـــه ورکـــوي پـــه دروغ کښـــل کـــا
په نـاروغ یـې خوښـي لا زیاتـه تـر روغ شـي
ځښت، تعویذ، دعا، هیکل کـې پـه دروغ شـي

لا رنځــــور غریـــب صـــحت نـــه وي مونـــدلای
چـــــې اخـــون وي اخیســـــتو تـــه ور نیـــولای
که په ورکړه کې څه درنګ څه خــو تعطیــل وي
په غوغا پــه شــور و شــر یــې قــال و قیــل وي
چـــــې دا زر هســـــې ناســـــازې کـــــا اغـــــازې
خپل مقصود مطلــوب حاصــل کــا پــه ناســازې
چې څوک ترس له خدایه نه کانــدي غلــول کــا
اس به پرېږدي زیــن بــه بانــدې پــه جاهــل کــا

***

مریـــــــدي پـــــه کـــــلا پـــــه نمبـــــره ده
کـــــه پیـــــري مریـــــدي دا ده مســـــخره ده
څوک پــه پیــر او پــه مرشــد څــه لــره ویــاړي
خپـــل مـــراد دې همګـــي لـــه علمـــه غـــواړي
شیخ په ګوټ کې ناست دی چې دنفس سره غــزا کــړم
چـــې شـــي تـــورو تـــه وړانـــدې غـــزا داده

***

په خوله کلیمه لولي نمونځ روژه کاندي کافر شـــته
دعــوې کــا د شــیخیه، تــر شــیطانه لا بتــر شــته
له کــوره لوټــه واخلــي، استنجا لــره روان شـــي
تقوی تر هسې حده، په ولجه یې وړي کــه زر شـــته

یوځــای الــوده نــه دی پــه دا هســـې درویشــانو
په دا دور که ګورئ دا ناپاک پــه هــر کشــور شــته
چې خاص د زمــانې دي حــال یــې دادی، نــور وګــړي
د غوا وو د خرو د کلي دی خــالي نــوم بانــدې بشــر شــته
چـــې حــال د پرهېزګــار و سراســر واړه دروغ شــو
رښتیا غواړي له چانه چیرتــه پــاتې دا هنــر شــته

***

شـــیخان چـــې هســـې اوږده نمونځونـــه کـــا
پـــه کـــې باغونـــه اســـونه جونـــه کـــا
په کې رنګین رنګین ګنډي وریښمین سکڼې
پـــه کـــې د ســـپینو د ســـرو ګنجونـــه کـــا

***

نمـــونځ، روژه چـــې د ریـــا دپـــاره کېـــږي
لـــه اســـمانه بـــه لعنـــت بانـــدې اورېـــږي

***

کتابونـــــه د اســـــمان د ځمکـــــې لـــــولي
پـــه عمـــل یـــې فـــرق د ځمکـــې د اســـمان دی
پـــه بـــاطن یـــې زړه ګومـــان ســـره تړلـــی
پـــه ظـــاهر ویـــل پـــه ژبـــه مســـلمان دی

پــه خبـــرو کـــې یـــې فـــیض مونـــده نـــه شـــي
مذبـــذب پـــه قـــول پـــه عهـــد پـــه پیمـــان دی
پـــه طاعـــت پـــه عبـــادت کـــې کـــه بلعـــم شـــي
پـــه اخـــر انـــس پـــه نغوتـــه بـــې ایمـــان دی
زه خوشـــــال ختـــک بنـــــده د هغـــــه چـــــایم
چـــې یـــې رو د زړه د خـــولې ســـره یکســـان دی.

***

تــل قــرآن د وړانــدې ایښــی قــرآن لــولي
ولــې هــېڅ عمــل یــې نــه وي پــه قــرآن

***

خوشال بابا د یو لوی مفکر او سالار ادیب په توګه، ادبي برخــې هم له نظره نه دي غورځولي، د خپلو لیکوالو ادبي نیمګړتیاوو تــه یې هم ګوته نیولې، آن پر داسې لیکوالو یې نیوکې کړې، چې تر ده وړاندې پرې چا د انتقاد جرئت نه شو کولای، خو ده د خپل فنــان ذهن او ژور لید له مخې د هغوی اثار وتلل او نیمګړتیاوو تــه یــې ګوته ونیوله.

تر بابا دمخه دېر لوی شخص چې مذهبي شهرت او اغېزیــې تــر لیکنو زیات و، هغه اخوند درویزه و چې چــا پــرې د انتقــاد کولــو جرئت نه شو کولای او هغه وخت په ټولنه کــې مطــرح شــخص او لیکوال و، خو خوشال بابا د هغه اثار وتلل او بیا یــې پــرې داســې نیوکه وکړه:

درویـــزه لـــه یـــوه لـــوري راپیداشـــو
په لږ علـم پـه دا ملـک کـې لـوی مـلا شـو
د روښـــان خیرالبیـــان یـــې ولیـــدلی
هغـــه هـــم مجهـــول بیـــان و ناســـپندلی
ده چې خوشې میدان بیا موند سخنګوی شـو
په ویل کې یـې چـې زړه و هسـې تـوی شـو
درویـزه چـې بیـان کـړی خپـل کتـاب دی
نـوم یـې مخـزن الاسـلام کـړی جنـاب دی
کـه یـوه مسـره پـه شـل بلـه پـه سـل ده
نامربوطـــه ناموزونـــه پـــه ویـــل ده
مسـلې لـس نظـم کـړي پـه پښـتو دی
درتـه څـه وایـم چـې څـه دي د ایسـتو دي

د اخوند درویزه د (مخزن) په باب زیاتوي چې دا یو مجهول او بې وزنه کتاب دی او هغه د عربي قصیدې بوصیري ترجمه ښیي.

هر هر بیت د قصیدې چـې در مرجـان دی
پـه پښـتو کـې تراوربشـو لا ارزان دی
قصـیده د بوصـیري ترجمـه کـړې
عربـي یـې تـر پښـتو مضـحک راوړې

***

مخزن مې د اخون چې تمامي په نظــر کښــېوت
په دې کې عروض نه شته نه یو بحر ما مونــدلی
یـــو کتـــاب دی درویـــزه ســـره جـــوړ کـــړی
د سوات خلک یــې لــه کــل علمــه مــوړ کــړی
نــا معقــول مجهــول بیــان پــه کــې بــې ځایــه
پــه کـــې بــد د حســـین وایـــه یزیـــد ســـتایه
پـــه حیـــرت بـــه واړو ګـــوتې وچیچلـــې
د اخـــون پـــه مخـــزن چـــاګوتې کښـــېولې.

خو هغه چا چې پوره او کره شعر ویلی، خوشال بیا هغه ســتایلی دی، لکه میرزا خان انصاري:

له چانه په پښتو کې ما میزان میندلی نه دی
میرزا په دا زبــان کــې ویــل کــړي دي تللــي

خوشال بابا په یوه قصیده کې د ځینو نورو شاعرانو ارزونه داسې کوي:

یو په حال او په ماضــي کــې داســې نــه و
چې ښکاره یــې د خبــرو راتــه خونــد کــړ
د میـــرزا دېـــوان مـــې ومنـــډه پـــه ګـــوډي
مسخره مې ارزانـــي خویشـــکی زمنـــد کـــړ
کــه دولــت و کــه واصــل و کــه دا نــور وو
پــه خبــرو مــې د هــر یــوه ریشــخند کــړ
کلمــې مــې ورتــه ســازې کــړې د قنــدو
د اوربشو په ډوډۍ چې به یې شـــخوند کـــړ

***

هـــر چـــې لاف وهـــي د شـــعر
نــــن پــــه دا دور دي ډېـــــر
خــدای دې نــه کـا چــې بــه وایــم
حــــال د دیــــو تبــــر و ببـــر
ځوک پـاوي ځــوک نـیم پـاوي دي
قلنـــدر پـــه کـــې نـــیم ســـېر
چـــې د مـــوږه پـــه حســـاب دي
هـــېڅ مـــې نـــه دی واصـــل هېـــر
بـــل دولـــت فقیـــر درې پـــاوه
نـــه تـــرې ځـــو سرشـــاهي ســـېر

***

د هغـــه شـــاعر دانـــې وشـــه پـــه ژبـــه
چـــې د شـــعر دردانـــې پلـــوري پـــه مـــال

***

د هغه شاعر مخ تور شه چـې پـه طبعـه
و هـــر در و هـــر دربـــار و تـــه ولاړ وي.

# ټولنپوه خوشال

خوشال نه یوازې د خپلې ټولنې یو فنان او هنرمند دی، بلکې د خپلې ټولنې او خپلو خلکو یو رنځپوه او اروا پوه هم دی. خوشال بابا د خوی، خصلت، فن او مسلک له مخې د ټولنې وګړي سره وېشلي، تللي او تجزیه کړي یې دي او په ټولنه کې یې د هر چا کار مشخص کړی دی.

خوشال بابا د یوه ټولنیز او سیاسي شخصیت په باب په خپل کتاب (دستارنامه) کې دقیق معلومات وړاندې کړي. د خوشال بابا په اند که څوک غواړي په ټولنه کې یو لوړ سیاسي او ټولنیز شخصیت د (دستار سړی) شي نو باید شل هنرونه او شل خصلتونه زده کړي، ده دا شل هنرونه او شل خصلتونه هر یو په خپله دستارنامه کې تشریح کړي دي. په شلو خصلتونو کې خوشال بابا د نارینه لپاره یو خصلت هم، شجاعت ضرور بولي او دا د (مرد) لپاره لازم ګڼي، ځکه خو نو په ټولنه کې دی د (مرد) او (نامرد) لپاره خاصې پولې ټاکي، چې د هغو له مخې یو بل سره توپیروي خوشال بابا وایي:

مـــرد بـــه نـــه شـــي په گفتار   ځـو پیـدار نـه کـړي کـردار
چې دي وکنځي مرد نه دی   کـــه لـــه تانـــه وي پـــه ډار
چې څه دی خو انتقـــام دی   د مردانـــو کـــار او بـــار
چې عـــزت ورځـــه نه وي   هغـــه مـــرد نـــه دی پـــه کـــار
هـــم مهـــره لـــره هـــم زهـــر   ښـــه مـــردان دي لکـــه مـــار
چې هـم تندر هم باران دي   تـــر هغـــو مردانـــو ځـــار
مرد بـــه غـم د خپل هنر کا   نـــه د زرو، نـــه دینـــار
مرد به غـم کـا د خـپل شرم   د عـــــزت، د اعتبـــــار
نـــامـرد فـخر پـه نسب کا   مـرد نـه مـور لـري، نـه پـلار

***

مـــرد هغـــه چـــې همـــت نـــاک برکتنـــاک
لـــه عالمـــه ســـره خـــوږ پـــه زیســـت و ژواک
مخ یې مخ، قول یـــې قـــول، عهـــد یـــې عهـــد
نـــه دروغ نـــه یـــې فریـــب نـــه تـــش تبـــاک
لږ ویـــل ډېـــر یـــې کـــول پـــه خاموشـــۍ کـــې
د غونچې غوندې خولـــه ډکـــه، ســـینه چـــاک
چـــې خبـــره د پســـتۍ د بلنـــدۍ شـــي
پـــه لـــویي لکـــه اســـمان پـــه پســـتۍ خـــاک
په تمکـــین کـــې لکـــه ســـبر، پـــه ســـخا کـــې
پـــه هـــر لـــور ځـــانګې رنګـــورې لکـــه تـــاک

لکــه ګــل شــګفته روی تــازه پــه بــاغ کــې
همېشـــه د ښـــو بلبلـــو پـــرې بلغـــاک
چې دا هســې ښــه ويـل کـا زه حيـران يـم
چـــې خوشـــال راوړ لـــه کومـــه دا ادراک

د مرد په باب بیا په نورو شعرونو کې وايي:

مـــرد بـــه غيـــور وي مـــرد بـــه صـــبور وي
هـــم بـــه پـــه عفـــو پـــه کـــرم مشـــهور وي
نـــامرد هغـــه دی پـــه حقيقـــت کـــې
چـــې دا ښـــو توکـــه يـــې لـــه دلـــه دور وي

***

کـــه د مردانـــو پـــه ديـــن ايـــين يـــې
نه بند په سره يــې نــه بنــد پــه ســپين يــې
که نــه دې تخــت شــته نــه دې افســر شــته
قيصـــر د روم يـــې فغفـــور د چـــين يـــې

***

ښـــو وانخلـــې لـــه غليمـــه انتقـــام
مرد نــه خــوب کــا نــه خــوراک کــا نــه ارام
چې د ننګ او د نــاموس انــدوه يــې نــه وي
د هغـــه ســـړي بـــه نـــه وي احتـــرام

چـــې د بـــل تـــر لاســـه ورغـــی د بـــل شـــو
مـــرد بـــه خپـــل لـــري د خپـــل فکـــر زمـــام

***

په جهان کې کـه مـردان دي هـم هغـه دي
چــــې و ســــختې تــــه ونیســــي ځانونــــه

***

واړه زړونـــه فراغـــت دي پـــه ښـــادۍ کـــې
چې پـه غـم کـې مردانـه شـي سـخا هغـه

***

له دې بیتونو ښخه معلومېږي چې دی هغه چاته په درانــه نظــر ګوري چې له ګفتار سره کردار هم ولري او د عمل جنبه یې ډېــره درنه وي، هغه څوک چې د چا سترګه تربښــه نــه ســوزي او خپــل انتقام په لوړه پیمانه نه شي اخیستلای، یایې د خپل فکر زمام په خپل لاس کې نه وي او پر پت او عزت باندې، د سر و مال ښندلو ته نه وي تیار، د ده د احترام وړ نه دی.

دی (مرد) له مار سره تشبیه کوي چې باید هم زهر ولري او هم د مهر موره، هم لکه داسمان وربښ، د رحمت بارانونه ورســره وي او هم اسماني تندر چې د سړي څواب په توره ورکړي او پــه ســختو حالاتو کې د صبر او متانت خاوند وي.

د اسمان په څېر لويي او بلندي او د ځمکې پــه شــان فروتنــي دواړه د يوه لوی شخصيت لپاره ضروري ګڼــي. پــر عهــد و قــول ټينګار، له چل ول او ټګۍ برګۍ نه ځان ساتل، د نارينه ژوند شعار بولي. که څوک د مردانو پر دين او ايين ټينګ وي، هغه تــه د روم قيصر او د چين فغفور وايي، د خوشال په نظر بريالی شخص بايد د تمکين او وقار خاوند وي.

د خان په ټولنيزو نظرياتو کې دا ټکی هم نظر ته ډېر راځي چــې دی د انسان فطري او طبيعي استعداد ته په ډېر اهميت قايــل دی او ذاتي استعداد د انسان په شخصيت جوړونه او ټولنيز ژوندانه په سمون کې ډېر موثر ګڼي. لکه چې په دې لاندې شعرونو کې وايي:

چــې بنيــادې پيــدا شــوی پــه نفــاق
د هغــه نــه طمــع مــه کــړه اتفــاق
چې وودلــې وي پــه ذات تــوره شــړۍ
ســپينول يــې و هرچاوتــه دي شــاق
د عسل سره يې خوره خوږه به نه شــي
مرغــونې چــې ترخــه دي پــه ميثــاق
که ((اخلاق ناصري)) پــه يــادو ووايــي
په اخلاق کې به ښه نه شي بــد اخــلاق

دغه راز د خوشال بابا په کلام کې په لسګونو ځایه داسې مسایل څېړل شوي چې د ټولنپوهنې له نظره د انسان شخصیت او ماهیت څېړي، د خوشال د اثارو په هېنداره کې زموږ د ټولنې انسان له هر پلوه ډېر ځلېږي او د هغه ښېګنې او بـدګنې پــه کــې لــه ورایــه ښکاري، نو له دې کبله خوشال ته زموږ د ټولنې یو وتلی ټولنپــوه ویلای شو.

# رنځپوه (طبیب) خوشال

په دارو کــې چــې ښــه نیــت وي
دارونـــــــه وي عبـــــــادت وي
عبــادت پــه روغ صــورت شـــي
ګنـــې کلـــه عبـــادت شـــي

خوشال بابا د علم او فن د نورو برخو په شان په طب او طبابــت کې هم لوی لاس درلود، د خپل وخت پر زیاتو طبي علومو خبر و، په طبي برخه کې یې زیاته مطالعه کړې وه. ځکه یې نو پــه خپــل کلام کې طب او طبابت ته هم زیات ځای ورکړی دی، ده هم په یو شمېر شعرونو او نثرونو کې دا موضوع څېړلې او هم یــې د (طــب نامه) په نامه یو مستقل منظوم اثر لیکلی دی. له طبنامې پرته په (فضل نامه) کې هم د طبي مسایلو په باب یــو شــمېر لارښــوونې شوې دي.

خوشال بابا په طبي برخه کې تر هر څه وړاندې د انسان لپاره د عقل او روغتیا د ساتنې لارښوونه کوي. د بابا په نظر کــه پــه یــو انسان کې عقل او صحت دواړه ښه وي، نو ډېره خوبي ورسره ده او که دا نه وي نو خوبي ورسره نه شته:

یـــو صـــحت بـــل عقـــل غـــواړه
تـــه پـــه دا کـــې خـــوبي غـــواړه
کـــــه دا دواړه توکـــــه نـــــه وي
نـــــوره هـــــره خـــــوبي ولاړه

پخوانیو حکیمانو او صوفیانو د روحاني قوت د پیـداکولو لپـاره درې شیان لازمي ګڼلي دي:

(کم ویل، کم خوړل او کم ویدېدل). خوشال بابا دا موضوع داسې یادوي:

ابـــدال پـــه دا څلـــور خویـــه ابـــدال دی
کـــم ویـــل کـــا کـــم د چـــا ســـره ګـــډون
کم ملاستی کا په خوراک کـا کمـه مینـه
په دا شان یې په عـالم کـې دی ژونـدون

اوبه د ژوند لوی نعمت دی چې بې له اوبو ژوند امکان نه لري، بابا د صحي اوبو په باب وايي:

کـــه اوبـــه وي د بـــاران یـــا د چینـــې
د کـــوهي اوبـــه ضـــرر دی د بشـــر
ښې سړې خوړې اوبه د سـړي ځـان دی
ولـــې تـــود طعـــام ســـړې اوبـــه ضـــرر

چې تودې اوبه څوک څښي غارمه وهلــي
پرې نقصان د اشــتها شــي رنــګ اصــغر

د خوراک په باب وايي:

څو چې ډېر طلبګار نه شې طعام مه خــوره
هر زمان په شخوند کې مه شه لکــه ســتور
***
ډوډۍ غنمينــــــه وي کــــــه اوربشــــــينه
پـــــه وخــــت د لــــوږې خــــوړه لګينــــه
مــــوږ د نبــــاتو حلــــوا تــــه نــــه ګــــوري
هوښــــيار بــــه پــــوه شــــي پــــه دا رازونــــه

خوشال بابا د سړي ځواک او د ملا د پياوړتيا لپاره نصيحت کوي او د زياتې کوروالۍ نه کولو ته سړی رابولي، دخوشال بابا په نظـر ((د صحت په کار کې ډېر فکر بايده وي)).

دا د مــــلا اوبــــه يــــې واړه در ګــــوهر دي
کــــه ســــړی يــــې شــــي د قــــدر نــــه خبــــر
در ګوهر به هغه څــوک لــوني بــې ځايــه
چې په پوهــه کــې ابلــه وي ګېــدی خــر

خوشال بابا په دې بيتونو کې هر څه بيان کړي، خو ورسره يې د

علاج او درملنې لپاره هم لارښوونه کړې ده:

که قوت زیـاتوي تـل خــوره شــوده پــۍ
چـــې تـــر دانـــه دارو نشـــته معتبـــر
که یې مــومې اوړی ژمــی ګبینــه خــوره
خو په سود یې خبر مــه کــړه خپــل پــدر

خوشال بابا د انسان د بدن د زیاتو برخو او د هغه د زیاتو ناروغیو د علاج لپاره داسې لارې ښودلې دي، چې آن په نننی عصري طب کې هم ورڅخه ګټه اخیستل کېږي: خوشال بابـا اول دا نصــیحت کوي چې ناپوه طبیب ته مه ځئ، چې دارو یې خطر لري:

د طبیب دارو هاله خوره چې حاذق وي
د ناقص طبیب دارو لري خطر

د انسان د روحي ارامۍ لپاره وايي، چې سړی باید په باد او غبار کې ونه ګرځي، ښه هوا او خوشبویي کې وګرځي چې صحت ته ګټه لري:

ګرد، غبار، غارمه، چکړ هــوا بــد بویــه
رنـــځ علـــت وبـــا پیـــداکېږي اکثـــر

خوشبویي څو لګوې هــومره فایــده ده
تندرســـتي ده هـــم ســـنت د پیغمبـــر

اوسنی طب وايي، د هغو انسانانو لپاره چې وینه یې زیاته وي په کال کې باید یو مقدار وینه وباسي، دا کار یې صحت ته ګټه رسوي.
بابا وايي:

فصد سړي سره نافع دی
د هـــزار علت دافع دی

د سترګو د علاج لپاره وايي:

کـــه رانجـــه ســـړی تـــاوده کـــا
اطریفـــل ســـره یـــې اوبـــه کـــا
پـــه کـــې ډوب تـــاوده رانجـــه کـــا
اووه ځلـــــه دا رنـــــګ وکـــــا
پـــــه دارنـــــګ د ښـــــځې پـــــې
اووه ځلـــــه ډوب پـــــرې کـــــئ
بیـــا دې واړه ښـــه میـــده کـــا
پـــه لېمـــو دې یـــې ښـــه ســـیده کـــا
چـــې د ســـترګو ګـــوهر یـــې زحمـــت وي
نـــور بـــه دا رانجـــه صـــحت وي

د ټوخي دارو:

ښـــه پخـــه کرکنـــه ګـــوره
ځنـــــې زړی واخلـــــه وروره

هغـــه زړی ښـــه وریتـــه کـــړه
آس یـــې ګـــډ پـــه ګبینـــه کـــړه
د هـــــــر تـــــوخي دارو دا دي
چـــــې آســـــان دارو دي دا دي

د نس خوږي دارو:

ښـــــه دارو دي دا د ګېــــــډې
کـــه دې درد کېـــږي د ګېـــډې
انګـــزه ســـپیرکۍ چوکـــار هـــم
نمـک ســنګ واخلــه اشــخار هــم
ښـــه ثربـــه هلیلـــه ګـــوره
پوســـت یـــې واخلـــه زمـــا وروره
دا پینځـــــه توکـــــه همدمـــــه
ســــــره واړه دوه درمـــــــــه
اوبـــه واخلـــه ثلـــور ســـېره
پـــرې د ارو لمبـــه کـــړه تېـــره
ســـره واړه جوشـــیده کـــړه
نـــرم اور پســـې ســـیده کـــړه
چـــې نـــیم ســـېر اوبـــه شـــي پـــاتې
اوبـــه نـــه وي کمـــې زیـــاتې

بیــــا ور ګـــدې کـــړه شـــکرې
پـــه ناشـــتا بـــه یـــې ونغـــرې

د مثانې ډبرې دارو:

ســــــهاګه، چـــــوکر، کـــــور زړي
لــــه تـــودو اوبـــو چـــې نغـــړي
که څلوېښــت ورځــې څــوک وخــوري
رنـــــځ د ســـــنګ مثــــانې وړي

په طب نامه کې همدارنګه د سترګو د ځینــو نــاروغیو، د ګنــده دانو، بواسیرو، اشتها، جلابو، د وجو د بادو، سردرد او ځینو نــورو ناروغیو په باب هم معلومات، علاج او لارښوونې راغلي دي.

# سیاستپوه خوشال

د خوشال بابا د ژوند یوه زیاته برخه په سیاسي مبــارزه، کــار او زیار تېره شوې ده. خوشال خان که خاني کولــه، کــه ملکــي، کــه جاګیرداري او یا هم قومي مشرتوب، نــو پــه ټولــو کــې سیاســت نغښتی و، خوشال بابا د ژوند د ډګر عملي سیاســتوال هــم و او د خپلې عملي او ذهني پوهې او تجربې له مخې سیاستپوه هم و.

ځکه خو په سیاسي علومو او پوهنو کې د خوشال تجربه او نظر د زیاتې تاییدونې وړ دی. خوشال چې د خپل ژوند په (۱۴) کلنــۍ کې له خپل پلار سره یوځای د خپلو رقیبانو پر ضد په جګړه کــې شریک شو، په حقیقت کې همدا دده د سیاسي ژوند پیلامه ګڼــل کېږي. د خوشال سیاسي مبارزې بیا آن دده د عمر تر پایه پــورې دوام وکړ، آن تر دې پورې چې ده وصیت وکړ؛ ما داسې ځای کــې ښخ کړئ چې د مغولو د اسونو ګرد زما پر قبر پرېنوزي. مانا دا چې له تنکي زلمیتوبه بیا تر بوډا توبه پورې د خوشال ژوند په سیاسي مبارزه او هلو ځلو کې تېر شو.

خوشال د خپلې سیاسي مبارزې په ترڅ کې له ډېرو ســختیو او کړاوونو سره هم مخامخ شوی او یو ځل یې څلور کلــن بنــد هــم ګاللی دی. خوشال د همدې څلور کلن بند په موده کې لــه خپــل

نبوغ نه ګټه واخیسته، د (دستار نامې) پر لیکلو یې پیل وکړ او په (۱۳) ورځو کې یې داسې یو جامع کتاب ولیکه چې د سیاست، ټولنیزو چارو او قومي مشرتوب لپاره ډېر معتبر اثر ګڼل کېږي.

خوشال خان په دې اثر کې د لومړي ځل لپاره د یو سیاستوال او قومي مشر د (دستار سړی) لپاره یو لړ اصول وټاکل، چې د هغو د پوره کولو له مخې یو څوک کولای شي د قوم مشر شي، سیاستوال شي او یا د دستار تړلو لایق وګڼل شي. د خوشال له نظره د دستار سړی باید دا شل هنرونه او شل خصلتونه ولري:

اول هنر د ځان د معرفت:

دویم هنر د علم چې کسب کمال باله شي.

درېیم هنر د خط چې لازم ملزوم د کسب کمال دی.

څلورم هنر دشعر چې پیرو د علم دی.

پنځم هنر د تیراندازۍ دی.

شپږم هنر د اسپ تازۍ دی.

اووم هنر د ښکار دی.

اتم هنر د شجاعت دی.

نهم هنر د سخاوت دی.

یوولسم هنر د ازدواج د معاشرت دی.

دولسم هنر د اولاد د تربیت دی.

دیارلسم هنر د تادیب خدم و حشم دی.

څوارلسم هنر د اسباب معیشت دی.

پنځلسم هنر د زراعت د دهقانیت دی.

شپاړلسم هنر د تجارت دی.

اولسم هنر د تحقیق د نسب دی.

اتلسم هنر د ترد د شطرنج دی.

شلم هنر د تصویر د نقاش دی.

## او شل خصلتونه په دې ډول دي:

اول - خصلت دمشورت

دویم - خصلت دعزیمت

درېیم - خصلت د خاموشۍ

څلورم - خصلت د راستۍ

پنځم - خصلت د شرم و حیا

شپږم - خصلت د خلق نیکو و خلعت وخوشخویۍ

اووم - خصلت د مروت

اتم - خصلت د عفو او کرم

نهم - خصلت د تمیز

لسم - خصلت د عدل د انصاف

یوولسم - خصلت د توکل

دیارلسم - خصلت د خوف و د رجا

څوارلسم - خصلت دملک د انتظام

پنځلسم - خصلت د همت

شپاړلسم - خصلت دحلم

اوولسم - خصلت د غیرت

اتلسم - خصلت د عزم و احتیاط

نولسم - خصلت د طاعت د ورع

شلم - خصلت د استغفار [1]

خوشال بابا د یو سیاستوال لپاره پورتني هنرونه او خصلتونه لازم بولي. ددې هنرونو او خصلتونو په واسطه له ځاني ژونده نیولې بیا تر ټولنیز او هېوادني ژوند پورې ټولې چارې سمبالېږي. د خوشال په نظر یو واکمن یا سیاستوال باید پر دیني او دنیایي علومو دواړو پوه وي، چې د ملک د انتظام چارې سمبال کړي، که چېرې یو سیاستوال یوازې په دیني علومو پوه وي، نو د ملک ژوندنیو چارو ته به یې پام راکم شي او د ټولنې اقتصادي او د ژوند نور ډګرونه به وده ونه کړای شي او که چېرې یوازې دنیایي علوم یې زده وي، نو ټولنه به له دینه لرې شي او اخروي نړۍ ته به یې زیان ورسي، لنډه دا چې حاکم باید د ټولنې د ښه نظام لپاره دا

(1) د خوشال خټک دستارنامه، کابل چاپ، ۱۳٤۵ل کال.

دواړه علوم ياد کړي. د خوشال په نظر هغه چې ظاهري او باطني سیاست یا ديني او دنیایي علوم يې زده کړي دي، هغه د اسلام د څلورو خليفه ګانو په شان دي : (( هر چې ظاهري او باطني دواړه لري هغه په سيرت دي د خلفای اربعه رضوان الله علیهم اجمعين)).

خوشال بابا وايي، چې يو ملک د حاکم په سیاست ودان دی، که چېرې سیاست کمزوری وي او حاکم ناپوه وي، ملک خپله د کمزورۍ خواته ځي او ګډوډي رامنځته کېږي:

چې خالي شي د حاکم له سیاسته

هغه ملک په بلا ياد شي

خوشال خان د يو ملک د مشر لپاره دا تدابير لازم ګڼي، چې د ملک اقتصاد ته پام وکړي، پر خپل پوځ لاس راکاږي او خلک له اقتصادي پلوه ښه وساتي، که چېرې داسې ونه شي، نو ملک کې به ګډوډي راشي، پوځ به يې متلاشي او تيت و پرک شي، نو ځکه خو وايي:

هر بادشاه چې خزانه ورڅخه نه وي

عاقبت ورڅخه تار په تار لښکر دی

خوشال بابا د يو ملت يووالی او پيوستون د دولت د بقا ضامن بولي او کله چې نفاق رامنځته کېږي هغه سره بيا غربت او بدمرغي په خپله راځي.

دولتونه چې د خلکو په اتفاق دی
هغه به خوار شي چې په کې نفاق دی
دوه زړونه چې يو شي غر به هم پاره پاره کا
ځار تر يګانګۍ چې نعمتونه رابسکاره کا

خوشال خان دغه راز د يو مشر او سردار لپاره ځينې شرايط هم ټاکلي چې علم، دين او مېړنتوب هم په کې راځي ، خوشال بابا د يو قومي مشر او خان لپاره يو لړ نورې ځانګړنې هم ټاکلي، هغه وايي چې خان بايد د سيم و زر پروا ونه لري او يوازې د شرم و ننګ په فکر کې وي:

خاني کار د هر چا نه دی د هغه دی
چې صرفه يې نه په زر وي نه په سر
يکباره يې په نظر کې شرم ننګ وي
د دنيا په سود و زيان نه دی خبر

همدا صفت بیا د یو سردار او د هېواد د مشر لپـاره هـم غـوره بولي:

سردار هغه دی چــې شــرم ننــګ لــري
مــدام د شــرم تــوره تــر ځنــګ لــري
صرفه په زر نه کا صرفه په ســر نــه کــا
چې دشمنان وي له هغــو جنــګ لــري.

***

چـــــې صـــــرفه کانـــــدي پـــــه ســـــر
یـــــا صـــــرفه کانـــــدي پـــــه زر
نـــه بـــه خـــان نـــه بـــه ســـلطان شـــي
نـــــه بـــــه خپـــــل کانـــــدي کشـــــور
چـــــې پـــــه ځـــــان مړنـــــی نـــــه وي
مړنتـــــــوب نـــــــه کـــــــا لښـــــــکر

ددې ترځنګ خوشال بابا د سرداری لپاره د یو لړ نورو ځـانګړنو یادونه هم کوي:

ســـــردار د عفـــــوې د کـــــرم ښښـــــتن
د جنګ تر کاره په اشــتي مــین ښــه دی
ډېـــــر هنرونـــــه د مـــــرد داری دي
چې واړه تېر شــي تېــر مبــرهن ښــه دی

***

سـردارې لـره بويـه دا درې توكـه
يـو همـت دويمـه تـوره بـل اخـلاق

خوشال، د حاکم یا سلطان لپاره نور ډېر ډېر هنرونه هم لازم او ضرور بولي، وايي:

د ماركـه نـه وي پـه تـن كـې زهـر
سـردار كـه نـه لـري خنجـر د قهـر
دا دواړه توكـه زمـا پـه پوهـه
نه ياد پـه كلـي وي نـه يـاد پـه ښـهر[1]

د سیاست او مشرتوب په باب د بابا په کلام کې ډېرې نورې زیاتې څرګندونې هم شته، خو موږ دلته یوازې پر همدې لنډېز بسنه کوو.

---

[1] گل پاچا الفت، ننگیالی پښتون، پښتو ټولنه، ۱۳٤٥ ل کال، ۲۱مخ.

# لیکگر (خطاط) خوشال

خوشــال بابــا د خپلــو ګڼــو کمــالونو ترڅنــګ یــو ډېــر ښــه لیکګر(خطاط) هم و. خط د هغه وخت په هنرونو کې یو مهم هنــر ګڼل کېده. خوشال نه یوازې یو ښه خطاط و، بلکې د خط هنر پــر ارزښت او ماهیت هم ډېر ښه پوهېده. خوشال د یو سیاســتوال او سیاستپوه لپاره هم د خط او خطاطۍ هنر زده کول، لازم ګڼل، نــو ځکه خو یې د (دستار سړي) لپاره په شلو هنرونو او شلو خصلتونو کې د خطاطۍ هنر په درېیمه کټګورۍ کې راوړی او وایي: ((درېیم هنر د خط چې داخل د کسب کمال دی)).

خوشال بابا په دستارنامه کې د خط تعریف، ارزښت او د خطاطۍ فن په باب په زړه پورې او ژوره لیکنه کړې ده. د لیک ارزښت یــې په دې شان ځرګند کړی چې آن ډېرو ژېپوهان به هم ورته ګوته په غاښ شي، هغه وایي: (( علم او خط سره لازم او ملزوم دي. علم په مثال وحشي خط یې لکه کمند چې وحشي دی، پرې قید شي. دا هومره کتابونه به نه وو که خط نه وی، په حســاب، پــه کتــاب پــه سیاق به څوک پوهېدل که خط نه وی، د جهان کار سره ټــول پــه خط دی، لوی هنر دی، منزلت، مرتبت یې هم ډېر دی، قدر قیمــت یې تر حساب تېر دی، که یې دولتمند زده کا زېب و زینت دی، که یې درویش زده کا د درویش دولت دی.

الحق څو چې څوک وايي دا هنر لايق د هغه تعريف دی، کار يې پټ نه دی څرګند دی، ولې  حيف دا چې د هر چا په مصاحبت تن ورکا، لار نه ګوري، هر څوک يې چې په لاس واخلـي، نـور د هغـه شي، د هرچا يار دی:

درسته ښه يې ته دلداره　　　　يوه چار دې ده يکباره

چې و تا و ته نږدې شي　　　　نوره يې د هغه ياره

کور دده ودان شه، چې دده دمخه  څه ورانی ودانی پـه جهـان شي،  په هر چا چې دی دا تور مخ برابر کا، کيميا ګر دی، سيسـن يې زر کا. بې کامه وي هزار کـامراني ورکـا،  د ډېـرو پـه سـرتاج کېږدي، د ډېرو خاورې په سر کا، په دا سبب چـې دو زبـان دی. د جهان سرګرداني په ده، هر زمان يې سر په تېره تېغ واهه شي، چار پخپل سرکا، مراد و نامرادانو ورکـا، ځـان ګـداز رفيـق نـواز دی. جوانمردي ډېره، وفا يې تر حده تېره ده. دريغه چې د نا اهلـو پـه لاس کې نه وی،  په لاس د اهلو وی، دده د سر بلا په بد ذاتـو پـه سفله و په سهلو وی. [1]

خوشال په دستارنامه کې د خط هنر د ارزښت د څرګنـدولو پـه ترخ کې د هغه د زده کولو لارې چارې هم پـه ګوتـه کـوي او زده کوونکو ته يې د زده کړې لارې ښيي. وايي:

[1] خوشال خټک، دستارنامه، پښتو ټولنه، ١٣٤٥ل کال، ١٨-١٩مخونه.

(( زده کول د خط موقوف د کاتب په تعلیم دی، پخپل طور چې ښه خط ګوري، کښې طبیعي باله. دا هم کښل زده کا اما شنیده کی بود مانند دیده- چې کاتب خوش نویس ورته د خط قواعد ښیي اصلاح ورکوي هغه خط په قواعد زده شي او زر زده شي خوش نویسي هم هغه باله شي چې خط د استاد زده کا.

د قلم سازول برابر د کتې ګوتې تر بند تراشه بویه، شګاف دې برابر وي چې یو اړخ بل یې نری پېړ نه وي، د مشق قلم خو پېړ وي هومره ښه وي په محرف قلم زر خوش نویس شي.

محرف و نوک دار قلم و ته وایي. د خط مراد په مړوند دی چې مړوند قوت وشي، نور ګوتې په قلم و جوړېږي. د مړوند قوت بې غټه قلم نه شي چې قلم لک وي، ځینې حرف ورځنې ووځي قوت د مړوند کېږي. که مشق وړ ډېر حرف وي دې کټه لکه کټه ګوته هسې وي.

مشق په تخته بدفتین بویه. که په د نري قلم ډېر کښې خوش نویس به نه شي که په غټ قلم لږ کښې خوش نویس به شي، قلم چې روغ کا په نقطه دې وازمیي، که نقطه ترې ښه پرېوته او که نه بیا دې قط کا.

قلم تراش د قلم ډېره تېره بویه، هاله به ښه روغ شي ښه په قط شي نقطه به ترې ښه پرېوزي، دا کار واړه په چاړه تعلق لري.[1]

همداسې د سیاهي د جوړولو لپاره هم لارښوونې کوي.

---

[1] خوشال خان خټک، دستارنامه، پښتو ټولنه، ۱۳٤٥ل کال، ۲۰-۲۱مخونه.

خوشال بابا نه یوازې د خط د هنر یو لارښود او خطاط و، بلکې د یو ځانګړي خط موسس هم و، چې زنځیري نومېده، دا یو ډول ځانګړی لیک دی چې خپله د دوی د کورنۍ ترمنځ کارېده او بڼه یې داسې وه چې د تورو یو سر له بل سره نښلېده او همداسې زنځیري شکل یې نیوه، نو ځکه یې زنځیري باله. خوشال بابا د ((زنځیري)) په نامه یو اثر هم لري چې د حبیب الله رفیع په زیار خپور شوی دی.

د خوشال د فکر اوژوندانه د پورتنیو اړخونو ترڅنګ، چې مور ورته اشاره وکړه، سیاستوال خوشال، تېرپوه خوشال، ښکاري خوشال، اسلامپوه خوشال، اروا پوه خوشال، مارشال خوشال، ښوونپوه خوشال او داسې نور عنوانونه چې هر یو د بابا د ژوند او فکر یوه برخه رانغاړي هم د زیاتې شننې او څېړنې وړ وو، خو لکه څنګه چې د مخه مو یادونه کړې، بابا یو څو اړخیز شخصیت اود علم یو داسې بحر دی، چې هر څومره پکې مزل وکړو، بیا یې هم پای ته نه شو رسېدلای، ځکه خو مو پورتنیو څو برخو ته په لنډیز سره په اجمالي ډول اشاره وکړه.

# څلورم څپرکی
# پر خوشال بابا ځانګړي
# لیکل شوي کتابونه

خوشال بابا د نړۍ داسې یو ستر عظیم او لوی شاعر، عالم، اندیال، مبارز او څو اړخیز شخصیت و، چې که هر اړخ یې په ځانګړي او جلا ډول وڅېړل شي، نو په خپله یو بېل شخصیت، یو بل خوشال او له نورو نه یو بېل او متمایز خوشال مو تر سترګو کېږي. خوشال یو داسې قوم او ملت ته منسوب شخصیت دی، چې نه په کې د لیک لوست کچه ډېره لوړه ده، نه د خپرنیو رسنیو له مخې د نورو د سیالۍ جوګه دی، نه یې ژبه د نړیوالو ژبو په کتار کې ودرول شوې ده، آن تر دې چې په خپل ټاټوبي کې هم د خپلې ژبې له نعمت څخه بې برخې دی.

د نالوستۍ په وجه د ملت د ډېرو وګړو ذهني اړیکي د هغې له ویاړلې ماضي سره غوڅ شوي دي. پر دې تنګسیا سربېره پردی فرهنګي یرغل لا بل لامل دی چې، ان د لوستي پاړکي پر ذهن یې هم د پردیپالنې سیوری خپور کړی دی.

خو ددې ټولو لاملونو، تنګسیاوو او نیمګړتیاوو سره سره خپله د پښتنو افغانانو او پردیو له خوا پر خوشال بابا په لسګونو مستقل اثار او

اټکل تر (۲۰۰۰) عنوانو پـورې بېلابېلـې لیکنـې خپـرې شـوې دي. د لروبرو افغانانو هېڅ یوه داسې خپرونه او چاپپاڼه بـه نـه وي چـې پـه هغې کې دې د بابا یادون نه وي راغـلی. اکـثرو هغـو بهرنیـو خپرونـو چې پر افغانستان یا افغانانو یې لیکنې کړي، ضرور یـې د لـوی خـان یادونه هم کړې او د هغه له افکارو او اشعارو څخه اغېزمن شـوي هـم دي، یو شمېر بهرنیو ختیځپوهانو او نورو لیکوالو د بابا پـر اندوژونـد ډېرې په زړه پورې لیکنې کړي او مستقل اثـار یـې هـم خپـاره کـړي دي، ځینو د خپلې ماسترۍ او ډاکترۍ تیزسونه هم د بابا پر ژونـد او اثارو لیکلي دي. لنډه دا چې د بابا پر ژوند اثارو او شخصیت بانـدې د ټولو شویو لیکنو شمېر څو زرو عنوانو تـه رسـېږي، چـې د هغـو پـه باب تراوسه پورې د خوشال بابا څو کتابښودونه جوړ شوي او نورو ته هم اړتیا ده، خو موږ دلته یوازې هغه اثار معـرفي کـوو چـې د بابـا د ژوند، شخصیت او اثارو په باب لیکل شوي او پـه مسـتقل ډول چـاپ شوي دي، په دې اثارو کې یـا د اثـر ټولـه برخـه د بابـا اندوژونـد تـه ځانګړې شوې یا یې یوه برخه د هغه پر اند وژنـد متمرکـزه ده او بلـه برخه یې خپله د بابا کلام دی. لکه په انګریزي ژبه د بابا ژبـاړل شـوي شعرونه او بیا پر هغو تبصرې او شننې او یا د هغـه پېژندنـه. مـوږ دلتـه همدغه ډول مستقل او یا نیمه مستقل اثار معرفي کوو:

## ۱- خوشال خان خټک څه وایي؟

دا کتاب د استاد عبدالروف بېنوا له خوا لومړی ځل په هندوستان کې چاپ شوی دی. پر (۱۹۵۰ م) کال، په کابل کې د پښتو ټولنې له خوا بیا چاپ شو. کتاب (۱۵۸) مخونه لري او د خوشال د فکر وفن پر بېلابېلو اړخونو په کې بحث شوی دی.

## ۲- خوشال خان خټک او څو نور فرهنګيالي خټک:

د سر محقق عبدالله بختاني خدمتګار له خوا ليکل شوی. د خوشال بابا پر معرفۍ سربېره يې يو شمېر نور خټک شاعران او ليکوال هم معرفي کړي دي. دا کتاب (۳۷۲) مخه لري، خو تراوسه چاپ شوی نه دی.

## ۳- منتخبات خوشال خټک:

دا کتاب د سيد انورالحق له خوا ترتيب شوی او د خوشال بابا د کلام غوره چانړ په کې شوی دی، ددې کتاب اردو ترجمه هم شوې ده او په جلا ډول چاپ شوې ده. دا کتاب ۳٦۱ مخه لري او پر ۱۹۵٦م کال د پېښور پښتو اکيډمۍ له خوا چاپ شوی دی. په کتاب کې د بابا له کلام نه علاوه د هغه د ژوند حالات هم بيان شوي دي.

## ٤- د تورې او قلم خاوند:

دا کتاب محمد نواز خټک ترتيب کړی، په دې کتاب کې ټول هغه مضامين راټول شوي چې د خان علين مکان ( خوشال بابا) پر زيارت باندې د يوې لويې او درنې غونډې په ترڅ کې اورول شوي وو. دا کتاب اداره اشاعت سرحد پېښور پر (۱۹٦۱م) کال چاپ کړی دی. کتاب ټول (۱۸۰) مخه لري.

## ۵- خوشال او پسرلی:

د خوشال بابا د پسرلنيو شعرونو يو غوره چانړ دی، چې پر (۱۹۵۸م) کال په کابل کې د پښتون غږ مجلې له خوا په (۳٦) مخونو کې چاپ شوی او غ. نوري پرې يوه سريزه کښلې ده.

## ٦- ننگیالی پښتون:

پر (١٩٢٦م) کال په کابل کې د بابا په باب یو نړیوال سیمینار جوړ شوی و، ددې سیمینار مقالې د (ننگیالي پښتون) په نامه په (٣٣٠) مخونو کې د یوه ځانگړي کتاب په بڼه چاپ شوې دي.

## ٧- توریالی پښتون:

دا هم په کابل کې د بابا په باب پر (١٩٧١م) کال د شوي سیمینار د لیکنو ټولگه ده، چې په کتابي بڼه په (٢٨٨) مخونو کې په کابل کې چاپ شوې ده.

## ٨- د خوشال خان خټک یوشعر:

په هر څه کې ننداره د هغه مخ کړم
چې له ډېرې پیداییه نه ناپدید شو

د بابا پر همدې یوه بیت باندې حمزه شینواري یو تحلیلي کتاب لیکلی او پر (١٩٧١م) کال په لاهور کې د شاهین چاپخونې له خوا چاپ شوی دی، چې (١٨٤) مخه لري.

## ٩- ارمغان خوشال:

میا سیدرسول رسا دا کتاب ترتیب کړی، د خوشال بابا د کلام انتخاب دی چې غزلې، قصیدې، رباعیات، قطعې، بازنامه، سواتنامه، فضلنامه او نور په کې شامل دي، دا کتاب پر (١٩٦٤م) کال په پېښور کې د یونیورسټي بک ایجنسي له خوا چاپ شوی دی. (١٠٣٣) مخه لري او د مرحوم رسا (١٤٤) مخه سریزه هم ورسره مله ده.

## ۱۰- ملي قهرمان:

استاد گل پاچا الفت ترتيب کړی او پر (۱۹٦٥م) کال په کابل کې د پوهنې په چاپخونه کې چاپ شوی دی. (۱۱٤) مخه لري په کتاب کې لومړی د خوشال بابا په باب د بېلابېلو پوهانو نظريې راټولې شوي، ورپسې د خوشال بابا پر نظرياتو (عشق، چلند او ښکار پوهنه) بحث شوی او هم د هغه د کلام بېلگې راوړل شوي دي.

## ۱۱- خوشال خان خټک او دده ادبي مکتب:

دا کتاب دوکتور عارف عثمانوف ترتيب کړی او پر ۱۹۸۲م کال په دولتي چاپخونه کې د افغانستان د علومو اکاډمۍ له خوا چاپ شوی دی. (۲۱٤) مخونه لري، کتاب درې څپرکي لري په لومړي څپرکي کې يې د شپاړلسمې او اولسمې پېړۍ د پښتو ادب تاريخ جاج اخيستل شوی، په دويم څپرکي کې د خټکو د اصل، نسب، قبيلې د خوشال ژونددود او د خوشال د فن په هکله خبرې شوي دي. په درېيم څپرکي کې د خوشال د ادبي ښوونځي او د کتاب د اخځونو يادونه راغلې ده.

## ۱۲- پښتو – خوشال نمبر:

دا د هغه سيمينار د ليکنو او نظمونو ټولگه ده، چې پر (۱۹۷۱م) کال د پښتو اکاډمۍ پېښور له خوا شوی و، دا ټولگه (۸۸) مخه لري.

## ۱۳- خوشال شناسي:

دا هم د ليکنو يوه ټولگه ده، چې د تاج سعيد او زيتون بانو له خوا پر (۱۹۸۰م) کال په کتابي بڼه ترتيب شوې او په (۱٥۹) مخونو کې په

شاهین برقي پریس کې چاپ شوې ده.

## ۱٤- خوشال کیست:

دا کتاب مېرمن معصومه عصمتي وردګ لیکلی او په هغه کې یې د بابا د ژوند او اثارو په باب معلومات وړاندې کړي، دا کتاب په کابل کې چاپ شوی دی.

## ۱۵- پښتو – خوشال نمبر:

دا د خوشال په باب د بېلابېلو لیکنو او نظمونو یوه لویه ټولګه ده چې د پښتو مجلې د (۱۹۸۰م) کال په مارچ- مې ګڼه کې د خوشال بابا د درې سووم تلین په درناوي، د پښتو اکیډمۍ پېښور له خوا په (٤۰۷) مخونو کې چاپ شوې ده.

## ۱٦- خوشال ریویو:

دا د خوشال رسیرچ سیل درې میاشتنۍ ګڼه ده، چې د خوشال د فکر و فن په باب لیکنې په کې چاپېږي، په لومړۍ ګڼه کې یې څلور ګڼې رانغاړل شوي او په (۲۷۱) مخونو کې چاپ شوې ده.

## ۱۷- خوشال ریویو:

د خوشال ریویو دویمه ګڼه کې هم دوه ګڼې راغلي دي. دا ګڼه پر (۱۹۸۵م) کال چاپ شوې او (۱۷۹) مخه لري.

## ۱۸- خوشال ریویو:

د خوشال ریویو درېیمه ګڼه کې دوه ګڼې رانغاړل شوي او پر (۱۹۸۵م) کال چاپ شوې دي، (۲۲۳) مخه لري.

## ۱۹- خوشال او جمالیات:

د ډاکتر اقبال نسیم خټک اثر دی چې پر (۱۹۸۳م) کال لیکل شوی دی، (٤٧٧) مخه لري. ډاکتر اقبال نسیم خټک ته په دې اثر د (پي ایچ ډي) ډگري ورکړل شوې ده. دا لیکنه دوه برخې لري، په لومړۍ برخه کې دجمالیاتو بنیادي مباحث او د جمال (ښکلا) په باب د خوشال د تصور په اړه معلومات وړاندې شوي دي، په دویمه برخه کې د خوشال د فن او نظریې او د هغه په کلام کې د شعري محاسنو په باب خبرې شوي دي.

## ۲۰- خوشال خان خټک او د هغه د کورنۍ علمي او ادبي خدمات:

شاه جهان دا اثر د ۱۹۸۳م کال په بهیر کې بشپړ کړی، (۳۰۷) مخه لري، خو تراوسه چاپ شوی نه دی.

## ۲۱- خوشال خان خټک بابای پشتو شاعري:

شاه جهان دا اثر ترتیب کړی او د خوشال ریسرچ سیل له خوا پر ۱۹۸۵م کال چاپ شوی دی. (۱٦۳) مخه لري، په دې کتاب کې د خوشال د ژوند او فن په باب معلومات راغلي دي.

## ۲۲- ښاغلی پښتون:

دا د هغو لیکنو او منظومو پېرزوینو ټولگه ده، چې د نوښار ادبي جرگې د (۱۹۳۸م) کال د جون پر میاشت د خوشال بابا د یاد ورځې په مناسبت اورول شوې وې او بیا د نواز خټک په هڅه او ترتیب د

(۱۹۳۸م) کال د اگست پر میاشت چاپ شوې ده، دا کتاب (۸۰) مخه لري.

## ۲۳- اباسین خوشال نمبر:

د اباسین مجلې د (۱۹۸۷ م) کال اپریل- می گڼه د خوشال بابا په باب لیکل شویو مقالو او لیکنو ته ځانگړې شوې، د (۲۱) تنو لیکوالو لیکنې او منظومې بېلگې په کې راغلي او په (۸۸) مخونو کې چاپ شوې ده.

## ۲۴- خوشال خان خټک دمطبوعاتو په هنداره کې:

په دوو ټوکو کې پر (۱۳۵۸ل) کال د کابل پوهنتون له خوا خپور شوی، په دې اثر کې هغه کتابونه او لیکنې معرفي شوي چې د بابا په اړه لیکل شوي دي. د خوشال بابا د کتابښودنو په لړ کې دا ډېر مهم کتاب دی، په لومړي ټوک کې يې چې (۲۱۲) مخه لري د خوشال په باب (۲۸٦) عنوانه مقالې او په دویم کې چې (۲۰٤) مخه لري، (۱۲۳) عنوانه مقالې او ځینې ځانگړي کتابونه معرفي شوي دي.

## ۲۵- گام پر گام له خوشال سره:

د استاد محمد اصف صمیم یو څېړنیز او تحلیلي اثر دی چې د خوشال بابا پر ژوند ژوره څېړنه کوي، دا کتاب پر (۱۳۷۸ل) کال د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې- جرمني له خوا په پېښور کې په (۱٦۰) مخونو کې د یو زر ټوکو په شمېر چاپ شوی دی. په دې کتاب کې خوشال او کتابونه، خوشال او شاعران، خوشال د ژبې ټوپک، خوشال او قرآن، گام پر گام له خوشال سره او یو شمېر نور مسایل څېړل شوي دي.

## ۲٦ -خوشال خان د مغلو په دربار او د ادب په ډګر کې:

دا د شیریندل ګردیوال مونوګراف دی، چې په دې کې د خوشال لنډه پېژندنه له مغولو سره اړیکي او ادبي کارنامې څېړل شـوي دي. دا اثر پر (۱۳۵۲ ل) کال لیکل شوی، خو تر اوسه لا چاپ شـوی نـه دی.

## ۲۷- خوشالخان خټک:

دا کتاب دو ست محمد کامل مومند د خان پـر ژونـد او کـلام، پـر (۱۹۵۱) م کال په اردو ژبه لـیکلی دی. (٤١٦) مخونـه لـري او (اداره اشاعت سرحد) پېښور، چاپ کړی دی.

## ۲۸- خوشال خان اور اقبال:

دا کتاب عبدالصمد خان په اردو ژبه لیکلی، دبابا پښـتو اشـعار هـم ورسره مله دي. پر (۱۹٤۰م) کال د پېښور منظور عام پـریس کتـابتون چـاپ کـړی دی، (۳۷٦)مخونـه لـري. لیکـوال پــه کــې ددې دواړو شاعرانو پرتلنه کړې ده.

## ۲۹- تعلیمات خوشال:

په دې نامه، میر عبدالصمد خان یو کتاب په اردو ژبـه کـې لـیکلی دی، دا کتاب د عکاس پرنټرز پېښور له خوا پـر (۱۹۷۸م) کـال چـاپ شوی دی، (۹٤) مخونه لري او د خوشالخان د کلام پر ځینو اړخونـو په کې څېړنه شوې ده.

## ۳۰- خوشال خټک کا مختصر تعارف:

دا کتـاب پورفیسـور پرېشـان خټـک پـه اردو ژبـه لـیکلی دی. د (۱۹۸۰م) کال د مارچ پر میاشت د اباسین ارټ کونسل پېښور له خـوا چاپ شوی دی، دې کتاب کې د خوشال پر فکر و فن خـبرې شـوې دي.

## ۳۱- پشتنو کا عظیم شاعر خوشال خان خټک:

دغه کتاب پروفیسور نعیم تقوي په اردو ژبه لیکلی دی. (۱۹۲) مخه لري او پر (۱۹۸۱م) کال په تجارتي پـریس نـاظم ابـاد کراچـۍ کـې چاپ شوی دی. په دې کتاب کې د خوشـال د ژونـد و فـن پـه بـاب خبرې شوي دي.

## ۳۲- پشتون کون؟

ښـاغلي پروفیسـور پرېشـان خټـک لـیکلی او پـر (۱۹۸٤ م) کـال د خوشال ریسرچ سیل له خوا چاپ شوی دی. ټول (٦٢٠) مخه لري او په اردو ژبه یې لیکلی دی، په دې اثر کې د پښـتنو د اصـل ونسـل پـه باب د بېلابېلو نظریو جاج اخیستل شوی او بیا د خوشال د ژوند پـه باب تفصیلي خبرې شوي دي.

## ۳۳- خوشالنامه:

دا د هغه سیمینار د لیکنو او نظمونو جونګ دی، چې پر (۱۹۸۰م) کال د خوشال بابا درې سووم تلین په درناوي په اباسین ارټ کونسل کـې جـوړ شـوی و، د امقـالې پـه اردو ژبـه دي، دا کتـاب پروفیسـور پرېشان خټک او خاطر غزنوي ترتیب کړی او (۲۸۰) مخه لري.

## ۳٤- د خوشال د کلام انګریزي ژباړه:

میجر راورټي د خوشال بابا سل غزلونه او نظمونه په انګریزي ژبه ژباړلي او خپاره کړي دي او تبصره یې پرې کړې ده.

## ۳۵- د خوشال خټک شعرونه:

اولف کیرو او یولن هاول دپویمزاف د خوشال خټک په نوم په انګریزي ژبه د خان د شپږویشتو غزلونو ژباړه کړې ده او خپل نظر یې پرې لیکلی دی، دا کتاب (۹۸) مخه لري او پښتو اکیډمي پېښور پوهنتون له خوا پر (۱۹٦۳م) کال چاپ شوی دی.

۳٦- دوست محمد کامل، اولف کیرو او یولن هاول دپویمزاف په شریک کوشش په انګرېزي ژبه یو اثر لیکلی، دې اثر کې د پویمزاف د خوشال خان خټک په باب خپله اختلافي څېړنه وړاندې کړې ده، دا کتاب پر (۱۹٦۸م) کال چاپ شوی ، (۱۵۷) مخه لري، د کتاب په سریزه کې د خوشال بابا پر ژوند وفن خبرې شوي دي.

## ۳۷- په ډنمارکي ژبه د خوشال بابا شعرونه:

د ډنمارک پادري جنیزانوالډسن د بابا اته ویشت غزلونه او نظمونه په ډنمارکي ژبه ژباړلي او دیو کتاب په بڼه یې خپاره کړي دي.

۳۸- په انګرېزي ژبه دخوشالخان خټک د کلام انتخاب دی چې غزلونه، قصیدې او نور په کې شامل دي، د سي-ای بډلف له خوا په انګریزي ژبه ژباړل شوي او د استفین او زامنو په اهتمام یې پر (۱۸۹۰م) کال په (۷٤) مخونو کې چاپ شوي دي.

## ۳۹- لايف اينډ ورکس اف خوشالخان خټک ( د خوشال خان ژوند او مبارزه):

دا يوه څېړنيزه ليکنه ده، چې د لاهور مېرمن خديجه فيروزالدين د خوشال پر ژوند وفن، د (۱۹٤۰م) کال په شاو خوا کې ليکلې ده اوبيا يې وروسته پرې له پنجاب پوهنتون څخه د دوکتورا درجه تر لاسه کړې ده.

دا ليکنه په انګريزي ژبه شوې وه، (٤٤٦) مخه لري، لومړنۍ برخه د خوشال له قوم او قبيلې، ژوند او جګړو او مړينې سره اړه لري او دويمه برخه يې د خوشال له اثارو او فن سره، دا ليکنه چاپ شوې نه ده، خو د خپل لومړيتوب او څرنګوالي له مخې ډېره ارزښتناکه ده. داسې ويل کېږي چې علامه اقبال مېرمن خديجې ته ددې ليکنې سپارښتنه کړې وه.

# پایله

څرنګه چې خوشال بابا یو عظیم او هر اړخیز شخصیت دی او دده ژوند او اند د هر اړخ څېړنه ډېر کار و زیار ته اړتیا لري، پــه لنــډو څېړنو کې د هغه د ټول ژوند او فکر څېړل خورا ګران کار دی.
ما چې کله د بابا د اندو ژوند پر څېړنې پیل وکړ، نو دا راته لا زیاته څرګنده شوه، چې بابا د پوهې او هنر یو بحر دی، لیکــوال یــوازې دومره کولای شي چې ددې بحر پر یوې خوا یا یوې څپــې خبــرې وکړي او دزیاتو موضوعګانو له څېړنې او شننې تېر شي، هغه څــه چې په دې اثر کې ما انتخاب کړي وو، هغه مــې هــم پــه لنــډ او اجمالي ډول وڅېړل، ځکه ددې هرې موضوع پــوره څېــړل د یــو ځانګړي اثر د لیکلو غوښتنه کوي. زما په دې لیکنه او هڅه کې به ډېرې نیمګړتیاوې وي او دبابا حق به مې نه وي ادا کړی. خو زما دا لیکنه لږ تر لږه دبابا له اند و ژوند سره د یوې ژورې مینې نښه او د خوشالپوهنې په برخه کې د نورو څېړنو او پلټنو لپاره یوه هڅه او هیله ده.
خدای (ج) دې وکړي هغه څوک چې دا اثر لولي، د خوشال بابا په باب د معلوماتو په برخه کې ورته ګټور تمام شي.

په درناوي

پوهنیار محمد اسمعیل یون

۱۳۸۰ل کال، کابل

# اخځلیک


١- الفت، گل پاچا، ننگیالی پښتون،. پښتو ټولنه ١٣٤٥ ل کال.
٢- انوارالحق، پښتو مجله، مارچ-می گڼه پېښور ١٩٨٠ م کال.
٣- تسنیم گلاب، پښتو مجله پېښور،١٩٨٠م کال د مارچ-می گڼه.
٤- خټک،خوشال خان،کلیات،لومړی ټوک دعلومواکاډمي ١٣٥٨ل کال.
٥- خټک خوشال خان، دستارنامه، پښتو ټولنه ١٣٤٥ ل کال.
٦- خټک،اقبال نسیم،اباسین مجله پېښور ١٩٧٨م کال اپریل-می گڼه.
٧- روهي محمد صدیق، د خوشال کلیات، لومړی ټوک دافغانستان د علومو اکاډمي ١٣٥٨ ل کال.
٨- رښتین، صدیق الله، د خوشال خټک طبنامه،پښتوټولنه،١٣٤٥ل کال.
٩= رفیع حبیب الله، نسبنامه د خوشال خان خټک او افضل خان، لاهور ١٣٨٠ل کال.
١٠- رفیع،حبیب الله،دخوشال خان خټک خټکنامه، لاهور ١٣٨٠ل کال.
١١- رفیع،حبیب الله،دخوشال خان خټک وصیتنامه،لاهور ١٣٨٠ل کال.
١٢- رفیع،حبیب الله،دخوشال خان خټک هندکوهنامه،لاهور ١٣٨٠ل کال.
١٣- رسا، سید رسول ، ارمغان خوشال پېښور، ١٩٦٤م کال.
١٤- شینواری، حمزه، ننگیالی پښتون، پښتو ټولنه ١٣٤٥ ل کال.
١٥- صمیم، محمد اصف، گام پر گام له خوشال سره، د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه -جرمني، پېښور ١٣٧٨ ل کال.
١٦-عثمانوف، عارف، ننگیالی پښتون، پښتو ټولنه ١٣٤٥ ل کال.


Yoon Cultural Foundation
یون کولتوري یون
ا ب ت
ټ ج چ
پښتو لیکنی سمون
ځ د ډ
ړ ږ ژ
محمد اسمعیل یون
۱۳۸۷ل

# پښتو لیکنی سمون

## ( د پوهندوی علمي رتبې لپاره )

لیکوال

محمد اسمعیل یون

# بسم الله الرحمن الرحیم

## کتاب پېژندنه


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | پښتو لیکنی سمون |
| لیکوال: | محمد اسمعیل یون |
| خپرندوی: | یون کلتوري یون |
| چاپشمېر: | ۱۰۰۰ ټوکه |
| چاپکال: | ۱۳۸۷ل کال |
| د لیکوال | |
| پرله پسې نومره: | (۳۰) |
| د خپرندوی | |
| پرله پسې نومره: | ( ۳۰ ) |
| کمپوزر: | ضیاءالرحمن ضیاء |

# د لومړي چاپ سریزه

دا اثر مې له نن څخه یو کال د مخه (۱۳۸۲ل) کال په وروستیو کې بشپړ کړی و، ژوري هئیت زما د ترفیع لپاره ومانه. خو ما هغه وخت ځکه چاپ نه کړ، چې غوښتل مې تر علمي ترفیع وروسته یې یو ځل بیا وګورم او زیاتونې په کې وکړم او هم یې ځینو لیکوالو ملګرو ته د کره والي لپاره وړاندې کړم. د تېرو کلونو په بهیر کې که څه هم له ګڼو بوختیاوو سره مخامخ وم، خو د دې تېر یو یونیم کال په بهیر کې مې خپلو کلتوري کارونو ته تر هرڅه زیاته توجه وکړه. دا اثر مې یو ځل بیا وکوت او ځینو لیکوالو ملګرو ته مې د کتنې او کره کولو لپاره ورکړ، دا دی تر بیا کتنې او سمون وروسته یې د قدرمنو لوستونکو مخې ته بږدم، پوره باور دی چې تر چاپ وروسته به مو قدرمن لوستونکي لا کره والي ته وهڅوي او د وخت په تېرېدو سره به دا بهیر د پښتو لیکدود د لا سمون سبب شي.

د همدې بهیر د لا بري په هیله

محمد اسمعیل یون

۱۳۸۷ل کال د کب ۲۵مه نېټه

ارګ، د جمهوري ریاست ماڼۍ

# (( پښتو لیکنی سمون ))
# یوه په زړه پورې هڅه

د یوې ژبې د لیکدود سمون او د هغه د اصلاحي بهیر ارزونه د ژبې په پرمختګ کې کارنده ونډه لري. له نېکه مرغه پښتو لیکدود وخت پر وخت د زیات کره والي پر لوري ګامونه اخلي. د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګې استاد ښاغلي پوهنمل محمد اسمعیل یون یوې ډېرې ښې او ضروري موضوع ته پام شوی او د خپلې علمي تر فېع (پوهندوی رتبې) لپاره یې داسې یوه موضوع (پښتو لیکنی سمون) ټاکلې، چې ارزښت اوضرورت یې ډېر زیات دی. اوس چې زموږ په هېواد کې رسنۍ ډېرې زیاتې شوې، نو د لیکدود د یو والي او سمون په برخه کې هره نوې علمي هڅه بې له شکه چې ډېره ګټوره تمامېږي. ځکه که چاپي، تصویري او نورې رسنۍ پر خپل وخت له ښه، کره، پوره او معیاري لیکدود څخه کار وا نه خلي، نو ډېرې ژبنۍ ګډوډۍ او تېروتنې را منځته کېدلای شي. اکثره ګډوډي موږ د یوه ښه معیاري لیکدود په مرسته له منځه وړلای شو. پوهنمل محمد اسمعیل یون همدغه ضرورت ته متوجه شوی او داسې یو علمي اثر یې دا دی رامنځته کړی، چې زموږ د لیکدودي ستونزو ډېرو برخو ته ځواب ویلای شي. په دې اثر کې د اختلافي کلمو د سمون تاریخي بهیر هم په ګوته شوی او دنویو اختلافي کلمو د سمې لیکنې معیارونه هم په ګوته شوي دي، د

علمي ستونزو د حل لپاره د پښتو غږيزې الفبې چارټ هم راوړل شوی او د نورو نومونو د يو والي او سمې ليکنې لپاره هم ښه وړانديزونه شوي دي. د پښتو د انشايي سمون لپاره يې ليکنښې او پښتو سربلونه او اوستربلونه هم په تفصيل سره بيان کړي دي.

زه په داسې حال کې چې د پښتو ليکني سمون په بهير کې دا اثر يوه ښه په زړه پورې زياتونه گڼم او د ( پوهندوی) علمي ترفيع لپاره يې پوره او مناسب گڼم، دې سره هيله لرم، چې د ژبو او ادبياتو پوهنځي پښتو څانگه کې د يوه درسي يا مرستندوی درسي کتاب په توگه هم ورڅخه گټه واخيستل شي. دغه راز له ښاغلي يون څخه هيله کوم، چې د کتاب د ژر چاپ لپاره هم هڅې وکړي او تر چاپ د مخه د لوستونکو د معلوماتو د لا زياتوالي لپاره نورې بېلگې هم په کې راوړي او نورې هغه اختلافي کلمې هم وپلټي، چې لا اوس هم په ليکنۍ برخه کې په کې توپيرونه تر سترگو کېږي. زه يو ځل بيا ښاغلي پوهنمل محمداسمعيل يون ته د (پوهندوی) علمي رتبې لپاره د دې اثر د ليکلو له امله تبريکي وايم او له اړوندو مقامونو څخه هيله کوم، چې (د پښتو ليکني سمون) د ليکنې له امله نوموړي ته د (پوهندوی) علمي رتبه منظوره کړي.

د پښتو ليکني سمون د پراختيا او د پښتو ليکدود د لا کره والي او بشپړ يو والي په هيله.

په درنښت

پوهنوال محمد صابر خوبشکی

سریزه:

# د پښتو لیکني سمون ضرورت

په دې کې هېڅ شک نه شته، چې لیک تر ژبې ډېر وروسته را منځته شوی، جوړ شوی او په اصطلاح اختراع شوی دی. پوهان په دې نظر دي، چې لیک د بشري ژوند د پرمختګ مهمه وسیله او د بشر ستره لاسته راوړنه ده. ژبپوهانو لیک د ژبې مادي استر او یا هم انځوریز شکل ګڼلی دی. د نړۍ په پوهانو کې خوشالخان هغه ستر عالم دی، چې تر هرچا زیات د لیک ارزښت ته ځیر شوی دی. د خوشالخان په نظر که لیک نه وای د دنیا دا دومره علمونه او کتابونه به نه وو. خوشال په خپل مشهور سیاسي، روزنیز اوټولنیز اثر (دستارنامه) کې: علم د وحشي اسپ په شان بللی او خط یې د قیضې په شان، چې وحشي اسپ پرې رامولای شي، هغه خط درېیم هنر ګڼي، چې کسب او کمال پرې حاصلېږي. خوشال وایي: (( علم او خط سره لازم او ملزوم دي، علم په مثال وحشي دی، خط لکه کمند چې وحشي پرې قید شي، دا هومره کتابونه به نه وو که خط نه وی، په حساب په کتاب په سیاق به څوک پوهېدل که خط نه وی، د جهان کار سره ټول په خط دی، لوی هنر دی، منزلت، مرتبت یې هم ډېر دی، قدر

قیمت یې تر حساب تېر دی. که یې دولتمند زده کا زېب و زینت دی، که یې درویش زده کا د درویش دولت دی...)) [1] خوشال که څه هم په ساده مثالونو کې د لیك ارزښت او اړتیا بیان کړي، خو د مانا او محتوا د ژوروالي له مخې یې د لیك ارزښت په ښه ډول څرګند کړی دی. د نړۍ ګڼو ژبپوهانو د لیك بېلابېل تعریفونه کړي، خو کوم قوت چې د خوشال په تعریف کې شته، په نورو تعریفونو کې په دې کچه نه لیدل کېږي. د خوشال د تعریف له مخې د علم زېرمه او پانګه د لیك نتیجه ده. رښتیا هم که چېرې بشر لیك نه وای رامنځته کړی، نو بل پښت او راتلونکو نسلونو ته یې د تجربو او پوهې انتقال ناشونی و. د سړي علم خو د فولکور او ګړني ادب په شان هم نه دی، چې خوله په خوله او نسل په نسل یو بل ته انتقال شي. د فوکلور د لېږد مهم لامل دا دی چې هلته هنري قوت او تخیل ورسره ملګری وي او له کوم فشار پرته د خوند په زور انتقالېږي، په علم کې که څه هم زیاته ګټه متصوره ده، خو د خوند او لذت کچه په کې ډېره کمه ده. په حقیقت کې د نړۍ د تفکر او تخیل د تجربو اوږد زنځیر اوتسلسل (ګړني ادبیات) هم وروسته د همدې لیك په واسطه د مرګ له حتمي ګواښ څخه ژغورل شوي دي. پیداګوژستان (ښوونپوهان) په دې نظر دي، چې د علم زېرمه د الفاظو په پانګه

(۱) دستار نامه، خوشال خان خټك، پښتو ټولنه، کابل ۱۳۴۵ کال چاپ ، ۱۸ مخ.

کې نغښتې ده، یا په بله وینا د الفاظو کثرت د مانا پر ډېروالي دلالت کوي. د انسان په ژبه کې د الفاظو او کلمو د زېرمې او زیاتوالي ظرفیت هغه وخت زیات شو، چې ژبه د لیك په واسطه د زېرمه کېدو او خوندیتوب جوګه شوه. د لیك په واسطه نه یوازې دا چې پخوانۍ پانګه خوندي شوه، بلکې د دې پانګې د زیاتونې او غځونې اسانتیاوې هم برابرې شوې، ژبه د هوا له څپو څخه د یوه مقید او منسجم انتظام لوښي ته ولوېده او د انسان د اړتیاوو د خړوب لپاره یې د غځونې قابلیت پیدا کړ، خو لیك هم، داسې نه دی، چې پر یوه ورځ رامنځته، پیدا او غني شو، لیك هم د ژوند اوږده کلونه او مزلونه وهلي دي. د نړۍ ګڼ شمېر ژبې د څو بېلابېلو او یا هم د مختلفو لیکدودونو او لیکبڼو تر پړاوونو تېرې شوې دي.

پښتو لیك یا لیکدود د (میخي)، (ارامي)، (خروشتي) او (یوناني) لیکدودونو او یا لیکبڼو پړاوونه تېر کړي او تر اسلام وروسته یې عربي لیکبڼه خپله کړې ده. معمول عربي لیك یا الفبې چې ټول(۲۸) بېلابېل توري لري، د دې جوګه نه ده، چې ټول پښتو غږونه راونغاړي، یانې پښتو غږونه زیات او د عربي لیکدود توري (شکلونه) کم دي، د همدې کمښت د پوره کولو او د پښتو غږونو د سمې افادې لپاره پر پښتو (یا ګانو) سربېره اته داسې نور توري پر بېلابېلو وختونو د دې ژبې له (الفبې) سره یو

ځای شوي، چې تر ډېره حده یې د پښتو اوازونو د افادې چاره اسانه کړې ده. له هغه وخته چې پښتو په عربي لیکبڼې لیکل شوې، نو وخت پر وخت په کې بدلون راغلی دی. ویل کېږي چې په پښتو لیکدود کې لومړني بدلونونه د سلطان محمود غزنوي زمانې پورې اړه پیدا کوي، تر هغه وروسته پیرروښان د پښتو غږونو لپاره ځینې شکلونه وضع کړي، وروسته بیا خوشالخان د ((زنځیري)) لیکدود په نامه یو بل لیکدود جوړ کړی، چې د ده خپل او دده د کورنۍ ځینې اثار پرې لیکل شوي دي. د غازي امان الله خان د واکمنۍ پر مهال د (پښتو مرکې) له خوا هم د لیکدود د سمون په اړه ځینې هڅې شوي، تر هغه وروسته په کندهار کې (ادبي انجمن) او بیا په کابل کې (پښتو ټولنې) د لیکدود د سمون په برخه کې خپلې هلې ځلې کړي او دا هڅې ان د باړه ګلۍ تر علمي سیمیناره غځېدلې دي. خو بیا هم پښتو اوسنۍ کارېدونکې الفبې د دې جوګه نه ده، چې د پښتو غږونو بشپړه استازي یا څرګندونه وکړي، له همدې امله لا هم د دې اړتیا شته، چې په پښتو الفبې کې پوره پوره سمون راشي. د الفبې یا تورو سمون د دې زمینه برابروي، چې د یوې ژبې لیکنی متن سم شي. د یوې ژبې په لیکني سمون سره ورو ورو یوه ژبه له بېلابېلو یا مختلفو ګړدودونو او لهجو څخه راوځي، یوه واحده بڼه خپلوي او د یوې ژبې لیک لوست ورسره پوره پوره اسانېږي.

ژبپوهـان پـه دې نظـر دي، چـې د یـوې ژبـې د معیـاري کولـو او یـووالي لپـاره تـر ټولـو غـوره لاره همـدا ده، چـې لیکـدود سـره یـو شي. د افغانسـتان نومیـالی ژبپـوه اسـتاد زیـار وایـي، چـې ژبـه د وګړو په خولو کې ده او خولې په لکونو څه چې پـه میلونونـو دي، نو موږ نه شو کولای ژبه د چا په خوله کې سمه کړو، خو لیـك یـو واحد سیسـتم دی، که لیك سم شـي، نـو خـولې هـم لیـك تعقیبـوي، په دې ډول د وخت په تېرېدو سره خولې او لیك سره سـمون خـوري. د دې اثـر (پښـتـو لیکنـی سـمون) د لیکلـو ضـرورت هـم دا و چـې پورتني مجبوریتونه او ضـرورتونه تـر یـوه حـده پـوره کـړي او زمـوږ ژبه له ګډودیزې او لیکدودیزې انارشۍ څخه وژغورل شـي، دې کـار سـره بـه د ژبـې د وینـا سیسـتم سـم تلفـظ او د مانـا پـه پـوره انتقال کې به اسانتیاوې را منځته شي.

ددې اثر په لیکلو کې هڅه شوې هغـه سـتونزې تـر یـوه حـده اوارې شي، چې اوس په پښتو لیکنۍ بڼه کې تر سترګو کېږي. پـه دې اثـر کـې د ځینـو ګرامـري تېروتنـو د مخنیـوي لپـاره معمولـو ګرامـري تېروتنو او دهغـو سـمې بڼې تـه هـم اشـاره شـوې، دا اثـر اساساً کـوم ګرامري لارښود نـه دی، خـو دې سـره سـره بیـا هـم هغـه خپلـواکې او نـاخپلواکې کلمې چې اوس پـه نـاخبرۍ او ناپوهـاوي کـې د پښـتـو ګرامر د اساسي قاعدو خلاف په دوديز ډول ناسمې لیکل کېږي، د هغو سمې کارونې لارو چارو تـه هـم پـه کـې ګوتـه نیـول شـوې ده. یـو

شمېر اختلافي کلمې او د هغو سمې بڼې ته هم نغوته شوې ده. په بنسټيز ډول د دې اثر له لیکلو څخه زما غټ هدف دا و، چې د پښتو لیکني سمون په بهیر کې خپله ونډه واخلم، د ښوونځي زده کوونکو او د پوهنتون محصلینو ته په پښتو لیکنۍ برخه کې تر خپله وسه اسانتیاوې رامنځته کړم او هم هغو نا پښتنو پښتو زده کوونکو او بهرنیانو ته، چې د لیك له لارې د پښتو ژبې د زده کړې لېوال او مینوال دي، لاره سیده کړم. یادونه کوم چې په پښتو لیکنۍ برخه کې نه دا لومړنی اثر دی او نه هم وروستی؛ تر هغه وخته د دې لړۍ غځول په کار دي، چې پښتو لیك د پښتو ژبې د افادې ټولې خواوې انځور او ټولې اړتیاوې خړوب کړي.

په مینه او درناوي

محمد اسمعیل یون

# لومړی څپرکی

# پښتو غږونه او توري

## الف- غږونه:

د ګړنـۍ ژبـې بنسـټ غږونـه او د لیکنـۍ ژبـې بنسـټ تـوري جوړوي. طبیعي خبره ده، چې غږونـه د انسـان لـه ژوندانـه سره سم رامنځته شوي دي. د غږ پوهنې یا فونولوژۍ علم له مخې ((غږ یا اواز د ژبې تر ټولو کوچنی غږیز توك یا عنصر ته ویـل کېږي، چـې پـه خپلـه پـه ځانګړې توګـه کومـه مانـا نـه لـري، خـو لـه ترکیـب او یوځای کېدو څخه یې مانا لرونکې کلمې جوړېږي او هم پـه کلمـو کې د مانا د توپیر سبب ګرځي.)) [1]

په حقیقت کې غږ د ژبې بنسټ دی؛ کـه غـږ نـه وي ګړنـۍ ژبـه نـه شته او چې ګړنۍ ژبه نه وي نو لیکنۍ ژبه هم نه شته. لیـك د ژبـې مـادي اسـتر ګڼـل کېـږي، غـږ پـه غوږونـو اورېـدل کېـږي، خـو پـه سترګو نه لیدل کېږي، خو کله چې د تورو یا لیـك پـه چوکـاټ کـې قیـد شـي، نـو د سـترګو د لیـدو او فزیکـي شـتوالي جوګـه شـي.

[1] غږ پوهنه او وییپوهنه، بخت میر وزیری، کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځی، د نا پښتو ځانګو لپاره، ۱۳۸۴ ل کال، ۴ مخ.

غږونه هم خپل خپل ډولونه لري، د نړۍ په زیاتو ژبو کې غږونه معمولاً د دودیز وېش له مخې پر دوو ډولونو وېشي؛ خپلواك او نا خپلواك یا واول او كانسونینټ چې غږن او بې غږه اوازونه هم ورته وایي. سربېره پر دې غږونه د خولې او وتونځي (مخرج) او لفظي غږو له مخې پر ژبغابنیزو ، پزیزو، تالویزو، شونډیزو او نورو ډولونو هم وېشلكيګاٍي. پښتو ګرامر پوهانو او ژبپوهانو د خپل دودیز تعریف له مخې پښتو غږونه پر څلورو ډولونو وېشلي دي. دا وېش یې په خوله کې د غږ د تولید د څرنګوالي له مخې کړی دی یانې دا چې یو غږ د تولید په بهیر کې د ساهوا جریان له خنډ او ځنډ سره مخامخوي که نه؟

د همدې دودیز وېش له مخې په پښتو کې د غږونو د وېش دا ډلبندي په دې ډول ده:

## ۱- خپلواک، غږن یا واول غږونه:

هغو غږونو ته ویل کېږي، چې له خولې څخه د راوتو پر مهال یې دغږیزو غږو ترمنځ ټکر رامنځته نه شي، یانې دا چې: هر هغه اواز چې یوځل له کوم خنډ او بندښت پرته له خولې څخه راوځي، هغه ته خپلواك، غږن یا واول غږ ویل کېږي.

په پښتو کې دغه لاندې غږونه په خپلواکو غږونو کې شمېري:

۱- الف: ا ( ā)

۲- ګرده (هې) یا زور (ه) (a)

۳- زورکی (ه) د باړګۍ د سیمینار د پرېکړې له مخې یې بڼه داده: (ۀ) (ə)

۴- اوږده یا ښځینه (ې)
۵- څرګنده یا لنډه (ي) (i)
۶- اوږد یا په دودیزه نومونه مجهول واو (و = o)
۷- لنډ یا څرګند واو (و = u)

خو پوهاند صدیق الله رښتین په پښتو کې د (واونو) شمېر (څلور) ګڼلی او ځینو نورو پوهانو بیا الف په دوه ډوله ګڼلی، نو که دا نظریه هم ورسره ومنل شي، د پښتو واولونو شمېر به لسو ته پورته شي، خو په دودیزو وېشنو کې پښتو واولونه، چې په تورو، انځورونو یا ګرافیمونو افاده کېږي، همدا اوه (۷) توریز وېش ډېر معمول دی.

البته په پورتني وېش کې هم، چې واولونه (۷) ګڼل شوي، د پښتو ژبې لپاره اوسنی کاربدونکی عربي لیکدود دهغو د افادې لپاره (۷) بېلابېل ګرافمیونه نه لري. دا (۷) بېلابېل غږونه په عربي –پښتو لیکدود کې په (ا، ه، ې، و، ي) انځورونو افاده کېږي، البته که د زورکي (ə) لپاره د باړه ګلی وړاندیز (ۀ) ومنل شي نو د اوو (۷) غږونو د تمثیل لپاره به (۶) شکلونه ولرو.

خو بیا به هم د ( u او o ) دوو خپلواکو غږونو د تمثیل لپاره یوازې یوه بڼه ( و ) لرو.

ژبپوهان دواولو په اړه دا خبره هم کوي، چې د نورو غږونو په تلفظ او افاده کې دا غږونه اساسي نقش لري، که چېرې دا غږونه نه وي، هغه نور غږونه اصلاً حرکت نه شي کولای. همدا غږونه د څپې یا سېلاب زړی هم جوړوي او په هره څپه کې د یوه خپلواک غږ شتون حتمي دی او له واول پرته څپه هډو جوړېدی نه شي.

ځپه بیا د ګړنې ژبې انکشافي شکل دی، کېدی شي، ماناواله وي او یا هم مانا ور نه کړي.

## ۲- نا خپلواك، ناغږن یا کانسونېنټ غږونه:

نا خپلواك اوازونه یا غږونه هماغه دي، چې له خولې څخه د راوتو پرمهال د هوا جریان بندوي او غږیز غړي یو بل سره نښلي، یانې دا چې لکه د واول په شان له کوم خنډ پرته له خولې څخه نه راوځي. ناخپلواکو غږونو ته چوپ (کانسونینټ) غږونه هم وایي: په پښتو کې نا خپلواك غږونه د دې لاندې شکلونو په واسطه انځورېږي:

۱- ب ، ۲- پ، ۳- ت، ۴- ټ ، ۵- ج، ۶- چ، ۷- څ، ۸- ځ، ۹- خ، ۱۰- د، ۱۱- ډ، ۱۲- ر، ۱۳- ړ، ۱۴- ز، ۱۵- ژ، ۱۶- ږ، ۱۷- س، ۱۸- ش، ۱۹- ښ، ۲۰- غ، ۲۱- ك، ۲۲- ګ، ۲۳- ل، ۲۴- م، ۲۵- ن، ۲۶- ڼ، ۲۷- ه

پوهاند صدیق الله رښتین د پښتو ناخپلواکو غږونو او یا هم تورو شمېر (۲۶) ګڼلی[1] سربېره پر نوموړو غږونو او یا هم تورو په پښتو کې لس داسې عربي غږونه یا توري هم کارول کېږي، چې اصلي ریښه او جوړښت یې عربي دی، یانې په هره کلمه کې چې دا غږونه یا توري و کارېږي، هغه به عربي وي، پښتو به نه وي. د یادونې وړه ده، چې پښتو ژبه کې د دې غږونو او تورو سم

[1] پښتو ګرامر (ژب ښودنه)، صدیق الله رښتین، خاور خپرندویه ټولنه، ۳ مخ.

تلفظ څه ناڅه مشکل دی، نو ځکه خو يې د تلفظ پر وخت زياتره اندېولونه کارول کېږي، یانې په خپله ژبه کې هغه ته ورته اوازونه ، د بېلګې په توګه: (ص) د (س) په تلفظ، (ث) د (څ) يا (س) په تلفظ (ف) د (پ)، (ذ) د (ز) او (ځ) په تلفظ او همداسې نور دړواخله. هغه اوازونه یا توري، چې له عربي کلمو سره یو ځای پښتو ته راغلي او اوس يې په پښتو ګړنې او لیکنې ژبه کې کارونه یو ضرورت او دود دی، دادي:

( ث، ح، ذ، ص، ض، ط، ظ، ف، ق، ع)

د يادونې وړه ده، چې دا پورتني اوازونه او توري هېڅکله هم په نږه پښتو کلمو کې نه راځي. په ټولیز ډول د عربي غږونو په ګډون په پښتو کې اوس ( ۳۷ ) ناخپلواك غږونه او د هغو ګرافیمونه یا توري کارول کېږي.

خو پوهاند دوکتور مجاور احمد زيار د ټولو پښتو غږونو یا تورو شمېر (۳۷) ګڼلی او که چېرې د عربي دا لس نږه توري یا غږونه ورسره یوځای شي، نو شمېر به يې (۴۷) تورو ته ورسېږي. که غبرګغږونه او سیمې واولونه پرې سرباری شي، نو خبره یو کم شپېتو غږونو ته رسېږي او که د ځينو لهجو واولونه هم په پام کې ونيسو، نو خبره تر شپېتو هم پورته کېږي.

## ۳- نیمه خپلواك یا سیمي واول غږونه:

د ژبپوهنې د دوديزو تعريفونو او وېش په لړ کې د نیمه خپلواکو غږونو يا سيمې واول موضوع هم د يادونې وړ ده. سره

له دې چې یو شمېر اوسني ژبپوهان، سیمې واول ګرد سره مني نه او وايي چې اوازونه یا واول دي یا کانسونینټ او نیمه واول کومه مانا نه ورکوي، ځکه واول یو څپه جوړوي او دلته هم یوه څپه یا سېلاب وي یاني په هر څه کې چې اوس د سیمې واول په نامه توري وي، هلته واول هم ورسره وي او له واول پرته سیمي واول د کانسونینټ په شان حرکت نه شي کولای، نو ځکه باید په کانسونینټ کې وشمېرل شي. خو د نویو ژبپوهانو له دلایلو سره سره بیا هم د سیمې واول اصطلاح تراوسه له دوده غورځېدلې نه ده. دوديز ژبپوهان په پښتو کې دغه لاندې اوازونه سیمې واول ګڼي.

۱- y= ی ، لکه یلبند ، **yelband** ، **yawāze**

۲- w= و لکه ګل **gwəl** ، درواغ **dərwagh**

د یادونې وړ ده، چې په پښتو لیکدود کې ددې دوو غږونو یا سیمې واولونو د افادې لپاره ځانګړې ګرافیم نه شته؛ په دې لیکدود کې د دې اوازونو د تمثیل لپاره د (و) او (ی) له بڼې کار اخیستل کېږي. خو په پښتو فونیمیکه الفبا کې یې ورته (**y** او **w**) بڼه غوره کړې ده.

## ٤- غبرګغږونه یا دیفتونګونه:

د غږونو په دوديز وېش کې یوه کټګوري هم د غبرګغږونو ده، غبرګغږونه یا دیفتونګونه هغو اوازونو ته ویل کېږي، چې له یوه واول او یوه سیمې واول یا نیمه واول څخه رغېدلي وي.

دیفتونګونه هم لکه د واول په شان له کوم ځنډ پرته په یوځایي ډول له خولې څخه راوځي، خو په دې توپیر چې تر واولونو درانه ویل او ښکاره کېږي، چې د واول ترڅنګ ورسره یو بل غږ هم ملګرتیا کوي، ځینې اوسني ژبپوهان د سیمي واول په شان د دیفتونګ له تعریف او جلا کټګورۍ سره هم موافق نه دي او ټول اوازونه یوازې پر دوو کټګوریو یا ډلبندیو (واول) او (کانسوننټ) وېشي.

دغبرګغږ له دودیز تعریف سره سم پښتو غبرګغږونه دا دي:

۱- ای (āy) لکه پای pāy، چای čāy

۲- ی (ay) لکه زمری zmaray ، زلمی zalmay

۳- ۍ ( əy) لکه ځولۍ ĵoləy، ډوډۍ ( ḍoḍəy)

۴- وی (uy) لکه خوی xuy ، بوی buy

۵- وی (oy) زوی zoy ، لوی loy

۶- او (āw)کړاو karāw ، پړاو parāw

۷- او (aw) لو (law) ، پلو (palaw)

۸- و ( əw) لکه کټو ( katəw) بګو (bagəw)

۹- یو ( iw) تریو triw یو (iw)

۱۰- ېو (ew) دېو dew

په پښتو کې غبرګغږونه همدا دي، چې پورته مو ورته اشاره وکړه، د وروستیو دریو (ew,iw,əw) کارونه یې ډېره کمه ده او یوازې د ګوتو په شمار استعمال ځایونه لري. دغه راز په پښتو لیکدود کې د ( ۴، ۵) ګڼې (uy، oy) او (۶، ۷) ګڼې (aw,āw)

توپیرونـه او د (۸) ګڼـې (əw ) سـمه لیکنـه مشـکله ده، د (۹-۱۰) ګڼې (iw ، ew ) سمه انځورونه که څه هم مشکله نه ده، خو په اوسني دودیز استعمال کې یې څوك ډېر خیال نه ساتي. اوس نو که موږ دیفتونګونه هم د جلا اوازونو په توګه محاسبه کړو او د عربي نږه غږونو یا تورو په ګډون یې له پښتو غږونو سره یو ځای کړو او هم په ځینو ګړدودونو کې ځینې نور کارېدونکي واولونه هم پرې زیات کړو، نو په پښتو کې به د اوسنیو کارېدونکو غږونو شمېر تر (یو کم شپېتو) بېلابېلو غږونو واوړي. د دې شمېر غږونو په شتوالي سره به پښتو ژبه د ژبو په هندو اروپایي کورنۍ، په تېره بیا په ختیزو اریایي ژبو کې هغه ژبه وي، چې د اوازونو لمن یې تر ټولو زیاته پراخه ده.

## ب- توری، حرف، انځور، شکل یا ګرافیم:

د یوه غږ لیکل شوي شکل یا بڼې ته وایي، یا په بله وینا د لید وړ هغه رسم یا انځور دی، چې د یوه اواز ښکارندویي کوي. زموږ په ګړنۍ ژبه یا اصطلاحاتو کې اکثره وخت خلك د اواز او توري (حرف) توپیر نه کوي، دواړه په یوه مانا کاروي، سره له دې چې توري او اوازونه په مترادفه مانا کارېږي، خو په حقیقت کې توري د اواز تابع دي او د همغه اواز ښکارندویي کوي، چې دا توري ورته د نښې (سمبول) په توګه غوره شوي دي. په نړۍ کې د ګڼو ژبو غږونه په ډېر کم تغییر سره اوښتي را اوښتي او یا یې هم خپل ځیني ژبني یا ګرامري خصلتونو لږ و ډېر تغییر کړی

دی، خو داسې ډېرې ژبې شته چې ليکدود يا تورو يې سل په سلو کې بدلون موندلی ، ان يوې ژبې څو ډوله توري يا په ټوليز ډول ابېڅې (الفبې) درلودلي دي. پښتو ژبه او تر څنګ يې ځينې نورې اريايي ژبې هم د څو ليکدودونو ((ميخي، ارامي،خروشتي، يوناني))[1] تر بهيرونو تېرې شوي او اوس دا دی په عربي الفبې کې دنړدې نيمايي توپير په زياتوالي سره همدا الفبې کاروي، خو اوسنی کارېدونکې ابېڅې په عام ډول د جوړښت له مخې د همدې عربي ليکدود د قاعدې مطابق حرکت کوي. عربي ليکدود او په هغه کې راغلی زياتون بيا هم د پښتو غږونو بشپړه ښکارندويي نه شي کولای، له همدې امله نه يوازې پښتو، بلکې د نړۍ اکثره ژبې چې ليکدود يې د ژبو د ټولو غږونو او اړتياوو انځورنه، نه شي کولای، د ځينو علمي ستونزو د حل او په ژبه کې د ځينو خاصو کلمو او غږونو د دقيق قيد لپاره له يوې بلې ابېڅې څخه هم کار اخلي. دې ابېڅې ته د ژبپوهنې په نړيواله نومونه کې ( فونيميکه) الفبې وايي، چې په پښتو کې يې موږ (غږيزه) ابېڅې بولو.

غږيزه الفبې د يوې ژبې په سلو کې (۹۹%) لفظي ستونزې اوارولای شي، خو هغه کلمې، چې د شکل او تلفظ له مخې سره ورته او مانـاوې يـې بېلابېلې وي، دا ستونزه بيا هم نه شي حلولای، خو د کلمې د تلفظ په دقيق ثبت کې مرسته کوي. البته

(۱) - د کوشاني دورې د ژبو څېړنه، محمد نبي صلاحي ، د علومو اکاډمی ، ۱۳۸۶ ل کال، کابل، ۷۵ مخ.

د دې ډول کلمو ستونزه یوه مانیزه ستونزه ده، نه لفظي او په لیکدود پورې اړه نه لري. دغه راز په پښتو کې ( دخج یا فشار) ستونزه هم د یادونې وړ ده. کله چې فشار د یوې کلمې په لر او بر کې راشي، د کلمې مانا اړوي، دا ستونزه هم په غربيزې الفبې نه شي حلېدلای، البته دخج د یوې ځانګړې نښې ( ) په واسطه کېدی شي، چې یوه کلمه په همغې مقصودې مانا تلفظ شي. لکه څنګه چې په عربي - پښتو لیکدود یا ابېڅې کې څه نا څه اختلافات او کمی شته، دغسې پښتو غربيزې الفبې کې هم د څو محدودو تورو د بڼې په اړه د نظر یووالی نه شته، دلته به لومړی د پښتو ابېڅې دا دواړه بڼې ( عربي پښتو لیکدود او پښتو فونیمیکه بڼه) راوړو او بیا به پر هغو څو محدودو تورو هم رڼا واچوو، چې لا تراوسه هم په یوه واحده بڼه نه کارېږي:

## ج- پښتو توري او د هغو نومونه:

په پښتو او بله هره ژبه کې توري یا حرفونه نه یوازې د همغې ژبې د غږونو استازي او ښکارندويي کوي، بلکې توري په خپله نومونه هم لري، چې له همغه اواز څخه ریښه او االهام اخلي، د پښتو تورو په لیکنۍ برخه کې تر ډېره حده د نظریو یو والی را منځته شوی، یوازې یو څو توري داسې دي، چې لا اوس هم تر یوې زیاتې بڼې لري او یا هم ټول یې په یو ډول نه کاروي. دا چې هر توری په خپله په کوم نامه یاد شي، په دې کې هم د نظر توپیر

شته، خپله له پښتو (الفبې) څخه نیولې بیا د هغې تر بېلابېلو تورو پورې ، نومونه په واحده بڼه او شکل نه کارېږي.

د پښتو لیك د مجموعي تورو تر ټنګك ((الفبې)) ته څوك (الفبا) او څوك هم (ابېڅې) وايي، دغسې يې توري هم در واخله ، دلته به لومړی د پوهنې وزارت پښتو الفبې سیستم ته نغوته وکړو، بیا به یوې هغې پښتو الفبې ته نغوته وکړو، چې په دودیز ډول پښتو کې کارېږي او هر توری يې هم له عربي قاعدې سره سم په همغو ورته نومونو يادېږي او بیا به د هېواد د نوميالي ژبپوه استاد پوهاند زيار له خوا هغې پښتو ابېڅې ته هم نغوته وکړو، چې په نومونو کې يې څه نا څه سمون او زياتون راوړی دی.

لومړی به د پوهنې وزارت له خوا کارېدونکې پښتو الفبې راوړو، چې په پښتو تعليمي کتابونو کې کارېږي.

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ا | ء | ب | پ | ت | ټ | ث | ج |
| چ | ح | خ | څ | ځ | د | ډ | ذ |
| ر | ړ | ز | ژ | ږ | س | ش | ښ |
| ص | ض | ط | ظ | ع | غ | ف | ق |
| ک | ګ | ل | م | ن | ڼ | و | ه |
| ی | ې | ۍ | ئ | ي | | | |

د دې تورو لپاره له عربي قاعدې سره سم نومونه ايښودل شوي دي.

بله هغه پښتو دوديزه الفبې ده، چې په ځينو علمي مرکزونو کې کارېږي. د دې الفبې چارټ د ايشيا سافټ کمپنۍ استازي

ښاغلي نور رحمن لېوال، چې د کمپیوټر د پروګرامونو متخصص دی، ګڼشمېر پښتو پروګرامونه یې جوړ کړي او ځینې کمپیوټري نومونه یې پښتو کړي، د ځینو نورو افغان لیکوالو په لارښوونه، مرسته او همکارۍ جوړ کړی دی.

## د- پښتو الفبې:

| | | | |
|---|---|---|---|
| ا<br>الف | ب<br>بې | پ<br>پې | ت<br>تې |
| ټ<br>ټې | ث<br>ثې | ج<br>جیمٔ | ح<br>حې |
| چ<br>چې | څ<br>څې | ځ<br>ځې | خ<br>خې |
| د<br>دالٔ | ډ<br>ډالٔ | ذ<br>ذالٔ | ر<br>رې |
| ړ<br>ړې | ز<br>زې | ژ<br>ژې | ږ<br>ږې |
| س<br>سین | ش<br>شین | ښ<br>ښین | ص<br>صاد |
| ض<br>ضاد | ط<br>طې | ظ<br>ظې | ع<br>عین |
| غ | ف | ق | ك |

| | | | |
|---|---|---|---|
| غین | فې | قاف | کاف |
| ګ<br>ګاف | ل<br>لام | م<br>میم | ن<br>نون |
| ڼ<br>ڼون | و<br>(واو) | ه<br>هې | ي<br>څرګنده يې |
| ې<br>اوږده يې | ۍ<br>ښځینه يې | ئ<br>کړواله يې | ی ے<br>نرمه يې |

پورتنۍ الفبې تقریباً متفقه ده او په ټوله پښتو کې له ځینو ځایونو پرته همدا الفبې کارېږي، اکثریت لي‌کوال همدا بڼه کاروي. یوازې د(ګ ) او (ے) په اړه د نظر اختلاف شته، ځینې پښتو ژبپوهان په دې نظر دي، چې د (ګ ) پر ځای باید (ـګ) وکارول شي، ځکه یو توري ته غړوندی ورکول هغه وخت په کارېږي، چې د تلفظ پر وخت ژبه هم ورسره په خوله کې را تاوه شي، لکه ځینې نور پښتو اوازونه یا توري (ډ ، ړ، ڼ، ټ ) خو په (ګ ) کې دا حالت نه شته، نو ځکه يې غړوندي ته هم اړتیا نه شته. (ے) هم ډېره نه کارېږي ، یوازې په باړه ګلۍ سیمینار کې يې د یوه بدیل په توګه د کارونې وړاندیز شوی و، خو د تورو په نومونو کې پوهاند ډاکتر مجاور احمد زیار د دې تر څنګ چې اکثره همدا دودیزه نومونه تائیدوي، د نور سمون اړتیا هم نه هېروي. هغه دا توري د یوه منظم سیستم لوښي ته اچوي، هغه الف ته (الف) (ه) ته (هې)، زور او فتحه وایي، (ر) ته (رې)، (ډ) ته (ډې)، (ې) ته (اوږده ي)، ( ه= ə ) (ته زورکی)، (ـګ) ته (ګـې) ،

(غ) ته (غي)، (ي) ته (لنډه يې)، (ځ ) ته ( ځې)، (ج ) ته (جې)، (ك) ته (كې ) ، (ل) ته (لې) ، (م) ته (مې) ، (ن) ته (نې )، (ڼ ) ته (ڼې ) ، (س) ته ( سې) ، (ش ) ته ( شې ) ، (ښ) ته ( ښې)، (ی) ته زور والـه (ئ ) ، (ې) تـه ( زورکـي والـه ی) ، وايـي دغـه راز (o=و) تـه اوږد واو، (u=و) تــه لنـډ واو، (w=و) تــه ( بېواکــه واو) او (y=ی) تــه (بېواکه ی) وايي.

سره لـه دې چې په ليکنۍ برخه کې لـه (ګ =ګ) پرتـه پـه نـوره برخـه کـې لـه پورتنۍ (الفبې ) څخه د پوهانـد زيـار (ابېڅې) کـوم توپير نه لري، خو د تـورو نومـونې پـه برخـه کـې څرګنـد تـوپير پـه کـې ليدل کېږي. که د پوهاند زيار پورتنۍ طرحې تـه سـړی دقيـق شي، نو د ژبپوهنې د ډېرونو له مخې د تـورو دا نومونـه دقيقـه او د يـوه منظم سيسـتم تـابع ده. کـه همـدا نومونـه وکـارول شـي، زده کوونکو تـه بـه د زده کـړې پـر مهـال د يـو واحـد سيسـتم لـه برکتـه اسانتياوې را منځته شي.

## ٥- پښتو غږيزه ( فونيميکه ) ابېڅې:

لکـه څنګـه چـې د مخـه مـو يادونـه وکـړه؛ هـره ژبـه د خپلـو ځينـو غږونو لپاره، چې په خپله دوديزه ابېڅې کـې ورتـه تـوري نـه لـري او همد راز د ځينو علمي مسايلو د ښې تشريح او حل لپـاره لـه فـونيميکي الفبې څخـه هـم کـار اخلـي، فونيميکـه ابېڅـې پـه واقعيـت کـې هغـه علمـي الفبـې ده، چـې د ژبـې ډېـرې ليکنـۍ اړتياوې لرې کـولای شي. پښتو ژبپوهانو هم له نړيوالـو معيـارونو

سره سم پښتو ژبې لپاره فونیمیکه ابېڅې جوړه کړې ده. دا ابېڅې که څه هم تر ډېره حده یوه بڼه لري، خو بیا هم د ځینو تورو په لیکنۍ بڼه کې یې توپیر شته، دلته به موږ د پښتو فونیمکې الفبې لیکبڼې درته وړاندې کړو، چې د څو ببلابېلو پوهانو له خوا وړاندې شوې دي:

لومړی به هغه فونیمکه الفبې وړاندې کړو، چې ښاغلي نوراحمد شاکر په خپل کتاب (ژبنۍ څېړنې) کې راوړې ده.

الف- کانسونینتونه:

| | | | |
|---|---|---|---|
| ب | b | پ | p |
| ت | t | د | d |
| ټ | ṭ | ډ | ḍ |
| ج | j | ر | r |
| چ | č | ړ | ṛ |
| څ | ts | ز | z |
| ځ | dz | ږ | ẓ |
| خ | x | ژ | ž |
| س | s | ل | l |
| ش | š | م | m |
| ښ | ṣ | ن | n |
| غ | g̱ | ڼ | ṇ |
| ک | k | ه | h |
| ګ | g | | |

د پوهندوی نوراحمد شاکر په اثر کې د خاصو عربي تورو لپاره دا لاندې لیکبڼې غوره شوې دي:

ث s̱ ، ح ẖ، ذ ẕ ، ص s ، ضِ z ، طِ ṯ ، ظ z ، ع ʔ̄ ، ف f ، او ق q.

د سیمې واول لپاره دا لاندې بڼې غوره شوې دي:

و (w): لکه په (کنډو = kandə́w ) او (ولور= walwə́r ) کې.

ی (y) لکه په (یخی= yaxə́y ) او (اګۍ= agəy ) کې.

پوهندوی شاکر په خپل کتاب کې پښتو واولونو او د هغوی ځرنګوالي ته په دې ډول ګوته نیولې ده:

ب- واولونه: **Vowels**

و (**o**) : لکه په (نور= **nor** ) او (پور= **por** ) کې.

ُ (**u**) : لکه په (پل = **pul** ) او (سور= **sur** ) کې.

و (**ū**) : لکه په (نورو= **nūru** ) او (تورو= **tūru** ) کې لومړي واوونه.

ي (**i**) : لکه په (ځیر= **dzir** ) او (پیر= **pir** ) کې.

ي (**í**) : لکه په (کیږي= **kịzi** ) کې لومړۍ (ي)

ې (**e**) : لکه په (ډېر= **der** ) او (شمېر= **šmer** ) کې.

زورکی (**ə**) : لکه په (زړه= **zṛa** ) او (لېوه= **lewə** ) کې.

ا ، یا زور (**a**) : لکه په (اړخ= **aṛx** ) او (سر= **sar** ) کې.

آ (**ā**) : لکه په (کار= **kār** ) او (آس = **ās** ) کې.[1]

څېړنوال دوکتور عبدالحکیم هلالي په خپل اثر ( د پښتو ژبې د فونیمیکې الفبې لاربنود ) کې دا الفبې په مفصل ډول تشریح کړې

[1] پوهندوی نوراحمد شاکر، ژبنۍ څېړنې، ۱۳۵۰ال کال، ۱۴-۱۵ مخونه.

ده. دا اثر پر ۱۳۵۵ ل کال د پښتو ټولنې له خوا چاپ شوی دی.
څېړنوال دوکتور هلالي چې کومه فونیمیکه الفبې په خپل اثر کې راوړې هغه د پښتو ټولنې د هغه بحث او توافق نتیجه ده، چې دې لاندې پوهانو په کې ګډون کړی و:

پوهاند عبدالحی حبیبي، پوهاند عبدالشکور رشاد، پوهاند محمد رحیم الهام، عبدالروف بېنوا، پوهاند دوکتور سید بهاوالدین مجروح، څېړنوال محمدصدیق روهي، څېړندوی عبدالله خدمتګار، دوکتور مجاور احمد زیار، څېړنوال دوکتور سید الشاه پولاد، څېړنوال دوکتور دولت محمد لودین، عبدالجلیل وجدي، څېړنوال دوکتور عبدالحکیم هلالي.

په دې اثر کې پښتو غږیزه الفبې په دې ډول راغلې ده:

د پښتو ژبې منلې شوې فونیمکه الفبې:

| معمولي توري | دفونیمیکې الفبې توري | مثالونه | |
|---|---|---|---|
| ا | a | اتل، سر، شپه | atal,sar,špa |
| آ | ā | آس، ویاړ، سبا | ās,wyạr,sabā |
| ب | b | بار | bār |
| پ | p | پښتو | pạsto |
| ت | t | تور | tor |
| ټ | ṭ | ټول | . tol |
| ج | J | جوړ | jọr |
| چ | č | چاکو | čākū |

| | | | |
|---|---|---|---|
| jāy | ځای | j | ځ |
| cok | څوک | c | څ |
| xor | خور | x | خ |
| dod | دود | d | د |
| ḍer | ډېر | ḍ | ډ |
| rap | رپ | r | ر |
| . rūnd | ړوند | ṛ | ړ |
| zoṛ | زوړ | z | ز |
| žwənd | ژوند | ž | ژ |
| . zağ | ږغ | ẓ | ږ |
| samūn | سمون | s | س |
| šəl | شل | š | ش |
| . sāğəlay | ښاغلی | ṣ | ښ |
| ğamay | غمی | ğ | غ |
| kār | کار | k | ک |
| gaḍ | ګډ | g | ګ |
| lās | لاس | l | ل |
| moṛ | موړ | m | م |
| nən | نن | n | ن |
| maṇa | مڼه | ṇ | ڼ |
| wādə, žəṛawəl | واده، ژړول | w | و |
| har,sahār | هر، سهار | h | ه |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ي | y | یور، مېلمستیا | yor, melmastyā |
| ی | ay | سړی | saray |
| ۍ | əy | هوسۍ | hosəy |
| ي | i | ویر | wir |
| ې | e | تېر، مستې | ter, maste |
| و(مجهول) | o | کور | kor |
| و (معروف) | ū | لور | lūr |
| پېښ | u | سر (په موسیقۍ کې) | sur |
| زېر | i | ابره (حاصل) | ibra |
| زورکی | ə | نیکه، لوستل | nikə, lwastəl |
| دخج د ځای د ښوولو لپاره دا لاندې علامه منل شوې ده: | | | |
| خج | | کوټه | ḱota |

احتیاطي: ث (θ)، ح (h̲)، ذ (δ)، ص (s̲)، ض (z̲)، ط (t̲)، ظ (z)؛ ع (؟)، ف (f)، ق (q) ء (') معدوله واو (w) جرمني (w)، انګلیسي (v) او روسي (B) په (v).[1]

پر پوهندوی نوراحمد شاکر او څېړنوال دوکتور عبدالحکیم هلالي سربېره پوهنوال محمد صابر خوېشکي په خپل اثر (پښتو

[1] څېړنوال دوکتور عبدالحکیم هلالي، د فونیمیکې الفبې لارښود، پښتو ټولنه، ۱۳۵۵ل کال، ۷-۱۱ مخونه.

غږ پوهنه او وییپوهنه) کې پښتو فونیمیکه الفبې په دې ډول تشریح کړې ده:

الف- واولونه: د پښتو واولونو لپاره يې دغه لاندې توري يا انځورونه کښلي دي:

۱- د څرګند واو (و) لپاره يې (u)

۲- د اوږد واو (و) لپاره يې (o)

۳- د څرګندې یا (ي) لپاره يې (i)

۴- د ښځینه یا (ې) لپاره يې (e)

۵- د زور (ه) لپاره يې (a)

۶- د الف (ا) لپاره يې (ā)

۷- او د زورکي (ه) لپاره يې (ə) شکلونه غوره کړي دي.

ب- کانسونینټونه: پوهنوال محمد صابر خوېشکي کانسونینټونه په دې ډول ښودلي دي:

| ګڼه | پښتو مروجه الفبا | فونیمیکه الفبا | مثالونه |
|---|---|---|---|
| ۱ | ب | b | بن، بنوال، باران |
| ۲ | پ | p | پند، پوپل، توپ |
| ۳ | ت | t | تور، تالو، توت |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ٤ | ټ | ṭ | ټول، پلټل، مټ |
| ٥ | ج | j ˇ | جوړ، ناجوړ، تاج |
| ٦ | ځ | j | ځمکه، نانځکه، ورځ |
| ٧ | چ | č | چار، مچ، پچه |
| ٨ | څ | c | څادر، څڅوبی، پایڅه |
| ٩ | خ | x | خواږه، یخ، اخ |
| ١٠ | د | d | دود، درد، پند |
| ١١ | ډ | ḍ | ډگر، ډاډ، هډ |
| ١٢ | ر | r | رامبېل، تبر، اوبه |
| ١٣ | ړ | ṛ | ړنگ، تړل، ویجاړ |
| ١٤ | ز | z | زړه، تازه، راز |
| ١٥ | ژ | ž | ژوند، لژند، روژه |
| ١٦ | ږ | ẓ | ږمنځ، ږلۍ، کوږ |
| ١٧ | س | s | سل، لس، اس |
| ١٨ | ش | š | شل،شپه |
| ١٩ | ښ | ṣ | ښه، واښه، چنگاښ |
| ٢٠ | غ | ğ | غر، تږغر، باغ |
| ٢١ | ک | k | کور، کرکیله، تاک |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۲۲ | گ | g | گیله، بگۍ، پړانگ |
| ۲۳ | ل | l | لارۍ، لار، څنگل |
| ۲٤ | م | m | موږ، بامل، بام |
| ۲۵ | ن | n | نن، پرون، اسان |
| ۲٦ | ڼ | ṇ | باڼه، کوڼ، پڼه |
| ۲۷ | ه | h | هلک، بهاند، مهال |

ج- عربي توري:

ث θ لکه ثابت، وارث، وراثت، باعث

ذ δ لکه ذلت، مذکور، ماخذ

ح h لکه حوض، حاضر، حضور

ص s لکه صبر، بصر، صبور

ض z لکه ضرر، مضروب، غامض

ط t لکه طالب، باطل، ناطق

ظ z لکه ظالم، مظلوم، ناظم

ع ؟ لکه عادت، طاعت، معلم

ف f لکه فرمان، کافر، نافع

ق q لکه قاموس، ناقوس، توافق

د- سیمي واولونه:

و (w) لکه ور war ولور walwar

ی (y) لکه یور yor، یو yaw

ه- دیفتنګونه:

ew، لکه لېو lew کې

aw، لکه law لو او کنډو kandaw کې

āw، لکه پړاو parāw او جړاو jarāw کې

əw لکه پکتو katəw کې

د (ی = ay) غبرګغږونه په لاندې ډول دي:

د ay ایوان aywān، میره mayrə، سړی saray

āy لکه آینه āyana، ځایګنی jāygenay، ځای jāy

əy لکه نړۍ narəy، ډوډۍ ḍoḍəy، کړکۍ karkəy

uy لکه خوی xuy، بوی buy، دوی duy

oy لکه زوی zoy، سوی soy

پوهاند دوکتور مجاوراحمد زیار پښتو فونیمیکه الفبې او د تورو نومونه په لاندې ډول راوړي دي:

فونیمیك الفبې (غږیزه ابېڅې)

| نوم | عادي | فونیمیك | نوم | عادي | فونیمیك |
|---|---|---|---|---|---|
| ڼې | ڼ | ṇ | زور، فتحه | / فتحه | a |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| اوږد (واو) | و | o | الف | الف | ā |
| پې | پ | p | بې | ب | b |
| ر ې | ر | r | څې | څ | c |
| ړې | ړ | ṛ | چې | چ | č |
| سې | س | s | دې | د | d |
| شې | ش | š | ډې | ډ | ḍ |
| ښې | ښ | s | اوږده يې | ې | e |
| تې | ت | t | زورکی | ه | ə |
| ټې | ټ | ṭ | ګې | ګ | g |
| لنډ (واو) | و | u | غې | غ | ɣ (ğ) |
| بېواکه(واو) | و | w | هې | ه | h |
| خې | خ | x | لنډه ي | ي | i |
| بېواکه (ی) | ی | y | ځې | ځ | j |
| زې | ز | z | جې | ج | ǰ |
| ږې | ږ | z | کې | ک | k |
| ژې | ژ | ž | لې | ل | l |
| زور واله (ی) | ی | ay | مې | م | m |
| زورکي واله ی[1] | ۍ | əy | نې | ن | n |

(۱)- پښتو سیندګی- نویزونه، پوهاند ډاکټر مجاور احمد زیار، د ساپي څېړنو پراختیا مرکز، پېښور، ۱۳۷۸ ل کال (۱-۲) مخونه.

پوهاند زیار د پښتو فونیمیکې الفبې او ورسره د هغو توري، چې اصلاً عربي دي او په پښتو کې هم کارېږي، له فونیمیکې بڼې او مثالونو سره په خپل اثر (لیکلار ښود) کې په دې ډول راوړې دي:

| دودیز | غږیز (فونیمیک) | نوم | بېلګه | غږیزلیک |
|---|---|---|---|---|
| ا، ه | a | زور | اره، اړ | . ar̤a,ạr |
| ه،ه | ə | زورکی | زره | zrə |
| آ | ā | اوږد | آر | ār,ās |
| ب | b | بې | بر | bar |
| پ | p | پې | پوړ | poṛ |
| ت | t | تې | تل | tal |
| ټ | t | ټې | ټل | tal |
| ج | j | جې(جیم) | جل | ĵal |
| چ | č | چې | چم | čam |
| ځ | j | ځې | ځل،ورځ | jal,wraj |
| څ | c | څې | څرخ،خرڅ | carx,xarc |
| خ | x | خې | خر،خور | xar,xor |
| د | d | دې(دال) | دادا | dādā |
| ډ | ḍ | ډې(ډال) | ډول | ḍol |
| ر | r | رې | رګ،تور | rag,tor |
| ړ | ṛ | ړې | ړوند | ṛund |
| ز | z | زې | زر | zar |
| ژ | ž | ژې | ژر | žar |
| ږ | ž | ږې | ږیره | žira |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| س | s | سې(سین ) | سم | sam |
| ش | š . | شې(شین ) | شپه | špa . |
| ښ | s | ښې | ښار | sār |
| غ | δ | غې(غېن ) | غر | δar |
| ک | k | کې(کاف ) | کر | kar |
| ګ | g | ګې(ګاف ) | ګڼ | gaṇ |
| ل | l | لې(لام ) | لر | lar |
| م | m | مې(میم ) | مور | mor |
| ن | n | نې(نون ) | نر | nar |
| ڼ | ṇ | ڼې | روڼ | ruṇ |
| و | (o)o | او [اوږد (و )] | کور | kor |
| و | u | او[لنډ(و )] | زوم | zum |
| و | w | وې(ببوا ) | ور | war |
| ه،ه | h | هې | هم | ham |
| ې | e | اوږده یې | هېر | her |
| ي | i | لنډه یې | ویر | wir |
| ی | ay | زوروالـه یې | وری | wray |
| ۍ ،ئ | əy | زروکي والـه یې | وړۍ، خورئ | wṛəy,xwrəy |
| **عربي** | **غږيز** | **نوم** | **بېلګه** | |
| ث | θ | ثې،ثاء | حدیث | |
| ح | . h | حا | حلیم | |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ذ | δ | ذال | ذاکر |
| ص | s̲ | صاد | صابر |
| ض | z̲ | ضاد | ضمیر |
| ط | t̲ | طا،طې | طاهر |
| ظ | z - | ظا،ظې | ظاهر |
| ع | ʕ | عین | عالم |
| ف | f | فاء،فې | فاروق |
| ق | q | قاف | قرآن[1] |

## دخلور پښتو پوهانو له نظره پښتو فونیمیکه الفبې

| ګڼه | توری | پوهندوی شاکر | څېړنوال هلالي | پوهنوال خویشکی | پوهاند زیار | توپیر |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | زور | a | a | a | a | متفق |
| ۲ | الف | ā | ā | ā | ā | // |
| ۳ | ب | b | B | b | b | // |
| ٤ | پ | p | P | p | p | // |
| ٥ | ت | t | T | t | t | // |
| ٦ | ټ | ṭ | ṭ | ṭ | ṭ | // |
| ۷ | ج | j | J | j | j | توپیر |
| ۸ | ځ | dz | jˇ | jˇ | j | // |
| ۹ | چ | č | Č | č | č | متفق |
| ۱۰ | څ | ts | c | c | c | توپیر |
| ۱۱ | خ | x | X | x | x | متفق |

(۱) لیکلاربنود، پوهاند مجاوراحمدزیار، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸٦ل، ۱۵-۱۸مخونه.

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۲ | د | **d** | **D** | d | d | // |
| ۱۳ | ډ | **ḍ** | **ḍ** | **ḍ** | **ḍ** | // |
| ۱۴ | ر | **r** | **R** | r | r | // |
| ۱۵ | ړ | **ṛ** | **ṛ** | ṛ | ṛ | // |
| ۱٦ | ز | **z** | **Z** | z | z | // |
| ۱۷ | ژ | **ž** | **Ž** | ž | ž | // |
| ۱۸ | ږ | **ẓ** | **ẓ** | ẓ | ẓ | // |
| ۱۹ | س | **s** | **S** | s | s | // |
| ۲۰ | ش | **š** | **Š** | **š** | **š** | // |
| ۲۱ | ښ | **ṣ** | **ṣ** | ṣ | ṣ | // |
| ۲۲ | غ | **ɡ̱** | **Ğ** | ğ | (ğɣ | توپیر |
| ۲۳ | ک | **k** | **K** | **k** | **k** | متفق |
| ۲٤ | ګ | **g** | **G** | g | g | // |
| ۲۵ | ل | **l** | **l** | **l** | **l** | // |
| ۲٦ | م | **m** | **m** | m | m | // |
| ۲۷ | ن | **n** | **n** | n | n | // |
| ۲۸ | ڼ | **ṇ** | **ṇ** | ṇ | ṇ | // |
| ۲۹ | ه | **h** | **h** | **h** | **h** | // |

د دیفتونګونو په برخه کې، لکه: ې (**ey**) ، ی (**ay**) ، (**āy**) ، (**oy**) ، (**uy**) ، (**ew**) ، (**əw**) ، (**iw**) لیکنی توپیر نه شته.

په پښتو کې د خاصو عربي تورو فونیمیکه لیکښه:

| ګڼه | توري | پوهندوی شاکر | څېړنوال هلالي | پوهنوال خویشکی | پوهاند زیار | توپیر |
|---|---|---|---|---|---|---|

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ث | s̲ | θ | θ | θ | توپیر |
| ۲ | ح | h̲ | h̲ | h̲ | ḥ | // |
| ۳ | ذ | z̲ | δ | δ | δ | // |
| ۴ | ص | s̤ | s̲ | s̲ | s̲ | // |
| ۵ | ض | z̤ | z̲ | z̲ | z̲ | // |
| ۶ | ط | t̲ | t̲ | t̲ | t̲ | متفق |
| ۷ | ظ | z̄ | z̄ | z̄ | z̤ | توپیر |
| ۸ | ع | ? | ؟ | ؟ | ʕ | // |
| ۹ | ف | f | f | f | f | متفق |
| ۱۰ | ق | q | q | q | q | متفق |

# دویم څپرکی

# په پښتو کې د (یاگانو) سمه کارونه او اړتیا

په پښتو ژبه کې (یاگانې) د بڼې یا شکل له پلوه په پنځه ډوله دي، چې پخوا د پښتو ژبپوهانو او لیکپوهانو له خوا دا شکلونه غوره شوي او که پر ۱۳۶۹ل کال د باره گلۍ د سیمینار پرېکړه ورسره یوځای کړو، نو دا شمېر اوس شپږو شکلونو ته رسېږي. دا پنځه یا شپږ شکلونه په حقیقت کې د څلورو بېلابېلو اوازونو ښکارندويي یا استازي کوي، چې دوه یې خپلواک غږونه یا واولونه دي او نور یې د ژبپوهنې د یوې دودیزې نومونې یا اصطلاح له مخې غبرگغږونه یا دیفتونگونه دي.

د پښتو یاگانو، دا څلور اوازونه په حقیقت کې څلور مختلف اوازونه دي، چې د پنځو نږدې همشکله گرافیمونو په بڼه افاده کېږي، له همدې امله دا مختلف او بېلابېل اوازونه په دودیز ډول د یوه گرافیم (ی گانو) په نامه یادېږي، که په پیل کې د پښتو غږونو لپاره دلیکنښو یا گرافیمونو د ایښودلو پرمهال دې څلورو بېلابېلو اوازونو ته بېل بېل شکلونه غوره شوي وای نو نن به د

پښتو (یاګانو) په لیکنۍ او ګړنۍ برخه کې هغه ستونزه او ناسم پوهاوی نه رامنځته کېده، چې اوس کله کله په دې برخه کې پېښېږي، خو له دې سره سره پښتو ژبپوهانو او لیکپوهانو هڅه کړې د ټکو او ځینو نښو په زیاتون سره د دې اوازونو د افادې په بڼه کې اسانتیا راولي او د پښتو لیک لوستنه اسانه کړي.

د یادونې وړ ده، چې د پښتو (۷) واولونو له جملې څخه دوه یې همدا (یاګانې) دي، چې د کارونې خورا زیات ځایونه او اړخونه لري. له واول پرته طبعاً کلمه هډو جوړېدی نه شي، نو ځکه که موږ دا دوه واولونه (ي = **i**) او (ې = **e**) محاسبه کړو نو د پښتو کلمو په سلو کې تر پنځه ویشتو زیاته برخه جوړوي. د دې واولونو ارزښت په دې کې دی چې نه یوازې د نوم یا فعل په اصلي بڼه کې راځي، بلکې په مغیره حالت کې هم راځي او د پښتو ژبې دګرامر یوه ځانګړتیا یا د ژبني سکښت یو خصوصیت دا دی، چې فعل، نوم، صفت یا قید پر خپل اصلي حالت سربېره دویم یا مغیره حالت هم لري او د جمعې هم، نو دا دوه واولونه یا (ی ګانې) دکلمو په دغسې اوښتون کې اساسي نقش لري. سربېره پر دې زورکي واله یا همزه واله (ۍ = ئ) او زوروالـه یا نرینه (ی) هم د پښتو کلمو په جوړونه کې ډېر نقش لري، نو دا ټول چې سره یوځای شي دا د پښتو کلمو یوه ډېره درنه او غوښنه برخه جوړوي. که چېرې د هغو د ټاکل شویو شکلونو په واسطه دهغو د اوازونو سمه افاده او لیکنۍ بڼه ترسره نه شي او یا یوه د بلې پرځای وکارول شي، نو یقیني خبره ده، چې د پښتو متن په افاده او لوستنه کې به ډېرې ستونزې رامنځته شي.

زه دلته غواړم لومړی د پښتو د مروجو پنځه واړو (یاګانو) د سمې کارونې ځایونه په ګوته کړم او بیا وروسته د (یاګانو) په اړه خپل یو نظر او وړاندیز راوړم.

## ۱- نرمه، بې ټکو، زوروله یا نرینه (ی = ay):

دې (ی) ته نرمه، بې ټکو، زوروله یا نرینه (ی) وایي او د ژبپوهنې له معمول تعریف سره سم یو غبرګغږ یا دیفتونګ ګڼل کېږي، چې له یو خپلواک اواز (a) او یو نیمه خپلواک غږ (y) څخه رغېدلی دی. سره له دې چې یو شمېر اوسني ژبپوهان د دیفتونګ له معمول تعریف سره موافق نه دي او هر یو بېل اواز ګڼي، په هر ترتیب زوروله یا نرینه (ی) له همدغو دوو اوازونو څخه رغېدلې ده او د یوې څپې په شان یو ځل له خولې څخه راوځي. د دې (ی) د کارونې ځایونه په دې ډول دي:

الف- د مفردو مذکرو نومونو په پای کې راځي، لکه:
سړی، منګی، لرګی، زمری، ډانګی، فرنګی او داسې نور...
کېدی شي دا نومونه حقیقي مذکر وي یا لفظي.
(حقیقي مذکر او حقیقي مونث هغو نومونو ته ویل کېږي، چې د نسل د تولید وړتیا ولري او لفظي مذکر او مونث هغو نومونو ته ویل کېږي، چې د نسل د تولید وړتیا نه لري، خو لفظاً نرینه او ښځینه ګڼل کېږي.)
ب- په ځینو نسبتي صفتونو یا ستاینومونو کې هم راځي، لکه:

توریالی، ننګیالی، زمریالی، بریالی او نور...

ج – په هغو فعلونو کې هم راځي، چې د مفرد مذکر نوم لپاره ګردان شوي یا اوښتي وي.
لکه: احمد ډېر ځورېدلی دی، محمود ډېر کړېدلی دی، لاس مې سوځېدلی دی.

د – د ځینو امکاني فعلونو په پای کې هم راځي. لکه:
زړه مې په ښو خبرو رغېدلای شي، استاد د زده کوونکو په ښو اخلاقو خوشالېدلای شي.
وطن په کارونو اباد ېدلای شي، ځمکه د بزګر په هڅو زرغونېدلای شي.

## ۲- څرګنده، لنډه یا معروفه (ي = i):

دا (ي) په پښتو کې یو خپلواک غږ (واول) دی، چې په پښتو متن کې ډېر زیات کارېږي د کارونې ځینې مهم ځایونه یې په دې ډول دي:

الف – د هغو مفردو مذکرو یا نرینه نومونو د جمعې لپاره راځي، چې په نرینه (ی) پای ته رسېدلي وي، لکه:

| مفرد | جمع |
| --- | --- |
| سړی | سړي |
| زمری | زمري |

| | |
|---|---|
| غویی | غویي |
| منګی | منګي |
| لرګی | لرګي |

او داسې نور...

ب – دهغو مفردو مذکرو نومونو دمغیره یا دویم حالت لپاره راځي، چې په نرینه (ی) پای ته رسېدلي وي، لکه:

| (اصلي حالت) | (مغیره یا دویم حالت) |
|---|---|
| (سړی) کار کوي. | (سړي) کار وکړ. |
| (بریالی) درس لولي. | (بریالي) درس ولوست. |
| (زمری) د ځنګله پاچا دی. | له (زمري) څخه نور حیوانات وېرېږي. |

ج – د نسبتي صفتونو یا نسبتي نومونو په پای کې هم راځي، لکه:

| | | | |
|---|---|---|---|
| خوشال | خوشالي | رحیم | رحیمي |
| خوښ | خوښي | کریم | کریمي |
| سوکال | سوکالي | ابراهیم | ابراهیمي |
| هوسا | هوسایي | او نور... | |

د – په یو شمېر کسبي نومونو کې، چې د یوې پېشې یا کسب ښکارندویي کوي، هم کارېږي، لکه:

ډولچي، سورنچي، توپچي، موچي، دوبي، جارچي او نور...

ه - په یو شمېر فعلونو په تېره بیا د حال زمانې په فعلونو کې هم استعمالېږي.
لکه: ځي، راځي، خوري، کړي، څښي، وړي، لولي، ناځي، پاځي او نور...
و- په پښتو کې د همدې غبرګغړ (ay) په شان نور غبرګغړونه (oy)، (uy) هم شته، چې تراوسه لا ورته په پښتو لیکدود کې کومه خاصه بڼه په پام کې نه ده نیول شوې. دا غبرګغړونه ډېر زیات نه دي، نو هغه کلمې چې پر دې غبرګغړونو پایته رسېدلې وې، هم په همدې (ی) ولیکل شوې، نامعقول کار به ځکه نه وي، چې دا ډول غبرګغړونه تر نورو دې (ی) ته نږدې دي. لکه خوی (xuy)، بوی (buy) یا زوی (zoy) لوی (loy)، ځینې ضمایر لکه دوی، هغوی او ځینې نور نومونه.

## ۳- اوږده، مجهوله یا ښځینه (ې = e):

دا (ې) هم یو خپلواک اواز (واول) دی، چې په پښتو کلمو په تېره بیا په ښځینه نومونو کې زیات کارېږي. د کارونې ځینې مهم ځایونه به یې دلته په ګوته کړو:
الف–دا ښځینه (ې) دهغو مفردو مونثو نومونو د جمعې لپاره کارېږي، چې په ګرده (ه) یا زور (a) پای ته رسېدلي وي. لکه:

| مفرد | جمع |
|---|---|
| ډیوه | ډیوې |
| ښځه | ښځې |

| | |
|---|---|
| پانه | پانې |
| منه | منې |
| زرکه | زرکې او داسې نور... |

ب- دهغو مفردو مونثو نومونو دمغیره یا دویم حالت لپاره راځي، چې په همدې ګرده (ه) یا زور پایته رسېدلي وي، لکه:

| اصلي حالت | مغیره حالت |
|---|---|
| (ډیوه) رڼا کوي. | د (ډیوې) رڼا تته ده. |
| (ښځۀ) د ژوند نیمه برخه ده. | بې له (ښځې) ژوندون ګران دی. |
| (پانه) ورژېده | د توت (پانې) رنګ مې خوښېږي. |
| (پلوشه) درس لولي. | (پلوشې) درس ولوست. |

ج- دهغو ښځینه صفتونو دجمعې او مغیره حالت لپاره هم راځي، چې په ګرده (ه) یا زور (a) پایته رسېدلي وي، لکه:

| مفرد او اصلي حالت | مغیره او د جمعې حالت |
|---|---|
| (ښه ښځه) | (ښې ښځې) |
| (ښه ښځه) ښه خوی لري | (د ښې ښځې) به ښه خوی وي |
| (سره ډیوه) | (سرې ډیوې) |

د- په هغو نسبتي صفتونو او فعلونو کې هم کارېږي، چې د ښځینه نومونو لپاره کارول شوي او یا ګردان شوي وي. لکه:

| | |
|---|---|
| له (بدې ورځې) ژاړم. | (د ښې ورځې) خاوند شې. |
| (نجونې ژړېدلې). | (خویندې خند بدلې). |

(توري نښېدلي). (وراوي تېرېدلي)
او داسې نور...
ه - په ښځينه ضميرونو او مفردو حقيقي مونثو نومونو کې هم کارېږي، لکه:
دې، هغې، ناوې، ادې، خواښې او نور...
د دې (ې) يو بله ښه ځانګړنه په دې کې ده، چې د کلمو په منځ کې هم خپل هويت ساتلای شي او ان که څوک وغواړي په دقيق ډول يې استعمال کړي، د کلمې په سر کې هم خپل هويت خوندي کولای شي، خو د کلمې په سر کې دومره دود نه ده، د کلمې په منځ کې، لکه:
(تېر) د پخوا تېر شوي او (تير) د دستک او لرګي په مانا
(پېر) د مهال په مانا او (پير) دلاربنود يا مرشد په مانا.

## ٤- زورکيواله (ۍ = əy):

زورکيواله (ۍ = əy) د ژبپوهنې د معمولو تعريفونو له مخې يو غبرګغږ دی، يانې له دوو اوازونو څخه رغېدلې ده، چې يو زورکی (ə ) دی او بل سيمي واول (y) دی، چې يو يې خپلواک (ə) دی او بل يې (y ) ببواک يا نيمواک. په پښتو اوسنۍ الفبې کې د زورکي (ə) او زور (a) تفاوت نه ليدل کېږي او دواړه په دې بڼه (ه) ليکي، خو د باړه ګلۍ په سيمينار کې د زور او زورکي لپاره (ه او ۀ) نښې منل شوي او دا يو ښه وړانديز دی. د زورکي واله (ۍ) بله برخه (y) نيمه خپلواک غږ دی، د استعمال ځايونه يې په دې ډول دي:

الف- په پښتو مفردو مونثو نومونو کې راځي، کېدی شي دا نومونه یا حقیقي مونث وي یا نا حقیقي، خو په لفظي ډول پرې د مونث اطلاق کېږي، لکه:

ځولۍ ، زمرۍ ، نړۍ ، ګلالۍ ، ډوډۍ ، څوکۍ ، او داسې نور...

ب- د ځینو هغو نسبتي صفتونو د جمعې او مغیره حالت لپاره راځي، چې پر ځرګنده (ي) پایته رسېدلي وي، لکه:

| مغیره حالت | اصلي حالت |
|---|---|
| خوښۍ | خوښي |
| تربګنۍ | تربګني |
| دوستۍ | دوستي |
| خوشالۍ | خوشالي |

دا به په یوه مثال کې هم واضح کړو:

| (مغیره حالت) | (اصلي حالت) |
|---|---|
| د احمد او محمود د دوستۍ مزه نه شته | د احمد او محمود ترمنځ دوستي ده. |

## ۵- همزه واله ئ (əy):

دا هم یو غبرګغږ دی او له زورکي والې (ۍ) سره یې په سکښت، جوړښت او تلفظ کې هېڅ توپیر نه شته، یانې دا دوه غږونه په حقیقت کې د یوې څېې په څېر یو ځل له خولې څخه راوځي. پښتو لیکپوهانو د زورکي والې (ۍ) او همزه والې (ئ) د بېلتون نښه او

ضرورت همدا ګڼلی، چې یوه په نومونو او بله په فعلونو کې راځي.
زه بـه دلتـه د پښـتو لیکپوهـانو لـه خـوا د همـزه والـه (ئ) د اوسـني دوديز استعمال ځایونه په ګوته کړم:

الـف- همـزه والـه (ئ) اکثـره د امـر او نهـې فعلونـو پـه پـای کـې راځي، لکه: کېنئ، پاڅئ، وخورئ، مـه خورئ، لاړشئ، مـه ځئ او نور...
ب- د ځینـو سـوالیه جملـو پـه پـای کـې هم راځـي، البتـه دلتـه هـم فعلي حالت څرګندوي، لکـه: تاسو ښـوونځي تـه راځئ، تاسـو درس لولئ، په علمي غونډو کې برخه اخلئ او داسې نور...
د یادونې وړ ده، چې همزه واله (ئ)، زورکي والـه (ۍ) او زوروالـه یا نرینه (ی) د کلمو په منځ کې خپـل هویت سـاتلای نـه شي او ځای یې د څرګندې (ي) شکل نیسـي، یـوازې د کلمـو پـه پـای کـې دا (ی) ګـانې د شـکل لـه پلـوه خپـل هویـت سـاتلای شـي،لکه: نـړۍ + وال = نړیوال   یا کلی + وال = کلیوال

اوس د پښتو یاګانو، په اړه خپل نظر او وړاندیز څرګندوم:
لـو مړی د نومونـو پـه اړه: پښـتو (یاګـانې) طبعـاً د بېلابېلـو اوازونو ښکارندویي کوي، لکه څنګه چې هر اواز خپـل یـو بېـل او واحد نوم لري، نو په کار ده، چې د هغه ګرافیم یا شکل هم یـو واحـد او له اواز سره منطبق یو نوم ولري، لکه څنګه چې مونږ په خپله نـوره ابېڅې (الفبې) کې د هر اواز لپاره د ګـرافیم یـو مشـخص نـوم لـرو او هېڅ ستونزه په کې نه وینو نو دلتـه هم بایـد د نومونـو د یـو والـي لـه

لارې دا ستونزه حل شي. په دې برخه کې زما مشخص وړاندیز دا دی، چې:

( ی = ay ) ته دې نرینه (ی) وویل شي، ځکه چې دا د هغې دکارونې له ځایونو او مانا سره پوره پوره مطابقت کوي، په هر ځای کې چې دا (ی) کارېږي؛ فعل وي که صفت او یا که نوم وي، د هغو ټولو خصلت به نرینه وي یا به لفظاً او یا به هم د مانا له پلوه دنرینه ځانګړتیا ترې ښکاره شي، نو د (زوروالې) (نرمې) او (بې ټکو) نور نوم دې ترې حذف شي، ځکه چې له مانا سره یې ډېر اړخ نه لګوي.

(ې = e ): لکه څنګه چې (ی ay) د نرینه نومونو، صفتونو او فعلونو لپاره راځي دغسې ( ې = e ) دمونثو نومونو، صفتونو او فعلونو لپاره راځي، نو په کار ده، چې ښځینه (ې) ورته وویل شي، چې له مانا سره یې مطابقت پیدا شي. د مجهولې یا اوږدې (ې) اصطلاحګانې ځکه سمې نه برېښي، چې د (مجهولې) اصطلاح موږ ته مجهوله نه ده او کېدی شي دعربي او دري ژبو ویونکو ته دا (ې) مجهوله وي او همغه تعبیر دلته سرایت کړی وي، نو کوم شی چې موږ ته مجهول نه وي، ولې د مجهول نوم پرې کېږدو؟

د یوه واول اوږد او لنډ تلفظ کول په مانا کې کوم تغییر نه راولي نو ځکه دا اصطلاح یا نوم هم له مانا سره اړخ نه لګوي، نو که دې

(ې) تـه همغـه (ښځینه ې) نـوم ورکـړل شـي، دا کـار بـه لـه مانـا سـره مطابقت پیدا کړي.

د څرګندې یا معروفې (ي = i) نومونه دومره بده نه برېښي، ځکه پښتنو او نا پښتنو ټولو ته څرګنده ده، نو که د لنډې (ي) پر ځای همدا نوم غوره شي، څه ستونزه ترې نه پیدا کېږي.

د زورکیوالې او همزه والې (ۍ، ئ) په اړه زما نظر دا دی، چې دا دواړه په حقیقت کې یو اواز دی او یا د یوه غږ دوه شکلونه دي. موږ په نورو ځایونو کې د پښتو الفبې په برخه کې په واقعیت کې د اوازونو لپاره شکلونه نه لرو او د اوازونو باقي یا پوروړي یا ستو، لکه د زورکي (ə) لپاره هم تراوسه پورې د (ه) شکل او د زور (a) لپاره هم دا (ه) شکل کاروو. سره له دې چې د باړه ګلۍ سیمینار د زورکي لپاره (ۀ) شکل غوره کړ، خو تراوسه لا پوره دود شوی نه دی او هم د (u) او (o) دوو اوازونو لپاره یو یو شکل (و) لرو، خو دلتـه بیـا د یـوه اواز (əy) لپـاره دوه شـکله (ۍ = ئ) لـرو. پښـتو ژبپوهـانو او لیکپوهـانو دهمـزه والـې (ئ) د ضـرورت وجـه (فعلـي افـاده) ګڼلـې، نـو کـه د فعـل، نـوم او صـفت د تثبیـت لپـاره مـوږ د اوازونو شکلونه بدلوو، نو بیا خو هغه نورې (ې،ي،ی) ګانې هم پـه فعلونو، صفتونو او نومونو کې راځي، نو هغو تـه مـو ولـې ببلا ببـل شکلونه غوره نه کړل؟ لکه:

ی = سړی (نوم)    بریالی (ستاینوم)    کړېدلی دی (فعل)

ي = سړي (نوم) ننګیالي (توصیفي یا ستاینوم) خوري، ځي (فعل)

ې = ناوې (نوم) تودې/ سړې (صفت) خندېدلې، ګرځېدلې (فعل)

نو دلته ولې دا (ی،ي،ې ګانې) د محتوا له مخې پر شکلونو ونه وېشل شوې؟ زورکیواله او همزه واله (ۍ،ئ) په حقیقت کې د یوه اواز ښکارندویي کوي او د یوه اواز د تثبیت لپاره یوازې یوه ګرافیم یا توري ته اړتیا ده او بس. د یوه غږ لپاره د بېلابېلو تورو شتوالی دا مانا ورکوي، چې موږ د یوې ژبې لپاره په یوه واحد لیکدود کې څو الفباوې ولرو او دا د ژبې زده کړه او تدریسي چارې سختوي. زما وړاندیز دا دی، چې همزه والې (ئ) ته هېڅ اړتیا نه شته او دا پر ژبه یو زیاتی بار دی، نو ګټه نه لري، باید له پښتو الفبا څخه حذف شي.

د بارړه ګلۍ په سیمینار کې چې د (یا) یو بل شکل (ے) په اختیاري ډول منل شوی هغې (ے) ته هم هېڅ اړتیا نه شته او دا پر پښتو ژبه د اردو ژبې د اغېز ښکارندویي کوي او د استعمال ځایونه یې په نورو (یا ګانو) افاده کېدی شي.

پښتو لوستونکو ته مې د (یاګانو) د زده کړې په برخه کې وړاندیز دا دی چې د (یاګانو) نومونو د زده کړې پرځای د (یاګانو) د تلفظ او د هغو د استعمال ځایونو ته زیاته توجه وکړي، نومونه (اصطلاح) کېدی شي، د سړي له یاده وځي، خو د (یاګانو) دقیق تلفظ او په حافظه کې د هغو د شکل ساتنه د (یاګانو) له دقیقې

کارونې سره مرسته کولای شي. لوستونکي کولای شي لاندې شعار د (یاګانو) د استعمال د یوه لنډ فورمول په توګه په پام کې ونیسي او په هره کلمه کې چې (یا ګانې) کارول شوې وي، د همدې فورمول له مخې یې د تلفظ په پام کې نیولو سره وکاروي: دا فورمول دا دی:

تل دې وي سوله په ټوله نړۍ کې – سره یو شئ دا مو شعار دی.

پورتني فورمول کې د هرې (یا) شکل او تلفظ په پام کې ونیسئ او په هره کلمه کې چې (یا) کارېدلې وي، هغه له دې تلفظ او شکل سره منطبق کړئ، نو کېدی شي په سم ډول یې وکاروئ.

# درېیم څپرکی

## په پښتو کې د مغیره حالت سمه لیکنه

پښتو د هغو ژبو په ډله کې ده، چې (نوم) د حالت له مخې هم په کې تغییر کوي، یانې دا چې د جملې د کارونې پرمهال نوم پر خپل اصلي یا لومړني حالت سربېره دویم حالت ان درېیم حالت هم لرلای شي. په (دري) او ځینو نورو ژبو کې نوم خپل یو حالت لري. په پښتو کې که نوم چېرې مفرد وي، نو په جمله کې یې د موقعیت له مخې د بڼې د بدلون دوه احتماله شته او که چېرې جمع وي د جمعې د دوو حالتونو او همدارنګه د دوو مغیره حالتونو احتمال یې شته. دلته به لومړی د نومونو اصلي (لومړني) او مغیره (دویم) حالت ته اشاره وکړو او بیا به پر دې هم رڼا واچوو، چې د کومو نومونو د دویم یا مغیره حالت په برخه کې لیکنۍ تېروتنې کېږي. تر ټولو لومړی هغه نومونه چې یوازې یوه بڼه لري او مغیره حالت نه لري.

### ۱- ثابت او نامغیر نومونه:

دا هغه نومونه دي، چې یوازې یو حالت لري، چې په مفرد ډول کارېږي، په یوه حالت کې هم تغییر نه کوي، دې کې دغه نومونه شامل دي:

**الف-** هغه لفظي مفرد یا جمع نومونه، چې پر زورکیواله (ۍ əy) پای ته رسېدلي وي، په یوه حالت کې هم مغیر حالت نه لري، دا نومونه په دې ډول دي: نړۍ، مړۍ، ډوډۍ، ګړۍ، ګلالۍ، ملالۍ، شړۍ، وړۍ او داسې نور، خو که دا نومونه بیا په همدې خپل شکل ونه لیکل شي، نو د تلفظ پرمهال یې ستونزې راولاړېږي او یو ناپښتو ژبی یې په سمه بڼه نه شي ویلای، لکه د (ګلالۍ) او (ګلالی) توپیر یا هم د (مړۍ) او (مړی) توپیر نه شي کولای، نو ځکه خو د دې نومونو سم لیکنی توپیر په کار دی.

**ب-** هغه نومونه چې پر الف (ā) پای ته رسېدلي وي، څه مفرد مذکر وي، څه مفرد مونث، څه لفظي مذکر یا مونث وي څه حقیقي، مغیره حالت نه لري.

لکه ملا، بلا، کلا، نیا، خندا، ژړا، ځلا، ښکلا او داسې نور...

دا که د جملې په هر موقعیت او حالت کې په خپله مفرده بڼه وکارول شي، تغییر نه کوي. د دې ډول نومونو یا کلمو په لیکنۍ برخه کې د نظر اختلاف او توپیر نه شته، نو ځکه یې په لیکنۍ او ګړنۍ برخه کې کومه ستونزه هم نه تر سترګو کېږي، البته که پورتني نومونه د جمعې په بڼه راوړل کېږي، د جمعې بڼه یې د

جملې د سکښت، جوړښت او په هغې کې د دې نومونو د دريځ لـه مخې، د جمعې اصلي او مغيره بڼې لرلای شي.

## ۲- بدلېدونکي نومونه:

هغـه نومونـه دي، چې پـه جملـه کې د خپـل موقعيـت لـه مخې بـدلون مـومي او بڼـه يـې بـدلېږي، يـانې دا ډول نومونـه کـه مفـرد حالـت ولـري کـه جمـع، دواړه يـې مغيـره حالتونـه لـري، پـه ليکنـۍ برخه کې که د دې نومونو سمه بڼه وليکل شي، نو په تلفظ کې بـه يې اساني راشي. دلته به د دې نومونو بېلګې وړاندې کړو:

الـف- هغـه نومونـه چـې پرکانسـونينټ يـا چـوپ تـورو پايتـه رسېدلي وي، دوه مغيـر حالتونـه لـري، يـو پـه نـدايي او بـل هـم د بېلتون او پيوستون په حالت کې. دلتـه بـه يـې څو بېلګې وړانـدې کړو.

| اصلي حالت | ندايي حالت | د بېلتون يا پيوستون حالت |
|---|---|---|
| احمد | احمده! | له احمده مې زړه شين دی. |
| سلطان | ای د زړه سلطانه! | له سلطانه پوره نه شوه. |
| جانان | جانانه راشه چې پخلا شو! | بېګاه مې خوب کې وکړ له جانانه سره جنګ. |
| غر | ای د شمشاد غره! | د غره پر څوکه لار ده. |
| بلبل | زما د زړه بلبله! | د زړه حال مې له بلبله پوښته. |
| قلم | قلمه ښکل به دې کړم نوم د جانان وليکه! | بې کتاب و قلمه، وطن نه رسېږي. |
| مور | مورې لپه دې له دعاوو ډکه اوسه! | خدای(ج) دې بې موره او بې پلاره مه کړه. |

سره لـه دې د پورتـه مغيـره حـالتونو پـه ليکنـۍ برخـه کـې ډېـرې خاصې ستونزې نه شته، خو بيا يې هـم ځيـنې خلـك پـه سـم ډول نـه ليکي او له ګرامري پلوه يې سم نه کاروي.

ب- پـه پښتـو کـې ځيـنې شخصي ضـماير داسـې دي، چـې دويـم حالت هم لري، خو په پښتو- عربي ليکدود کې د ځينو ضـميرونو د دويم حالت ليکنه مشکله ده، همدا وجه ده چې ځيـنې ويـندويان د خبرونو پرمهال هغه ناسم لولي او د جملې مانا او محتـوا ورسـره بدلېږي، دلته به پښتو کې شخصي ضميرونو ته هم نغوته وکړو.

| | اصلي حالت | مغيره حالت |
|---|---|---|
| مفرد | زه | ما |
| | ته | تا |
| جمع | موږ | موږ |
| | تاسې/ تاسو | تاسې/ تاسو |

| | | |
|---|---|---|
| مفرد مذکر | دی | ده |
| مونث او مذکر جمع | دوی | دوی |
| مفرد مونث | دا | دې |
| مفرد مذکر | دغه | دغه |
| مفرد مونث | دغه | دغې |
| جمع/ مونث مذکر | دغو | دغو |
| مفرد مذکر | هغه | هغه |

| | | |
|---|---|---|
| مفرد مونث | هغه | هغې |
| مونث او مذکر جمع | هغو | هغو[1] |

دلته به دا هر یو ضمیر په اصلي او مغیره بڼه په یوه جمله کې وکاروو:

| اصلي حالت | مغیره حالت | |
|---|---|---|
| زه درس لولم | ما درس ولوست | (زه) پر (ما) بدل شو |
| ته درس لولې | تا درس ولوست | (ته) پر (تا) بدل شو |

د متکلم ضمیر د جمعې حالت یې یوازې یوه بڼه لري او مغیره حالت نه لري.

| | |
|---|---|
| دي درس لولي | ده درس ولوست |
| دا درس لولي | دې درس ولوست |

دغه هلك درس لولي دغه هلك درس ولوست.

دغه(daǧa) پر دغه (dəǧə) واوښت

یانې (زورونه) پر (زورکیو) بدل شول (ə=a)

دغه جلۍ درس لولي دغې جلۍ درس ولوست

هغه ځوان درس لولي هغه ځوان درس ولوست. دلته هم هغه (haǧa) پر هغه (həǧə) بدل شو.

---

۱- د پښتو ګرامر، هربرت پنزل، د محمد رحیم ا لهام ژباړه، ۱۳۴۰ل کال، دولتي مطبعه ۱۳۴-۱۳۵ مخونه.

هغه پېغله درس لولي          هغې پېغلې درس ولوست

(هغه) پر (هغې) او پېغله پر پېغلې بدل شول.

د پورتنیو ضمایرو د اصلي او مغیره استعمال په لیکنۍ برخه کې په مجموعي ډول زیاتې تېروتنې نه کېږي، یوازې د (دغه) او (هغه) په اصلي او مغیره حالت کې ستونزه شته، څکه چې په پښتو لیکدود کې د دواړو توپیر مشکل دی. البته د زورکي(ə) لپاره د باړه ګلۍ د سیمینار دا (ۀ) وړاندیز شوې بڼه که په پام کې ونیول شي نو دا مشکل به تر ډېره حده حل شي، په تېره بیا د وروستۍ څپې زورکی به سم افاده شي، خو د لومړۍ څپې زورکی، چې هغه هم د اصلي حالت له زور(a) څخه پر زورکي (ə) اووښتی، بیا به هم سم افاده نه شي او یوازې فونیمیکه الفبې د دې وس لري، چې اصلي او مغیره حالت په دقیق ډول انځور کړي. وګورئ پښتو دودیز او فونیمیك لیکدود کې دا حالتونه:

| | |
|---|---|
| هغه هلك درس لولي. | **hağa halək dars lwali** |
| دغه هلك درس لولي. | **dağa halək dars lwali** |
| هغه هلك درس ولوست. | **həğə halək dars wəlwast** |
| دغه هلك درس ولوست. | **dəğə halək dars wəlwast** |

په دواړو ضمایرو: هغه (**hağa**) او دغه (**dağa**) کې کله چې له حال زماني څخه ماضي ته اوړي، زورونه (**a**) پر زورکیو (ə) بدلېږي، څرنګه چې دا بدلون په پښتو الفبايي سیستم کې په ښه ډول انځوربدلای نه شي، نو څکه خو هغه کسان چې مورنۍ

ژبه يې پښتو نه ده او يا هم پښتو يې له ګړني پلوه سل په سلو کې پخه نه ده، د دې ضمايرو د اصلي او مغيره حالتونو توپير سم نه شي کولای او کله چې د دې ډول ضميرونو کارېدونکې جملې کاروي، نو لفظي تېروتنې کوي.

پر ضمايرو او پورتنيو نومونو سربېره په پښتو کې هغه نومونه، چې د کلمې په منځ کې و ( o يا u) ولري، مغيره حالت لري او په تغييرېدونکي حالت کې (و) پر الف (ā) بدلېږي او په پای کې يې زورکی (ə) زياتېږي، لکه:

| | |
|---|---|
| پښتون | پښتانه |
| زوړ | زاړه |
| موړ | ماړه |
| زنګون | زنګانه |

ځينې يو څپيز نومونه او صفتونه هم مغيره حالت لري، چې په زورکي(ə) پای ته رسېږي، لکه:

| | |
|---|---|
| اوم | اومه |
| مل | مله |
| مړ | مړه |
| اوږد | اوږده |
| شين | شنه |
| سور | سره .. او داسې نور |

خو په پښتو کې هغه نومونه، چې تر ټولو زيات مغيره حالتونه لري دا دي:

۱- هغه نومونه چې په زور (a) پای ته رسېدلي وي، په تېره بیا هغه نومونه چې په لفظي یا حقیقي ډول مفرد مونث وي، د دې نومونو جمع او مغیره حالت پر ښځینه یا اوږده (ې) پای ته رسېږي، لکه:

| مفرد اصلي حالت | مفرد مغیره حالت | د جمعي حالت |
|---|---|---|
| تخته | د تورې تختې رنګ | تختې |
| لښته | د لښتې پاڼې | لښتې |
| ونه | د ونې سیوری | ونې |
| سترګه | د سترګې لید | سترګې |
| مڼه | د مڼې رنګ | مڼې |

د دې نومونو د اصلي او مغیره حالت په لیکنۍ بڼه کې څه ستونزه نه پېښېږي، خو که د (ې) پر ځای بله یا (ئ) ، ( ي)، (ی) او یا هم (ۍ) وکارول شي، مانا یې بدلولای او تلفظ یې سختولای شي.

۲- د مغیره حالت نور ډېر کارېدونکي نومونه یا صفتونه همغه دي، چې په نرینه، نرمې یا زوروالې (ی = ay) پای ته رسېدلي وي. دا ډول نومونه یا صفتونه دویم یا مغیره حالت لري، د یادونې وړ ده، چې د دې نومونو جمع او مغیره حالت دواړه په یو ډول تر سره کېږي او دواړه په څرګندې یا معروفې یا (ي= i) پای مومي. دلته به موږ د دې نومونو یا صفتونو اصلي یا مغیره حالت ته نغوته وکړو.

بریالۍ ډوډۍ خوري. بریالي ډوډۍ وخوړه.
توریالۍ خاندي. توریالي وخندل.
د ادب پوهنځۍ مې خوښ دی. د ادب پوهنځي محصل یم.
ګلالۍ درس لولي. ګلالي درس ولوست.
او همداسې په لسګونو بېلګې...

که څېرې د دې نومونو د اصلي او مغیره حالت توپیر ونه شي، نو هم یې په مانا کې توپیر پېښیږي او هم په تلفظ کې. په ځینو ملي او نړیوالو رسنیو کې چې د پښتو (یاګانو) کارونه په دقیق ډول نه تر سره کېږي، ویندویان د متن په لوستنه کې له ډېرو تېروتنو سره مخامخېږي، خو له نېکه مرغه چې د دې نومونو اصلي، مغیره او د جمعي حالت په استعمال کې څه لیکنۍ ستونزه نه شته، ټولو پښتو لوستوالو او لیکوالو ته په کار دي، چې د دې نومونو لیکني سمون او سم استعمال ته ډېر پام وکړي، ځکه هغه ستونزه چې د نورو نومونو په لیکنۍ برخه کې شته، دلته هغه ستونزه نه لرو.

# څلورم څپرکی

## په پښتو کې د کلمو سمه لیکنه

کلمه: داسې یو ژبنی عنصر دی، چې تر یوه زیاتو اوازونو څخه رغېدلې وي او مانا ورکوي، که چېرې پر بېلابېلو غړونو ووېشل شي مانا له لاسه ورکوي او پر بې مانا غړونو بدلېږي. ځینې ژبپوهان د کلمې او مورفیم توپیر همدا ګڼي، چې کلمه یوه لغوي مانا لري، خو مورفیم یو لفظي واحد دی، کېدی شي مانا ولري او یا یې ونه لري.دا چې د ګرامر له پلوه کلمې پر څو برخو وېشل کېږي او په جمله کې د موقعیت له مخې د هغو مانا څه ډول اوړي را اوړي، پر دې باندې دلته بحث نه کوو، دلته موږ یوازې پر دې غږېږو، چې کلمه نوم دی، که صفت، فعل دی او که قید او یا هم بل کوم څه؟ څه ډول لیکل کېږي؟ ځکه دلته زموږ کار لیکني سمون سره دی.

### ۱- خپلواکې یا نا ترکیبي کلمې:

هغه کلمې دي، چې په مستقل ډول مانا ورکوي؛ له کومې بلې کلمې یا مورفیم څخه رغېدلې نه وي او له اوازونو پرته پر نورو

برخــو د وېــش ور نــه وي. د دې ډول کلمــو پــه لیکنــه کــې ډېــره ستونزه نه شته په تېره بیا چې دا ډول کلمې پر کانسونینټ پای ته رسېدلي وي، دلته به دې ډول کلمو ته اشاره وکړو:

## الف- پر کانسونینټ پایته رسېدلې کلمې:

هغه کلمې چې پر کانسونینټ پای ته رسېدلي وي، هغه مفردې وي کـه جمـع، ښځینـه وي کـه نرینـه، پـه لیکنـه کـې یـې ډېـرې ستونزې نه شته، لکه:

لاس، گـل، اس، نـوك، غـر، لمـر، سـیند، مـور، خـور، ورور، کور، تور، غم او داسې نور...

## ب- پر واول (زور= a) پایته رسېدلې کلمې:

هغه کلمې یا نومونه چې پر زور (a) یا هم پـه زورکـي (ə) پـای تـه رسېدلي وي، د هغـو پـه لیکنـې برخـه کـې یـوه خـه سـتونزه شـته، هغه پښتون چې مورنـۍ ژبـه یـې پښتـو وي او یـا هـم هغـه کسـان چې پښتو ژبه یې ښه پخه زده وي، هغوی ته یې توپیر او لوستنه مشکل نه دي، خو هغه خوك چې لـه لیکـه پښتـو ژبـه زده کـوي، هغو ته یې سم تلفظ مشکل کار دی، لکه:

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| شنه (Šna) ( صفت مفرد مونث) | | | شنه(Šnə) ( صفت مذکر جمع) | | |
| غله (ğala ) | // | غله | ğlə | // | |
| سره (sra) | // | سره | srə | // | |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| پړه (pra) | // | پړه | prə | // | |
| زړه (ẓara) | // | زړه | ẓra | (نوم مفرد مذکر) | |
| تره (tara) | // | تره | trə | // | |

دلته بیا هم یادونه کېږي، چې که د زورکي لپاره د (ۀ) شکل دود شي، نو د دې کلمو دقیق ضبط به په سلو کې اتیا اسان شي او پاتې شل په سلو کې بیا هم د فونیمکي ابڅې په مټ حلېدی شي.

## ج - پر (یاگانو) پایته رسېدلې کلمې:

هغه کلمې چې د پښتو (پنځه یاګانو) په حقیقت کې له (څلورو یاګانو) څخه پر یوې پای ته رسېدلي وي، که په لیکنه کې یې د (یا ګانو) له دقیقې کارونې ګټه پورته نه شي، نو هم د کلمې په تلفظ او هم د مانا په افاده کې ستونزې راولاړېږي. دلته به یې څو مثالونه وړاندې کړو.

| ناسم | سم |
|---|---|
| احمد ډوډی وخوړه. | احمد ډوډۍ وخوړه. |
| بریالی احمد وواهه. | بریالي احمد وواهه. |
| راځی چې درس ولولو. | راځئ چې درس ولولو. |
| د ده رنګ د سړی نه دی. | د ده رنګ د سړي نه دی. |
| هوسی راغله. | هوسۍ راغله. |

## ۲ – ترکيبي کلمې:

هغه کلمې دي، چې له دوو خپلواکو کلمو يا مورفيمونو او يا هم له يوې خپلواکې کلمې يا يوه نا خپلواك مورفيم څخه رغېدلې وي او له دې نوي ترکيب يا جوړښت څخه يې يوه نوې مانا لاسته راغلې وي.

تر کيبي کلمې هم پر دوو ډولو وېشل کېږي:

### الف – هغه ترکيبي کلمې چې د پيوستون وړتيا ونه لري:

که له دې کلمو سره دويم عنصر يوځای هم شي بيا هم خپل جلا شکل ساتي، لکه:

| مفرد | ترکيب يا جمع |
|---|---|
| غر | غرونه |
| سيند | سيندونه |
| وزر | وزرونه |
| ښکر | ښکرور |
| زور | زورور |
| خبر | خبريال |
| پکتيا | پکتياوال او داسې نور |

په دې کې (ونه)، (ور) ، (يال) او (وال) روستاړي دي، چې ماقبل ورسره د پيوستون وړتيا نه لري، خو نورې داسې ترکيبي کلمې

شته، چې همدا روستاړي ور سره نښلېدلای شي. که په دې حالت کې بيا دا وروستاړي ترې جلا وليکل شي، نو د کلمې ليکنې عيب ګڼل کېږي. لکه:

| مفرد | ترکيب يا جمع |
|---|---|
| غم | غمونه |
| بحث | بحثونه |
| ننګ | ننګيالی |
| سمون | سمونوال او داسې نور |

## ب – هغه کلمې چې د پيوستون وړتيا لري:

هغه ډول ترکيبي کلمې دي، چې له دوو زياتو بېلابېلو اجزاو څخه رغېدلي وي او يوه نوې مانا ترې لاس ته راغلې وي، دا ترکيبي کلمې د يو ځای ليکلو وړتيا لري او بايد يو ځای وليکل شي خو په ليکنۍ برخه کې يې له ځينو ليکوالو تېروتنه کېږي او په جلا جلا ډول يې ليکي، يانې دواړه ترکيبونه بېلابېل ليکي، لکه: (ويی) يا (لغت) چې يو خپلواک مورفيم دی، که له ده څخه موږ د (پوهنه) په يو ځای کولو سره بل ترکيبي لغت جوړوو، نو بيا يې جلا جلا نه ليکو، لکه: (ويي پوهنه) که په دې ډول وليکل شي نو بيا هم په اسانۍ سره د يوې واحدې مانا لپاره د يوه ترکيبي لغت په توګه کار نه شي ورکولای. سمه او درسته بڼه يې داده چې په ترکيبي او يو ځايي ډول وليکل شي ؛ (وييپوهنه)، لکه د پوهاند زيار (( پښتو ليکلار)) دا سمه نه ده،

چې موږ ( لیك) جلا او (لار) جلا ولیکو، لکه د (لغت پوهنه) [۱] په نامه چې یو ډېر مهم علمي کتاب لیکل شوی، د لغتونو د جوړښت په اړه ښه هر اړخیز علمي او ژورو بحثونه لري، خو د کتاب په عنوان کې دا تېروتنه هماغسې پاتې شوې ده.

د ترکیبي کلمو تر ټولو غوره او ښه لاره دا ده ، هغه ترکیب چې د یو ځای لیکلو وړتیا ولري، باید یو ځای ولیکل شي او هغه چې هېڅ وړتیا نه لري، مجبور یاستو هغه جلا جلا ولیکو. لکه پکتیا+ وال = پکتیاوال. مجبور یاستو جلا ولیکو. ځکه چې د ترکیب د لومړۍ برخې وروستی (الف) له خپلې وروستۍ کلمې یا مورفیم سره د پیوستون وړتیا نه لري، خو په (غزني) + ( وال) کې چې دا وړتیا شته، نو بیا یې باید ضرور یو ځای ولیکو، لکه: غزنیوال، ارغندیوال، زرملوال، سمونوال او داسې نور...

د ترکیبي کلمو څو نور مثالونه :

یرغلګر

بلوسګر

هټیوال

نړیوال

ټولګیوال

څوکیوال

پوځیوال

ښکیلاکګر

---

( [۱] ) لغت پوهنه، څېړنوال دوکتور دولت محمد لودین، پښتو ټولنه، کابل، ۱۳۵۵ ل کال.

ورانکار
نیواکګر
ټګمار
غمجن
ګټیالی
کتنپلاوی
چاپګر
لوبغاړی
ځانساتی
ورځچاری
خیانتکار
امانتکار
سستکار
نړیخور
ګډونوال
ولسواك
پانګوال
ښتینوال
ولسپال
ټولنوال
پرګنوال
ځمکواکي

نړيواکي

تمځی

پوهنځی

سمونځی

پالنځی

پخلنځی

لوبځی

ښويندی

ښکپلاك

زېبښناك

ورېښمين

پرتمين

لېونتون

هېځکله

مخنيوی

بنستهوال او داسې نور... [1]

په پښتو کې لا هم يو شمېر داسې کلمې شته، چې تر اوسه يې په ليکښه کې سم سمکی نه دی راغلی، اکثريت نه، خو ځينې ليکوال يې سمې نه ليکي، د دې کلمو لپاره هم بايد يو معيار ومنل شي. يو خو هغه کلمې دي، چې د پښتو ټولنې له پرېکړو

[1] - پښتو ليکلار، پوهاند زيار، ننګرهار پوهنتون، ۱۳۶۰ ل کال ۲۱۷- ۲۲۰ مخونه.

سره سم په هغوی کې سمون راغلی او اوس په سمه بڼه لیکل کېږي او ځيني کسان لا اوس هم ترې سر غړاوی کوي او یا پرې نه پوهېږي. موږ به دلته په بېلابېلو وختونو کې د پښتو ټولنې له خوا شوې پرېکړې راوړو، له نېکه مرغه چې دا پرېکړې تر زیاته حده تطبیق شوي، خو له هغو پرېکړو وروسته ځینې نورې داسې کلمې هم شته چې اوس یې هم په لیکلو کې اختلاف شته. پر هغو به هم لنډه رڼا واچوو.

### ۳- د ځینو اختلافي کلمو په اړه د پښتو ټولنې پرېکړې:

### الف- لومړۍ پرېکړه:

د (۱۳۲۱ ل) کال پر جوزا (۱۹۴۲م کال،جون) د پښتو ټولنې په غوښتنه د افغانستان پنځه ویشت (۲۵) تنو لیکوالو او پوهانو په پښتو ټولنه کې غونډه وکړه او پر یو دېرش(۳۱) اختلافي موادو باندې یې تر بحث وروسته فیصله وکړه، چې دا لاندې کلمې باید داسې ولیکل شي:

| اختلافي صورتونه | فیصله شوي صورتونه |
|---|---|
| شونډې – شونډان | شونډې |
| کښېناست- کښېنوست | کښېناست |
| ټول خلق- ټوله خلق | ټول خلق |
| ټولې خبرې – ټوله خبرې | ټولې خبرې |
| پاته – پاتې | پاتې |
| که راغلی وای- که راغلی وی | که راغلی وای |

| | |
|---|---|
| لویه – لو | لویه |
| تویه – تو | تویه |
| مېړونه- مړونه (او داسې نور) | مېړونه . |

ولید ، ولیدو، ولیدئ، ومو لیدلو ولید په ټولو ماضي ګانو کې دغه یو شکل غوره شو، مګر په ځینو کې به په اخره کې (ه) هم ورزیاتوي، لکه: وواهه.

| | |
|---|---|
| لُڅ، لوڅ | لُڅ |
| وشو، وسو | وشو |
| شوی، سوی | شوی |
| شته، سته | شته |
| شی، سی | شی |
| لړه ډوډۍ، لږې اوبه، لږ ډوډۍ، لږ اوبه | لږه ډوډۍ، لږې اوبه |
| ښې خبرې ، ښه خبرې | ښې خبرې |
| غږ، غګ، غاګ | غږ ، ږغ |
| ځینې وایي، ځنې وایي | ځینې وایي |
| له ده ځنې ، له ده ځینې | له ده ځنې |
| چلوونکی، چلونکی | چلوونکی |
| ښوونکی، ښونکی | ښوونکی |
| ښوونځی، ښونځی | ښوونځی |
| کښې، کښ، کې | کښې |

(پرې، په) په داسې مثالونو کې:

| | |
|---|---|
| احمد سترګې لري مګر لار | پر / پرې نه ویني، په نه ویني |

| | |
|---|---|
| ویل، ویله | ویل |
| ولاړ، لاړ | ولاړ |
| وکړ، وکی، وکه | وکړ |
| وکړئ، وکئ | وکړئ |
| مونږ، موږ | مونږ |
| زما، زمونږ، ځما، ځمونږ | زما، زمونږ |
| زه، ځه | زه |

یادونه: وروسته بیا د درېیمې غونډې په فیصله کې لومړۍ فیصله داسې تعدیل شوه:

| لومړۍ پرېکړه | تعدیل شوی حالت |
|---|---|
| پاته | پاتې |
| مونږ | (مونږ،موږ) دواړه ومنل شو. |
| ولاړ | (ولاړ، لاړ) دواړه صورتونه ومنل شول. |
| لُښ | لوښ |

## ب- دویمه پرېکړه:

د ۱۳۲۷ل کال د سنبلې پر اتمه (۱۹۴۸م کال د اګست پر ۲۰مه) نېټه په کابل کې د پښتو ټولنې په غوښتنه د لرې او برې پښتونخوا نولسو (۱۹)تنو پښتنو لیکوالو او پوهانو د پښتو لیك د ځینو اختلافي موادو په اړه داسې فیصله وکړه:

| اختلافي صورتونه | فیصله شوي صورتونه |
| --- | --- |
| ڼ، نړ | ڼ |
| زه، ته، ده- زۀ، ته، ده | (زه، ته، ده) بې همزه په ټولو دغسې مثالونو کې |
| اورېدل، اخیسل، آورېدل،آخیستل | اورېدل، اخیستل (بې مده) |
| ولید ، وګوره، اولیدو ، اوګوره(اوداسې نور) | ولید ، وګوره ( بې الفه) |
| مې، دې، پرې، لاندې، باندې ـم، ډ، پړ،لانډ، بانډ | مې، دې، پرې، لاندې، باندې |
| لومړی،کوچنی،ګوډ ،ګوته، بوخت_ لمړی، کچنی،ګډ ،ګُته،بُخت | لومړی،کوچنی،ګوډ ،ګوته، بوخت |
| چاپ، ګړی- چهاپ، ګهړی | چاپ، ګړی |
| (ښ) | دا توری به د ((ش)) او د ((خ)) په ځای نه لیکو |
| (ږ) | دا توری به د ((ژ)) او د ((ګ )) په ځای نه لیکو |
| (ځ) | دا توری به د تلل د مصدر په حال فعل او دغسې نورو افعالو کې لیکو لکه: ځي، بوځي، راځي. |
| ویل، وی | ویل(یوازې په شعر کې ((وی)) جایز دی. |
| کښې، کښ | کښې |
| د ماضي بعید ضمیرونه | (وم، وو، وی، و، وه، وې) یـــانې د مفـــرد غایـــب لپاره دوه (وو) لیکل کېږي. |
| د شول د مصدر مشتقات | شـوم، شـوو، شـوې، شـول، شـوه، شوي باید ولیکل شي. |
| د ټولو افعالو د مذکر جمع | پــه (لام) لیکـل پــه کــار دي، لکه:راغلل،ولیدل. |
| ټولې مطلقې ماضي ګانې | باید داسې ولیکو: ولیـد ، وکــوت، وکــړ مګــر وتــاړه، وواهه باید په اخر کې (ه) ولري. |

## ج- درېیمه پرېکړه:

د (۱۳۳۷ل) کال د سنبلې پر اتمه (۱۹۵۸م کال) د پښتو ټولنې په بلنه د شمالي او جنوبي پښتونخوا پښتانه لیکوال او پوهان کابل ته د خپلواکۍ د جشن په ورځو کې راغلي وو، د سنبلې پر پنځمه (د اګست پر ۲۷مه ) نېټه د پښتو لیك په اړه مجلسونه او ادبي بحثونه شروع شول، وروسته تر څو غونډو، بحثونو او ډېرو څېړنو د ځینو اختلافي موادو په اړه دا ډول پرېکړه وشوه:

| اختلافي صورتونه | فیصله شوي صورتونه |
|---|---|
| ځمکه، مځکه، زمکه | ځمکه |
| زمری، مزری، ځمری | زمری |
| کښته، ښکته، خکته | کښته |
| پښه، ښپه، خپه | پښه |
| کښل، ښکل( د لیکلو او وېستلو په مانا) | کښل |
| کښلی ( د ښایست په مانا) | ښکلی |
| ماسخوتن، ماخوستن | ماسخوتن |
| ورځ، روځ | ورځ |
| موږی، مېږوی | موږی |
| لوېشت، ولېشت | لوېشت، لوېښت |
| ورك، روك | ورك |
| خسر، سخر | خسر |
| خوسا، سخا | خوسا |

| | |
|---|---|
| سکروټه، سروټکه، سکوروټه | سکروټه |
| ورور، رور | ورور |
| ورونه، رونه | ورونه |
| وروولي، رورولي | ورور ولي |
| وروسته، روسته، روستو | وروسته |
| وروستی، روستی | وروستی |
| سیوری، سوری | سیوری |
| اخلم، اخلې، اخم، اخی، الم،الې | اخلم، اخلې |
| ببنل، ببنه- بخبنل، بخبنه | ببنل، ببنه |
| ماسپښین، مازپښین، ماپښین | ماسپښین |
| کوم، کم | کوم |
| اغږل، اخښل، اخل | اغږل |
| نمړی، مړی، نوړی | نمړی |
| زوی، زامن- ځوی، ځامن | زوی، زامن |
| زېږېدل، ځېږېدل | زېږېدل |
| زغستل، ځغستل | زغستل |
| زلمی، ځلمی | زلمی |
| سوځل، سېځل، سوزل، سېزل، | سوځل، سېځل |
| خوځېدل، خوزېدل، | خوځېدل |
| غورځنګ، غورزنګ | غورځنګ |
| زغمل، ځغمل | زغمل |
| ژرنده، زرنده، جرنده | ژرنده |

| | |
|---|---|
| ژبه، زبه، جبه | ژبه |
| ژړا، زړا، جړا | ژړا |
| ژوند، زوند، جوند | ژوند |
| ژمی، زمی، جمی | ژمی |
| ژوبل، زوبل، جوبل | ژوبل |
| خېژي، خېزي، خېجي، خېږي | خېژي |
| ژۍ، زۍ، جۍ | ژۍ |
| ژور، زور، جور | ژور |
| نژدې، نږدې، نزدې | نژدې |
| لمر، نمر، نور، مر ، میر | لمر، نمر |
| نمسی، لمسی، نوسی | لمسی، نمسی |
| لمونځ، نمونځ، مونځ | لمونځ |
| لمانځه، نمانځه، مانځه | لمانځه، نمانځه |
| لامده، لانده | لامده، لانده |
| پسرلی، سپرلی | پسرلی، سپرلی |
| ږغ، غږ، ژغ | ږغ، غږ |
| کنځل، ښکنځل | کنځل، ښکنځل |
| جینۍ، نجلۍ، جلۍ، جیلۍ | جینۍ، نجلۍ |
| لمبر، نمبر | لمبر |
| نولس، نونس | نولس |
| وېره، بېره، اېره | وېره |
| وییده، بیده، اوده | ویده |

| | |
|---|---|
| ویاله، بیاله، واله | ویاله |
| اوبدل، اودل، اوبل | اوبدل، اودل |
| نښتل، مښتل | نښتل |
| بزرګان، ملکان، بزرګانان، ملکانان | بزرګان، ملکان |
| وزه، بزه، بیزه | وزه |
| کارغه، قارغه، کارګه | کارغه |
| ڼ، نړ | ڼ |
| کجیر، قجیر | کجیر |
| ټوکه، پړك، چکړې، ټوقه، پړق، چقړې | ټوکه، پړك، چکړې |
| زړۀ ، زړه | زړه |
| تۀ، ته | ته |
| زۀ، زه، ځه | زه |
| لوی، لو | لوی |
| دوی، دوئ | دوی |
| هغوی، هغوئ | هغوی |
| لویدیز، لویدیځ، لوئیدیز | لوېدیز |
| وویل، اووئیل | وویل |
| یو، ائینده، یوء ، آینده | یو، آینده |
| {ې} | دا توری (مجهوله یا) باید بې ځایه او د معروفې یا په ځای استعمال نه شي. |

د پښتو ټولنې تر دې درېګونو پرېکړو وروسته دوه نورې ډله ییزه پرېکړې هم شوي، چې یوه د باره ګلۍ علمي سیمينار پرېکړې دي

او بـل د پـوهنې وزارت د تعلیمـي نصـاب لـه خـوا د رابلـل شـوي ورکشاپ پرېکړې دي، چې دلته وړاندې کېږي:

## د- د پښتو د متحد لیکدود او لیکلار لپاره د ((باړه ګلۍ)) د غونډې متفقه پرېکړې:

د پښتو لیکدود پـه اړه د پښـتو ټولنې تـر درېیمې پرېکړې (۳۲) کاله وروسته یو ځل بیا د دې شرایط برابر شول، چې د پښـتو د یـو متحد لیکدود د رامنځته کولو لپاره عملي هلې ځلې وشي. پـه دې لړ کې د پېښـور پوهنتـون د پښـتو اکیډیمۍ پـه نوښت د (۱۳۶۹ل کـال) یـا د ۱۹۹۰م کـال د جـولای لـه (۱۰) تـر (۱۲) پـورې د سوات پـه ((باړه ګلۍ)) کې یو درې ورځینی سیمینار جوړ شو، چې پـه کې د پښتونخوا له ګوټ ګوټ څخه تقریباً سلو تنو ادیبانو او ژبپوهانو ګډون کړی و، دې غونډې پـه خپلې لومړنۍ ناسته کې د کـار شـل کسیزه کمېټه وټاکله، چې په کې دغه ښاغلي شامل وو:

۱- پروفیسـور سـید محمـد تقویم الحـق کاکاخېـل، ۲- پروفیسـور جهانزېب نیاز، ۳- پروفیسور نصیر الدین، ۴- حبیب الله رفیـع، ۵- منتظر بیټنـی، ۶- عبـد الکریم بریـالی، ۷- همېش خلیـل، ۸- ډاکتـر محمد اعظم اعظم، ۹- ډاکتـر خالـد خـان ختـک، ۱۰- محمـد پرو ښ شـاهین، ۱۱- پروفیسـور محمد افضـل رضـا (اعزازي غـړی)، ۱۲- پروفیسور خواجه محمد سائل، ۱۳- نورشاه جهان انور، ۱۴- ډاکتـر وردګ (اعزازي غړی) ۱۵- سیال کـاکړ، ۱۶- سـید احمد مومنـد، ۱۷-

ډاکتر محمد اقبال نسیم ختک، ۱۸- ډاکتر محمد اسرار(اعزازي غړی) ۱۹- خیبر اپریدی، ۲۰- پروفیسور یارمحمد مغموم.

د کار د کمېټې غړیو په دریو ناستو کې د پښتو لیکدود ستونزې، کشالې او ګډوډۍ په هر اړخیزه توګه وڅېړلې، پر ټولو یې په سړه سینه غور وکړ او په هره برخه کې تر علمي بحث وروسته یوې نتیجې ته ورسېدل. کمېټې د خپل کار وروستۍ پرېکړې او نتایج په لویه غونډه کې واورول چې د ټولو د تائید وړ وګرځېدل او ملاتړ یې ترې وکړ. د پښتو متحد لیکدود په اړه یې خپلې وروستۍ متفقه پرېکړې داسې صادرې کړې:

((۱- هغه کلمې چې د عربۍ او فارسۍ نه پښتو ته راغلې دي او معنا یې هم هغه ساتلې ده، هغه به په خپل اصل شکل کې لیکلی شي، لکه: قصه، قمیس، ضعیف. او هغه کلمات چې پښتو خپل کړي دي معنا یا شکل یې بدل شوی دی، هغه به په پښتو کې په اوښتي شکل لیکل کېږي، لکه: تپوس، پام او د عربۍ مخصوص ټکي به د پښتو په کلماتو کې نه لیکو، مثلاً: ((تورخم)) به په ((ت)) لیکو په ((ط)) به یې نه لیکو.

۲- ((ڼ)) به د یو توري په شکل کې د پښتو په ا-ب-ت، یعنې حروف تهجي کې د ((ن)) نه وروسته لیکلی شي او نوم به یې ((نوڼ)) وي.

۳- هغه کلمې چې په اخر کې ((زور)) لري هغه ب په (ه) لیکلی شي لکه: خوشحاله (مذکر) خوشحاله (مونث) او دغه (ه) به د تانیث مخصوص علامت نه شي ګڼلی.

۴- ((مد)) په پښتو کې نه شته.

**۵**- مجهوله ((ے)) چې په قطبي پښتونخوا کې پرته ليکل کېږي، هغه به همدا سې پرته ليکلى شي، لکه: سړے و غيره، البته په افغانستان او سويلي پښتونخوا کې به د دوى د خپل ليکدود سره سمه د مخکې په شان ليکلى شي.

۶- مخصوصه (ى) به د کلمې په مينځ کې ((ې)) او اخر کې ((ې)) ليکلى شي، لکه سړې اوبهٔ، خېر و غيره. مجهوله يعنې پرته ((ے)) به هم د کلمې په مينځ کې د مخصوصې ((ې)) غوندې ليکلى شي.

۷- د معروفې ((ي)) لپاره به دوه ځنګ په ځنګ ټکي ((ي)) ليکلى شي، لکه: سړي، زمري او نور.

۸- ياى تانيث ((ۍ)) به په اخر کې د کش سره ليکلى شي، لکه: کرسۍ، جينۍ و غيره.

۹- د فعل لپاره به د مخکې غوندې د ((ى)) د پاسه ((ء)) ليکو، لکه: وخورئ، وکړئ و غيره.

۱۰- په ضمير متصل او ((ېئ)) کې به په ((ى)) باندې همزه ليکلى شي او مخصوصه ((ې)) ليکلى شي او يا به ((ى)) او مخصوصه ((ى)) ليکلى شي، لکه په ((يئ)) کې به يوه ((ى)) او په دويمه ((ى)) باندې همزه ليکلى شي.

۱۱- په داسې ((ه)) کې، لکه: زړهٔ، ښهٔ، پهٔ، تهٔ د مخکې په شان د ((ه)) د پاسه ((ء)) ليکو، يعنې زړهٔ، ښهٔ، څهٔ کې به د ((ه)) د پاسه ((ء)) وي. په افغانستان او سويلي پښتونخوا کې به هم دغه رنګ ليکلى شي.

۱۲- ((ګ)) به په کونډ ليکلى شي.

۱۳- کښېږي، کښېښاستل، نخښه، بخښل او داسې نور ټکي به هم دغه رنګ لیکلی شي.
۱۴- معدوله ((واو)) به د ټکو نه نشي غورځولی، لکه: خولهٔ، خوارهٔ، ګوند، غوندې وغیره.
۱۵- هغه ټکي یا کلمې چې د عربۍ او فارسۍ نه د ((پیش)) په حالت کې راغلي دي په ((پیش)) به لیکلی شي یعنې په خپل رنګ کې لکه: ګُل، بُلبل، هغه پښتو کلمې چې پېښ لري هغه به په مجهوله ((واو)) لیکلی شي، لکه: پوښتنه، مور او نور.
۱۶- معروف ((واو)) به د کلمو نه نه غورځول کېږي او د پاسه به پېښ ورکولی شي، لکه: نُور، سُور او نور.
۱۷- د پښتو مخصوص توري ځ، څ، ښ، ږ به همد غسې لیکلی شي.
د کمېټې سفارش دی چې پښتو اکېډیمي دې د مرکزي او صوبايي حکومت په مدد د استادانو او طالب علمانو لپاره یو رهنما کتاب تیار کړي، چې د دې ټکو په استعمال کې اشتباه ختمه شي. (د فیصلې په پای کې (۲۰) کسیزې کمېټې د غړو لاسلیکونه کړي دي).
د ۱۳۸۷ل کال د ثور پر ۲۸مه نېټه، د افغانستان د پوهنې وزارت د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست له خوا، د درسي نصاب د پښتو او دري کتابونو د واحد لیکدود په اړه درې ورځینی علمي ورکشاپ جوړ شوی و. په دې علمي ورکشاپ کې د لاندې کلمو پر اختلافي یا توپیري بڼو بحث وشو او په دې ډول یوې واحدې نتیجې ته ورسېدل:

## ۵- د پوهنې وزارت د تعلیمي نصاب لپاره منل شوی واحد لیکدود:

| ګڼه | ببلابېلې لیکلې بڼې | | | منل شوې بڼه |
|---|---|---|---|---|
| | لومړۍ | دویمه | درېیمه | |
| ۱ | اوویشتم | اوه ویشتم | | اوویشتم |
| ۲ | اغزی | ازغی | | اغزی |
| ۳ | ایستلی | ویستلی | | ایستلی |
| ۴ | اواره | هواره | | هواره |
| ۵ | اوسپنه | وسپنه | | اوسپنه |
| ۶ | اولس | ولس | | ولس |
| ۷ | انځورولای | انځورکولای | | انځورولای |
| ۸ | وولسم | اولسم | | اوولسم |
| ۹ | اولسمشر | ولسمشر | اولس مشر، ولس مشر | ولسمشر |
| ۱۰ | پرانیزي | پرانستل | پرانیستل | پرانیستل |
| ۱۱ | بریښنا | برښنا | | برېښنا |
| ۱۲ | برخوال، برخلیک | برخمن | برخه من | برخمن |
| ۱۳ | باندنیو | باندینیو | | باندنیو |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۱۴ | بوزي | بوځي | | بوځي |
| ۱۵ | بېځایه | بیځایه | بې ځایه | بېځایه |
| ۱۲ | بې درنګه | بېدرنګه | | بې درنګه |
| ۱۷ | برخه وال | برخوال | | برخوال |
| ۱۸ | تېلفون | تلیفون | ټیلیفون | تلیفون |
| ۱۹ | تشبه | تشبیه | تشبې | تشبیه |
| ۲۰ | تغیر | تغییر | | تغییر |
| ۲۱ | تعین | تعیین | | تعیین |
| ۲۲ | تللی | تلی | | تللی |
| ۲۳ | تېرونکی | تېروونکی | | تېروونکی |
| ۲۴ | تمباکو | تماکو | تنباکو | تنباکو |
| ۲۵ | پسرلی | سپرلی | | پسرلی |
| ۲۶ | په خپلو | پخپلو | | په خپلو |
| ۲۷ | پنځلس | پینځلس | | پنځلس |
| ۲۸ | په ټولنه کې | په ټولنې کې | | په ټولنه کې |
| ۲۹ | پاتې وو | پاته وو | | پاتې وو |
| ۳۰ | پدغه | په دغه | | په دغه |
| ۳۱ | په درناوې | په درناوي | پدرناوې | په درناوي |
| ۳۲ | پاچایان | پاچاهان | بادشاهان | پاچایان |
| ۳۳ | په واسطه | پواسطه | | په واسطه |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۳۴ | پطرول | پټرول | پترول | پترول[1] |
| ۳۵ | پیل | فیل | | فیل |
| ۳۶ | پطلون | پتلون | | پتلون |
| ۳۷ | پل | پول | | پول |
| ۳۸ | په کې | پکې | | پکې[2] |
| ۳۹ | پاسنی | پاسینی | | پاسنی |
| ۴۰ | ښوونکو | ښوونکیو | | ښوونکو |
| ۴۱ | خوشحال | خوشال(نوم) | | خوشحال (مرکب صفت) خوشال(نوم) |
| ۴۲ | ختیځ (شرق) | ختیز(شرق) | | ختیځ- ختیز |
| ۴۳ | خپل منځي | خپلمنځي | | خپلمنځي |
| ۴۴ | ځبېښل | زبېښل | | ځبېښل |
| ۴۵ | ځایدای | ځائیدای | ځاېیدای | ځاېیدای |
| ۴۶ | څلېریشت | څلورویشت | څلرویشت | څلرویشت |
| ۴۷ | څښل | څکل | څښاک | څښل-څښاک |
| ۴۸ | څېړونکو | څېړونکیو | | څېړونکو |
| ۴۹ | چلم | چیلم | | چیلم |

[1] هغه کلمې چې له لاتیني څخه عربي او له عربي څخه پښتو ته راغلې وي او ط ولري ط په ت بدلېږي او په خپله اصلي بڼه لیکل کېږي.

[2] کله چې ((په)) د سربل بڼه ولري، باید جلا ولیکل شي او که چېرې داسې نه و، نو یو ځای دې ولیکل شي، لکه: ((په کور کې نه شته)) ((او به پکې نشته)).

| ۵۰ | چورت | چروت | چُرت | چورت |
|---|---|---|---|---|
| ۵۱ | دوه ځله يې | دوه ځلې يې | | دوه ځله يې |
| ۵۲ | درانه | دړانده | | درانه |
| ۵۳ | دوکان | دکان | | دوکان |
| ۵۴ | دعا | دوعا | | دعا |
| ۵۵ | دوولسم | دولسم | | دولسم |
| ۵۶ | دويم | دوهم | | دويم |
| ۵۷ | دريم | درېم | درېيم | درېم |
| ۵۸ | رغاونه | رغونه | | رغاونه |
| ۵۹ | رامينځته | رامنځته | رامنځ ته | رامنځته |
| ۶۰ | رېښتيا | رښتيا | | رېښتيا |
| ۶۱ | راکښل | راښکل | | راکښل |
| ۶۲ | زانگو | ځانگو | | زانگو |
| | زنگل | ځانگل | | زنگل |
| ۶۳ | زلمی | ځلمی | | زلمی |
| ۶۴ | زوی | ځوی | | زوی |
| ۶۵ | زنځير | ځنځير | | زنځير |
| ۶۶ | زوز | ځوځ | ځوز | ځوز |
| ۶۷ | ژبدود | ژب دود | | ژبدود |
| ۶۸ | ژباړنه | ژباړه | | ژباړه |
| ۶۹ | راکړ شو | راکړای شو | راکړل شوی | راکړی شو(د مفرد لپاره)، راکړ شول(د جمعې لپاره) ښځينه او نرينه تو پير يې له مرستيال فعل څخه کېږي. |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۷۰ | سوزي | سوځي | | سوځي |
| ۷۱ | سون | سونګ | | سونګ |
| ۷۲ | سکه | سیکه | | سیکه |
| ۷۳ | ساه | سا | ساء | سا |
| ۷۴ | سهیل | سویل | | سویل |
| ۷۵ | سیمه ایز | سیمه ییز | | سیمه ییز |
| ۷۶ | شوری | شورا | | شورا |
| ۷۷ | شات | شهد | | شات |
| ۷۸ | شوده | شیده | شودې، شېدې | شېدې |
| ۷۹ | طوفان | طوپان | توپان | توپان |
| ۸۰ | طوطي | توتي | | توتي |
| ۸۱ | عاشوری | عاشورا | | عاشورا |
| ۸۲ | غوصه | غصه | غوسه | غوسه |
| ۸۳ | غنچه | غونچه | | غونچه |
| ۸۴ | کیلي | کلي | | کیلي |
| ۸۵ | کبنبوت | کبوتر | | کبوتر |
| ۸۶ | کلتور | کولتور | | کلتور |
| ۸۷ | کندز | کندوز | قندز | کندوز |
| ۸۸ | کندهار | قندهار | | کندهار |
| ۸۹ | کونړ | کنړ | | کونړ |
| ۹۰ | کرنه | کرهنه | | کرنه |
| ۹۱ | کلمه | کلیمه | | کلمه |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۹۲ | کومک | کمک | | کومک |
| ۹۳ | کنځل | ښکنځل | | کنځل |
| ۹۴ | کړي دي | کړيدي | | کړي دي |
| ۹۵ | نه لري | نلري | | نه لري |
| ۹۶ | لپاره | له پاره | | لپاره |
| ۹۷ | لیمځی | لمځی | | لیمځی |
| ۹۸ | لیرې | لېرې | لرې | لېرې |
| ۹۹ | لعل | لال | | لال |
| ۱۰۰ | لار | لیار | | لار |
| ۱۰۱ | له پاسه | لپاسه | دپاسه | له پاسه |
| ۱۰۲ | مسوول | مسؤول | مسؤل | مسؤول |
| ۱۰۳ | مونږ | موږ | | موږ |
| ۱۰۴ | مؤلف | مولف | | مؤلف |
| ۱۰۵ | مسئله | مساله | مسله | مساله |
| ۱۰۶ | منځ | مینځ | | منځ |
| ۱۰۷ | معنی | معنا | مانا | مانا |
| ۱۰۸ | ملیون | میلیون | میلون | میلیون |
| ۱۰۹ | نهه ۹ | نه | | نهه ۹ |
| ۱۱۰ | نحوه | نحو | نحؤ | نحو |
| ۱۱۱ | نرینه | نارینه | | نرینه (صفت)<br>نارینه (نوم) |
| ۱۱۲ | نصوار | نسوار | | نسوار |
| ۱۱۳ | نشته | نه شته | نیشته | نشته |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۱۱۴ | نژدې | نږدې | نیږدې | نژدې |
| ۱۱۵ | نړیوال | نړۍ وال | | نړیوال |
| ۱۱۶ | نږور | انږور | نږور | نږور |
| ۱۱۷ | نشه | نیشه | | نشه |
| ۱۱۸ | نه شم کولی | نشم کولای | نه شم کولای | نه شم کولای |
| ۱۱۹ | نه کوي | نکوي | | نه کوي |
| ۱۲۰ | نه لري | نلري | | نه لري |
| ۱۲۱ | واخیست | واخست | | واخیست |
| ۱۲۲ | ورمېږ | اورمېږ | | ورمېږ |
| ۱۲۳ | وربشې | اوربشې | | وربشې |
| ۱۲۴ | وښایاست | وښیاست | | وښایاست |
| ۱۲۵ | هندوانه | هیندوانه | هندوانه | هندوانه |
| ۱۲۶ | هنداره | هینداره | | هنداره |
| ۱۲۷ | هدیره | ادیره | | هدیره |
| ۱۲۸ | هستوګنه | استوګنه | | استوګنه |
| ۱۲۹ | یادښت | یاداشت | یاد داشت | یادښت(د یاد داشت پرځای) او یادونه د (تذکر) پر ځای کارول کېږي. |
| ۱۳۰ | راغلی و | راغلی وو | راغلی ؤ | راغلی و |
| ۱۳۱ | کیږدي | کیدي | کېږدي | کېږدي |
| ۱۳۲ | کښینه | کینه | کېنه | کېنه |
| ۱۳۳ | ګوره | گوره | | د (گ) پرځای (ګ) کره ومنل شو. |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۱۳۴ | علماو | علماوو | | علماوو[1] |
| ۱۳۵ | منع کوي | منعه کوي | منه کوي | منع کوي |
| ۱۳۶ | معلومات | مالومات | | معلومات[2] |
| ۱۳۷ | مازغه | ماغزه | | ماغزه[3] |
| ۱۳۸ | منځګړی | منځ ګړی | منځه ګړی | منځګړی |
| ۱۳۹ | نجلۍ | جلۍ | جینۍ | نجلۍ[4] |
| ۱۴۰ | اوبدل | اودل | اوبل | اوبدل |

که موږ د پښتو ټولنې د سمون بهیر ته نظر وکړو، نو وبه ګورو چې ډېر مثبت بدلون په کې راغلی او رښتیا هم پرځای پرېکړې یې کړې دي، تر لومړۍ پرېکړې یې دویمه غوره او تر دویمې درېیمه هغه غوره ده، د وخت په تېرېدو سره تر درېیمې پرېکړې وروسته څه ناڅه نور سمون هم راغلی دی، وګورئ اکثره پرېکړې یې سمې کارېږي، ډېر کم خلک یې تر پرېکړو دمخه حالت بڼه لیکي.

تر پرېکړې دمخه حالت اوسنۍ زیاته کارېدونکې بڼه

---

[1] د خپلواک پای (a، ā) وییونو جمع په دوو (واونو) جوړېږي، لکه (a): د جمله وو مخلوقاتو پلار دی دا، (ā پای)، لکه اړتیاوو، علماوو، سپېڅلتیاوو...

[2] د پښتو کولو (مفغنولو) په شرطونو کې د التباس یا ټکر نه رامنځته کېدو شرط اړین دی.

[3] د الف منځو کلمو په مغیره کولو کې منځنی الف له منځه ځي، لکه: مغزو، مېلمنو، پښتنو، درو (درملو) خوړو.

[4] د کلمو په منځ کې (ی) ګانې د شک او التباس د له منځه وړلو لپاره حتمي دي، له دې پرته د کلمو په منځ کې بېخي حتمي نه دي.

کنځل، ښکنځل — کنځل

اوېدل، اودل — اوبدل

جینۍ، نجلۍ — جینۍ

ږغ، غږ — غږ

پسرلی، سپرلی — پسرلی

لمر، نمر — لمر

لمسی، نمسی — لمسی

خبژي — خبږي

ورونه — ورونه

لوېشت، لوېښت — لوېشت او ځیني نورې کلمې.

پر پورتنیو سمونونو سربېره ځیني نورې کلمې هم شته چې تراوسه یې په لیکنۍ برخه کې څه ستونزې شته. له هغې جملې څخه یوه هم په تورو د اعدادو لیکنه ده، لکه:

دوم/ دوهم/ که دویم

درېم که درېیم

شپاړلسم که شپاړسم او داسې نور...

د عدودونو په برخه کې زه فکر کوم، چې دلته یوه قاعده شته، که هغې ته دقیق شو کېدی شي، ستونزه تر زیاته بریده حل شي، قاعده داده چې:

الف- هغه عددونه چې په پای کې یې واول راغلی وي، لکه: دوه، درې، اویا، اتیا، نوي او نور، دا په پای کې د یم (em) په عددي روستاړي، چې د یوه عدد د پوړۍ څرګندونه کوي، لیکل

کېږي، خو زورکی (ə) چې هغه هم واول ګڼل کېږي، که د کوم عدد په پای کې راشي، هغه هم د نورو رتبه يي عددو بڼه خپلوي. نو دلته قاعده دا ده چې خپله عدد + رتبه يي روستاړی.

| | | | |
|---|---|---|---|
| دوه + یم | (em+dwa) | (dwaem) دویم | |
| درې + یم | (em+dre) | (dream) درېیم | |
| اتیا + یم | (em+ātya) | (ātyāem) اتیایم | |
| نوي + یم | (em+nawi) | (nawiem) نوییم | |
| اویا + یم | (em+āwyā) | (āwyāem) اویایم | |

او داسې نور...

ب- هغه عددونه، چې پر کانسونینټ پای ته رسېدلي وي، د هغوی پوړېزي، حالت په ام (am) روستاړي پای ته رسېږي، لکه:

| | | | |
|---|---|---|---|
| څلور + ام | (am+calor) | (caloram) څلورم | |
| شپږ + ام | (am+špaẓ) | (špaẓam) شپږم | |
| لس + ام | (am+las) | (lasam) لسم | |
| یوویشت + ام | (am+yewwišt) | (yewwištam) یوویشتم | |
| دېرش + ام | (am+derš) | (deršam) دېرشم | |
| څلوېښت + ام | (am+cəlwiṣt) | (calwiṣtam) څلوېښتم | |
| پنځوس + ام | (am+panjos) | (panjosam) پنځوسم | |

البته په پښتو- عربي لیکدود کې د رتبه يي عددونو ټول اوازونه انځوربدلای نه شي. هغه عدودونه چې په زورکي پای ته رسېدلي وي، هغه هم تر همدې قاعدې لاندې راځي یانې په (ام) يې رتبه يي حالت څرګندېږي، لکه:

| | | | |
|---|---|---|---|
| پنځه + ام | (am+pinĵə) | پنځم | (pinĵam) |
| اوه + ام | (am+owə) | اووم | (owəam) |
| نهه + ام | (am+nəhə) | نهم | (nəham) |
| شپېته + ام | (am+špetə) | شپېتم | (špetam) |

او داسې نور...

د پورتنیو کلمو ترڅنګ بل هغه ډول کلمې دي، چې پښتو دي اکثره یې د پښتو ټولنې په پخوانیو پرېکړو کې راغلي او ځینې یې نه دي راغلي، اوس یې هم ځینې خلك په ناسمه بڼه لیکي لکه:

| ناسم | سم |
|---|---|
| تیګه | تیږه |
| ګیره | ږیره |
| توګل | توږل |
| پختو | پښتو |
| پختونخوا | پښتونخوا |
| پکې | په کې |
| لخوا | له خوا |
| یواځې | یوازې |
| ستونځه | ستونزه |
| دپاره | لپاره |
| کونکی | کوونکی |

| | |
|---|---|
| پدې | په دې |
| مخامخ کېږي | مخامخېږي |
| بخښونکی | ښښونکی |
| بخښنه | ښښنه |
| ء سوله ایز | سوله ییز |
| کښې | کې |
| زمونږ | زموږ |
| کښېږدي | کېږدي |
| کښیني | کېني |
| ځوی | زوی |
| نړۍ وال | نړیوال |
| نشي | نه شي |
| مینځ | منځ |
| سیمه ایز | سیمه ییز |
| ثبتونکی | ثبتوونکی |
| تښتونکی | تښتوونکی |
| لدې | له دې او نورې |

## ٤- له نورو ژبو څخه پښتو ته راغلې کلمې:

پر عددونو سربېره نورې داسې ګڼې کلمې هم شته، چې تراوسه یې په لیکلو کې اختلاف شته، له هغې جملې څخه یو هم له نورو ژبو څخه راغلې کلمې دي، په دې ډله کې دا کلمې شاملې دي:

## الف- له انګلیسي ژبې څخه راغلې کلمې:

چې اکثره یې نړیوال لغتونه ګڼل کېږي او په همغه مانا او مفهوم دلته هم کارېږي، دا ډول کلمې د ټولو پښتنو ترمنځ یو ډول نه لیکل کېږي، نو ځکه خو په کار ده، چې لیکنی یووالی یې رامنځته شي. د کوزې پښتونخوا پښتانه دا ډول کلمې د انګرېزۍ په دود تلفظوي او کاروي یې، خو په افغانستان کې یې د دې کلمو لیکنی معیار فرانسه یي تلفظ نیولی، چې د افغانستان دري ژبې یې هم همدې ته ورته تلفظوي. د دې کلمو ځینې یې دا دي:

| افغانستان | کوزه پښتونخوا |
| --- | --- |
| سوسیالیزم | سوشلیزم |
| انترناسیونالیزم | انټرنشنلیزم |
| دیموکرات | ډیموکراټ |
| دیموکراسي | ډیموکراسي |
| استوکراسي | ارسټوکراسي |
| بروکراسي | بیروکراسي |

د خاصو نومونو په کارونه کې هم توپیرونه شته.

لکه:

| | |
| --- | --- |
| ایټالیا | ایټلي |
| اسیا | ایشیا |
| مالیزیا | ملیشیا |

| | | |
|---|---|---|
| اندونیزیا | اندونیشیا | |
| هند | انډیا | |
| چیچنیا | چیچن | |
| اروپا | یورپ | او داسې نور... |

په دې برخه کې یوه قاعده دا ده، چې هرې ژبې ته چې د بلې ژبې کومه کلمه راځي، نو دا ژبه پرې د خپل فونولوژیك جوړښت عملیه تطبیقوي او هغه کلمه تر هغه حده صقیلوي، چې د خپلې ژبې د محاورې مسیر ته یې برابره کړي. دا بهیر تر هغه حده جواز لري چې د کلمې مانا بدله نه شي. نو د پورتنیو کلمو افغاني شکل ته که ترجیح ورکړای شي بده ځکه نه برېښي، چې د کلمې اصلي مانا نه بدلېږي یوازې په تلفظ کې یې څه ناڅه بدلون راځي، چې دا هم یو ډول اسانتیا رامنځته کوي.

## ب- له عربي ژبې څخه پښتو ته راغلې کلمې:

یو هغه ډول کلمې دي، چې له عربي ژبې څخه پښتو ته راغلي، پښتو پرې خپل قانون تطبیق کړی او ډېر زیات فونولوژیک تغییرات یې په کې راوستي، د دې ډول کلمو په لیکنۍ برخه کې هم کېدی شي، همدې پښتو بڼې ته یې ترجیح ورکړای شي، لکه:

| | |
|---|---|
| خلق | خلك |
| قمیص | کمیس |

| | |
|---|---|
| تفحص | تپوس |
| حق+ له | هکله |
| معنی | مانا |
| یعني | یانې |
| معنوي | مانیز |

او داسې نور...

بل هغه ډول عربي کلمې دي، چې مذهبي ارزښت او مفهوم لري، په هغو کې تغییر او تبدیل راوستل نه یوازې د کلمې بڼه بدلوي، بلکې مانا یې هم تغییروي او مذهبي ارزښت او مانا یې له منځه ځي، په کار دي چې دا ډول کلمې په خپله اصلي بڼه ولیکل شي لکه:

ایمان، حج، زکات، فرض، سنت، واجب، دعا، نیت، الله، اکبر، مذهب، دین، استنجا، صدقه، قرباني، خیرات، مسحه، ایات، حدیث، وعده، جبر، غفار، اختیار، خیر، اذان، سجده، رکوع، نکاح، طلاق، عاق، امام، قبله، کعبه، رسول، نبی، قرآن او داسې نور[1]. په داسې حال کې چې یو شمېر عربي کلمې باید د مذهبي مانا او تقدس له مخې په همغه عربي بڼه ولیکل شي، ځینې نورې کلمې چې سوچه پښتو دي او پښتو ریښه لري، خو د زماني کاتبانو هغه په شعوري او ناشعوري ډول د عربي او دري

(۱) پښتو ګړښود، محمدسرور وکیلي، د ساپي د پښتو څېړنو او پراختیا مرکز، پېښور، ۱۳۸۷ ل کال، د مخ.

ژبې د قاعـدې تـابع کـړي او یـا د عربـي خـاص تـوري یـې پـه کـې ورګډ کړي دي، هغه هم باید پـه خپلـه هماغـه پښـتو بڼه ولـيکـل شي. قاعده دا ده، چې لس عربي تـوري (ث، ذ، ح، ص، ض، ط، ظ، ع، ف، ق) چې پـه کومـه کلمـه کـې راځـي، دا کـلمې طبعـاً عربي دي او دا قطعاً په هغو کلمو کې نـه شي راتلـلای چې پښـتو ریښه لري.

| سمه پښتو بڼه | ناسمه بڼه | |
|---|---|---|
| ساپی | صافی | |
| اپریدی | افریدی | |
| خوشال | خوشحال | |
| الینګار | علینګار | |
| الیشنګ | علیشنګ | او ګڼ شمېر نور |

(ع) په هغو کلمو کې راتـلای شي، چې عربـي وي، قطعـاً پـه هغـه کلمـه کـې چـې (ګ) پـه کـې وي، (ع) او دا نهـه نـور تـوري نـه شـي راتلای، نو ځکه د (ا) پر ځای په (ع) د الینګار لیکل تېروتنه ده، دا قاعده له (افغانستان) پرته چې (ف) په کې راځي او هغه هم اصلاً د اوږدو تعـاملاتو نتیجـه ده د (افغـان) کلمـې اوسنۍ بڼـې تـر ډېـرو پړاوونو وروسته دا حالت غوره کړی، نور نو پـه پښـتو کلمـو کـې دا توري نه شي راتللای، نو ځکه باید پښتو کلمې پـه خپلـه پښـتو بڼـه ولیکل شي.

# پنځم څپرکی

## په پښتو کې د سربلونو او اوستر بلونو سم استعمال

په پښتو لیکنۍ برخه کې یوه ستونزه همدا دسربلونو او اوستربلونو ناسمه کارونه ده. سره له دې چې د لیکدودو له مخې، سربلونه او اوستربلونه لکه څنګه چې دي همغسې لیکل کېږي، خو د کارونې سم ځایونه یې له ځینو کسانو څخه غلطېږي او یو د بل پر ځای یې کاروي. کله چې هر سربل له خپل اوستربل سره را نه شي او یا هم د یوه سربل پر ځای بل هغه راشي، نو د جملې مانا بدلوي او هغه مقصوده مانا چې باید ور یې کړي، نه ورکوي. مخکې تر دې چې د سربلونو او اوستربلونو پر شننه پیل وکړو ښه به وي چې نومورې مورفیمونه تعریف کړو.

**سربلونه او اوستربلونه:** هغه نه ګردانېدوونکي مقید مورفیمونه دي، چې په خپلواکه توګه کومه مانا نه ښندي، بلکې له خپلواکو نامقیدو مورفیمونو سره یو ځای یوه مانا او مفهوم رسوي.

**الف- سربلونه (پیشینې) Prepositions:**

هغه ادات دي، چې تر یو نوم دمخه راځي او په جمله کې د هغه حالت او دریځ څرګندوي .

## ب- اوستربلونه ( پسيني) Post Positions:

هغـه ویـيـکـي دي، چـې پـه یـوه جملـه یـا فقـره کـې تـر یـوه نـوم وروسته راځي.[1] پوهاند دوکتور مجاور احمد زیار د د سربلونو او اوستر بلونو په اړه وايي:

((سـربلونه Prepositions او اوسـتر بلونـه Post Positions هغه کوشني ناخپلواك او ناوړېدوني ډېرپېښي (کثير الوقوع) او ډېر کارنده ژبني توکونه یا ویيکي Paraticles دي، چې په یوه جمله کې يې د خپلواکو توکونو یا نومونو (صفتونو، ضميرونو او شمېر نومونو) په ملتيا مانا او دنده څرګندېږي، سره له دې چې سربلونه او اوستربلونه د جملې یا په بله وينا ، په ناخپلواکو او مرستيالو توکونو کې راځي او مانا او پازه يې د همدغو نومونو یا کړونو او کړولونو په ګاونډيتوب کې څرګندېدی شي، خو دا چې پر دغو آرو یا خپلواکو یو ډول اغېز لري او د هغوی دريځونه اوپېرونه (حالتونه) څرګندوي، نو اداره کوونکي، چلوونکي یا واکمن توکونه هم بلل کېږي.)) [2]

سربلونه او اوستر بلونه که نا سم وکارول شي د جملې مانا ته بدلون ورکوي او نحوي جوړښت يې بدلېږي، دلته به يې څو

---

[1] پښتو غړپوهنه او ویيپوهنه، پوهنوال محمد صابر خوبشکی، د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه، ۱۳۸۰ ل کال، ۲۵ مخ.

[2] پښتو پښويه، پوهاند دوکتور مجارو احمد زیار، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۲ ل کال، ۱۳۰ مخ.

بېلګې وړاندې کړو. دا ډول تېروتنې ډېرې کېږي، وګورئ دا مثالونه چې د (له) پر ځای یې (د) کارولی دی.

یو ناظم ویلي: تل به دې ساتم (د) پردو وطنه!

د ناظم اصلي هدف دلته دا دی، چې خپل وطن (له) پردو څخه وساتي، خو څرنګه چې ده په ناشعوري توګه د (له) پر ځای (د) کارولی نو دلته دا مسره داسې مانا ورکوي، چې ناظم (د پردو وطن ساتي نه خپل، او دا هغه مانا ده، چې شاعر یا ناظم اصلاً نه ده غوښتې، خو د (د) د ناسمې کارونې له امله د شاعر د زړه مانا معکوسه شوې ده.

یا دا بله بېلګه:

ته خو به (د) زلفو کوڅې جوړې کړې – زه په دې شلېدلي ګرېوان څه وکړم (خاطر)

دلته هم په ناشعوري ډول د (له) پر ځای (د) راوړل شوی ، د شاعر هدف دا دی چې (له زلفو) کوڅې جوړې شي، نه (د زلفو کوڅې)، خو څرنګه چې شاعر (د) سم نه دی کارولی، نو ځکه خو دا بیت هغه مانا اصلاً نه ورکوي، چې شاعر په زړه کې جوړه کړې وه. دا ډول تېروتنې په ادبي متونو کې دومره زیان نه پېښوي، خو په حقوقي ، جزایي او سیاسي متونو کې دا ډول ګرامري تېروتنې د شخص او ټولنې سیاسي ژوند بربادولای شي.

په (په) او (پر) کې هم دا ډول تېروتنې کېږي، (په) اصلاً دفاعلي حالت لپاره راځي، په یوه جمله کې چې شخص یو فاعل وي یا فاعلي حالت ولري او (پر) د مفعولي حالت لپاره دی.

( زه پـه احمـد سیاسـي کـار کـوم.) مانـا دا چـې احمـد مـې د سیاسـي کـار لپـاره د یـوې وسـیلې یـا فاعـل پـه توګـه ګومـارلی، احمد خپله اجرا کوونکی دی، خو دا بله جمله چې:

(زه پـر احمـد سیاسـي کـار کـوم.) دا مانـا ورکـوي، چـې زه غواړم احمد دسیاسي کار له لارې تشویق کړم، چې له ما سره په سیاسي مبارزه کې راګډ شي، یانې دلتـه احمـد کـوم کـار نـه اجـرا کوي، بلکې کار پرې اجرا کېږي.

( زه ځم چې په ډاکټر غاښ وباسم.) یانې دا چـې زمـا غـاښ رنځور دی او ډاکټر ته ځم چې غاښ مې وکاږي. خو دا بلـه جملـه:

(زه ځم چې پر ډاکټـر غـاښ وباسـم.) دا مانـا ورکـوي چـې زه د ډاکټر غاښ وباسم. یانې دا چـې د (پـه) او (پـر) ناسـم اسـتعمال د جملې مانا سرچپه کوي.

زموږ پـه کنـدهارۍ لهجـه کـې د (پـر) او (پـه) کارونـه ډېـره دقیقـه ده، خو په ختیزې او مرکزي لهجې کې دا کارونـه دقیقـه نـه وي، نو که څوك غواړي (پـه) او (پـر) دقیـق اسـتعمال کـړي، د کنـدهارۍ لهجې معیارونه ورته ډېره ګټه رسولای شي.

دغسې د نورو سربلونو او اوستربلونو کارونه هم در واخلـه. دلتـه به موږ هر سربل دهغه له خپل اوستربل سره لږ په تفصیل وڅېړو.

۱ ) پـه : چـې لـه (کـې) اوسـتربل سـره اړونـد نـوم، تـون یـا ظرفـي حالت څرګندوي، لکه: په (ټولګي کې) له (پورې) اوستربل سـره بـل ډول تونېبر، یا په بله وینا ، یو تړاو او پیوستون ښیي، لکـه: پـه ځـان پورې، په تا پورې، ستا په خبرې پورې ( به ارتباط ګپ شما) لـه "

سره" اوستربل سره یو لوښنېیر(الي حالت) راښیي، لکه: په بیاتي سره، په چړې سره، په وینا سره، په زور سره، په خوښۍ سره. له "پسې" او ستربل سره یو بل راز تونېیر یا پرله پسېوالی څرګندوي، لکه په تاپسې، په سختۍ پسې اساني راځي، په ژمي پسې پسرلی دی، کله کله تري "سره" اوستربل لوېدی هم شي، لکه: په چاره، په خوښه که په زور وي، له مظلوم به د ظالم لاس لنډېږي. په تا اړه نه لري ( په تا پورې اړه نه لري). په لیکاني لیك کېږي (په لیکاني سره لیك کیږي). مګر( په کور) له ( په کور کې) سره یو راز نه دی. ځکه (په کور) له آره (پر کور) دی چې ظرفي نه، بلکې استعلایي مانا ښندي. همدا راز په وخت، په کال، په مازیګر، په بجو ... د پر وخت ، پر کال، پر مازیګر، پر بجو... ناسم، یا نا کره بڼې دي. همدا خبره ده چې موږ ( په پښتو لیکل) او ( پر پښتو لیکل) سره تو پیرووو.

۲) پر : یو باندینی( استعلایي) سربل دی، چې یو اړوند اوستربل" باندې" یې زیاتره غورځېږي، لکه: پر مېز باندې یا پر مېز، پر ځمکه باندې یا پر ځمکه، پر زړه باندې یا پر زړه، پر سر باندې یا پر سر، پر زړه یوه څه (او) پر خوله بل څه، پر وخت، پر کور، پر کابل، پر ورځ، پر شپه، پر ماښام، پر لسو بجو، پر ۱۳۵۶ ل کال او داسې نور . " پر میاشت" دومره نه ویل کېږي، بلکې " په میاشت" کې زیاتره کره برېښې.

"پر" هم د "په" غوندې زور پای نومونه زیاتره پر اوښتي پېر نه اړوي. له کندهارۍ او تاریخي ادبي پښتو پرته نور زیاتره

ګړدودونه "په" او "پر" سره ګډوي او پر یوه وخت دواړه په الي، ارتباطي، استعلایي او پر له پسې (تسلسلي) مانا کاروي. خو په یوه کره لیکنۍ پښتو کې د دغو دواړو سربلونو توپیر اړین دی. یو ژبنی آر هم دا دی، چې دوه توکونه یا دودونه په تاریخي او اېتمولوجیك ډول هېڅکله همانیز او همپازیز نه وي. د همدغه آر په ترڅ کې سپمایي آر هم سمبالېږي. که په ګړنۍ ژبه کې دغه آرونه دومره پر ځای هم نه شي، مګر په لیکنۍ ژبه کې ځو اړخیز ګټهور نقش لري.

توپیر یا نه ګډون، چار وېش او سپما د نړۍ د هرې ژبې بنسټ جوړوي، په دې توګه په کار دي (په پښتو لیکل) داسې مانا کړو چې یو څه په پښتو ژبه لیکل کېږي، نه په بله ژبه. (پر پښتو لیکل) دا مانا چې د پښتو په اړه کې څه لیکل کېږي، نه د بلې ژبې یا بلې سکالو په اړه. همدارنګه (پر کابل اوسېږم) دا مانا چې د کابل ښار په شاوخوا کې اوسېږم او (په کابل کې اوسېږم) دا چې دننه په کابل یا کابل ښارکې اوسم.

په پارسۍ کې هم د"به" او "بر" توپیر په زاړه ادب او اوسني ایراني ادب او لیکنه کې پوره څرګند دی. همداسې یې په هندي کې هم در واخله. د "پر" بل اوستربل "سربېره" دی چې ناسم ډول یې "برسېره" هم لږو ډېر دود لري. دغه اوستربل هېڅکله نه غورځول کېږي، که نه مانا یې له " باندې" سره ګډېږي او سره یو کېږي.

"پر" چې د وييکنومځري (آداتي ضمير) "پرې" پر ځای هم کارېږي او په کندهاري ګړدود اړه لري، هم د يادو شويو ژبنيو آرونو له مخې په ټوليزه ليکنۍ پښتو کې د منني وړ نه برېښي. همداسې "تر" او "په" هم در واخله چې "ترې" او "پې" يا "پرې" سره ګډول يې ګډوډي پېښوي.

**۳**) د : يو ډېر پېښنی تولي(اضافي يا ملکي) سربل دی، چې له "کره" او "غونډې" پرته نور ساده او آر اوستربلونه نه لري، بلکې بې شمېره بدل، درغلي (کاذب) يا په بله وينا بېلښتي، ترښتي او غونډيز ( فقره يي يا عبارتي اوستربلونه ورسره غاړه کېږي. له مهالنومونو سره بې له اوستربلونو کړولونه جوړوي، لکه: د شپې، د ورځې، د غرمې... خو تر ټولو زياته او بنسټيزه پازه يې د دوو نومونو تر منځ د تول ( اضافت) اړيکي ټينګونه ده.

**۴**) تر : چې د "پر" بډ (مقابل) سربل دی، هغه دا چې " تر" ترهر څه له مخه د " پر" غونډې د "باندې" نه، چې د "لاندې" مانا ښندي، له دې کبله يې لومړی اوستربل"لاندې" دی چې، هېڅکله غورځېدنه، نه مني، لکه: ( تر مېز لاندې) چې "تر مېز" بيا ګرد سره بله مانا ښندي او هغه توني او مهالي پيوستون دی، لکه: تر ننګرهاره، تر مازيګره چې اوستربل "پورې" يې هرومرو ملتيا نه کوي. دربيم اوستربل يې "وروسته" يا " را وروسته" کړول دی، لکه: تر غرمې وروسته يا تر غرمې را وروسته، تر ځلمې را وروسته زما وار دی... له څلورم اوستربل څخه (ځنې- نه) سره پرتليز جاج نه ښندي، لکه: تر تا څخه زه ښه يم، چې د دغه

اوستربل په غورځېدو، "ترتا" هم سم راځي. د دې پر ځای چې د نورو ژبو په پېښو( سړنی کال د پروسږکال په نسبت ډېر ورندی دی)، ووایو: (سړنی کال تر پروسږکال ډېر ورندی دی) لنډ او کره راځي. "تر" پر دغه پرتلیز(نسبي یا تدریجي) مانا له "له" سربل سره هممانیزه کېږي. خو دا چې (له- څخه) تر هر څه له مخه وتون پېر (منشايي) حالت څرګندوي، نو يې بيا هم له (تر – څخه) سره ګډول په کار نه دي، يا لږ تر لږه بېځايه دي، لکه: ننګرهاريان چې وايي: د کوره په سارا خوښ يم – د وېشه په تالا. خو دا چې په ګډه کره لیکنۍ پښتو کې دلته د پرتلې مانا موخه (مطلوب) ده. نو (تر کوره پر سارا خوښ يم – تر وېشه پر تالا) ترې سم برېښي.

دغه راز په شمال ختیزو ګړدودو کې د (په) ، (تر)، (له) پر ځای هم زیاتره (د) کارېږي چې دا هم له ژبني آر معيار څخه چپ بلل کېږي، لکه: د ځلمي پسې، د ننګرهار پورې، د مېز لاندې، د ننګرهار نه، د ځلمې سره د کندهاره راغلم، د پښتو ټولنې د لغاتو د ځانګې د خوا. ځلمي سره، تا نه يا ستا نه ... کره ډول يې : په ځلمې پسې، تر ننګرهارپورې، تر مېز لاندې، له ننګرهاره، له ځلمي سره له کندهاره راغلم ، د پښتو ټولنې د لغاتو د ځانګې له خوا، تر تا (څخه) زه ښه يم...

**۵**) له : چې له (څخه، نه یا ځنې) اوستربل سره له آره د یو نوم(وتون پېر) یا منشایي حالت څرګندوي،لکه: له سیستانه یا له سیستان څخه، یا له سیستان نه او یا له سیستان ځنې. په دویمه

"نسبتي" مانا يې کارول دومره کره نه برېښي، لکه: پاس چې ورته ګوته ونيول شوه.

"له" له دويم اوستربل "سره" د ملګرتيا (معيت) جاج ښندي، لکه: له ځلمي سره تر هرات پورې ملګرى وم او داسې نور. په دغه مانا يې اوستربل ( سره) پر ( څخه يا څه) اړول له ګډې کره ليکنۍ پښتو څخه چپ برېښي، که څه هم په ځينو ګړدودو او د خوشال په وينا کې "څخه" د "سره" پر ځاى هم ډېر کارول کېږي. په هره توګه بايد ( له ځلمي سره) او له ( ځلمي څخه) په يوه مانا ونه کارول شي. د " سره" اوستربل غبرګون ( تکرار) د سره له " تر څنګه" د " باوجود" مانا ښندي، لکه:" سره له" ناروغۍ لمبا ته ولاړم. يا: " له ناروغۍ" " سره سره" لمبا ته ولاړم " سره له" د ترښتي سربل په توګه له "څخه" او ستربل سره غاړه کېږي او پيل ښووند کړول را منځته کوي،لکه سر له ننه، سر له مابنامه. توني، لکه سر له همدې څپرکي... درېيم اوستربل يې " وروسته" دى چې مهالي او توني کړول (قيد) ورسره جوړوي او له (تر) سره يې پازه يو کېږي، لکه: له غرمې وروسته کور ته ځم چې البته ( تر غرمې وروسته) ترې زيات کره برېښي، په بله وينا (وروسته) د "له" نه ، بلکې د " تر" معياري اوستربل دى.

څلورم اوستربل يې " راهيسې" دى چې يو مهالنى کړول ورسره جوړوي، لکه: له پروسږ کال راهيسې، له ډېرو کلو راهيسې، له پخوا راهيسې... په دې تو ګه " راهيسې" د يوه اوستربل په توګه بايد په (نوم يا نومغونډ) پورې سيده ونښلول شي او بل کوم

زیاتي او ستربل یا بل ژبنی توك ترې له مخه نه شي، په بله وینا: (له ډېرو کلو را په دې خوا) یې هممانیز انډول دی، خو د پارسۍ (از سا لها به اینطرف) ټکي پر ټکي اړونه ده او دومره رواني او لنډون هم نه لري. د "له" پنځم اوستربل " پرته" دی چې د "سره" بډ او مقابل جاج ښندي، دا مانا چې د اړوند نو م ملګرتیا نه، چې بېلتیا او نشتوالی څرګندوي، لکه: له بللو پر ته نا بللي هم راغلي وو.

۶) "بې" : چې زیاتره د "نا" غونډې یو ستاینومیز(صفتي) مختاړی دی، لکه: بې کوره، خو لږ و ډېره سربلي ځانګړتیا هم لري او هغه زیاتره د " له" په ملګرتیا او د یوازیني او ستربل (څخه، نه یا ځنې) په درلودلو، لکه بې له تا څخه، بې له هغه څخه، چې (بې له تا) او ( بې له هغه) هم ویل کېږي. د منځنې پېر په شعر کې یې "بېتا" د ردیف په توګه هم کارول شوی دی.

۷) " و" : یو پخوانی سربل دی چې له "ته" اوستربل سره د ورتلونپېر (مفعولي حالت) څرګندوي. پخوانی څرك یې په لویدیزو (کندهاري) ګړدودو کې پاتې دی او نورو ټولو ګړدودو له لاسه ورکړی او د هغه اوستربل "ته" یوستوی کاروي، لکه: (و) تا ته وایم، (و) ښوونځي ته ځم...

د منځنۍ دورې شاعرانو هم ډېر کارولی دی او لا کله یې دویم ځلي تر نوم وروسته هم راوړي او له اوستربل"ته" سره یې بیا هم پتلیز(جوخت) نښلولی، لکه رحمان بابا چې وایي:

خدای وما وته ښکاره کړ هغه لمر بیا.

ځینو بیا د پارسۍ د "به" غوندې بې اوستربله هم کارولی دی، لکه پیر محمد کاکړ چې ویلي دي:

سوز گداز د محبت وهسې مارا.

په هره توگه د ویونکو د ډېربښت په لاسوند تر (و ـ ته)، (ته) زیات معیاري ارزښت لري.

۸) " لکه" : لکه "د" په برخه کې چې ورته نغوته وشوه، پر دې سربېره چې له دغه تولي سربل سره ډېر درغلي اوستربلونه رامنځته کوي، د یووستوي سربل په توگه هم له ځانه سره یو لړ بېلابېل ساده وییکي، لکه : غوندې، هومره، هسې... ملگري کوي: (لکه) زمري (غوندې)، (لکه) غر (هومره)، (لکه) گل (هسې)...[1]

دلته به د پښتو سربلونو او اوستربلونو دواړو لنډیز راوړو:

| سربل | اوستربل | مثال |
|---|---|---|
| په | کې | زه په کوټه کې یم. |
| په | سره | په زیار او زحمت سره بری حاصلېږي. |
| په | پورې | په چا پورې نه خاندم. |
| په | پسې | په تا پسې نه ځم. |
| پر | باندې | زه پر څوکۍ باندې ناست یم. |
| پر | سربېره | پر دې کار سربېره نور کارونه هم لرم. |

---

۱ - پښتو پښویه، پوهاند دوکتور مجارو احمد زیار، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۲ ل کال، ۱۳۲-۱۳۶پورې مخونه .

| | | |
|---|---|---|
| د | لپاره | د خبرو لپاره وخت نه لرم. |
| د | غونډې | د مزدور غونډې يې وکتېه. |
| د | کره | د احمد کره نه ځم. |
| تر | لاندې | ترمېز لاندې پروت دی. |
| تر | پورې | تر ښوونځي پورې ځم. |
| تر | وروسته | تر غرمې وروسته راځم. |
| تر | څخه | تر ځوزه (څخه) ګل ښه دی. |
| تر | دباندې | تر کوره باندې ووځه. |
| تر | پرته | تر ځلمي پرته ښه سړی نه شته. |
| له | سره | له ځلمي سره ځم. |
| له | څخه(نه) | له احمد څخه(نه) مې کتاب واخیست. |
| له | وروسته | له غرمې وروسته کور ته ځم. |
| له | راهیسې | له پرون را هیسې کار لرم. |
| له | پرته | له احمد پرته محمود هم راغلی و. |
| بې | څخه | بې اوبو څخه ژوند نه کېږي. |
| و | ته | و تا ته مې ووې. [1] |

[1] پښتو غږپوهنه او ویېپوهنه، پوهنوال محمد صابر خوېشکی، د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه، ۱۳۸۰ ل کال، ۲۵ او ۲۶ مخونه.

# شپږم څپرکی

## په پښتو کې د لیکنښو سمه کارونه او اړتیا

لیکنښې که څه هم خاصې مانا واله کلمې نه دي، خو داسې نښې نښانې دي، چې د یوه متن د عبارت او فقرې په سمه لوستنه رسمونه او د مانا په سم لېږد کې مرسته کولای شي. که لیکنښې نه وي یو متن کېدی شي په سختۍ ولوستل شي او هغه مانا ورڅخه وانه خیستل شي چې د لیکوال ورڅخه مقصد او هدف وي. لیکنښې د نړۍ په اکثرو ژبو کې تقریباً سره ورته دي، هغه ژبې چې عربي لیکدود تعقیبوي، طبعاً لیکنښې یې یو ډول دي، خو په انګلیسي، روسي او نورو ژبو کې چې لیکدود یې له پښتو لیکدود سره توپیر لري، ځینې لیکنښې یې د هغو معکوسه بڼه خپلوي، خو په دې ژبو کې هم اکثره لیکنښې همدې ته ورته دي.

لیکنښې د انشاء د سمون لپاره ضروري دي، یو ښه انشایي متن همغه دی، چې لیکنښې په کې په دقت سره مراعت شوې وي. موږ به دلته په پښتو کې د کارېدونکو لیکنښو او د هغو د کارونې ځایونو ته نغوته وکړو:

## ۱- لمن لیك ( حاشیه ):

کوم وخت چې له یوه اثر څخه عبارت یا مفکوره رانقل کېږي، باید په لمنلیك کې د لیکوال، د کتاب د خپروونکې موسسې ، د چاپ نېټې او د کتاب صفحې ته په ترتیب سره اشاره وشي، لکه دا لاندې مثال:

ګل پاچا الفت، لوړ خیالونه او ژور فکرونه، پښتو ټولنه، **۱۳۳۵** ، **۲۹** مخ.

که چېرې کتاب په بیبلو ګرافۍ کې معرفي کېږي، تر اصلي نوم تخلص مخکې راوړل کېږي لکه:

الفت، ګل پاچا ، لوړ خیالونه او ژورو فکرونه، پښتو ټولنه، **۱۳۳۵** ، **۲۹** مخ.

کله کله د کتاب د چاپ ځای او نېټه په لیندیو کې نیول کېږي، لکه:

ګل پاچا الفت، لوړ خیالونه او ژور فکرونه (کابل: پښتو ټولنه، **۱۳۳۵**) **۲۹** مخ.

که چیرې څېړونکی غواړي له یوې مجلې څخه عبارات راواخلي، نو دمقالې نوم د نقل د نښو تر منځ لیکي. ورپسې د مجلې نوم، د چاپ ځای او نېټې او مخونو ته اشاره کوي، لکه:

محمد صدیق روهي، " فولکور څېړنې میتودولوجي" د فولکور او ادب ټولنه، **۱۳۵۲** ، لومړۍ ګڼه، لومړی کال، ۸ مخ.

## ۲- شمېر ګڼه (۱):

که چېرې شمېرنه په یوه کرښه کې راځي باید د لیندیو په منځ کې ونیول شي، لکه:
د څېړنې درې مهم ګامونه دادي: (۱) فرضیه، (۲) د موادو را غونډونه، (۳) نتیجه. که چېرې عددونه په نوې کرښه کې راځي، په لاندې توګه لیکل کېږي:
۱- یا په دې ډول: ۱)

## ۳- شارحه(:):

دا نښه د یوه لغت یا فقرې د شرح کولو لپاره استعمالېږي. کله چې لوستونکی دا نښه ویني هغه ته دا توقع پیدا کېږي، چې راتلونکی عبارت به له وعدې سره سم پر مطلب باندې نوره رڼا هم اچوي او یا به نور څه وربانديې زیات کړي. دا لاندې نمونې وګورئ:
د انسان د ژوند هدف څرګند دی: سعادت.
د سیاستمدار لپاره دا خواص ډېر دي: درې درجې جرئت او یوه درجه پوهه.
له خلکو نه په زور احترام مه غواړئ، بلکې خپل ځانونه د احترام وړ وګرځوئ: خلك هغه چا ته احترام کوي چې هغه له نورو توقع نه کوي.

## ٤- لينډۍ (        ) :

کله چې د يوې جملې په منځ کې معترضه جمله راشي، د لينديو تر منځ نيول کېږي. که څه هم معترضه جمله د دوو سر چپه واوونو تر منځ هم نيول کېدی شي، مګر لينډۍ په هغه صورت کې راځي، چې معترضه فقره له اصلي جملې سره ډېر توپير ولري.

په عمومي ډول لينډۍ په دې لاندې ځايونو کې استعمالېږي:

۱- کله چې معترضه فقره د اصلي جملې په منځ کې راشي، لکه دا لاندې نمونې:

زه به سبا (که خدای کول) خوست ته ځم.

د خوشال خان دستارنامه د پلوتارك او کوينټليان ( چې دوی دواړه د ښوونې او روزنې په برخه کې ډېرې مهمې نظرېې لري) له اثارو سره د مقايسې وړ ده.

۲- هغه رقمونه او ابجد توري چې د وېش د ښودلو لپاره راځي د لينديو تر منځ نيول کېږي، لکه:

د اسلام پنځه بناوې دا دي: (۱) کلمه، (۲) لمونځ، (۳)

روژه، (۴) زکواة، (۵) حج.

۳- په قانوني او تجارتي پاڼو کې د پيسو مقدار لومړی په تورو او ورپسې د لينديو تر منځ په رقمونو ليکل کېږي، لکه:

د دې تړون له مخې به د نوموړي کور مياشتنۍ کرايه يو زر او دوه سوه پنځه ويشت(۱۲۲۵) افغانۍ وي.

۴- پوښتننښې یا د ندا علامې چې د شك یا طنز او کترې په توګه استعمالېږي باید د لیندیو تر منځ ولیکل شي، لکه:

په ازاده نړۍ (؟)کې ازاد مطبوعات (!) د محرومې طبقې په ګټه (؟)کار کوي.

## ۵- ویر ګول(/):

ویر ګول لفظ د لاتیني له ( ویرګوله) څخه اخیستل شوی دی، چې په اصل کې واړه میل یا سیخ ته ویل کېږي. د ویر ګول نښه چې دلته د دوو لیندیو تر منځ ښودل کېږي ( ⁄ ) په انګلیسي کې د (بار) په نامه هم یادېږي. زموږ زیات شمېر لیکوال سرچپه واو (،) ته ویرګول وایي، مګر د انګلیسي قاموسونه او د لیکوالۍ په اړه کتابونه ویر ګول او سرچپه واو(کامه) دوی بېلې نښې ګڼي.

۱- معمولاً د (او / یا ) تر منځ د ویرګول نښه ایښودل کېږي، که موږ دا لاندې جملې ولولو:

(هلکان او / یا نجونې د والیبال ننداره کوي) مانا دا ده چې هلکان او نجونې، یا هلکان یا نجونې د والیبال ننداره کوي.

۲- ویرګول د نېټې د لیکلو لپاره هم استعمالېږي. مثلاً د دې پر ځای چې د (۱۳۵۲ل) کال د چنګاښ شپږویشتمه نېټه ولیکو، کولای شو د اسانتیا لپاره ویرګول استعمال کړو او داسې یې ولیکو: ۲۶/۴/۱۳۵۲

۳- کله کله د يوه بيت د مسريو تر منځ فاصله نه پرېښودل کېږي پر ځاى يې د وير ګول نښه استعمالوي، لکه د خوشال خان ختېك دا بيت:

درست پښتون له کندهاره تر اټکه/ سره يو د ننګ په کار پټ او اشکار

## ٦- کامه (سرچپه واو) (،):

په اکثرو لوېديزو هېوادونو کې کامه د (و) په بڼه ليکل کېږي مګر په پښتو او دري کې د دې لپاره چې (واو) ونه لوستل شي سرچپه يې ليکي، د تنقيط په نښو کې کامه ډېره زياته استعمالېږي او په مختلفو ځايونو کې ترې کال اخيستل کېږي:

۱- د بېلولو لپاره:

الف) اوږدې جملې چې له څو ساده جملو څخه جوړې شوې وي د کامې په واسطه بېلېږي، لکه دا لاندې مثالونه:

توريالي زما ليك ته لا تر اوسه ځواب نه دى ورکړى، دا ګومان مې نه شي چې تر دې وروسته به ځواب ورکړي.

ده زيار وايست چې سنك له ځانه سره ملګرى کړي، مګر سنك هېڅکله دا نه شوه منلاى چې بې سببه د چا دښمنۍ ته ملا وتړي.

ب) يوه مقدماتي فقره له اصلي جملې نه جلا کوي، لکه:

د دې تړون پر اساس، غړي هېوادونه تعهد کوي چې په ښوونه او روزنه کې به له تبعيض نه کار نه اخلي.

تر ډوډۍ خوړلو او لاس مينځلو وروسته دوى سينما ته ولاړل.

ج) معترضه جمله يا فقره د دوو کامو ترمنځ نيول کېږي.

زه به د خالي په ورځ، که خیر وي، تاسې کره درشم.
پښتو ټولنه باید د پښتو لیکدود د یووالي لپاره چې په حقیقت کې د دې ټولنې د تاسیس یو عمده هدف دی، اوچت ګامونه واخلي.
د) د یو لړ مختلفو کلمو د جلا کولو لپاره، لکه:
ده خپل کتابونه، قلمونه، بکس او نور تدریسي لوازم له ځان سره واخیستل.
هـ) ددې لپاره چې جمله یا شعر غلط ونه لوستل شي، لکه دا لاندې مثالونه:
ما، ماما ته یو کتاب راوړ.
ماما، ما ته یو کتاب راوړ.
د رحمان بابا دا لاندې بیت وګورئ چې لومړی شکل یې سم او دویم شکل یې ناسم دی:
ډېر عزیز دي موم د لان تر سنګدلانو
ته یو ځاځکی شه د اوښکو، ګوهر مه شه
ډېر عزیز دي موم دلان تر سنګدلانو
ته یو ځاځکی شه، د اوښکو ګوهر مه شه
و) د زرګونو او ملیونونو د بېلولو لپاره، لکه:
نوموړي شرکت په تېر کال کې پنځه دېرش ملیونه (۳۵،۰۰۰،۰۰۰) افغانۍ خالصه ګټه کړې ده. د ده میاشتنی معاش ۴۶۲، ۵ افغانۍ دی.

یادونه: د ټلېفون نومره، د کوځې نومره او تاریخي کلونه کامه نه غواړي.

۲- د تړلو او بندولو لپاره:

الف) په معترضه فقرو او الفاظو پسې باید کامه راوړل شي، لکه: زما په عقیده، که ته موافقه کوې یا یې نه کوې، له همینګوی سره په داستان لیکلو کې څوك سیالي نه شي کولای.

ب) تر منادي وروسته کامه راځي، لکه: زلمیه، اجازه ده چې له تا نه یوه پوښتنه وکړم.

۳- د حذف شوي عبارت په ځای کې:

په دې کوټه کې څلور تنه کېني، په هغه بله کې پنځه تنه.

## ۷- ټکی (۰):

په لیکنه کې ټکی او کامه تر ټولو زیات استعمالېږي.

د ټکي د استعمال ځایونه په لاندې ډول دي:

۱- د بیانیه جملې په پای کې:

بریالی کور ته ولاړ.

لمر راوخوت.

۲- د نامخامخ پوښتنې په پای کې:

ده له مانه پوښتنه وکړه چې څه وخت به وزګار شم.

یادونه: په پښتو کې د مخامخ او نامخامخ پوښتنې ترمنځ څوك توپیر نه کوي او ډېر ځله د نا سم پوهاوي سبب ګرځي. پورتنۍ جمله د نالوستو (بې تعلیمه) پښتنو په نظر داسې ده:

ده له ما نه پوښتنه وکړه: " څه وخت به وزګار شم".

**۳- د مړدبانه غوښتنې یا د یوه ملایم امر په پای کې:**

په یوه مناسب وخت کې دفتر ته راشه او له ماسره په دې اړه خبرې وکړه.

خپل کار ته توجه وکړه او احتیاط له لاسه مه ورکوه.

مهرباني وکړه دغه فورمه ډکه کړه او بېرته یې راولېږه.

**۴- د لنډیز او اختصار لپاره:**

د م.م.م. سرمنشي وویل چې باید په منځني ختیځ کې دایمي سوله منځته راشي.

یادونه: م.م.م. د ملګرو ملتو د مړسسې مخفف شکل دی.

## ۸- پوښتنه (؟) :

پوښتنه په لاندې ځایونو کې راځي:

۱) د مخامخ پوښتنې په پای کې:

ستاسو نوم څه دی؟

ته څه وخت هرات ته ځې؟

۲) د شك او تردید لپاره:

دی له خپلو همکارانو سره همدردي (؟) لري.

۳) د ټوکو او مسخرو لپاره.

## ۹- سیمیکولن یا ممیزه: (؛)

د ممیزې استعمال یو څه دقت غواړي. آسانه لار دا ده چې ووایو په اکثرو هغو ځایونو کې چې ټکي راځي ممیزه هم استعمالېدی شي. که چېرې دوه جملې چې تقریباً یو له بلې سره مساوي وزن او اهمیت ولري، ځنګ په ځنګ راشي د هغو ترمنځ ممیزه استعمالولای شو، لکه دا لاندې مثالونه:

موږ دوی ته دلیلونه ووېل؛ خو دوی له موږ سره ملګرتیا ونه کړه او خبره یې راسره ونه منله.

په تېر کال کې حکومت د قاچاق مخه ونیوله؛ بډې خورو ته یې سزا ورکړه؛ اختلاس کوونکي یې محاکمه کړل؛ او د اجتماعي عدالت د تامینولو په برخه کې یې په هر اړخیزو اقداماتو لاس پورې کړ.

## ۱۰-درې ټکي (...):

درې ټکي په دې لاندې ځایونو کې راځي:

۱) په ارادي توګه دځینو الفاظو حذفول.

بشپړه جمله: ځینې خبرې باید واورېدل شي، ځینې خبرې باید په یاد کې وساتل شي او ځینې خبرې باید ښې تحلیل شي او فکر وربانديې وشي.

حذف شوې برخه: ځینې خبرې باید واورېدل شي، ځینې ... باید په یاد کې وساتل شي او ځینې ... باید ښې تحلیل شي او فکر ورباندې وشي.

**۲)** د داسې نورو پرځای:

زه د ډېر ملګري لرم: زمرك، بریالی، سنك، غمی ... پښتو، دري، سنسکرېټ، انګلېسي ... آریایي ژبې دي.

**۳)** د نیمګړې جملې په پای کې:

د غونډۍ په لمن کې، د چینې ترڅنګه، د ونې تر سیوري لاندې ... زمری او غوټۍ څنګ په څنګ کښېناستل د راز و نیاز خبرې یې شروع کړې...

**۴)** د تاکید لپاره د وړو جملو بېلول:

دا کار نن وکړه ... معطلي مه کوه... سبا به پښېمانه شې.

**۵)** کله چې د بل چا قول رانقلوو، حذف شوي عبارتونه د درو ټکو په واسطه ښودل کېږي. که حذف شوی عبارت د جملې په پای کې راغلی وي او جمله ورباندې ختمه شوې وي څلور ټکي اېښودل کېږي، درې یې د حذف شوي عبارت پر ځای او یو ټکی د جملې د پای لپاره.

**۱۱- نقلنښه (( )) :**

نقلنښه په لاندې ځایونو کې استعمالېږي:

**۱)** د یو چا د خبرو نقلولو لپاره:

سنك ووېل: " موږ په جنګ هم پوهېږو او سوله مو هم زده ده."

یادونه: که د نقلنښو ترمنځ نقلنښې راشي هغه د مفردو نښو په بڼه لیکل کېږي، لکه:

زمرك وويل: " زه د انتون دا خبره نه هېروم چې وايي: زړه ورتوب، بیا هم زړه ورتوب، همېشه زړه ورتوب."

۲) که له یوه اثر نه څو پراګرافه رانقلېږي باید د هر پراګراف په سر کې نقلنښې راشي، لکه:

" په عراق کې عربي ویونکي پنځه ملیونه شپږ سوه پنځوس زره تنه دي".

" په ترکیه، ایران او افغانستان کې عربي ویونکي اته سوه دري دېرش زره تنه دي".

" په عربي متحد جمهوریت کې عربي ویونکي شپږ ویشت ملیونه اووه سوه پنځه دېرش زره تنه دي".

۳) د ویاند ( نطاق) د تغییر په حال کې:

په کیسو او ډرامو کې چې د خبرو نوبت بدلېږي، نو د نوي ویاند خبرې معمولاً په نوې کرښه کې راځي او د نقل نښو ترمنځ نیول کېږي:

" خان میره، ما ګومان کاوه چې ته به څومره غیرتي سړی یې، مګر خبر نه وم چې ته ګیدړ وختې ... د خپل لاس ټوپك مې درکړ چې ته به حیدر مړ کړې ... ".

" خان صاحب، له ځان سره به فکر وکړم. دلته خو زه څوك نه لرم چې مشوره او مصلحت ورسره وکړم".

۴) کله لیکوال ځانته خاصه اصطلاح وضع کوي، چې په محیط کې عمومیت نه لري، لکه: دی " ګیډیالوجسټ" دی له خپلې ګیډې لغتونه وضع کوي.

۵) د تاکید او توجه جلبولو لپاره:

"حق" ورکول کېږي نه، اخیستل کېږي.

۶) د مقالو عنوانونه:

په کابل مجله کې مې د " کنفرمیزم" په اړه مقاله ډېره خوښه شوه.

۷) د تمسخر لپاره ځینې اصطلاحات دنقل د کړښو ترمنځ لیکل کېږي. ٦۵

## ۱۲- فاصله (-) :

د فاصلې نښه په لاندې ځایونو کې راځي:

۱) د لنډیز لپاره: کله چې څو فقرې یومطلب توضیح کوي او لیکونکي وغواړي چې لنډیز یې په وروستۍ فقره کې ذکر کړي فاصله استعمالوي، لکه:

ملي یووالی، د خلکو سوکالي، اجتماعي عدالت، اقتصادي پرمختګ – دا ټول زموږ د نظام اساسي هدفونه دي.

۲) د بس کولو او سرته رسولو لپاره: د دې نښې په واسطه لیکونکی خبره پریکوي. دغه ډول استعمال اکثره په محاوره کې ډېر راځي، لکه:

سنك ته قار ورغی او ورته ويې ويل؛ " ته اصلاً په خبره ځان نه پوهوې. ما درته ويلي وو-".

۳) دمداخلې لپاره: کله چې د يوه مطلب په منځ کې نوی فکر راپيدا شي او پخوانی مطلب اخلال کړي، لکه: کوم وخت چې زه په کندهار کې وم – دا خبره مې مخکې درته کړې ده.

۴) د معرفۍ لپاره:

کوم شی چې زما په ذهن کې يې توپان راپورته کړی دی – هغه عشق دی.

۵) د معترضه جملې لپاره:

که سنك دې وليده – کوښښ وکړه چې ويې وينې – ماته ټلېفوني خبر راکړه.

## ۱۳- ستوری (* ):

د ستوري نښه اوس ډېره نه استعمالېږي. پخوا به ستوری د حذف شوي عبارت پر ځای او د لمنليك لپاره استعمالېده. اوس د حذف شوي عبارت پر ځای درې ټکي راځي او د لمنليك لپاره د کلمې پر سر رقمونه ليکل کېږي.

ستوری اوس هم د تبصرې او د توجه د جلبولو لپاره استعمالېدی شي.

## ۱۴- غږ نښه (!):

د غږ (ندا) نښه د هیجان، حیرانتیا، تاکید او امر لپاره راځي. چې یو قوي دلیل موجود نه وي، باید د دې نښې له استعمال نه ځان وژغورو. غږ نښه په لاندې ځایونو کې استعمالېږي:

۱) د تعجب، تاکید او هیجان د ځرګندولو لپاره:

سنك په رښتیا له خپلې وظیفې نه استعفا وکړه! څومره بې سنجشه کار!

ډاکټر وویل؛ " ته څومره خوشبخته یې! ستا او د مرګ ترمنځ فاصله ډېره کمه وه!".

۲) د امر او کلکې غوښتنې په حال کې:

ډېر ژر حرکت وکړه!

لطفاً زما په شخصي چارو کې مداخله مه کوه!

۳) د طنز او کترې لپاره: دلته ندا نښه د نقل د نښو ترمنځ نیول کېږي چې مثالونه یې پخوا راغلل.

## ۱۵ - لویې لیندۍ [ ]:

په ځینو وختو کې لویې لیندۍ تر معمولي لیندیو مخکې راځي.

کله کله لویې لیندۍ د نقلنښو ترمنځ د لیکونکي د تبصرې لپاره راوړل کېږي، لکه:

برتراندرسل وايي: " دا چې فزيك په علت پسې نه ګرځي دليل يې دا دی چې علت وجود نه لري. [ دا د رسل شخصي نظريه ده ټول فيلسوفان د دغه نظر ملاتړ نه کوي.] زما په عقيده علت..."(١)

## ١٦- د ندايي او سواليې مرکب شکل ( !؟):

کله کله ځيني ليکوال د ندايې او سواليې علامې دواړه څنګ په څنګ د يوې جملې په پای کې راوړي، خو شرط په کې دا دی چې ندائيه به لومړی او سواليه به ورپسې وي. په دې کې د ليکوال هدف دا وي چې د هغې په واسطه له يوې خوا د لوستونکي توجه جلبوي او له بلې خوا يې په کې پوښتنه غرض وي. په لنډه وينا ويلای شو چې د يوې ډېرې مهمې پوښتنې په پای کې د ندايې او سواليې مرکب شکل راځي، لکه:

ته نه يې خبر چې د افغان انګليس په يوې جګړه کې له پنځلس زره انګرېزي پوځ نه يوازې ډاکټر برايډن مړ ژواندی خلاص شو!؟

يا: ته نه پوهېږې د افغانستان د خلکو ملي پاڅونونو د نړۍ سترې امپراتورۍ ړنګې کړي دي!؟

(١) کانديد اکاډمېسن محمد صديق روهي، د څېړنې لارښود، د افغانستان د سيمه ييزو مطالعاتو مرکز، ١٣٨٥ ل کال، ( ٧٩ – ٨٩ ) مخونه.

## ۱۷- درې ستوري ( *** ) :

دغه نښه معمولاً د ډرام یا داستان په یوه پرده یا برخه کې چې څو مفکورې په جلا جلا پراګرافونو کې څېړل کېږي، نو د هرې مفکورې تر پای ته رسېدو وروسته په یو خالي ځای کې درې ستوري ( *** ) ایښودل کېږي.

## ۱۸- وروځو ته ورته نښه ({):

دغه نښه په پښتو او دري کې د ({) او په انګریزي او لاتیني کې په ({) بڼه راځي. په عمومي توګه هغه وخت استعمالېږي، چې دیوې کلمې په مقابل کې څو کلمې راشي، لکه:

انسان }
پوه
ناپوه
کمزوری

## ۱۹- غشي ( ⇄ ):

دغه نښه په عام ډول د مفهوم د لوري او طرف څرګندونه یا ښودنه کوي. په لیکنو کې معمولاً د دوو مقصدونو لپاره استعمالېږي:

۱- کلــه چــې لیکــونکی پــه توضــیحي او تشــرېحي لمنلیــك (حاشیه) کې کومه توضېح یا تشرېح لیکي او په هماغه مخ کې يې لیکنه ځای نه شي، لازماً باید تر هغه وروسته مخ ته نقل شي نو د راغلې توضېح په اخرنۍ برخه کې د ( ←—— ) غشــي په راوړلو سره لوستونکي ته ښودنه کوي، چې نوره توضېح په راتلونکي مخ کې ولولي. په راتلونکي مخ کې تر توضېح لیکلو دمخه بیا هم ( ——→ ) غشــي نښــه ایښــودل کېــږي چــې لوستونکي ته وښیي دا توضیح له مخکني مخ څخه دلته راغلې ده.

۲- د یوې ترکیبي کلمې د تجزیې او یا د څو جزونو د ترکیب ښودنې لپاره راځي، لکه: دوست + ي ←—— دوستي یا پوهن + تون ←—— پوهنتون.[1]

[1] سید محي الدین هاشمي، دلیکوالۍ فن، ۱۳۸۳ ل کال، (۴۳- ۴۵) مخونه.

# وروستۍ يادونه

د يوې ژبې ليکنی سمون د يوې ورځې کار نه دی، دا يوه اوږده مرحله او پروسه غواړي او د زمانې له تجربې څخه تېرېږي. پښتو ليکدود هم تراوسه پورې د زمانې د ازمون څو پړاوونه تېر کړي. له نېکه مرغه په هر پړاو کې په پښتو ليکدود کې سمون راغلی، خو لا هم د يو داسې بشپړ پښتو ليکدود لپاره چې د پښتو ژبې ټولې ليکنۍ اړتياوې لرې کړي، لاره پاتې ده.

ما د (پښتو ليکني سمون) د ليکلو کار ځکه پيل کړ چې زه د خپل شلکلن فرهنگي کار په بهير کې له يو لړ داسې ليکنيو ستونزو او توپيرونو سره مخامخ وم، چې بايد حل لاره مو ورته پيدا کړې وای. هغه څوك چې د چاپي رسنيو چارې، په تېره بيا ايډېټ (سمون) پرمخ بيايي، هغه ته پته لگي چې ليکدوديزه گډوډي د چاپي رسنيو کار ته څومره زيان رسوي او چارې څومره سختوي. زما په څېر به نور په لسگونو پښتانه ليکوال له ورته ستونزو سره مخامخ شوي وي. د دې لپاره چې د دې ستونزو د حل لپاره مو د کار يوه لړۍ پيل کړې وي او په دې بهير کې مو خپله ونډه اخيستې وي، د دې اثر پر ليکلو مې پيل وکړ. دا اثر داسې نه دی چې د پښتو ليکدود او يا هم ليکنۍ برخې ټولې ستونزې دې اوارې کړای شي، بلکې که د سلگونو ستونزو له

جملې څخه د څو ستونزو د حل لپاره مرستندوی شي بیا به هم زما لپاره یو ښه زېری وي.

زه هیله لرم د پښتو لیکني سمون یو غورځنګ پیل شي او ټول لیکوال په دې غورځنګ کې برخه واخلي، هر هغه لیکوال چې له کومې لیکنۍ ستونزې، تېروتنې او یا هم توپیر سره مخامخېږي، هغه دې د لیکنو او رسنیو له لارې نورو ژبپوهانو سره مطرح کړي. دا کار به د دې سبب شي، چې زموږ ټولې لیکنۍ ستونزې د وخت په تېرېدو سره یوه په بلې پسې حل او داسې وخت راشي، چې زموږ نورو نسلونو او یا هم هغه چاته چې پښتو ژبه زده کوي، په لیکنۍ برخه کې ټولې ستونزې اوارې شي. لیک او لیکنی سمون د یو تن او یوه ژبپوه کار نه دی، بلکې دا یوه اوږده پروسه ده او ډېر کار غواړي، خو زموږ لیکنی سمون باید دومره سست هم پرمخ لاړ نه شي، چې زړې ستونزې مو لا غوڅې کړې نه وي نورې نوې پرې را دبره شي. یو ځل بیا له ټولو پوهانو او لیکوالو څخه هیله کوم چې په پښتو لیکني سمون کې پوره پوره ونډه واخلي؛ زموږ لیکنی سمون زموږ ژبنی سمون دی او زموږ ژبنی سمون بیا زموږ له ټولنیز سمون سره مستقیمه اړیکه لري.

په هېواد کې دهر ډول مثبت سمون په هیله

پوهنمل محمد اسمعیل یون

# اخځونه


۱- اڅکزی، اودل سمد، پښتو ژبه او لیك دود ، کوټه ۱۹۵۶ م کال.

۲ - پنزل، هربرت ، د پښتو ګرامر، د محمد رحیم ا لهام ژباړه، ۱۳۴۰ل کال، دولتي مطبعه.

۳- ختېك، خوشال خان، دستار نامه، پښتو ټولنه، کابل ۱۳۴۵ کال چاپ.

۴- خوېشکی، محمد صابر، پښتو غږ پوهنه او ویيپوهنه، ۱۳۸۰ل کال.

۵- رښتین، صدیق الله، پښتو ګرامر (ژب ښودنه)، خاور خپرندویه ټولنه.

۶ - روهي، محمد صديق، د څېړنې لارښود، د افغانستان د سیمه ییزو مطالعاتو مرکز، ۱۳۸۵ ل کال.

۷ - زيار، مجارو احمد، پښتو سیندګی- نویزونه، د ساپي پښتو څېړنو او پراختیا مرکز، پېښور، ۱۳۷۸ ل کال.

۸- زیار ، مجارو احمد، پښتو لیکلار ، ننګرهار پوهنتون، ۱۳۶۰ ل کال.

۹- زیار ، مجارو احمد، پښتو پښویه، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۲ ل کال.

۱۰- زيار، مجاوراحمد، لیکلارښود، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۲ل کال.

۱۱- شاکر، پوهندوی نوراحمد، ژبنۍ څېړنې، **۱۳۵۰**ل کل.

**۱۲**- صلاحي، محمد نبي، د کوشاني دورې د ژبیو څېړنه، د افغانستان د علومو اکاډمۍ، کابل، **۱۳۸۶**ل کال.

**۱۳**- لودین، دولت محمد، لغت پوهنه، پښتو ټولنه، کابل **۱۳۵۵** ل کال.

**۱۴**- هاشمي، سید محي الدین، دلیکوالۍ فن، **۱۳۸۳** ل کال.

**۱۵**- هلالي، څېړنوال عبدالحکیم، د پښتو ژبې د فونیمیکې الفبې لارښود، پښتو ټولنه، **۱۳۵۵**ل کال.

**۱۶**- وزیری، بخت میر، غږ پوهنه او وییپوهنه، کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د نا پښتو ځانګو لپاره، ۱۳۸۴ ل کال.

**۱۷** - وکیلي، محمدسرور، پښتو ګړښود، د ساپي د پښتو څېړنو او پراختیا مرکز، پېښور، **۱۳۸۷** ل کال.